ومن احسن قولا ممن دعا الی اللہ (الآیہ)

٤

# زاد الخطباء

بیانات

مولانا مطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب و تخریج

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب

فاضل دار العلوم کراچی

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن



مکتبۃ الهاشمیة

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیہ)

# زاد الخطباء

## (بیانات)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

جلد: (۴)

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کاسی روڈ کوئٹہ

## د طباعت او کتابت حقوق محفوظ دي:


- د کتاب نوم:.............................زاد الخطباء
- بیانات:.............................مولانا اطیع الله صاحب
- ترتیب وتخریج:.........................حافظ کلیم الله صاحب
- کره کتنه:.......... مولوی محمد ہاشم حذیفه صاحب او عبد الله متعلم درجه سابعه
- کمپوز:.............................شبیر احمد "متعلم درجه أولیٰ"
- تعداد:.............................۱۱۰۰
- ضخامت:.............................۵۴۶
- سنه طباعت:.........................رمضان المبارک ۱۴۴۱ھ
- ناشر:.............................مکتبه سلطانیه الهاشمیه


---

د ملاوېدو ځایونه:

۱. مکتبه عمریه:..................... اباسین روډ چمن
۲. اسلامي کتب خانه:..................تاج میر خان روډ چمن
۳. شګیوال کتب خانه:...................سپین بولدک
۴. مکتبه غفاریه:.....................ارګ بازار قندهار
۵. جامع مسجد حاجي عبد الودود:...................چمن
۶. سعادت کتب خانه:.........عبد الرحمن کهول روډ چمن
۷. حمیدیه کتب خانه:...............نیازي مارکیټ کچلاګ

# تقریظ

**استاد المفسرين و المحدثين محدث العصر، نمونه اسلاف، جامع المعقول والمنقول، شيخ الحديث حضرت مولانا نظر محــــمد صاحب افغاني**

دامت برکاتهم العاليه

---

لله الحمد رب السموات والارض رب العالمين.

والصلوة والسلام على قائد الغر المحجلين محمد و على آله و صحبه دعاة الحق وهداة الدين.

اما بعد: قد طالعت نبذًا يسيرًا من زاد الخطباء لاخينا في الله المولوي اطيع الله فكما قيل ان الثمرة تنبئ عن الشجرة والانموذج يخبر عن البيدر وجدته قد لخص فيه من مهمات الدعوة وضوابط الابلاغ مع ان قضية الدعوة لها اهمية كبيرة في نفسها فجزاه الله تعالى خيرًا و جعل مُصنفه نافع للخطباء وسائر من اراد. (آمـــــين)

وانا عبد الفقير الى الله خادم الاحاديث النبوية.

# تقریظ

استاد المفسرین والمحدثین فقیه العصر قدوة العلماء شیخ الحدیث حضرت مولانا

عبـــــــد السلام صاحب دامت برکاتهم العالیه

بانی جامعه دار العلوم رحمانیه چمن

الحمد لله الواحد الرحمن، والصلوة والسلام علی سید الانام، وعلی اصحابه الذین قلعوا اثار الاصنام، وعلی التابعین الذین اجتهدوا فی القرآن، لاسیما علی امام الهمام الذی اوسع طریقة الاسلام، سیدنا الامام ابو حنیفة النعمان.

وبعد حمدا وثناء خدای پاک لره وایم چې په هر وقت او په هره زمانه کي یې حقاني علماء او حق پرسته خادمان د اسلام پیدا کړي دي.

لکه: جناب محترم خادم الاسلام حق بین و حق شناس حضرت مولانا الحاج جامع العلوم کا الشمس بین النجوم مولوي اطیع الله صاحب چې زاد الخطباء یې دپاره د اصلاح د عقائدو د مسلمانانو په خلاصه او مختصرو عباراتو تصنیف کړی دئ او دلائل حقه د قرآن حکیم او احادیث نبویه ﷺ یې په لنډو عباراتو او په ښه توګه بیان کړي دي.

الله ﷻ دي د دې کتاب نفعه او برکت و ټولو مسلمانانو ته ورسوي او د مؤلف سعی دي په قبول حسن سره قبوله کي او د آئنده دپاره دي الله ﷻ د دغسي نورو خدمتو توفیق ورپه نصیب کي آمین.

(مولوي عبد السلام القندهار مسکنه الاصلي والشمن مسکنه الفعلي)

## د عنواناتو اجمالي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه: | ۲۶ |
| ۲. | د دنیا محبت: | ۲۹ |
| ۳. | د همسایه حقوق: | ۴۹ |
| ۴. | ایثار او قرباني: | ۷۷ |
| ۵. | د حقوق العباد اهمیت: | ۹۵ |
| ٦. | دین خیرخواهي ده: | ۱۱۵ |
| ۷. | د نبي کریم د خورک طریقه: | ۱۳۵ |
| ۸. | د مبلغه عزت او اکرام: | ۱۶۱ |
| ۹. | د صدقې او خیرات کولو طریقه: | ۱۸۱ |
| ۱۰. | جنتي ژوند: | ۲۰۳ |
| ۱۱. | د جنت مناظر: | ۲۲۵ |
| ۱۲. | جنتي اعمال: | ۲۴۳ |
| ۱۳. | د هر انسان د طبیعت رعایت کول: | ۲۶۵ |
| ۱۴. | درواغ ویل د نفاق علامه ده: | ۲۸۳ |
| ۱۵. | د وعدې مخالفت د نفاق علامه ده: | ۳۰۵ |
| ۱٦. | خیانت کول د نفاق علامه ده: | ۳۲۳ |
| ۱۷. | د امانت صورتونه: | ۳۴۵ |
| ۱۸. | دنفس او شیطان دښمني: | ۳۶۵ |
| ۱۹. | د میراث تقسیمولو اهمیت: | ۳۸۹ |
| ۲۰. | په زندګي کې اعتدال کول: | ۴۰۹ |
| ۲۱. | د زنانو د حقوقو رعایت کول، (۱) بیان: | ۴۲۹ |
| ۲۲. | د زنانو د حقوقو رعایت کول، (۲) بیان: | ۴۴۹ |
| ۲۳. | د زنانو د حقوقو رعایت کول، (۳) بیان: | ۴۶۷ |
| ۲۴. | د الله تعالی طرفته رجوع کول: | ۴۸۷ |
| ۲۵. | د شبِ برات فضیلت: | ۵۰۷ |
| ۲٦. | حاکمان د اعمالو غوندي وي: | ۵۲۷ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه: | ۲۶ |
| | **﴿د دنیا محبت﴾** | |
| ۱. | تمهید: | ۳۱ |
| ۲. | د مال او منصب د محبت فساد: | ۳۲ |
| ۳. | د وضاحت لپاره مثال: | ۳۲ |
| ۴. | د مال محبت د ډیرو ګناهونو بنیاد دی: | ۳۳ |
| ۵. | قناعت څه ته وایي؟: | ۳۴ |
| ۶. | دنیا مقصد نه ګرځول: | ۳۴ |
| ۷. | د دنیا خاصیت: | ۳۵ |
| ۸. | د حضرت سلیمان علیه السلام مال او دولت او سلطنت: | ۳۶ |
| ۹. | د حضرت خواجه عبید الله احرار رحمة الله علیه واقعه: | ۳۸ |
| ۱۰. | د خضرت جامي رحمة الله علیه پرېشاني: | ۳۸ |
| ۱۱. | د شعر مکمل کول: | ۴۰ |
| ۱۲. | دوه (۲) قسمه انسانان ولایت ته رسېدلای سي: | ۴۰ |
| ۱۳. | درویش صفت بزرګ: | ۴۱ |
| ۱۴. | مالدار بزرګان: | ۴۱ |
| ۱۵. | دنیا به وي، او محبت به ئې نه وي: | ۴۲ |
| ۱۶. | د دنیا د محبت د زړه څخه د لیري کولو طریقې: | ۴۲ |
| ۱۷. | د حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه واقعه | ۴۳ |
| ۱۸. | د زړه نه غوښتلو باوجود صدقه کول: | ۴۴ |
| ۱۹. | صرف پر زکات باندي اکتفا نکول: | ۴۵ |
| ۲۰. | پر مال د زکات څخه علاوه هم حقوق سته: | ۴۵ |
| ۲۱. | زموږ د بزرګانو صدقه: | ۴۶ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۲. | په يوه روپۍ کي يوه پيسه ورکول: | ۴۶ |
| ۲۳. | دوهمه نسخه: دعا کول: | ۴۷ |
| ۲۴. | دريمه نسخه: د خپل ځان څخه کم انسان ته کتل: | ۴۷ |
| ۲۵. | څلورمه نسخه: د نيکو بندګانو صحبت اختيارول: | ۴۸ |
| | **(د همسايه حقوق)** | |
| ۲۶. | تمهيد: | ۵۱ |
| ۲۷. | د همسايتوب حدود: | ۵۲ |
| ۲۸. | د همسايه مقام: | ۵۳ |
| ۲۹. | د انصاري صحابي واقعه: | ۵۳ |
| ۳۰. | د "حقوق العباد" ترتيب: | ۵۴ |
| ۳۱. | د مور او پلار د حق تلفۍ عبرتناکه واقعه: | ۵۵ |
| ۳۲. | د همسايه اقسام: | ۵۸ |
| ۳۳. | اول قسم: | ۵۸ |
| ۳۴. | دوهم قسم: | ۵۹ |
| ۳۵. | دريم قسم: | ۵۹ |
| ۳۶. | د همسايه اول حق: | ۶۰ |
| ۳۷. | صرف زکات ورکول حق نه دي: | ۶۱ |
| ۳۸. | د ماعون حق: | ۶۲ |
| ۳۹. | د همسايه دوهم(۲) حق: | ۶۲ |
| ۴۰. | د همسايه دريم(۳) حق: | ۶۳ |
| ۴۱. | د همسايه څلورم(۴) حق: | ۶۴ |
| ۴۲. | د همسايه پنځم(۵) حق: | ۶۵ |
| ۴۳. | د پوښتني کولو صحيح طريقه: | ۶۵ |
| ۴۴. | د حضرت عبدالله بن مبارک واقعه: | ۶۶ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۵. | د همسایه شپږم(۶) حق: | ۶۷ |
| ۴۶. | د کلام خلاصه: | ۶۷ |
| ۴۷. | د حضرت ابو حمزه سکري رحمة الله علیه واقعه: | ۶۸ |
| ۴۸. | همسایه څوک دی؟: | ۶۹ |
| ۴۹. | غریب ته په سپک نظر نه کتل: | ۶۹ |
| ۵۰. | د پیغمبر ﷺ د یو غریب صحابي سره محبت: | ۷۰ |
| ۵۱. | د حضرت عمر رضي الله عنه د ژوند یو واقعه: | ۷۱ |
| ۵۲. | د حضرت عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه واقعه: | ۷۳ |
| | ﴿ایثار او قرباني﴾ | |
| ۵۳. | تمهید: | ۷۹ |
| ۵۴. | د انصارو قرباني او تکلیفونه: | ۸۱ |
| ۵۵. | د انصارو او مهاجرو مزارعت: | ۸۱ |
| ۵۶. | د صحابه کرامو عجیبه جذبات وو: | ۸۲ |
| ۵۷. | د دنیا ژوند یو څو ورځې دی: | ۸۳ |
| ۵۸. | د آخرت فکر: | ۸۴ |
| ۵۹. | د اسلام تعلیم: | ۸۴ |
| ۶۰. | د یو انصاري صحابي د قربانۍ واقعه: | ۸۵ |
| ۶۱. | د یو بل صحابي د قربانۍ واقعه: | ۸۶ |
| ۶۲. | په سختو حالاتو کي د صحابه کرامو قرباني: | ۸۷ |
| ۶۳. | د ایثار کونکي د حساب څخه ماته شرم راځي: | ۷۹ |
| ۶۴. | د یو غلام قرباني: | ۹۰ |
| ۶۵. | د حضرت علي رضي الله عنه په عمل د الله تعالی فخر کول: | ۹۱ |
| ۶۶. | بشر ابن الحارث په مستعار لباس کي وفات کېدل: | ۹۲ |
| ۶۷. | ایثار او قرباني انسان "مستجاب الدعوات" کرځوي: | ۹۲ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۶۸. | د پیغمبر ﷺ معمول: | ۹۳ |
| | ﴿د "حقوق العباد" اهمیت﴾ | |
| ۶۹. | تمهيد: | ۹۷ |
| ۷۰. | دوه(۲) قسمه حقوق: | ۹۸ |
| ۷۱. | "حقوق العباد" ادا کول، د دين اهمه حصه ده: | ۹۹ |
| ۷۲. | "حقوق الله" صرف په توبه سره معافيږي: | ۱۰۰ |
| ۷۳. | "حقوق العباد" په توبه سره نه معافيږي: | ۱۰۱ |
| ۷۴. | د محشر په ورځ د الله تعالی اعلان: | ۱۰۲ |
| ۷۵. | مفلس څوک دی؟: | ۱۰۲ |
| ۷۶. | د حضرت مولانا قاسم نانوتوي رحمة الله عليه وېره: | ۱۰۴ |
| ۷۷. | د نابالغ ماشوم په حق کي احتياط کول: | ۱۰۴ |
| ۷۸. | بني اسرائلو ته تنبيه: | ۱۰۵ |
| ۷۹. | د انسان سره ښه ژوندکي کول: | ۱۰۶ |
| ۸۰. | د مسلمان حقوق: | ۱۰۷ |
| ۸۱. | د دوو(۲) انسانانو اختلاف: | ۱۰۷ |
| ۸۲. | د يو بزرگ واقعه: | ۱۰۹ |
| ۸۳. | د غصې خوړلو فضيلت: | ۱۱۰ |
| ۸۴. | د عقل زکات: | ۱۱۱ |
| ۸۵. | د ټولو څخه بد ترين انسان: | ۱۱۲ |
| ۸۶. | د حضرت امام حسن رضي الله عنه معافي کول: | ۱۱۳ |
| ۸۷. | د امام زين العابدين رحمة الله عليه معافي کول: | ۱۱۳ |
| ۸۸. | مقصد ته اعاده: | ۱۱۴ |
| | ﴿دين خيرخواهي ده﴾ | |
| ۸۹. | تمهيد: | ۱۱۷ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| .۹۰ | د پیغمبر ﷺ بهترین کردار: | ۱۱۸ |
| .۹۱ | د خیر خواهی معنی: | ۱۲۱ |
| .۹۲ | د دین داری او خیرخواهی تلازم: | ۱۲۲ |
| .۹۳ | د مؤمن د زړه خوشحاله کولو فضیلت: | ۱۲۲ |
| .۹۴ | د ژبي غلط کردار: | ۱۲۴ |
| .۹۵ | د ژبي تیزي: | ۱۲۵ |
| .۹۶ | انسانان دوه (۲) قسمه دي: | ۱۲۶ |
| .۹۷ | د انسان قدر: | ۱۲۷ |
| .۹۸ | یو عجیبه واقعه: | ۱۲۷ |
| .۹۹ | حیوانات دري (۳) قسمه دي: | ۱۳۰ |
| .۱۰۰ | مور انسانان لیدلي دي: | ۱۳۲ |
| .۱۰۱ | د مسلمان دري (۳) حقونه: | ۱۳۲ |
| | **﴿د نبي کریم ﷺ د خوړک طریقه﴾** | |
| .۱۰۲ | تمهید: | ۱۳۷ |
| .۱۰۳ | د خوړک کولو اول ادب او مسئله: | ۱۳۸ |
| .۱۰۴ | دوهم ادب او مسئله، او د حدیث اصل مقصود: | ۱۳۸ |
| .۱۰۵ | د ګوتو څټلو حکمت: | ۱۳۹ |
| .۱۰۶ | برکت څه دي؟: | ۱۳۹ |
| .۱۰۷ | راحت پیدا کول د اسبابو په ذریعه نه دی: | ۱۴۰ |
| .۱۰۸ | برکت دا دی: | ۱۴۱ |
| .۱۰۹ | د خوړک پر باطن باندي اثر: | ۱۴۲ |
| .۱۱۰ | د ژوند بهترین نظم: | ۱۴۴ |
| .۱۱۱ | ظاهري او باطني برکت: | ۱۴۵ |
| .۱۱۲ | د پیغمبر ﷺ د خوړک معمول: | ۱۴۶ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۱۳. | د صحابه کرامو عشق نبوی ﷺ: | ۱۴۶ |
| ۱۱۴. | د مسلمان قوم عزت: | ۱۴۷ |
| ۱۱۵. | پر اتباع سنت لوی بشارت: | ۱۴۹ |
| ۱۱۶. | د کاچوغي په خورک کي سنت ادا کول: | ۱۵۰ |
| ۱۱۷. | د خورک په دوران کي د پیغمبر ﷺ بل هدایت: | ۱۵۱ |
| ۱۱۸. | د حضرت حذیفه رضي الله عنه ایماني جرأت: | ۱۵۲ |
| ۱۱۹. | د حضرت ربعي ابن عامر رضي الله عنه قوت: | ۱۵۳ |
| ۱۲۰. | د حضرت حذیفه رضي الله عنه د سنت طریقې خیال ساتل: | ۱۵۴ |
| ۱۲۱. | د "کسری" سلوک: | ۱۵۴ |
| ۱۲۲. | تاسو د ایران خاوره موږ ته راکړه: | ۱۵۵ |
| ۱۲۳. | اتباع سنت او فتوحات: | ۱۵۵ |
| | **﴿د میلمه عزت او اکرام کول﴾** | |
| ۱۲۴. | تمهید: | ۱۶۳ |
| ۱۲۵. | د بزرګانو وینا: | ۱۶۴ |
| ۱۲۶. | د خورک کولو بهترینه طریقه: | ۱۶۵ |
| ۱۲۷. | د یوه انسان خورک د دوو لپاره کافي کېدای سي: | ۱۶۵ |
| ۱۲۸. | فقیر هم میلمه دی: | ۱۶۶ |
| ۱۲۹. | د پیغمبر ﷺ او د صحابو مهمان نوازي: | ۱۶۷ |
| ۱۳۰. | د عمر بن عبد العزیز رحمة الله علیه د میلمه اکرام: | ۱۶۸ |
| ۱۳۱. | د میلمه حقوق: | ۱۶۹ |
| ۱۳۲. | د برکت عجیبه واقعه: | ۱۷۱ |
| ۱۳۳. | د سائل سره بد سلوک نه کول: | ۱۷۴ |
| ۱۳۴. | پیغمبر ﷺ ته د سائل په باره کي د الله تعالی د طرفه تنبیه: | ۱۷۴ |
| ۱۳۵. | کله خو سائل د الله تعالی لوی امتحان وي: | ۱۷۵ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شمله | | صفحه |
|---|---|---|
| .۱۳٦ | د حديث دوهم مفهوم: | ۱۷۷ |
| .۱۳۷ | خلاصه: | ۱۷۷ |
| .۱۳۸ | دسنتو برکتاو د مجدد الف ثاني رحمة الله عليه وينا: | ۱۷۸ |
| .۱۳۹ | د حضرت سفيان ثوري رحمة الله عليه فرمان: | ۱۷۹ |
| | **﴿د صدقې او خيرات کولو طريقه﴾** | |
| .۱۴۰ | تمهيد: | ۱۸۳ |
| .۱۴۱ | د پيغمبر ﷺ نصيحتونه: | ۱۸۴ |
| .۱۴۲ | بعضي پيران داسي هم وي: | ۱۸۴ |
| .۱۴۳ | د سوال کولو مذمت: | ۱۸۵ |
| .۱۴۴ | يو اهمه مسئله: | ۱۸۵ |
| .۱۴۵ | د حضرت مولانا تقي عثماني (مدظله العالي) واقعه: | ۱۸۶ |
| .۱۴٦ | دوهم(۲) نصيحت: | ۱۸۷ |
| .۱۴۷ | دريم(۳) نصيحت: | ۱۸۸ |
| .۱۴۸ | په هر عمل کي اعتدال: | ۱۸۸ |
| .۱۴۹ | سوال او جواب: | ۱۹۱ |
| .۱۵۰ | څلورم(۴)، او آخري نصيحت: | ۱۹۳ |
| .۱۵۱ | د سالم بن عبدالله بن عمر رضي الله عنه واقعه: | ۱۹۳ |
| .۱۵۲ | يوه عجيبه او غريبه واقعه: | ۱۹۴ |
| .۱۵۳ | بهترينه صدقه: | ۱۹۸ |
| .۱۵۴ | د حضرت ابو طلحه رضي الله عنه سخاوت: | ۱۹۹ |
| .۱۵۵ | د نورو صحابه کرامو جذبه: | ۱۹۹ |
| .۱۵٦ | د زکات څخه علاوه هم يو څه حقوق دي: | ۲۰۰ |
| .۱۵۷ | په صدقه کي زموږ د بزرګانو معمول: | ۲۰۰ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست

| شماره | | صفحه |
|---|---|---|

### ﴿جنتي ژوند﴾


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۵۸. | تمهيد: | ۲۰۵ |
| ۱۵۹. | د يو بزرګ عجيبه قصه: | ۲۰۶ |
| ۱۶۰. | د الله تعالى نظام: | ۲۰۸ |
| ۱۶۱. | د جنت درجات: | ۲۰۸ |
| ۱۶۲. | دادنى جنتي حال: | ۲۱۳ |
| ۱۶۳. | د يو بل ادنى جنتي جنت: | ۲۱۵ |
| ۱۶۴. | د مڅکي د "ګرې" سره برابر جنت: | ۲۱۷ |
| ۱۶۵. | د عالم آخرت مثال: | ۲۱۸ |
| ۱۶۶. | پر انسان لويه حادثه: | ۲۱۹ |
| ۱۶۷. | د جنت "لاعبه" حوره: | ۲۱۹ |
| ۱۶۸. | د حوري ښائست: | ۲۲۲ |


### ﴿د جنت مناظر﴾


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۶۹. | تمهيد: | ۲۲۷ |
| ۱۷۰. | د حضرت ابراهيم عليه السلام د وفات منظر: | ۲۲۸ |
| ۱۷۱. | د عاشقانو مرګ: | ۲۲۹ |
| ۱۷۲. | د آخرت فكر: | ۲۳۰ |
| ۱۷۳. | د استاد و شاګرد ته دعا: | ۲۳۱ |
| ۱۷۴. | په جنت كي بازار: | ۲۳۱ |
| ۱۷۵. | په جنت كي د الله تعالى دربار: | ۲۳۲ |
| ۱۷۶. | په جمعه كي څوک شريكان بلل كيږي: | ۲۳۳ |
| ۱۷۷. | د قوم بدقسمتي: | ۲۳۴ |
| ۱۷۸. | د شيطان مؤذن: | ۲۳۴ |
| ۱۷۹. | د جنت دربار: | ۲۳۴ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۸۰ | د الله د دیدار او کلام لذت: | ۲۳۷ |
| ۱۸۱ | د الله تعالی د جنتیانو سره مذاق: | ۲۳۸ |
| ۱۸۲ | د مشکو او زعفرانو باران: | ۲۳۸ |
| ۱۸۳ | په جنت کي د حسن او جمال اضافه: | ۲۳۹ |
| ۱۸۴ | د جنت د نعمتو تصور نسي کېدلای: | ۲۴۰ |
| ۱۸۵ | د آخرت نعمتونه کامل دي: | ۲۴۰ |
| | ﴿جنتي اعمال﴾ | |
| ۱۸۶ | تمهید: | ۲۴۵ |
| ۱۸۷ | د جنتي زندګی مثال: | ۲۴۷ |
| ۱۸۸ | دغه جنت د متقینو لپاره دی: | ۲۴۸ |
| ۱۸۹ | د جنت شاوخوا اغزن تار: | ۲۴۹ |
| ۱۹۰ | خو دغه اغزن تار په ګل باندي بدلیږي: | ۲۵۱ |
| ۱۹۱ | د یو صحابي د شهادت شوق: | ۲۵۱ |
| ۱۹۲ | اول عمل: | ۲۵۲ |
| ۱۹۳ | د دې امت سره د ګناه معافولو آساني: | ۲۵۳ |
| ۱۹۴ | دوهم(۲) عمل: | ۲۵۵ |
| ۱۹۵ | دریم(۳) عمل: | ۲۵۶ |
| ۱۹۶ | پر معمولي عمل باندي جنت، او واقعه: | ۲۵۷ |
| ۱۹۷ | د عالم د اکرام ثمره: | ۲۵۸ |
| ۱۹۸ | د ایمان څخه محروم کونکي ګناهونه: | ۲۵۹ |
| ۱۹۹ | د عبرته ډکه واقعه: | ۲۶۰ |
| ۲۰۰ | د جنتي علامات: | ۲۶۲ |
| | ﴿د هر انسان د طبیعت رعایت کول﴾ | |
| ۲۰۱ | تمهید: | ۲۶۷ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۰۲. | د صحابه کرامو د طبعیت رعایت : | ۲۶۸ |
| ۲۰۳. | کامل الحیاء والایمان: | ۲۶۹ |
| ۲۰۴. | د حضرت عمر رضی الله عنه د طبعیت رعایت: | ۲۷۰ |
| ۲۰۵. | دخپلو زنانو د طبعیت رعایت: | ۲۷۱ |
| ۲۰۶. | اعتکاف قضا کول: | ۲۷۳ |
| ۲۰۷. | د اعتکاف قضا راوړل: | ۲۷۳ |
| ۲۰۸. | دا هم سنت دی: | ۲۷۳ |
| ۲۰۹. | د بزرګانو ادب او احترام کول: | ۲۷۵ |
| ۲۱۰. | د حضرت بشر حافي رحمة الله علیه ادب: | ۲۷۶ |
| ۲۱۱. | د احمد بن حنبل رحمة الله علیه د بزرګانو ادب کول: | ۲۷۸ |
| ۲۱۲. | د جنید بغدادي رحمة الله علیه ادب کول: | ۲۷۹ |
| | ﴿دروغ ویل د نفاق علامه ده﴾ | |
| ۲۱۳. | تمهید : | ۲۸۵ |
| ۲۱۴. | د دین حقیقت: | ۲۸۶ |
| ۲۱۵. | نور ملتونه او دروغ: | ۲۸۷ |
| ۲۱۶. | دروغ نسم ویلای: | ۲۸۸ |
| ۲۱۷. | په دروغو کي هلاکت دی: | ۲۸۹ |
| ۲۱۸. | د پیغمبر صلی الله علیه وسلم وینا : | ۲۹۱ |
| ۲۱۹. | پر شپږو (۶) اعمالو د جنت ضمانت: | ۲۹۲ |
| ۲۲۰. | په مسخرو کي دروغ نه ویل: | ۲۹۳ |
| ۲۲۱. | د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مذاق او مسخري: | ۲۹۳ |
| ۲۲۲. | د اوښ بچی به درکړم: | ۲۹۴ |
| ۲۲۳. | د کوچنیانو سره دروغ نه ویل: | ۲۹۵ |
| ۲۲۴. | د دروغ ویلو د اجازت ځایونه: | ۲۹۶ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شمېره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۲۵. | د حضرت ابوبکر ﷺ واقعه: | ۲۹۷ |
| ۲۲۶. | زموږ د اکابرو د دوراغو څخه ځان ساتل: | ۲۹۸ |
| ۲۲۷. | زموږ د اکابرو یوه بله واقعه: | ۲۹۹ |
| ۲۲۸. | د بعضو لویو ګناهونو سزاء: | ۳۰۰ |
| | ﴿د وعدې مخالفت د نفاق علامه ده﴾ | |
| ۲۲۹. | تمهید: | ۳۰۷ |
| ۲۳۰. | د پیغمبر ﷺ د وعدې خیال ساتل: | ۳۰۹ |
| ۲۳۱. | د "غزوه بدر" فضیلت: | ۳۱۰ |
| ۲۳۲. | ته خپله وعده وفا کړه: | ۳۱۱ |
| ۲۳۳. | د امتحان ځایونه: | ۳۱۱ |
| ۲۳۴. | هلته جهاد د کم مقصد لپاره وو؟: | ۳۱۲ |
| ۲۳۵. | حضرت معاویه ﷺ د وحي کاتب وو: | ۳۱۳ |
| ۲۳۶. | د معاهدې خلاف ورزي کول: | ۳۱۴ |
| ۲۳۷. | د حضرت عمر ﷺ د معاهدې خیال ساتل: | ۳۱۶ |
| ۲۳۸. | د وعده خلافۍ مروج صورتونه: | ۳۱۷ |
| ۲۳۹. | د ملکي قانون پابندي کول ضروري عمل دی: | ۳۱۸ |
| ۲۴۰. | د حضرت موسیٰ علیه السلام په عمل سره دلیل نیول: | ۳۱۹ |
| ۲۴۱. | د یو ملک "ویزا" اخیستل، هم عملي وعده ده: | ۳۱۹ |
| ۲۴۲. | د ترافیکو قوانین هم عملي وعدې وي: | ۳۲۰ |
| ۲۴۳. | دا ټولې د دین خبرې دي: | ۳۲۱ |
| ۲۴۴. | خلاصه: | ۳۲۱ |
| | ﴿خیانت کول د نفاق علامه ده﴾ | |
| ۲۴۵. | تمهید: | ۳۲۵ |
| ۲۴۶. | د امانت تاکید: | ۳۲۶ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| صفحه | | شماره |
|---|---|---|
| ۳۲۷ | جنازه نه کول: | ۲۴۷. |
| ۳۲۸ | په شهادت قرضه او امانت نه معافیږي: | ۲۴۸. |
| ۳۲۹ | د امانت تصور: | ۲۴۹. |
| ۳۲۹ | دامانت معنی: | ۲۵۰. |
| ۳۳۰ | د ټولو څخه لوی امانت: | ۲۵۱. |
| ۳۳۱ | هغه امانت زندګي ده: | ۲۵۲. |
| ۳۳۲ | دسترګي نعمت هم امانت دی: | ۲۵۳. |
| ۳۳۳ | خپل نظر د الله و طرفته اړول: | ۲۵۴. |
| ۳۳۴ | د عبرته ډکه واقعه: | ۲۵۵. |
| ۳۳۴ | د یوغله ولایت ته رسېدل: | ۲۵۶. |
| ۳۳۷ | غوږ هم امانت دی: | ۲۵۷. |
| ۳۳۷ | ژبه هم امانت دی: | ۲۵۸. |
| ۳۳۸ | په منصب او عهده کی خیانت: | ۲۵۹. |
| ۳۳۸ | زموږ د اکابرو د امانت احساس: | ۲۶۰. |
| ۳۳۹ | د حضرت عمر ﷺ د امانت احساس: | ۲۶۱. |
| ۳۴۱ | د حضرت عمر ﷺ او د یوې بوډۍ عجیبه واقعه: | ۲۶۲. |
| | **﴿د امانت صورتونه﴾** | |
| ۳۴۷ | تمهید: | ۲۶۳. |
| ۳۴۸ | لوی امانت: | ۲۶۴. |
| ۳۵۰ | منصبونه ټول امانت دي: | ۲۶۵. |
| ۳۵۱ | زموږ د سلفو معمول: | ۲۶۶. |
| ۳۵۲ | د حضرت شیخ الهند رحمة الله علیه ملازمت: | ۲۶۷. |
| ۳۵۳ | د حقوقو مطالبه: | ۲۶۸. |
| ۳۵۴ | د حقوقو ادا کولو آسانه لار: | ۲۶۹. |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۷۰. | خيانت نن د حکومتونو لويه مسئله ده: | ۳۵۴ |
| ۲۷۱. | د دفتر سامان او حکومتي اشياء امانت دي: | ۳۵۵ |
| ۲۷۲. | د امانت صحيح معنی: | ۳۵۶ |
| ۲۷۳. | د حضرت عباس ﷺ د کور "ناوه": | ۳۵۶ |
| ۲۷۴. | د مجلس وينا امانت ده: | ۳۵۸ |
| ۲۷۵. | پر ټيليفون باندي د نورو خبري اورېدل: | ۳۶۰ |
| ۲۷۶. | په امانت کي د خيانت کولو سزا: | ۳۶۱ |
| | **﴿د نفس او شيطان دښمني﴾** | |
| ۲۷۷. | تمهيد: | ۳۶۷ |
| ۲۷۸. | نفس امّاره، لوامّه، مطمئنّه: | ۳۶۹ |
| ۲۷۹. | د نفس د دوکه کولو شکل: | ۳۶۹ |
| ۲۸۰. | د شيطان د دښمنۍ طريقه: | ۳۷۱ |
| ۲۸۱. | د نفس او شيطان د حملو څخه د حفاظت طريقه: | ۳۷۲ |
| ۲۸۲. | د ګناه وسوسه فوراً د زړه څخه ايستل: | ۳۷۳ |
| ۲۸۳. | د انسان د ذهن خاصيت: | ۳۷۴ |
| ۲۸۴. | د يو عابد عبرتناکه واقعه: | ۳۷۴ |
| ۲۸۵. | د شيطان کمزوری تدبير: | ۳۸۰ |
| ۲۸۶. | دنفس او شيطان د وسوسو څخه د حفاظت اوله طريقه: | ۳۸۰ |
| ۲۸۷. | د حفاظت دوهمه طريقه: | ۳۸۱ |
| ۲۸۸. | نيک صحبت فرض عين دی: | ۳۸۲ |
| ۲۸۹. | د امام رازي رحمة الله عليه عجيبه واقعه: | ۳۸۳ |
| ۲۹۰. | خلاصه: | ۳۸۷ |
| | **﴿د ميراث تقسيم کولو اهميت﴾** | |
| ۲۹۱. | تمهيد: | ۳۹۱ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۹۲. | اول(۱) حق: ........................ | ۲۹۲ |
| ۲۹۳. | دوهم(۲) حق: ........................ | ۳۹۲ |
| ۲۹۴. | دریم(۳) حق: ........................ | ۳۹۳ |
| ۲۹۵. | څلورم(۴) حق: ........................ | ۳۹۴ |
| ۲۹۶. | د مړي مال استعمالول: ........................ | ۳۹۴ |
| ۲۹۷. | د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه احتياط: ........................ | ۳۹۵ |
| ۲۹۸. | ميراث نه تقسيمول: ........................ | ۳۹۶ |
| ۲۹۹. | ميراث ژر تقسيمول: ........................ | ۳۹۷ |
| ۳۰۰. | د مال پر غصب کولو باندي وعيد: ........................ | ۳۹۸ |
| ۳۰۱. | عبرتناکه واقعه: ........................ | ۴۰۰ |
| ۳۰۲. | د دوو(۲) صحابه کرامو عجيبه معاهده: ........................ | ۴۰۱ |
| ۳۰۳. | ورور غواړې! که مال؟: ........................ | ۴۰۳ |
| ۳۰۴. | د هندوانو ذهنيت: ........................ | ۴۰۴ |
| ۳۰۵. | د خويندو حصه هغوته په قبضه کي ورکول: ........................ | ۴۰۴ |
| ۳۰۶. | اول فتوٰی ځان ته معلومول: ........................ | ۴۰۵ |
| ۳۰۷. | خوفناکه عذاب او وعيد: ........................ | ۴۰۵ |
| ۳۰۸. | د هر بنده درې(۳) عملنامې: ........................ | ۴۰۷ |
| ۳۰۹. | د بندګانو د حقوقو ادا کولو اهتمام کول: ........................ | ۴۰۷ |
| | **﴿په ژوندکي کي اعتدال کول﴾** | - |
| ۳۱۰. | تمهيد: ........................ | ۴۱۱ |
| ۳۱۱. | عبدالله رضي الله عنه ته نصيحت: ........................ | ۴۱۲ |
| ۳۱۲. | د صحابه کرامو مزاج: ........................ | ۴۱۳ |
| ۳۱۳. | د صحابه کرامو ګمان: ........................ | ۴۱۳ |
| ۳۱۴. | د عبدالله کيفيت: ........................ | ۴۱۴ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۱۵. | د پیغمبر ﷺ پخپله راتلل: ........ | ۴۱۴ |
| ۳۱۶. | د مېلمه اکرام کول: ........ | ۴۱۵ |
| ۳۱۷. | د پیغمبر ﷺ د نصیحت کولو طریقه: ........ | ۴۱۶ |
| ۳۱۸. | د انسان جسم امانت دی: ........ | ۴۱۷ |
| ۳۱۹. | په صحیح نیت هر عمل عبادت دی: ........ | ۴۱۸ |
| ۳۲۰. | کاش ما په رخصت عمل کړی وای: ........ | ۴۱۹ |
| ۳۲۱. | لږ عمل خو لېکن په پابندي سره کول: ........ | ۴۲۰ |
| ۳۲۲. | د یو بزرګ واقعه: ........ | ۴۲۰ |
| ۳۲۳. | نوافل د الله د محبت حق دی: ........ | ۴۲۱ |
| ۳۲۴. | د صحابه کرامو نفلي عبادات: ........ | ۴۲۲ |
| ۳۲۵. | د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما تمنّی: ........ | ۴۲۴ |
| ۳۲۶. | زموږ د معاشرې افراط او تفریط: ........ | ۴۲۵ |
| ۳۲۷. | د آذان جواب ور کول: ........ | ۴۲۶ |
| ۳۲۸. | دوهمه بې اعتدالي: ........ | ۴۲۶ |
| ۳۲۹. | دین د اِتباع نوم دی: ........ | ۴۲۷ |
| | **﴿د زنانو د حقوقو رعایت کول، (۱) بیان﴾** | |
| ۳۳۰. | تمهید: ........ | ۴۳۱ |
| ۳۳۱. | د بندګانو په حقوقو کي غفلت: ........ | ۴۳۲ |
| ۳۳۲. | د دین درې (۳) حصې د بندګانو حقوق دي: ........ | ۴۳۲ |
| ۳۳۳. | د زناني په هلکه د اسلام تعلیمات: ........ | ۴۳۴ |
| ۳۳۴. | د زناني بنه صفت ته نظر کول: ........ | ۴۳۵ |
| ۳۳۵. | د یو بزرګ واقعه: ........ | ۴۳۵ |
| ۳۳۶. | د حضرت مرزا مظهر جانان رحمة الله علیه واقعه: ........ | ۴۳۶ |
| ۳۳۷. | د شاه ابوالحسن خرقاني رحمة الله علیه واقعه: ........ | ۴۳۷ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۳۸ | د زناني متعلق د پیغمبر ﷺ هدایت: | ۴۳۹ |
| ۲۳۹ | د زناني یوه ښائسته تشبیه: | ۴۴۰ |
| ۲۴۰ | شریف انسان همیشه مغلوب وي: | ۴۴۲ |
| ۲۴۱ | د پیغمبر ﷺ و حضرت عائشې رضي الله عنها ته وینا: | ۴۴۳ |
| ۲۴۲ | د زناني پو عادت خو به ښه وي: | ۴۴۵ |
| ۲۴۳ | په هر شي کي خیر او شر مخلوط وي: | ۴۴۵ |
| ۲۴۴ | دانګرېزي یو مقوله: | ۴۴۶ |
| ۲۴۵ | خلاصه: | ۴۴۷ |
| | ﴿د زنانو د حقوقو رعایت کول، (۲) بیان﴾ | |
| ۲۴۶ | تمهید: | ۴۵۱ |
| ۲۴۷ | پنځه(۵) وصیتونه: | ۴۵۲ |
| ۲۴۸ | نیکبخته انسان: | ۴۵۳ |
| ۲۴۹ | د نکاح اهمیت: | ۴۵۴ |
| ۲۵۰ | د اجر او ثواب زیاتوالی: | ۴۵۵ |
| ۲۵۱ | زندګي په محبت کي تېرول: | ۴۵۵ |
| ۲۵۲ | اوله(۱) طریقه: نصیحت کول دي: | ۴۵۷ |
| ۲۵۳ | دوهمه(۲) طریقه: بستره جلا کول دي: | ۴۵۷ |
| ۲۵۴ | د بسترې جلا کولو تفصیل: | ۴۵۷ |
| ۲۵۵ | ددې حدیث متعلق نور مسائل: | ۴۵۸ |
| ۲۵۶ | دریمه(۳) طریقه، وهل دي: | ۴۵۹ |
| ۲۵۷ | د پیغمبر ﷺ وصیت: | ۴۶۰ |
| ۲۵۸ | حدیث ظني دی یا قطعي؟: | ۴۶۰ |
| ۲۵۹ | د پیغمبر ﷺ د زنانو سره سلوک: | ۴۶۲ |
| ۲۶۰ | زموږ د اکابرو کرامت: | ۴۶۳ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شمایه | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۶۱ | طریقت بجز خدمت خلق نیست: | ۴۶۴ |
| ۳۶۲ | د محبته ډکه زندګي: | ۴۶۵ |
| | ﴿د زنانو د حقوقو رعایت کول، (۴) بیان﴾ | |
| ۳۶۳ | تمهید: | ۴۶۹ |
| ۳۶۴ | د اسلام څخه سوا په نورو دینونو کي د زنانې ژوند: | ۴۷۰ |
| ۳۶۵ | په اسلام کي د زنانې مقام: | ۴۷۲ |
| ۳۶۶ | د ازدواجي زندګی اهمیت: | ۴۷۲ |
| ۳۶۷ | د "حجة الوداع" د خطبې یوه حصه: | ۴۷۴ |
| ۳۶۸ | د شیطان خوشحالي: | ۴۷۵ |
| ۳۶۹ | زنانې ستاسو سره قید دي: | ۴۷۶ |
| ۳۷۰ | د حکیم الامت رحمة الله علیه وینا: | ۴۷۷ |
| ۳۷۱ | د دې څخه علاوه، ستا نور پر زنانه هیڅ حق نسته: | ۴۷۸ |
| ۳۷۲ | د کور خدمت د زنانې شرعاً ذمه واري نه ده: | ۴۷۸ |
| ۳۷۳ | د خُسر او خواښې خدمت، واجب نه دی: | ۴۷۹ |
| ۳۷۴ | زنانه د اجازت بغیر د باندي وتل: | ۴۸۱ |
| ۳۷۵ | حسن سلوک ښه زندګي ده: | ۴۸۲ |
| ۳۷۶ | زنانې ته جېب خرڅ جلا ورکول: | ۴۸۲ |
| ۳۷۷ | آرائش هم جائز دی: | ۴۸۴ |
| ۳۷۸ | نمائش جائز نه دی: | ۴۸۵ |
| ۳۷۹ | د اسراف او فضولخرچی حد: | ۴۸۵ |
| | ﴿د الله تعالي طرفته رجوع کول﴾ | |
| ۳۸۰ | تمهید: | ۴۸۹ |
| ۳۸۱ | پرېشانی دوه (۲) قسمه دي: | ۴۹۰ |
| ۳۸۲ | د دواړو علامات جلا جلا دي: | ۴۹۰ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۳۸۳ | اوسنی لوی مصیبت:............................... | ۴۹۱ |
| ۳۸۴ | د بدو اعمال نتائج:............................... | ۴۹۲ |
| ۳۸۵ | زمونږ حیا څه حال ته رسېدلې ده:............................... | ۴۹۳ |
| ۳۸٦ | د پرېشانۍ لیرې کولو اصلي طریقه:............................... | ۴۹۴ |
| ۳۸۷ | یو څو ضروري هدایت:............................... | ۴۹۴ |
| ۳۸۸ | د یو بزرګ واقعه:............................... | ۴۹۵ |
| ۳۸۹ | د تقدیر په عقیده ځان پوه کول:............................... | ۴۹٦ |
| ۳۹۰ | د حضرت عمر ﷺ واقعه:............................... | ۴۹۷ |
| ۳۹۱ | د تقدیر حقیقت:............................... | ۴۹۸ |
| ۳۹۲ | توبه کښل:............................... | ۴۹۹ |
| ۳۹۳ | د حضرت ذوالنون مصري رحمة الله علیه واقعه:............................... | ۴۹۹ |
| ۳۹۴ | صدقه کول:............................... | ۵۰۱ |
| ۳۹۵ | د عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه واقعه:............................... | ۵۰۲ |
| ۳۹٦ | د جنت پر دروازه درې (۳) کرښې لیکلې دي:............................... | ۵۰۳ |
| ۳۹۷ | زمونږ د سیمې حالات:............................... | ۵۰۴ |
| | ﴿د شب براءت فضیلت﴾ | |
| ۳۹۸ | تمهید:............................... | ۵۰۹ |
| ۳۹۹ | د رحمتونو ابتدا:............................... | ۵۱۲ |
| ۴۰۰ | د دې شپې نمونه:............................... | ۵۱۳ |
| ۴۰۱ | روژه نیول:............................... | ۵۱٦ |
| ۴۰۲ | د یو تابعي د ابوذر ﷺ سره ملاقات:............................... | ۵۱۷ |
| ۴۰۳ | قبرستان ته ورتلل:............................... | ۵۱۷ |
| ۴۰۴ | د عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه د قبر سره مکالمه:............................... | ۵۱۹ |
| ۴۰۵ | د قبر تنهائي:............................... | ۵۲۰ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۰۶. | د حضرت عثمان غني ﷺ ژړا: | ۵۲۱ |
| ۴۰۷. | پر دوو (۲) انسانانو د مځکي تعجب: | ۵۲۱ |
| ۴۰۸. | د انسان په قبر کي ببوزلي: | ۵۲۲ |
| ۴۰۹. | د عبرت وینا وي: | ۵۲۲ |
| ۴۱۰. | الله تعالی ته خپله عاجزي پېشول: | ۵۲۲ |
| ۴۱۱. | د هارون رشید بادشاه واقعه: | ۵۲۳ |
| | **﴿حاکمان د اعمالو ښوندي وي﴾** | |
| ۴۱۲. | تمهید: | ۵۲۹ |
| ۴۱۳. | حکمرانان به لمونځ ځنډوي: | ۵۳۱ |
| ۴۱۴. | حکمران د مسجد امام: | ۵۳۱ |
| ۴۱۵. | د لمانځه تاخیر کونکي حاکمان: | ۵۳۲ |
| ۴۱۶. | پر دغه موقع د پیغمبر ﷺ حکم: | ۵۳۲ |
| ۴۱۷. | درې (۳) خبري: | ۵۳۳ |
| ۴۱۸. | د اولي خبري وضاحت: | ۵۳۴ |
| ۴۱۹. | د دوهمي خبري وضاحت: | ۵۳۵ |
| ۴۲۰. | د دریمي خبري وضاحت: | ۵۳۶ |
| ۴۲۱. | د ظالم د ظلم څخه ځان محفوظه کول: | ۵۳۷ |
| ۴۲۲. | د صحابه کرامو معمول: | ۵۳۷ |
| ۴۲۳. | د ابن عمر ﷺ احتیاط او ملګرو ته وصیت: | ۵۳۸ |
| ۴۲۴. | چي څنګه عمل، هغسي حکمران: | ۵۳۸ |
| ۴۲۵. | د الله تعالی د ناراضګۍ علامې: | ۵۳۹ |
| ۴۲۶. | د امت مسلمه د پرېشانیو حل: | ۵۴۰ |
| ۴۲۷. | د مسلمانانو وسائل او طاقت: | ۵۴۱ |
| ۴۲۸. | د مسلمانانو د ذلت بنیادي وجه: | ۵۴۲ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۴۲۹ | اسلام خو صرف لمونځ نه دی: | ۵۴۳ |
| ۴۳۰ | دعا به څنګه قبوله سي؟: | ۵۴۴ |
| ۴۳۱ | پخپلو حالاتو کي بدلون راوستل: | ۵۴۵ |
| ۴۳۲ | آخري خبره: | ۵۴۵ |

## سریزه

اَلحَمْدُلِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ مُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰ
رَسُوْلِهٖ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ نُجُوْمُ الْاِهْتِدٰى.

امابعد: بنده ناچیز د ډیري زمانې څخه د جمعې د لمانځه د امامت کولو او د هغه څ
مخکې د تقریر کولو مصروفیت او شغل لرم.

چې غالبًا اوس یې پنځلس (۱۵) کاله پوره سول، چونکه په اصل کې د بنده سره د تقری
کولو استعداد ډېر کم وو.

نو د مجبورۍ په وجه به په هره "کتب خانه" کې د خپلو استاذانو او د بعضو نور
بزرګانو علماؤ لیکل سوي او چاپ سوي د تقریر کتابونه چې په عامه توګه هغه
خطباتو په نامه باندې شائع کېدل د هغه کتابو طلب او لټون مې پیل کړ.

د هغه طلب او لټون په نتیجه کې دا رنګه یوه لویه ذخیره را سره جمع سوه، بیا به مې
هري جمعې د تقریر لپاره د موضوع انتخاب کوئ، او د هغه موضوع په طبق به مې
کتابو کې مواد د قرآني آیاتو، احادیثو، واقعاتو او امثالو په بڼه زا جمع کول.

دغه موادو ته به مې ترتیب ور کوئ، او د تقریر په شکل به مې د جمعې د لمانځه څ
مخکې عمومًا د یوه ساعت وخت په دوران کې د خلکو ومخته وړاندې کوئ.

چونکه په تقریر کې به کله د بنده د ډېر تتبع پخاطر ډېر بهترین او کافي مواد
احادیثو، او حکایاتو، د بعضو بزرګانو د حالاتو په شکل کې را جمع کېدل، ن
سامعینو حضراتو به په شوق سره اورېدل، او په عامه توګه هغه ته ډېر زیات متوج
کېدل.

په دې دوران کې د بعضو علماؤو او طلباؤو چې د بنده د انډیوالانو یا شاګردانو
کتار کې وه، او په جمعه کې به شریکېدله، د هغوی لطرفه پر دې خبره زیات اصرا
وو: چې دا مواد باید جمعه سوي وای، ممکنه ده: چې د دې څخه یو چا فائده اخست

وای، خدای سته زما هم دې طرفته څه میلان وو، لیکن د بیمارۍ پخاطر ما دې طرفته هیڅ قدم نه سو پورته کولای.
آخر زما یو ملګري "امیر محمد" دې تقریرو په ډېر اهتمام سره په "ټیپ ریکارډ" کي محفوظ کول شروع کړه، چي په هغه وخت کي د هغه سره زیات تقریرونه په "ټیپ ریکارډ" کي محفوظ سوه.
بیا د بنده څه شاګردانو لکه: مفتي عبدالمنان صاحب، ملا محمد سلیم او ملا نقیب الله آخند د "ټیپ ریکارډ" څخه پر بیاض را نقل کړل.
چي کله د "کمپوز" وخت راغلئ، په منځ کي ئې څه تعطیلات راغلل، خو د هغه تعطیلاتو باوجود کار تر "کمپوز" ووتئ، په آخره مرحله کي دي الله تعالی و قاري خلیل الرحمن صاحب عرف (مسلم اغا) ته جزاء خیر ور کړي، چي هغه د ترتیب او تزئین آخره مرحله په ډېر اخلاص سره سرته ورسول.
د دې کتاب د مطالعې په وخت کي باید دا خبره د مطالعه کونکو په ذهن کي پرته وي: چي دا څه با قاعده تصنیف نه دئ، بلکه د لیکل سوو تقریرو یوه خلاصه ده، چي د کېسټو (فیتو) څخه را اخستل سوېده.
نو په هم دغه وجه په اول او دوهم چاپ کي د حوالو او تخریج څه خاص اهتمام نه وو الله تعالی دي جزاء خیر ور کړي، ذکي فاضل مفتي حافظ کلیم الله صاحب ته چي هغه د تخریج محنت ور باندي وکړئ، او یو څه ئې د خطبو اضافه هم ور سره وکړه، او دریم ځل ئې چاپ ته تیار کړئ.
نو د دې کتاب طریقه تحریري نه ده، بلکه تقریري او خطابي ده، کچیري یو مسلمان د دې څخه فائده واخلي، دا محض د الله تعالی کرم او مهرباني ده: چي پر دې باندي به زه بنده د الله تعالی شکر ادا کوم.
او که یو خبره په دې تقریرو کي غیر محتاطه او غیره مفیده وي، نو یقینا دا به زما د غلطۍ او کوتاهۍ په وجه وي، ځکه زه په دې خبره اقرار کوم: چي په ما کي ډېري کمزوریاني دي، شاید هغه کمزوریاني به په دې تقریرو کي هم راغلي وي.
لیکن بیا هم زه د احبابو علماء کرامو او طلباء عظامو څخه دردمندانه خواهش کوم چي یوه قاعده ده:

……..مَا لَا يُدْرِكُ كُلُّهُ لَا يُتْرَكُ كُلُّهُ﴾.
ښېدلای سي: چي په دې موادو کي ستاسو په کار یو شی درسي نو تاسو په خیر ا
خوبي په دې کي نظر وکړئ، او د کمزوریانو ځخه یې خپل نظر را وګرځوئ:
……..وَالْعَفْوَ عِنْدَ كِرَامِ النَّاسِ مَأْمُوْلٌ﴾.
لېکن "الحمدلله" دا ویلای سم: چي د دې تقریرو مقصد صرف تقریر برای تقریر
دئ، بلکه د دې مقصد د ټولو ځخه مخکي خپل ځان او بیا سامعین د خپل نفس
اصلاح ته متوجه کول دي.
لکه: استاد محترم فرمایلي دي:

نه به حرف ساخته سرخوشم……..نه به نقش بسته مشوشم
نفس بیاد تو میزنم……….چه عبارت وچه معانیم

الله تعالی دي په خپل فضل او کرم سره دا یوځو مختصر تقریرونه خپله زما بنده او
ټولو ویونکو لپاره د اصلاح ذریعه وګرځوي، او زموږ د ټولو لپاره دي الله تعالی
آخرت ذخیره جوړه کړي، او چي کومو کسانو د دې تقریرو په برابرولو کي هر قس
خدمت کړی دئ، الله تعالی دي دوی ته د خپل خدمت بهترینه صله او بدله ور کړي.

﴿وَمَا ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ بِعَزِيزٍ﴾

آمِيْن يَا رَبَّ الْعَالَمِيْن

وَ صَلَّى اللهُ عَلَى خَيْرِ خَلْقِهِ مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ وَ صَحْبِهِ اَجْمَعِيْن

اطیع الله عفی عنہ

بن حاجی ملا عبدالعزیز (مرحوم)

خادم التدریس جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

رمضان المبارک ۱۴۴۱ ہجری بمطابق ۲۰۲۰

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیہ)

# د دنیا محبت

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

ترتیب وتخریج؛

مفتی حافظ کلیم اللّٰہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

مکتبہ سلطانیہ الهاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقــــــريــر | الحاج مولوي اطيع اللہ صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتــي حـافـظ كليم اللہ صاحب |
| مــقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشـــــاعــت | اول |
| تــاريـــــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تــعـــــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿فَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَقُولُ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا وَمَا لَهُ فِي الْآخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿عَنِ ابْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلَا فِي غَنَمٍ بِأَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِينِهِ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْـحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْـعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! ستاسو په حضور کي ما د پيغمبر ﷺ يو حديث مبارک پېش کړی، چي د هغه راوي: مشهور صحابي: حضرت کعب بن مالک رضي الله عنه دی.

حضرت کعب بن مالک رضي الله عنه به فرمايل: چي پيغمبر ﷺ به مونږ ته ويل: کچيري دوه(۲) وږي لېوان د يو چا د پسو په رمه کي ولوېږي، چي هغه په دغه رمه کي څومره فساد او تباهي جوړوي، ذهغه څخه زيات فساد دوه(۲) خصلته چي په انسان کي راسي، نو د انسان په دين کي ئې راولي.

- يو خوی د دنيا محبت او حرص دی.
- او دوهم د منصب او د قدرت محبت.

(۱) سورة البقره: آيت نمبر ۲۰۰

(۲) سنن ترمذي: حديث نمبر ۲۳۷۶

يعني چي كله د انسان په زړه كي د دنيا محبت او حرص راسي، چي زه به زياته د
څنګه پيدا كوم؟ او څنګه به ئې راجمع كوم؟
او داغه رنګه د انسان په زړه كي د منصب او قدرت حرص پيدا سي، او دهغه محبت
انسان په زړه كي ځای وركړي، نو د ده په دين كي د دغه څخه زيات فساد پيدا كيږ
تر هغه چي كم فساد وږي ليوان د پسو په رمه كي راولي.

## د مال او منصب د محبت فساد:

د دې حديث څخه پيغمبر ﷺ دا خبره ښكاره كوي: چي ظاهراً خو دا دوه(۲)
كمزوري او كوچني عادتونه دي، چي د انسان په زړه كي د مال او د منصب محبت
حرص راسي، ليكن د هغه فساد دومره لوی دی، چي د انسان ټوله دين د تباهي
هلاكت سره مخامخ كوي، ځكه ډېر ځله يو شی پخپله كوچنی وي، ليكن د هغه څ
ډېر لوی فساد پيدا كيږي.

## دوضاحت لپاره مثال:

زه دا وايم: يو سړی تاجر دی، نو د خپل مال لپاره لوی ګودام ونيسي، او په هغه كي
ده د تجارت قيمتي او ډېر زيات مالونه پراته وي، كله خو د اور يو بڅركی په هغه ك
ولګيږي، د ده پام ورته نه وي، يا دی غفلت وكړي، نو هغه ټوله په ايرو باندي با
كړي، نو يو كوچنی شی كله خو د ذات په اعتبار كوچنی وي، ليكن فساد ډېر لو
ځني پېښيږي.
داغه رنګه د مال محبت او د منصب محبت په اعتبار د ذات دا دواړه معمولي عادتو
او خصلتونه دي، ليكن چي كله په انسان كي پيدا سي، نو هغه انسان د صحيح لار
څخه اړوي، او پر غلطه لار ئې روانوي، چي انسان په ديني لحاظ د تباهي او هلاك
ځای ته رسوي.
چونكه دا دوه(۲) عادتونه دي، او هم دواړه ډېر زيات د تباهي اسباب دي، ليك
وخت چونكه مختصر دی، نو زه ستاسو په حضور كي د دغه يوه چي د مال محبت د
يو څه تفصيل پېشوم، چي د مال محبت د انسان لپاره څومره زيات خطرناك عمل د
او د هغه څخه به د حفاظت لار د انسان لپاره څنګه وي.

## د مال محبت د ډیرو ګناهونو بنیاد دی:

زه اکثر ستاسو په حضور کي دا خبره ډېر ځله تکراراً عرض کوم؛ چي مال او دولت پخپله بېکاره شی ندي، که ئې چیري الله تعالی یو چاته ورکړي، نو دا دالله تعالی نعمت دی، او هم د هغه فضل او احسان دی، چي د خپل بنده سره ئې کوي.

لیکن د مال محبت او د هغه حرص چي کله دانسان په زړه کي راسي، نو بیا خو هغه د ډېرو زیاتو ګناهونو بنیاد جوړېږي، ځکه د مال د محبت په وجه انسان درواغ وایي، رشوت اخلي، او دوکه کوي، او نورو انسانانو ته تکلیف رسوي، نه معلوم: چي څومره زیات ګناهونه به وي، چي د مال د محبت په وجه پیدا کیږي.

او چي کله د انسان په زړه کي د مال محبت ځای ونیسي، او د ده پر دماغ دا فکر سپور وي: چي د سلو (۱۰۰) څخه به زر(۱۰۰۰) څنګه جوړوم؟ او زر (۱۰۰۰) به لک(۱۰۰۰۰۰) ته څنګه رسوم، چي په دغه شکل د انسان په زړه کي د دنیا فکر راغلی؟ نو بیا خو دغه د دنیا محبت انسان هري ګناه ته رابولي.

لکه حدیث شریف هم داسي دی:

.........حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيئَةٍ﴾.(۱)

د دنیا محبت د هري خطا بنیاد دی، یعني چي کله ته د اکثرو ګناهونو تحقیق وکړې، نو دهغې تر شا به ضرور د دنیا د محبت ولاړ وي.

لیکن کچیري یو سړی د قناعت ژوند اختیار کړي، چي الله تعالی پخپل فضل او کرم سره په جائزه او حلاله طریقه سره کم مال انسان ته ور کړیدی، نو هغه نعمت بلل، او د الله تعالی شکر ور باندي ادا کول، او پر هغه باندي قناعت کول، ځکه چي د قناعت څخه بغیر د انسان زړه په یو حالت کي هم نه مړیږي.

لکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

.........لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادٍ مِنْ ذَهَبٍ، أَحَبَّ أَنْ لَهُ وَادِيًا آخَرَ، وَلَنْ يَمْلَأَ فَاهُ إِلَّا التُّرَابُ، وَاللهُ يَتُوبُ عَلَى مَنْ تَابَ﴾.(۲)

(۱) حلیة الاولیاء و طبقات الاصفیاء، صفحه نمبر ۳۸۸
(۲) صحیح مسلم: کتاب الزکوة، حدیث نمبر ۱۰۴۰

کچیري انسان ته یوه دره(شېله) د سرو زرو ډکه ور کول سي، نو دی دا غواړي: چي یوه دي بله هم وي، کچیري دوې(۲) درې(شېلې) د سرو زرو ډکي ور کول سي، نو دی د دریمي(۳) غوښتنه کوي، نو د انسان وړی نس د قبر د تورو خاورو څخه مخکي نه ډکیږي، هو! کڅوک توبه وکاږي، او د دنیا محبت او حرص د خپل زړه څخه لیري کړي، نو الله تعالی به ئې توبه قبوله کړي.

## قناعت څه ته وایي؟

نو زه دا وایم: چي د قناعت څخه ما سوا د انسان نس بل هیڅ شی نسي ډکولای، او قناعت دې ته وایي: چي انسان خپل واقعي ضروریات معلوم کړي، او هغه پوره کړي، ځکه چي پر انسان باندي د خپل نفس هم حق سته، او د خپلي زناني هم حق سته، او د خپلو بچیانو هم حق سته.
نو په درمیانه طریقه سره د هغه ضروریاتو د پوره کولو بندوبست وکړي، او د دې څخه علاوه چي کم خواهشات دي، د هغو دروازه پر خپل زړه باندي بنده کړي، د دې څخه علاوه نور څه چي الله تعالی و ده ته ورکړي، هغه د الله تعالی انعام او احسان وبولي، خو د ده په زړه کي د هغه شوق او هوس باید نه وي.

## دنیا مقصد نه ګرځول:

زه دا منم: چي په دنیا کي د انسان زندګي بغیر د مال او دولت څخه نه تیریږي، لیکن چي کم سړی مقصود مال او دولت وګرځوي، او زندګي د هغه په طلب کي سرګردانه تېره کړي، بیا خو الله تعالی د ده ضروریات نور هم زیاتوي، او دی به همېشه په هغه کي پرېشانه وي.
لکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:
............مَنْ كَانَتِ الدُّنْيَا هَمَّهُ، فَرَّقَ اللَّهُ عَلَيْهِ أَمْرَهُ، وَجَعَلَ فَقْرَهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ، وَلَمْ يَأْتِهِ مِنَ الدُّنْيَا إِلَّا مَا كُتِبَ لَهُ).[1]

[1] سنن ابن ماجه: حدیث نمبر ۴۱۰۵

چي د کم چا مقصود طلب د دنیا وګرځي، الله تعالی به ئې ضروریات ور ډېر کړي، او فقر به ئې په زړه کي ور واچوي، لیکن د هر څومره منډو او کوششونو سره سره به ده لره هغه څه په لاس ورځي، چي د ده په نصیب کي وي.

...........وَمَنْ كَانَتِ الْآخِرَةُ نِيَّتَهُ، جَمَعَ اللَّهُ لَهُ أَمْرَهُ، وَجَعَلَ غِنَاهُ فِي قَلْبِهِ، وَأَتَتْهُ الدُّنْيَا وَهِيَ رَاغِمَةٌ).(١)

او چي د کم چا د زندګی مقصد طلب د آخرت وي، الله تعالی به ئې ضروریات ور کم کړي، او هم به ئې غنا په زړه کي ور واچوي، او دنیا به په داسي شکل ده ته راځي: چي پزه به ئې په خاورو خړه وي، یعني: دنیا به الله تعالی ذلیله کوي، او هم به ئې د ده تابع ګرځوي.

د پیغمبر ﷺ صحابه کرامو دنیا پر شا وغورځوله، او مقصود ئې آخرت وګرځاوی، هغوی خپله زندګي په لوږه او تکلیفو کي تېره کړه، لیکن د هغوی زړونه الله تعالی په داسي نور سره منور کړل: چي د هغوی نور د مځکي تر هره ګنج پوري ورسېدی.

په مسجد نبوي کي تر نو (۹) کالو پوري د مسکنت او نیستی په خاطر څراغ بل نسو، لیکن د مسجد نبوي نور په ټوله عالم کي سره وغوړېدی.

پخپله د الله حبیب ﷺ د دنیا څخه رخصت اخلي، چي د ده: ﴿آخِرُ يَوْمٍ مِنَ الدُّنْيَا وَ أَوَّلُ يَوْمٍ مِنَ الْأَخِرَةِ﴾ د دنیا د زندګی آخره ورځ وه، او د آخرت د زندګی اوله ورځ وه، لیکن د ده په کور کي دومره تیل نه وو: چي په هغه باندي څراغ بل سي، او د ده د کور دا حال وو: چي د ده جنګي زغره د یو یهودي په کور کي په ګروي پرته وه، دومره څه نه وو، چي هغه ئې را خلاصه کړې وای، نو چي کم سړي مقصود د زندګی آخرت وګرځاوی، نو دنیا بیا الله تعالی د ده تابع کوي.

## د دنیا خاصیت:

د دنیا خاصیت دا دی: چي ته څومره په دنیا پسي منډي وهې، هغه به ستا څخه لیري تښتي، او چي څومره ته د دنیا څخه مخ را وګرځوې، نو هغه به تا پسي راځي.

(١) سنن ابن ماجه: حدیث نمبر ۴۱۰۵

د دنیا مثال د سایې دی، په هغه پسې چې څومره ځغلې، نو دا نه نیول کیږي، لیکن که دې چیرې مخ ځنې راوګرځاوی، بیا دا بیرته در پسې راګرځي.
نو د الله تعالی عادت دا دی: چې خپلو نیکو بندګانو ته هم دنیا ور کوي، خو هغه دنیا د دوی تابع وي، او دوی په هغه دنیا پسې منډې نه وهي، ځکه د دوی په زړو کې د دنیا څه حقیقت نه وي.
او چې کمه دنیا دوی ته راسي، نو هغه د دوی لپاره دین جوړیږي، ځکه د دوی دنیا او مال او دولت د الله تعالی لپاره وي، چې په هغه کې دوی د بندګانو حقوق ادا کوي، او بندګانو ته د هغه مال څخه فائده رسیږي، او د هغه په ذریعه د بندګانو حقوق ادا کیږي.

## د حضرت سلیمان علیه السلام مال او دولت او سلطنت،

حضرت سلیمان علیه السلام ته الله تعالی د ټولې مځکې د مخ سلطنت ور کړی وو، او هغه داسې سلطنت وو، چې تر اوسه پورې بلچا ته نه وو ور کول سوی، ځکه پر غرونو هم د ده سلطنت وو، پر حیوانانو او پر جناتو او پر هواګانو ټولو الله تعالی ده ته حکومت ور کړی وو، او بیا چې د مځکې پر مخ څومره مال او دولت وو، د دې ټوله ملکیت هم د سلیمان علیه السلام سره وو.
حضرت تهانوي رحمة الله علیه به کله کله په مذاق او مسخرو کې یو خبره کوله: چې بعضې اوقات زما په زړه کې دا خیال پیدا سي: چې زما اوس تنخواه یو نیم سل(۱۵۰) روپیې ده، کچیرې زما تنخواه دوه سوه(۲۰۰) یا درې سوه(۳۰۰) ته ورسیږي، نو زه به هغه چیرې خرڅوم؟ او بیا چې زما څخه په آخرت کې د هغه حساب غوښتل کیږي، هغه به څنګه ور کوم؟
او بیرته دا خبره یو څه حوصله راکړي: چې حضرت سلیمان علیه السلام ته الله تعالی ډیر سلطنت او مال او دولت ور کړی وو، او د هغه سره دا فکر نه پیدا کیدی، بلکه حقیقت دا وو: چې حضرت سلیمان علیه السلام د دغه شان سلطنت دعا غوښتې وه، چې:
............هَبْ لِي مُلْكًا لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ مِنْ بَعْدِي إِنَّكَ أَنْتَ الْوَهَّابُ﴾.(۱)

(۱) سورة ص، آیت نمبر ۲۵

یا الله! ماته داسي سلطنت راکړه؛ چي زما څخه وروسته هیچاته ور کول نسي، بېشکه ته بښه ور کونکی ذات ئې.
ښکاره خو داسي معلومېږي، چي د ده په زړه کي د مال او سلطنت محبت وو، او ده ته دا تشویش نه پیدا کېدی: چي دومره دولت به چیري خرڅوم؟ او د هغه حساب به څنګه ور کوم؟
حضرت تهانوي رحمة الله علیه فرمایلي دي: چي خبره په حقیقت کي دا وه: چي په هغه زمانه کي دا صورتحال وو: چي دغه سلطنت د ده د دین ضرورت وو، دی پخپله د سلطنت شوقي او حرص کونکی نه وو، بلکه د دین د خدمت دپاره دا ضروري وه: چي د ده سره دي دغه شان سلطنت وي: چي څنګه الله تعالی ور کړی وو.
او چي کم د حساب او کتاب تعلق وو، نو هغه خو ده ته الله تعالی ښکاره دا پیغام ور کړی وو:
........﴿هَذَا عَطَاؤُنَا فَامْنُنْ أَوْ أَمْسِكْ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾.(۱)
یعني: چي تاته کم مال در کول سویدی، دا زموږ عطا ده، نو رستا اختیار دی: که ئې صدقه کوې، او که ئې د خپل ځان سره خوندي کوې، د دې ستا څخه هیڅ حساب نه اخیستل کیږي.
نو الله تعالی حضرت سلیمان علیه السلام ته دا خصوصیت ور کړی وو، نو ځکه پر دغه مال باندي د ده سره هیڅ تشویش نه پیدا کېدی، او نه په آخرت کي د حساب او کتاب پېښولو څه خبره وه؟
نو چي کم د الله تعالی نیک بندګان وي، او هغوی ته الله تعالی مال او دولت ورکړي، نو هغه مال او دولت بیا د دوی لپاره دنیا نه بلل کیږي، بلکه الله تعالی ئې په دین باندي ور بذلوي، ځکه د دوی مقصد په هغه مال او دولت کي د دین خدمت وي.

(۱) سورة ص، آیت نمبر۳۹

## د حضرت خواجه عبیدالله احرار رحمة الله علیه واقعه:

حضرت خواجه عبیدالله احرار رحمة الله علیه د هغه بزرګانو څخه وو: چي الله تعالی ډېر مال او دولت ور کړی وو، لېکن د دې سره ولایت هم په لوړه درجه کي الله تعالی ور نصیب کړی وو.

حضرت عبدالرحمن جامي رحمة الله علیه مشهور صوفي، بزرګ او شاعر تېر سویدی، د هغه په باره کي لیکلي دي: چیکله ده د حضرت خواجه عبیدالله احرار رحمة الله علیه د ولایت واورېدل، چي هغه د ډېري لوړي درجې بزرګ دی، او د ډېرو غټو اولیاؤ څخه دی، نو ده د یو څه سفر کولو څخه وروسته د هغه خدمت ته ځان راورساوی، په دې نیت چي: د هغه د صحبت څخه به فائده واخلي، او د هغه سره به بیعت وکړي.

چي کله حضرت جامي رحمة الله علیه هلته راغلی، نو که ګوري؛ د حضرت خواجه رحمة الله علیه ډېر زیات مال او دولت دی، او هم ئې تجارتي قافلې را رواني دي، او ډېر زیات ئې محاسبین او منشیان دي، او هم ئې مختلف دفترونه دي، او دی ډېر زیات په هغه کي مشغوله دی.

ده خو په ذهن کي دا تصور جوړ کړی وو: چي هغه به یو درویش او فقیر او ولي الله انسان وي، لیکن هلته چي ئې کمه نقشه ولیدله، هغه د ده د ذهني تصور څخه ډېره لیري وه، نو ځکه په زړه کي مایوسه سو.

نو واپس را روان سو، د را روانېدو په وخت کي ئې په دماغ د شعر نیم بیت ورغلی، او په زړه کي ئې پر هغه باندي فیصله وکړه، چي:

نه مرد است آنکه دنیا دوست دارد

چي د کم سړي دنیا دومره خوښه وي، نو هغه هیڅکله د الله دوست او "ولي" نسي جوړېدلای، نو د هغه ځای څخه د بیعت کولو بغیر را روان سو.

## د حضرت جامي رحمة الله علیه پرېشاني:

چي کله د حضرت خواجه رحمة الله علیه د کور څخه را وواتی، نو د روژې میاشته ده، او د غرمې زمانه ده، په لاره کي د کلي یو کوچنی مسجد وو، هلته د آرام کولو په نیت یو ګړی پرېواتی.

چي سترګي ئې سره ورغلې، نو خوب ويني، چي ميدان محشر قائم دى، او حساب او کتاب شروع دي، دى دا غواړي: چي زه ډېر ژر د حساب او کتاب تر مرحله تېر سم، پدې دوران کي يو دم يو سړى راغلى، او دى ئې تر ګرېوان ونيوى، او ورته وايي: چي زما حق راکړه، ستا پر ذمه زما دوې(٢) پيسې حق پاته دى، چي په دنيا کي ما ستا سره فلان سودا وکړله، او د هغه څخه دغه دوې(٢) پيسې حق زما ستا پر ذمه پاته سو، چي تر څو دي دا را کړى نه وي، نو تر هغه وخته دي نه پرېږدم.
جامي رحمة الله عليه هغه سړي ته وايي: چي زما خو په ياد ندي، او دا صرف د دوو(٢) پيسو معامله ده، ته زما څخه دومره لوى انتقام مه اخله، ما پرېږده.
مګر هغه سړي دى نيولى دى، او ورته وايي: چي تر هغه وخته دي نه پرېږدم: چي تر څو پوري زما هغه حق رانکړې.
اوس دى غريب زيات پرېشانه دى، چي يا الله! زه اوس څه وکړم؟ چي د دوو(٢) پيسو په خاطر مي جنت د لاسه وزي.
د داغه پرېشانۍ په حالت کي که ګوري: د حضرت خواجه رحمة الله عليه سوارلي را روانه ده، او ده ته نژدې راغله، چي کم سړي حضرت جامي رحمة الله عليه تر ګرېوان نيولى دى، هغه ته وايي: ته دغه فقير ولي تنګوې؟
هغه سړي ورته وويل: چي د ده پر ذمه زما دوې(٢) پيسې حق واجب دى، چي تر څو پوري ئې راکړي نه وي، تر هغه وخته ئې نه پرېږدم.
نو حضرت خواجه رحمة الله عليه ورته وويل: سړيه! د پيسو څه خبره ده، ما چي په دنيا کي کمي پيسې را جمع کړي دي، هغه: د څه لپاره دي؟ او هغه به کله په بنه راځي؟ ورسه د هغه څخه چي څومره اخلې، هغه واخله، خو دغه فقير پرېږده.
چنانچه حضرت خواجه عبيدالله احرار رحمة الله عليه هغه سړي ته دوې(٢) پيسې ورکړې، او حضرت جامي رحمة الله عليه ئې ځني خلاص کړى، او پر خپل مخ روان سو، د دغه خوب ليدلو څخه وروسته د حضرت جامي رحمة الله عليه سترګي را روښي سوې.

## د شعر مکمل کول:

چي کله ئې سترګي را روښي سوې، نو پرېشانه سو، چي يا الله! ما د حض
خواجه رحمۃ اللہ علیہ په باره کي څومره غلط تصور وکړی، او ده زما سره څومره ز
احسان وکړی، نو د مسجد څخه را وواتی، واپس دحضرت خواجه رحمۃ اللہ علیہ کو
راغلی، نو د مهمان خانې په يو ګنج کي کښېناستی.
پهآخر کي حضرت خواجه رحمۃ اللہ علیہ پوښتنه ځني وکړله: چي طالبجانه! ته څنګه را
ئې؟ نو ده هغه خپله د بيعت اراده ورته ښکاره کړه، هغه په جواب کي ورته وويل:
بيعت په دغه شرط در کوم: چي کم نيم بيت د شعر چي د دې ځای څخه ته وتلې
تصور کي دي راوګرځېدی، هغه به پخپله ژبه يو ځل راته وايي.
حضرت جامي رحمۃ اللہ علیہ ډېر شرمنده سو، ليکن د حضرت خواجه رحمۃ اللہ علیہ په اص
باندي ئې هغه نيم بيت په ژبه ورته ادا کړه:

نه مرد است آنکه دنیا دوست دارد

يعني: چي څوک د دنيا سره دومره زيات محبت ولري، نو هغه هيڅکله د الله تع
"ولي" او دوست نسي جوړېدلای.
حضرت خواجه رحمۃ اللہ علیہ ورته وويل: چي تا خو يقيناً هم صحيح تصور کړيدی، چ
دنيا دوستي د الله تعالی و قرب ته انسان نه ورپرېږدي، ليکن ستا خبره تر اوسه ن
ده، ته د خپل شعر سره دوهم نيم بيت هم ولګوه، نو به پوره شعر دا رنګه سي: او خبر
هم مکمله سي:

نه مرد است آنکه دنیا دوست دارد اگر دارد برای دوست دارد

يعني: هغه سړی د الله تعالی ولي نسي جوړېدلای: چي د دنيا سره زيات محبت لر
هو! که دنيا لري، خو د دوست يعني الله تعالی د رضا لپاره ئې لري، نو بيا د ولا
مقام پيدا کولای سي.

## دوه (۲) قسمه انسانان ولايت ته رسېدلای سي:

دوو (۲) انسانانو ته الله تعالی ولايت ور کوي:

۱. یو هغه سړی؛ چې د هغه سره دنیا هیڅ نه وي، درویش او فقیر وي، او د مسکنت ژوند ور باندې تېر سي، او دی پر هغه باندې صبر وکړي.
۲. او دوهم هغه سړی: چې الله تعالی دنیا ورکړې وي، لېکن هغه دنیا د الله تعالی په رضا خرڅوي، نو بیا هغه دنیا د ده لپاره عین دین بلل کیږي.

نو د انسان لپاره دوه (۲) حالته دي، یا خو دي انسان پر هغه لږ شي چې الله تعالیٰ ده ته ورکړیوي، قناعت وکړي، چې په هغه سره د ده ضروریات پوره کیږي.
یا الله تعالی و ده ته دولت ورکړي، نو هغه دولت د الله تعالی د رضا مطابق استعمال کړي.

## درویش صفت بزرګ:

ځکه زموږ په بزرګانو کې دوه (۲) قسمه انسانان تېر سویدي: بعضې داسي وو: چې پر هغوی به د پرې ورځې تیرې سوې، دوی به په لوږه وو.
لکه حضرت شیخ عبد القدوس ګنګوهي رحمة الله علیه چې د هغه واقعه به ماتاسو ته مخکې هم شاید بیان کړې وي: چې څو څو ورځې به د لوږې په حالت کې ورباندې تېرېدلې، او پر ده به د استغراق کیفیت وو.
کله خوبه بچیان ورته راغلل، چې باباجي! وږي یو، ډوډۍ غواړو، نو ده به ورته ویل: بچیانو! دېګونه پر اورباندې دي، او تیارېږي، بس د دې وینا کولو سره به دوباره د استغراق په حالت کې روان سو.
هغه دیګونه چیري باندې وو؟ او هغه نفقه چیرې تیارېدله، درحقیقت: پر ده به الله تعالی د جنت د دیګو او نفقو کشف کاوی، نو داسې بزرګان هم زموږ په سلفو کې تېر سویدي.

## مالداره بزرګان:

او بعضې بزرګان بیا داسي وو: لکه حضرت خواجه عبیدالله احرار رحمة الله علیه او یا لکه حضرت امام مالک رحمة الله علیه چې د خپل مذهب امام وو، او "موطا امام مالک" د ده د حدیثو مشهوره کتاب وو.

❶ ........چي انسان صدقه ور كول په كثرت سره كوي، چي څومره په كثرت سر
صدقه كوي، په هغه اندازه د ده په زړه كي د مال محبت كميږي، الله تعالى په صدق
كي دا خاصيت ايښيدى: چي د هغې په ذريعه د مال محبت د زړه څخه ليري كيږ
ځكه د مال دمحبت تقاضا دا ده: چي انسان هغه مال د ځان سره خوندي كړي، او ي
پيسه هم د ده څخه ولاړه نسي، لكه په قرآن كريم كي الله تعالى فرمايلي دي:
........﴿وَيْلٌ لِكُلِّ هُمَزَةٍ لُمَزَةٍ، الَّذِي جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُ﴾.(۱)
افسوس دي وي پر هغه سړي باندي: چي مالونه راجمعه كوي، او هر وخت ئ
شماري، چي اوس دومره ته ورسيدى، او اوس دومره سو، دغه بار بار شمارل، د د
خبري علامه ده: چي د ده زړه او دماغ په هغه كي مشغوله دى.
بايد د انسان لپاره دغه صورت نه وي، كچيري د ده په مزاج كي د صدقې ور كول
عادت پيدا سي، نو د هغه نتيجه به دا وي: چي د مال محبت به ئې په زړه كي كم سي.

## د حضرت ابوذر غفاري ﷺ واقعه:

په حديث شريف كي راځي: حضرت ابوذر غفاري ﷺ روايت كوي: چي يو ځل زه
پيغمبر ﷺ خدمت ته ورغلم، دى مبارك د "بيت الله" په حرم كي ناست وو، چي كل
هلته ته ورغلم، او دى مي وليدى، چي د "بيت الله" ديوال ته ئې تكيه كړيده.
ده چي كله زه وليدم، نو ئې وفرمايل:
........﴿هُمُ الأَخْسَرُونَ وَرَبِّ الكَعْبَةِ﴾.
په رب د كعبې قسم: چي هغه خلك ډېر نامراد او ناكامه دي، د صحابه كرامو عادت
دا وو: چي هر وخت به د ويري او خوف په حالت كي وو، چي نه معلوم: چي كم وخت
زموږ څخه يو كار د الله تعالى د رضا خلاف وسي، او په هغه كار سره د الله تعالى رسو
زموږ څخه ناراضه سي.
چي كم وخت ما د پيغمبر ﷺ د خولې څخه دغه جمله واورېدله، نو حضرت
ابوذرغفاري وايي: چي زه ډېر زيات ووېرېدلم، هسي نه: چي دى مبارك زما په بار

(۱) سورة الهمزة: آيت نمبر ۱

الله تعالی ده ته ډېر زيات مال او دولت ور کړی وو، او هم به ئې ژوند ډېر هوسا تېرېدی، د ده په حالاتو کي ليکلي دي: چي روزانه به ده نوی لباس اغوستی، او د کال په درې سوه شپېته(۳۶۰) ورځي کي به ئې درې سوه شپېته(۳۶۰) جوړې بدلولې، چي کمه جوړه به ئې يو ځل واوسته، هغه به ئې بيا نه اغوستله.
يو ځل يو چا پوښتنه ځني وکړه: چي حضرت! دا خو اسراف دی، چي ته روزانه نوې جامه اغوندې، ده په جواب کي ورته وويل: زه څه وکړم؟ زما يو دوست دی، هغه دکال په ابتدا کي درې سوه شپېته(۳۶۰) جوړې لباس جوړ کړي، او ماته ئې کنبېږدي، او زه چي هره ورځ کمه جوړه واغوندم، نو ماځيگر هغه صدقه کوم، نو بعضي بزرگان بيا زموږ په سلفو کي په دغه شان هم تېر سويدي.

## دنيا به وي، او محبت به ئې نه وي:

نو خلاصه دا ده: کچيري د انسان سره دنيا وي، او دهغه محبت په دا شان د انسان په زړه کيوي: چي سهار او ماښام دی د دنيا د ډېرېدلو په فکر کي وي، او د ده ټوله منډه او ترنډه د دنيا دپاره وي، او د ده خوشحالي او پرېشاني ټوله پر دنيا باندي گرځي راگرځي، نو د دغه نوم: "حُبّ مال" دی.
اصل شی د مسلمان لپاره قناعت دی، چي کمه دنيا وي، هغه دي هم د الله تعالی لپاره وي، او هم دي د الله تعالی د حکم تابع وي، چي په هغه کي د معاشرې د انسانانو ضرورت پوره سي، ورنه دغه دنيا او د هغه محبت هغه وږی ليوه دی: چي د انسان دين تباه کوي.

## د دنيا د محبت د زړه څخه د ليري کولو طريقې:

اوس سوال دا دی: چي دا به څنگه کيږي؟ چي انسان دنيا گټي، تجارت او دوکانداري کوي، او د ده په زړه کي دي د دنيا داسي محبت نه وي: چي د ده د دين په لاره کي د ده ته مانع جوړ سي.
دا هغه شی دی: چي د مشق او مزاولې کولو څخه حاصلېږي، د دې د حاصلولو بعضي طريقې کسبي دي، يعني: که پخپل اختيار سره د هغه مشق انسان وکړي، نو هغه ده ته حاصلېږي، او علماء کرامو هغه څلور(۴) طريقې ليکلي دي:

کي دا خبره کوي، او داسي نه: چي پر ده باندي وحي راغلي وي، او د هغه په ذريع
ته دا ويل سوي وي: چي زه په خساره او نقصان کي يم.
نو زه دېر د ويري په حالت کي ور وراندي سوم، د ده دخولي څخه بار بار دا الف
اورم:
.........قَدْ خَابُوْا وَ خَسِرُوْا﴾.
چي دېر نقصانيان دي، او دېر تاوانيان دي، ما د دېري وېري په حالت کي د ده مبار
څخه دا سوال وکړی:
.........مَنْ هُمْ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟﴾.
زما مور او پلار دي در تا قربان وي! اې دالله رسوله! ته د چا په باره کي دا فرماي
چي دېر نامراده او دېر ناکامه دي؟
ده مبارک زما د دې خبري په جواب کي راته وفرمايل:
...........الأَكْثَرُوْنَ أَمْوَالًا، إِلَّا مَنْ قَالَ هٰكَذَا، وَهٰكَذَا، وَهٰكَذَا﴾.
دېر مال او دولت درلوونکي خلک چي د هغوی سره دېر مال او دولت پروت وي، م
د دې سره سره ده دا هم وفرمايل: د هغه خلګو څخه ماسوا چي دا رنګه ئې انسانانو
ور کوي، او هم ئې دا رنګه ور کوي.
يعني: چي په ډکو لفو انسانانو ته مال او دولت ورکوي، او صدقه په کثرت سره کو
نو هغه خلک د مال او دولت درلودلو سره د دغه وعيد څخه محفوظه دي.(۱)
نو د مال او دولت محبت د خپل زړه څخه د ايستلو يوه طريقه داده: چي د الله تعالی
لار کي چي څومره انسان ته ممکنه وي: د صدقې کولو کوشش وکړي.

## دزړه نه غوښتلو باوجود صدقه کول:

د صدقې په باره کي د انسانانو طبيعتونه مختلف وي، بعضي خلک هغه وي: چ
هغوی ته په صدقه کولو کي زيات مشقت نه وي، او دهغوی پر طبيعت باندي صد
کول زيات بوج نه راولي.

(۱) صحيح البخاري، کتاب الايمان والنذور، حديث نمبر ۶۶۳۸

بعضې خلک بیا داسې وي، چې صدقه کول هغوی ته ډېر تکلیف ورکوي، چې ما خو دغه مال او دولت په ډېر محنت سره راجمع کړیدی، اوس ئې څنګه بل چا ته ورکړم، نو ور کول ئې ده ته ډېر زیات ګران وي.
خو د دغه دوهم قسم خلکو علاج دادی، چې هر څومره ئې پر طبیعت باندې بوج وي، بیا هم باید صدقه وکړي، او دالله تعالی د رضا لپاره د مال خرڅولو کوشش وکړي، او دخپل زړه سره دا فیصله وکړي: که ما ته هر څومره تکلیف وي، بیا به هم زه د صدقې ور کولو عمل کوم، او په دغه شکل به الله تعالی د ده د زړه څخه د مال محبت لیرې کوي.

## صرف پر زکات باندې اکتفا نکول:

بعضې انسانان داسې وي: چې کله د صدقې ځای راسي، نو دی صرف پر زکات اکتفا کوي، او زکات ور کول د ځان لویه بهادري بولي.
حالانکه زکوٰة خو دانسان پر ذمه فرض دی، هغه خو به خامخاه ورکوي، که ئې ور نه کړي، بیا خو دسختو وعیداتو سره مخامخ کیږي، بلکه د زکات مال په حقیقت کې د ده نه وي، دا د غریبانو مال وي، صرف اماناً یو څو ورځې الله تعالی ده ته ور کړی وي.
زه دا وایم: لکه څنګه چې د لمانځه معامله ده: یو څه حصه د لمانځه فرض ده، او د دې څخه علاوه بیا سنت او مستحبات دي، دا خو ښکاره ده: چې هیڅ یو مسلمان صرف پر فرائضو اکتفا نکوي، بلکه سنت او نوافل هم ادا کوي.
داغه رنګه باید انسان صرف پر زکات ادا کولو اکتفا ونکړي، بلکه په نفلي صدقاتو هم دخلکو سره مرسته او کومک وکړي.
لېکن زموږ په معاشره کې خلک دا غواړي: چې څومره دخیر مصارف دي، هغه دې ټول له په زکات کې سره ادا سي، په داغه وجه خلک بار بار دا مسائل پوښتي: چې په فلان کار کې زکات ور کول صحیح کیږي، او کنه؟.

## پر مال د زکات څخه علاوه هم حقوق سته:

د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

.........إِنَّ فِي الْمَالِ حَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ﴾.(١)
د انسان پر مال د زکات څخه علاوه هم حق سته، دا نه معنی: چي بس په زکات ور کول
د انسان ذمه فارغه سوه، بلکه یو څه نور هم د الله تعالی په لار کي صدقه کول.

## زموږ د بزرګانو صدقه:

نو ځکه زموږ د بزرګانو دا طریقه راغلېده: چي هغوی به د خپلي آمدنی یو څه حصه
خیر په کارو کي د خرڅ کولو لپاره مخصوصه کوله.
د حکیم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه معمول دا وو: چي هغه به د خپلې
آمدنی خمس یعني پنځمه(۵) حصه همېشه د صدقې په شکل د خیر په کارو کې
خرڅوله.
د حضرت علامه شبیر احمد عثماني او د حضرت مولانا مفتي محمد شفیع رحمة الله علیه
معمول به بیا دا وو: چي کمه آمدني به په محنت سره د دوی لاس لره راغله، د هغه به
لسمه(۱۰) حصه صدقه وه، او چي کمه آمدني به بغیر د محنت څخه حاصله سوه، د هغه
به شلمه(۲۰) حصه دوی د صدقې لپاره مختصه کوله.

## په یوه روپي کي یوه پیسه ورکول:

صدقه باید په معاشره کي د هر انسان عادت جوړ سي، او دا د مال د محبت ختمولو
بهترینه نسخه ده.
کله خو د غریبانو دا خیال وي: چي صدقه صرف د مالدارانو کار دی، حالانکه چي د ک
چا سره سل(۱۰۰) روپۍ وي، او په هغه کي دی یوه روپي صدقه کړي، نو پر هغه باندې
به الله تعالی ده ته دومره ثواب ور کوي، لکه: یو مالداره چي په زر(۱۰۰۰) روپۍ کي
سل(۱۰۰) روپۍ صدقه کړي، یا یو څوک په لک(۱۰۰۰۰۰) روپۍ کي زر(۱۰۰) روپۍ
صدقه کړي.
ځکه الله تعالی د صدقې کثرت او قلت ته نه ګوري، او نه کثرت او قلت د الله تعالی په
حضور کي څه اعتبار لري، بلکه الله تعالی د انسان د زړه و اخلاص ته ګوري، او د هغه

(١)سنن ترمذي: حدیث نمبر ۶۶۰

په مقدار و انسان ته اجر ور کوي، بهر حال د مال د محبت ختمولو اوله نسخه صدقه ده.

## دوهم نسخه : دعاګول:

❷........دوهمه نسخه دا ده: چي انسان کله دالله تعالی څخه نوري دعاګاني غواړي، نو دا دعا دي هم غواړي: چي یا الله! زما د زړه څخه د مال او د دنیا محبت لیري کړه، او یا الله! زما د ضرورت مطابق ما ته مال او دولت راکړه، او موږ مال ته محتاجه یو، لیکن د مال محبت زموږ زړه ته مه اچوه، چي زموږ د آخرت د هلاکت او بربادۍ ذریعه وګرځي.
چي کله د "کسری" خزانې "مسجد نبوي" ته راغلې، او د "مسجد نبوي" صحن د سرو زرو او سپینو زرو څخه ډک وو، نو په دې وخت کي حضرت فاروق اعظمﷺ چي هغوی ته وکتل، نو دا دعا ئې وکړه:
یا الله! موږ دا نه وایو: چي زموږ زړونه د دغه مال او دولت طرف ته میلان نکوي، لیکن اې الله! دغه مال موږ ته داسې راکړه: چي زموږ د دین لپاره فتنه نه وي، او دآخرت دتباهۍ ذریعه نه وي.
بلکه د آخرت لپاره د دغه مال څخه موږ کار واخلو، او هم ئې ستا د رضا مطابق استعمال کړو، ګویا: چي مال وي، لیکن د هغه محبت زموږ په زړو کي نه وي، نو دغه دعا کول د مال او دولت محبت د زړو څخه د لیري کولو لپاره بهترین علاج دی.

## دریمه نسخه : د خپل ځان څخه کم انسان ته کتل:

دریمه نسخه هغه ده: چي په حدیث کي پیغمبرﷺ فرمایلي دي:
.........انظُرُوا إِلَى مَنْ أَسْفَلَ مِنْكُمْ، وَلَا تَنظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ، فَهُوَ أَجْدَرُ أَنْ لَا تَزْدَرُوا نِعْمَةَ الله).(١)
د دنیا په معامله کي همیشه د ځان څخه کښته انسانانو ته کتل، او د هغوی صحبت اختیارول، او د مالدارانو د صحبت او مجلس څخه ځان کتل.

(١) صحیح مسلم: حدیث نمبر ۲۹۶۳

ځکه کچيري ته دمالدارانو په صحبت کښېنې، نو ستا په زړه کي دستي دا خواهش
پيدا کيږي؛ چي زما دي هم د ده غوندي کور او د ده غوندي سوارلي وي، چي د ده س
کم سامان او د راحت اسباب دي، هغه دي ماته هم په لاس راسي، بلکه د خپل ځان څخه
د کښته انسان ياد برابر انسان صحبت اختيارول ، نو دا د زړه څخه د مال د محب
ايستلو دريم علاج دی.

## څلورمه نسخه، دنيکو بندګانو صحبت اختيارول:

څلورمه نسخه او علاج دادی: چي د الله دنيکو بندګانو صحبت اختيارول، ځکه چ
انسان کله د هغوی په صحبت کي راسي، نو بيا خو د هغه صحبت په برکت د مال محب
د هغه د زړه څخه ليري کيږي، نو دا هغه څلور (۴) علاجه دي، چي ما ستاسو په مخکې
عرض کړل، چي د هغه خلاصه داده:

۱. صدقه او خيرات په کثرت سره کول.
۲. د مال د محبت ختم کېدلو دعا غوښتل.
۳. د خپل ځان څخه کمو انسانانو ته کتل.
۴. د الله تعالی د نيکو بندګانو په صحبت کي راتلل.

دغه څلورم علاج چي د الله تعالی د نيکو بندګانو صحبت دی، هغه که جسماني طو
انسان ته د هغوی په مجلس کي ناسته نصيب سي، خو ډېره ښه ده، که هغه نه وي، نو ب
د خط او کتابت په ذريعه يا د هغوی مواعظ او ملفوظات او واقعات مطالعه کول.
په نن دور کي خو هر سړی مصروف دی، شايد انسان ته د جسماني صحبت زيات موق
په لاس ور نسي، ليکن دا خو کولای سي: چي د هغوی د زندګی واقعات ووايي، او
هغوی ملفوظات او مواعظ ووايي.
د حضرت تهانوي رحمة الله عليه بېشماره مواعظ او ملفوظات چاپ سويدي، نو هغه ب
مطالعه کي ساتل، د هغه اثر به انشاء الله دا وي: چي د انسان د زړه څخه به د ما
محبت ليري کوي، الله تعالی دي زموږ او ستاسو د زړونو څخه د دنيا محبت ليرې
کړي. (آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الایہ)

# د همسایه حقوق

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صـاحب |
| مــقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود مرحوم چمن |
| اشــــاعــت | اول |
| تــاريـــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تــعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَاعْبُدُوا اللّٰهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ وَابْنِ السَّبِيلِ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿لَنْ يُؤْمِنَ عَبْدٌ حَتَّى يَأْمَنَ جَارُهُ بَوَائِقَهُ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! ستاسو په حضور کې ما د قرآن کريم يو آيت مبارک تلاوت کړی، چې د هغه بنيادي موضوع د همسايه ګانو حقوق دي، ځکه چې الله تعالی په دې آيت کې د همسايه ګانو اقسام ذکر کړي دي.

هسي خو مخکې هم ما بار بار ستاسو په حضور کې دا خبره عرض کړې ده: چې دين د زندګۍ په هره ګوشه او ګنج کې د حالاتو مطابق د احکامو مجموعه ده، صرف په لمانځه او روژه کولو سره د دين ټولې تقاضې نه پوره کيږي.

بلکه "حقوق العباد" هم د دين يو انتهائي اهمه شعبه ده، چې کم څوک پخپله زندګي کې د "حقوق العباد" په ښه طريقه سره د ادا کولو فکر وکړي، نو بيا خو تر ډېره حده پورې هغه د دين تقاضې پوره کولای سي.

(۱)سورة النساء: آية نمبر ۳۶

(۲)الزهد والرقاق لابن المبارک: حديث نمبر ۷۰۲

کچيري خدانخواسته د انسان څخه په "حقوق العباد" کي نقص او خلل وسي، يا
صرف د روژې او لمانځه په ادا کولو سره دي خپل دين تمام او کمال ته نه
رسولای.
د "حقوق العباد" په شعبو کي يوه شعبه د همسايه حقوق ادا کول دي، چي انسان
کم کلي او محل کي ژوند تيروي، يا په يو سفر کي تر يو ځايه پوري ځان رسوي،
هلته چي د ده کم همسايګان وي، هغه پر ده باندي يو څه حقوق لري، چي دي به د هغو
ادا کولو فکر کوي.

## د همسايتوب حدود:

اوس د همسايتوب تعين به انسان څنګه کوي؟ او کم خلګ به د ځان همسايه
بولي؟ د هغه تعين د پيغمبر ﷺ په دې قول مبارک کي سوی دی:
حضرت زهري رحمةالله عليه روايت کوي: چي يو سړي د پيغمبر ﷺ په حضور کي د
همسايه شکايت پېش کړی، پيغمبر ﷺ هغه سړي ته حکم وکړی: چي سبا د لمانځه
وخت کي د مسجد په دروازه کي ودرېږه، او دا اعلان وکړه: چي څلوېښت(
کورونه پخپل مابين کي همسايګان بلل کيږي، او دا ووايه: چي پيغمبر ﷺ فرمای
دي:
......لَنْ يُؤْمِنَ عَبْدٌ حَتّٰى يَأْمَنَ جَارُهُ بَوَائِقَهُ﴾.
هيڅ کله يو سړی کامل مؤمن جوړېدلای نسي، او نه د کامل ايمان مالک ګرځي،
تر څو د ده همسايګان د ده د تکاليفو څخه محفوظه نه وي.
حضرت زهري رحمةالله عليه فرمايي: انسان چي په کم کلي او محل کي اوسيږي
څلوېښت(۴۰) کوره پر هر طرف يعني:

- جنوب.
- شمال.
- مشرق.
- مغرب.

دا د ده همسایګان بلل کیږي.(۱)
باید انسان د هغو ټولو د حقوقو ادا کولو فکر وکړي، او هم هغه ټوله د خپل طرفه د تکالیفو رسولو څخه په امن کړي.

## د همسایه مقام:

هسي خو د پیغمبر ﷺ بې شماره احادیث د همسایګانو دحقوقو په باره کي راغلي دي، لیکن افسوس! چي نن سبا د انسانانو د ماغونه، فکرونه او تصورات بدل سول. زموږ او ستاسو په علاقو کي خو اوس لا هم د همسایه نوم خو څه نا څه پاته دی، که څه هم په حقوقو کي ئې زموږ په علاقو کي هم ډېره کمي کیږي، لیکن چي کم خلګ په لویو ښارو کي اوسیږي، ډېر ځله داسي وي: چي د یو چا مکان بلکل د بل چا د مکان په څنګ وي، لیکن ډېر کلونه وسي، د هغو په درمیان کي د ملاقات نوبت رانسي، نه یو بل پېژني، او نه یو د بل سره څه تعلق ساتي.
حا لانکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی: چي ماته حضرت جبرائیل علیه السلام په دومره کثرت سره د همسایګانو په باره کي احکامات راوړل، چي ډېر ځله به زما دا خیال سو، چي هسي نه! یو همسایه ته د بل همسایه په میراث کي حصه ورنکول سي.(۲)

## د انصاري صحابي واقعه:

یو انصاري صحابي ؓ فرمایي: چي د غرمې په وخت کي د پیغمبر ﷺ د ملاقات په نیت د خپل کور څخه راووتم، چي کله مسجد نبوي ته نږدې راغلم، که ګورم: نو یو سړي پیغمبر ﷺ په لاره کي درولی دی، او خبري ورته کوي، پیغمبر ﷺ هغه ته زیات متوجه دی، او د هغه پر خبرو ئې غوږ نیولی دی.
زما فکر داسو: چي شاید د دغه سړي یو ضروري کار دی، چي هغه د دغه خپل کار متعلق پیغمبر ﷺ ته معلومات ورکوي، او دی مبارک ئې ځني اوري، نو زه د لاري په یو ګوټ کي په انتظار ودرېدلم.

---

(۱) مکاشفة القلوب اردو: صفحه نمبر ۵۵۸
(۲) ترمذي: باب ماجاء في حق الجوار: حدیث نمبر ۱

نو په هغه خبرو کي ډېره زمانه تېره سوه، چي زه د پیغمبرﷺ د ستړیا په خاطر پرېشان سولم، چي دې سړي پیغمبرﷺ په ولاړه درولی دی، او هم ئې زیات ستړی کړی، خو دپیغمبرﷺ په حضور کي د ادب کولو په وجه مي څه ویلای نسو.

د ډېر وخت درېدلو څخه وروسته بیا پیغمبرﷺ هغه سړی رخصت کړی، او زما په طرف راغلی، ماورته وویل: ای د الله رسوله! دغه سړي ته دومره ډېر ودرولې، چي ستا د پښو د ستړي کېدلو په وجه زه لا پرېشانه سولم، خو څه مي نسو ویلای، د مبارک راته وویل: چي تا هغه سړي ولیدی، ما ورته وویل: هو، د الله رسوله! ډېر ښه مي ولیدی.

ده بیا راته وویل: چي تا وپېژاندی، چي دا څوک وو؟ ما ورته وویل: چي تر اوسه خو مي نه وولیدلی، ده مبارک راته وویل: چي دا حضرت جبرائیل علیه السلام وو، چي ما ته ئې د همسایګانو د حقوقو په باره کي تاکید کاوی، تر دې حده پوري ئې د همسایه حقو راته بیان کړل: چي زما په ذهن کي دا اندیشنه پیدا سوه: چي غالباً نن خو به همسای په وارثینو کي راته شمار سي.(۱)

## د "حقوق العباد" ترتیب:

د قرآن کریم د تلاوت سوي آیت په وضاحت کي دومره ویلای سم: چي الله تعالی هغه آغاز او شروع په دغه الفاظو سره کړی دی: چي تاسو به د الله تعالی عبادت کوئ، او هم به د الله سره هیڅوک شریک نه جوړوئ، او د مور او پلار سره به حسن سلوک کوئ.

د دې آیت ترتیب الله تعالی ډېر عظیم الشان بیان کړی دی: چي اول د الله عبادت کول او د هغه څخه وروسته د مور او پلار سره ښه سلوک کول.

ځکه علماؤ لیکلي دي: چي د الله د حق څخه وروسته پر بنده باندي په دې ټولو کائناتو کي د مور او پلار حق دی، د هغه وجه دا ده: چي الله تعالی د انسان منعم او موجد حقیقي دی، او مور او پلار د انسان موجد مجازي دي، ځکه چي په دنیا کي الله تعالی د مور او پلار په ذریعه سره انسان ته وجود ورکړی دی.

(۱) مسند امام احمد بحواله بکهری موتي، جلد نمبر۲، صفحه نمبر ۱۱۷

نو د شرک څخه وروسته ګويا: د مور او پلار حق تلفي کول، الله تعالى لوى جرم ګرځولى دى.
نو ځکه زمونږ کتابو ليکلي دي: چي الله تعالى د هري ګناه سزا تر قيامته پوري پټوي، ليکن د مور او پلار د حق تلفى سزا انسان ته په دنيا کي هم ورکوي، د هغه شکل کله کله داسي وي: چي د مور او پلار په حقوقو کي د کمى کولو په وجه د انسان د زکندن پر وخت د شهادت کلمه پر ژبه نه جاري کيږي.

## د مور او پلار د حق تلفى عبرتناکه واقعه:

د پيغمبر ﷺ په زمانه کي د "علقمه" په نامه يو سړى وو، چي د خير په کارو کي به ئې زيات حصه اخيستله، او همېشه به ئې ژوند په طاعت او عبادت کي تيراوى.
چي کله بيمار سو، او بيماري ئې دومره زياته سوه، چي مرګ ته نژدې سو، نو د کور زناني ئې يو سړى پيغمبر ﷺ ته ور واستاوى، او دا خبر ئې ورکړى:
..........چي زما خاوند د زکندن په حالت کي دى.
پيغمبر ﷺ حضرت صهيب، حضرت عمار، حضرت بلال رضي الله عنهم ته حکم وکړى:
..........چي ورسئ! هغه ته د شهادت د کلمې تلقين وکړئ.
چنانچه هغه درې سره حضرات راغلل، چي کله ئې د کلمې تلقين ورته شروع کړى نو د هغه سړي ژبه بنده ده، او کلمه نه سي ويلاى، دوى فوراً پيغمبر ﷺ ته د دغه صورتحال خبر ورکړى.
پيغمبر ﷺ د دغه حيرانونکي صورتحال په اوريدلو سره پخپله راغلى، او دستي ئې پوښتنه وکړه:
........چي ايا د ده په مور او پلار کي يو څوک ژوندى سته؟
ده مبارک ته دا وويل سو:
........چي يوه بوډۍ مور ئې ژوندۍ ده.
ده مبارک دستي حال ور واستاوى، چي هغه مور ته ووايا ست:
........که ماته راتللاى سي، خو رادې سي، ورنه! پخپل کور کي دې کېني، زه هلته ورځم.

چي کله هغه بوډۍ ته دا خبره ور ورسیده، نو دې حال راواستاوی:

.........چي زما نفس دې ستا تر ذات قربان وي، ته د دې زیات حقداره ئې: چي زه هلته درسم.

هغه بوډۍ زناني د خپلي لکړي په مدد د پیغمبر ﷺ حضور ته ځان راورساوی دپیغمبر ﷺ په خدمت کي ئې سلام ووایي.

پیغمبر ﷺ د جواب ورکولو څخه وروسته ورته وفرمایل:

.........چي اې موري! چي کمه خبره زه درڅخه پوښتم، د هغه به ماته صحیح جواب راکوې، که دي صحیح جواب رانکړی، نو بیا خو الله تعالی د هغه صحیح معلومات ماته د وحي په ذریعه راکوي.

د ټولو څخه مخکي دا راته ووایه:

.........چي ستا بچی "علقمه" څنګه انسان وو؟

هغه بوډۍ په جواب کي ورته وویل:

.........چي د لمانځه او روژې پابنده انسان، او ډېر زیات سخي وو.

ده مبارک دوهمه پوښتنه څني وکړه:

.........د ده ستا سره څنګه ګزاره وه؟

هغه بوډۍ ورته وویل:

.........زه د ده څخه ناراضه یم.

پیغمبر ﷺ ئې وجه و پوښتله، هغه بوډۍ جواب ورکړی:

.........چي ده خپلي زناني ته زیات اهمیت ورکاوی، او زما به ئې نافرماني کوله.

پیغمبر ﷺ چي دا واورېدل، نو دستي ئې وفرمایل:

.........چي د دغه سړي د مور ناراضګي د ده د کلیمې څخه د ژبي بندېدلو سبب ګرځېدلې.

بیا پیغمبر ﷺ حضرت بلال ﷺ ته وفرمایل:

...........اى بلاله! ورسه، بوټي راټول کړه.

بوډۍ چي واورېدل، نو ئې پوښتنه وکړه:

.............اى دالله رسوله! بوټي څه په کوې.

ده جواب ورکړى:

..............چي زه دغه سړى سوځم.

هغه زناني وويل:

...........زما مور او پلار دي در تا قربان وي! دا خو زما د زړه ټوټه ده، زه د ده د سوځلو منظر نشم ليدلاى.

پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل:

............اى د "علقمه" موري! د الله عذاب د دې څخه ډېر زيات سخت دى، کچيري ته داغواړې: چي ستا بچى د هغه څخه خلاص سي، نو ته د هغه څخه راضي سه، که نه زما دي په هغه ذات قسم وي: چي د کم چا په قبضه کي زما ساه ده، چي د "علقمه" لمنځونه او روژې او خيراتونه ستا د دغه ناراضګۍ په وجه ده ته هيڅ په ښه نه ورځي.

هغه بوډۍ زناني چي دا واورېدل، نو ئې وويل:

...........اى دالله رسوله! زه الله او ملائکي او ټول حاضرين پر دې ګواه جوړوم، چي زه د ده څخه راضي يم.

پيغمبر ﷺ حضرت بلال ته وويل:

............ورسه، وګوره: چي د "علقمه" پر ژبه کليمه جاري سوه، او کنه؟

حضرت بلال رضي الله عنه چي کله راغلى، نو که ګوري: "علقمه" د کليمې تکرار کوي، نو دستي ئې پر هغه ځاى موجود ټولو انسانانو ته وويل:

...........اى خلکو! د مور ناراضګۍ د ده ژبه بنده کړې وه، کليمه ئې نه سوه ويلاى، او س چي کله د ده مور د ده څخه راضي سوه، نو د ده پر ژبه الله کليمه جاري کړه.

یا په داغه کړي د "علقمه" وفات وسو، پیغمبرﷺ د هغه د کفن او دفن حکم وک
او د هغه په جنازه کي تر آخره پوري موجود وو، چي کله د هغه تدفین وسو
پیغمبرﷺ د هغه د قبر پر غاړه ودرېدی، او وئې فرمایل:

........ای انصارو او مهاجرینو! دا خبره واورئ! چي کم چا خپلي زناني ته پر مور باندي اهمیت ور کړی، (د خدمت او سلوک په اعتبار سره) نو پر هغه به د الله د فرشتو او د تمامو مسلمانانو لعنت وي، الله تعالی نه د هغه سړي فرضي عبادت قبلوي، او نه نفلي، البته! کچیري هغه سړي، توبه وکښه، او خپله مور ئې د ځان څخه راضي کړه، نو الله به ئې معاف کړي.(۱)

د مور او پلار څخه وروسته د قریبانو سره د ښه سلوک حکم او داغه رنګه د یت
سره د ښه سلوک حکم او هم د غریبانو او بې وسه خلګو سره د ښه سلوک حکم
تعالی کړی دی، او د ښه سلوک په باب کي الله تعالی همسایګانو ته ډېر اهم
کړی دی.

## د همسایه اقسام:

او په دې آیت مبارک کي الله تعالی د همسایګانو متعلق داسي ذکر کړي دي:

............وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى، وَالْجَارِ الْجُنُبِ، وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ،﴾.

او د همسایه لپاره الله تعالیٰ دغه درې(۳) لفظه استعمال کړي دي، اوس که
دغه درو(۳) الفاظو پخپله ژبه کي ترجمه کوو، نو دټولو معنٰی ده: همسایه
زموږ په ژبه کي دومره پراخي نسته: چي دهر لفظ جلا جلا ترجمه وکړي، لي
قرآني اصطلاح کي دا درې(۳) سره د همسایګانو جلا جلا قسمونه دي.

## اول قسم:

د همسایه ګانو اول قسم:

........وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى،﴾.

(۱) کتاب الکبائر الکبیرة الثانیة عقوق الوالدین، صفحه نمبر ۱۱۲

. یعني هغه همسایه چي بلکل قریب وي، د انسان سره دیوال په دیوال یا دروازه په دروازه د هغه کور وي، نو دا د انسان نزدې همسایه بلل کیږي، او د ټولو څخه اهم حق د ده دی.
پیغمبرﷺ به فرمایل: که یو څوک خپل کور خرڅوي، نو د ټولو څخه مخکي به دغه همسایه ته وایي: چي زه دغه کور خرڅوم، که ئې ته اخلې، نو د ټولو څخه مخکي حق ستا دی، که ئې نه اخلې، نو بیا ماته اجازه راکړه: چي زه ئې پر بل چا خرڅ کړم.
کچیري انسان د دغه همسایه د اجازت بغیر د بل چا سره د کور د خرڅولو معامله وکړي، نو دغه همسایه د شفعې په حق دعوه کولای سي، چي دغه کور زه اخلم، د ده په دعوه کولو اوله معامله پخپله ختم کیږي.

## دوهم قسم:

......وَالْجَارِ الْجُنُبِ﴾.
یعني هغه همسایه چي دېوال او دروازه ئې ستا سره نزدې او مخامخ نه وي، لیکن ستا سره په یو محل کي اوسیږي، ستا او د ده مسجد سره یو وي، او هم مي د تګ کولو لار یوه وي.

## دریم قسم:

........وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ﴾.
یعني چي عارضي طور د انسان همسایه جوړ سي، کله خو په حالت د سفر کي د انسان سره پر څنګ په سیټ کي کښیني، یا په یو اجتماع او جلسه کي د انسان پر څنګ ناست وي، یا په یو میلمستیا کي د انسان سره پر یوه کاسه خورک کوي، نو دا هم د انسان همسایه بلل کیږي، د دغه درو قسمو جلا جلا حقوق دي، او هم ئې د حقوقو تفصیلات جلا جلا دي.

## یوه بله معنی:

د ﴿وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ﴾ یو بل تفسیر علماؤو داهم کړی دی: چي د دې څخه مراد هغه همسایه دی: چي د همسایتوب سره سره د انسان نسبي قریب هم وي.

﴿وَالْجَارِ الْجُنُبِ﴾. څخه مراد بيا هغه دی: چي همسايه خو وي، ليکن د انسان ر
قرابت ور سره نه وي.
﴿وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَى﴾ يو تفسير دا هم سوی دی: چي د دغه څخه مراد: م
همسايه دی.
﴿وَالْجَارِ الْجُنُبِ﴾. څخه مراد: کافر همسايه دی.
لکه: په مسند بزار کي د پيغمبرﷺ يو روايت رانقل سوی دی: چي ده مب
فرمايل: همسايه درې(۳) قسمه دی:

- ....اول هغه همسايه دی: چي د هغه يو حق دی: او هغه د حق په لحاظ کمه درجه همسايه بلل کيږي.
- ....دوهم هغه همسايه دی: چي د هغه دوه(۲) حقه دي.
- ....دريم هغه همسايه دی: چي د هغه درې(۳) حقونه دي.

اول حق والا هغه (غير مسلم) همسايه دی: چي د انسان سره ئې قرابت هم ن
هغه صرف د همسايتوب حق دی، چي هغه ته به تکليف نه ورکوي، او د هغه په
او درد به ځان خبروي، او هم به مرسته ور سره کوي، د هغه د مذهب څخه به
اظهار کوي، ليکن د هغه د ذات څخه به نفرت نکوي، ګويا نفرت به د هغه د مر
وي، خو د مريض څخه به نه وي.
او دوه حقه والا هغه همسايه دی: چي د هغه همسايتوب سره سره مسلمان هم
هغه يو حق د مسلمانی او دوهم حق د همسايتوب دی.
او درې حقه والا هغه همسايه دی: چي همسايه هم وي، مسلمان هم وي، او د ا
هغه سره قرابت هم وي، نو د هغه يو حق د مسلمانی دی، دوهم د همسايتوب،
د قرابت دی.
په رواياتو کي د پيغمبرﷺ څخه د همسايه متعلق شپږ(۶) حقوق رانقل سوي

**د همسايه اول حق:**

د همسايه اول حق دادی: چي د خپل همت مطابق به په حالت د احتياج کي د ه
کوي، او هم به د هغه ضرورت ورپوره کوي، پيغمبرﷺ خو تر دې حده فرمايل

.........لَيْسَ الْمُؤْمِنُ الَّذِي يَبِيتُ شَبْعَانَ وَجَارُهُ إِلَى جَنْبِهِ جَائِعٌ﴾.(١)

هغه څوک کامل مؤمن نه دی: چې دی او بچیان شپه په مړه خېټه تېروي، او وځنګ ته ئې همسایګان وږي وي.

ګویا د همسایه دا ذمه واري ده: چې دی به د بل همسایه په حال ځان خبروي، کچیري د هغه سره د خورک څه بندوبست نه وي، نو د خپل وس مطابق د هغه مدد کوي.

په مسلم شریف کې د حضرت ابو ذر غفاري ﷺ څخه روایت دی: چې پیغمبر ﷺ به بطور وصیت ما ته فرمایل: چې کله هم کټو باندي کړې، نو ښوروا ئې ور زیاتوه، چې په هغه کې ته د همسایګانو خیال هم پیا ساتلای سې.(٢)

پیغمبر ﷺ چې کم وصیت حضرت ابو ذرغفاري ته کړی دی؛ هغه د ټوله امت لپاره دی: تنها د ده لپاره نه دی.

## صرف زکات ورکول حق نه دي:

بعض خلګ په دغه غلط فهمي کې مبتلا دي: چې بس په کال کې همسایه ته یو څه د زکوة پیسې ورکړي، بیا ټوله کال د ده دا ګمان وي: چې بس ما خو د همسایه حق ادا کړی: حالانکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

.........إِنَّ فِي الْمَالِ حَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ.﴾.(٣)

.........د انسان په مال کې د زکوة څخه ما سوا نور هم حق سته.

نو وږي همسایه ته خورک ورکول فرض او واجب دي، صرف د سنت او استحباب خبره نه ده، کچیري یو څوک د لوږي څخه بېتابه وګرځي، نو هغه ته خورک ورکول فرض دي.

(١) البر و الصلة للحسين بن حرب: حديث نمبر ٢٣٩
(٢) مسلم شريف: جلد نمبر٢، صفحه نمبر٢٩
(٣) سنن ترمذي: حديث نمبر ٦٦٠

## د ماعون حق:

داغه رنګه فقهاء کرامو د همسايه يو بل حق هم واجب ګرځولی دی: چې هغه ته وايي: د "ماعون حق" لکه چې الله تعالی د هغه بيان په "سورة الماعون" کې کړی دی.
چې افسوس دي پر هغه لمونځ کونکو باندې وي: چې لمونځ او نور اعمال د رياکارۍ په خاطر کوي، او ماعون هم منعه کوي.
ماعون وايي: د انسان د ورځې د معمولي شيانو استعمال چې د هغه په وجه يو خاص نقصان نه پېښيږي.
لکه مثلاً کله: يو څوک د همسايه د کوره راسي، چې زموږ نن لږ مالګه پکار ده، يا زموږ بېلچه په کار ده، يا زموږ په کور کې د رڼا ضرورت دی، تاسو ئې راکړئ، دغه د معمولي استعمال شيان همسايه ته نه ورکول نو دې ته د ماعون حق نه پر ځای کول وايي.
او الله تعالی پر دغسې لمونځ کونکو باندې افسوس فرمايلی دی، چې لمونځ خو کوي، مګر د ماعون د حق خيال نه ساتي.
ليکن يوه خبره په ذهن کې کښېنول ضروري ده: چې د ماعون څخه مراد هغه معمولي شيان چې د هغه د ورکولو څخه خاص نقصان نه پېښيږي، لوی لوی او قيمتي اشياء د ماعون په حق کې داخل نه بلل کيږي، او نه د هغه پر منع کولو دغه وعيد پر انسان راځي.
او کچيرې يو همسايه د دغه معمولي اشياؤ غوښتنه هره ورځ عادت جوړ کړي، چې همسايه بلکل د ده د دغه عادت څخه پرېشانه او تنګ سي، او بيا له دې شي څخه انکار وکړي، نو هم به انشاء الله دی په دغه وعيد کې داخل نه ګرځي.

## د همسايه دوهم (۲) حق:

پيغمبرﷺ د همسايه دوهم حق دا بيان کړی دی: کچيرې هغه قرض وغواړي، نو تاسو قرض ورکوئ، د قرض ورکولو په باره کې شرعي تفصيل دا رنګه دی:
کچيرې هغه د خپل کور او بچيانو د خورک د اشياؤ پوره کولو څخه عاجزه سوی وو، او بلکل محتاجه وو، نو په دغه صورت کې قرض ورکول فرض او واجب دي.

لیکن کچیري داسي صورت نه وو، بلکه هسي د یو ضرورت لپاره هغه ستا ځخه د قرض طلب کاوی، نو بیا قرض ورکول د حسن سلوک تقاضا ده، او شرعاً مستحب دی.

د قرض ورکولو فضیلت په احادیثو کي ډېر زیات راغلی دی، بعض علماؤ خو داسي فرمایلي دي: چي یو مسلمان ته په قرض ورکولو کي تر هدیه ورکولو زیات ثواب دی، ځکه د ډېرو نیکو بندګانو به دا معمول وو: چي کله به یو چا د دوی ځخه د یو شي طلب وکړی، نو بیا به ده هغه شی ورکاوی، او دا به ئې ورته ویل: چي دا قرض دی.

بیا چي به کله د ادا کولو وخت راورسیدی، نو بیا به ئې و هغه ته ور معاف کاوی، او د هغه وجه به ئې دا بیانوله: چي په دې کي دوچنده ثواب دی، ځکه د قرض ورکولو ثواب جلا دی، او د قرض معاف کولو ثواب جلا دی.

لیکن نن سبا خو مصیبت دا دی: چي ویو چاته قرض ورکول او بیا د هغه ځخه خپل حق واپس اخستل مشکل نه بلکه ناممکنه ګرځېدلي دي.

نو ځکه د حضرت تهانوي رحمۃ اللہ علیہ به دا معمول وو: که به یو چا د ده ځخه قرض وغوښتی، نو بس دومره شی به ئې ورکاوی: چي کچیري هغه واپس را نکړی، نو دی به نه پرېشانه کیدی، ځکه چي د قرض ورکولو فضیلت هم زیات دی، بیا د قرض په واپسي کي تنګ دسته مقروض ته مهلت ور کول هم زیات ثواب لري، او د قرض معاف کول خو بیا تر ټولو لوی فضیلت والا عمل دی.

## د همسایه دریم (۳) حق:

د همسایه دریم حق پیغمبر ﷺ دا بیان کړی دی: کچیري د هغه په کور کي خوشحالي راغله، نو د هغه په خوشحالي کي شرکت ور سره کول، او هغه ته دعا کول، مثلاً الله تعالی هغه ته بچی ورکړی، یا ئې یو منصب ورکړی، یا ئې په تجارت کي ترقي راغله، نو ته د هغه کور ته ورسه، مبارکي ورکړه.

لیکن موږ دا ټوله کارونه کوو، هم مبارکي ورکوو، خو لیکن ټوله رسماً وي، د کولو ځخه وروسته دستي دا طمعه لرو: چي دی به هم زما سره دغسي کوي، که هغه نه وکړل، نو دستي ناراضه سو.

يعني هر څه د بدلې او عوض په نيت کوو، د الله د رضا په خاطر او د ثواب پيدا کولو په نيت ئې نه کوو، حالانکه دا ټوله رسمونه دي، د دغه د پابندۍ کولو د سنت طريقې سره هيڅ تعلق نسته.

بلکه په کار خو دا ده: چې د هر چا سره څه کوو، د الله تعالى د رضا او د پيغمبرﷺ د سنت طريقې پر ځاى کولو په نيت باندي ئې وکړو، بيا که هغه مور ته زموږ د عمل عوض راکړي، او که ئې رانکړي، نو موږ چونکه د الله د رضا او د خپل پيغمبرﷺ د سنت طريقې پر ځاى کولو په نيت کړى دى، نو موږ ته به بيا هيڅ په دماغ کي ناراضگي نه را پيښيږي.

بلکه زه خو دا وايم: چې مزه او خوند په دې کي دى: چې ته د همسايگانو سره ښه سلوک کوې، او د دوى د طرفه هيڅ در سره نه وي، نو په دې شکل به ته د الله په دربار کي د ډېر لوى ثواب مستحق وګرځې.

## د همسايه څلورم (۴) حق:

د همسايه څلرم حق پيغمبرﷺ دا بيان کړى دى: کچيري هغه ته يو تکليف ور ورسيږي، نو هغه ته تعزيت او تسلي ورکول، د تعزيت او تسلۍ معنٰى دا ده: چې يو داسي عمل يا قول کول: چې په هغه سره د ده په تکليف کي کمي راسي.

علامه ابن کثير د پيغمبرﷺ يو حديث مبارک رانقل کړى دى: کچيري د يو چا زوى شهيد سي، او بل سړى د هغه تعزيه او تسلۍ ته راسي، نو الله تعالى چې د شهيد و قربانو ته د شهيد پر شهادت څومره ثواب ورکوي، دغه تسلي ورکونکي ته د تسلۍ ورکولو پر دغه عمل هم دغومره ثواب ورکوي.

لکه د پيغمبرﷺ يو بل حديث هم راځي:

.........مَنْ عَزّٰى ثَكْلَي كُسِيَ بُرْدًا فِي الجَنَّةِ).(۱)

کچيري يو چا داسي زناني ته چې د هغې بچى ورک وو، تسلي ورکړه، نو الله تعالى به ده ته د جنت لباس ور واغوندي، او د جنت لباس په جنت کي وي، يعني د دغه عمل په بدله کي به الله تعالى ده ته جنت ورکړي.

(۱) سنن ترمذي: حديث نمبر ۱۰۷۶

ليکن موږ د تعزيت شکل داسي جوړ کړی دی: چي د مړي قريبان بنه ژړول، يعني يو داسي طريقه اختيارول: چي د هغه څخه د مړي قريبان بنه وژاړي، او د هغوی په غم کي نور هم زياتوالی را سي، او د هغوی جذبات راپورته سي، نو دا د تعزيت غلطه طريقه ده، چي اوس په موږ کي رواج سوېده.
خصوصاً په زنانو کي دغه بيماري زياته ده، د دوی په عقيده کي بس د تعزيت معنٰی دا ده: چي پخپله هم ژړل، او د مړي قريبان هم ژړول، بايد انسان د دغه غلطي طريقې د تعزيت څخه ځان وژغوري.

## د همسايه پنځم(۵) حق:

محسن انسانيتﷺ د همسايه دا حق هم بيان کړی دی: کچيري هغه ناجوړه سي، نو د هغه عيادت او پوښتنه کول.
ليکن د پوښتني کولو شرعاً خپله طريقه وي، چي په هغه کي ضروري دا ده: چي هغه بيمار ته تکليف نه ورسيږي، او پوښتنه کول د ثواب عمل دی.
پيغمبرﷺ فرمايلي دي:
.........إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا عَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ، كَانَ فِي خُرْفَةِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَرْجِعَ﴾.(۱)
چي کله يو مسلمان د بل مسلمان پوښتني لره ورسي، نو د کور د وتلو څخه وروسته تر واپس راتللو پوري دغه پوره زمانه دی د جنت په يو باغ کي اوسيږي.
په يو بل حديث کي پيغمبرﷺ فرمايلي دي: چي د پوښتني د ور تلونکي لپاره تر واپس راتلو پوري اويا زره(۷۰۰۰۰) فرښتې د مغفرت دعاګاني غواړي.

## د پوښتني کولو صحيح طريقه:

چي دا ټوله ثوابونه هلته د سړي په نصيب کيږي: چي پوښتنه په پوره آدابو او د شريعت د طريقې سره برابر وي.

(۱) الزهد والرقائق لابن المبارک، حديث نمبر ۷۳۲

يعني چي د کم چا پوښتني لره ورځې، هغه ته به ستا د ورتگ څخه تکليف او پرېشاني نه وي، مثلاً په داسي وخت کي ورتلل: چي هغه وخت د مريض د آرام وخت وي، په داسي وخت کي د مريض لپاره د تسلي پرځای نور د پرېشانی سبب گرځي.
د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دی: چي د هغه مفهوم دا دی: چي په تاسو کي څوک د چا پوښتنه کوي، نو هغه به ډېره مختصره او سپکه وي.
يعني چي څو مره ژر ممکن وي، واپس را ولاړېدل، بس چي کله دي د مريض حال وپوښتی، او ده ته دي د تسلي الفاظ وويل، که ممکنه وه، نو د هغه پر تندي لاس اېښوول دعا کول، او واپس ژر راتلل، زيات وخت هلته نه تېرول.
او کچيري د مريض سره د انسان زيات واقفيت وو، چي د ده په زيات کښېنستلو مريض ته هيڅ پرېشاني نه وه، او يا مريض په هغه خوشحاله کېدی، نو بيا په زيات کښېنستلو کي هيڅ مشکل او باک نسته.

## د حضرت عبدالله بن مبارک رحمة الله عليه واقعه:

حضرت عبد الله بن مبارک رحمة الله عليه چي زموږ په بزرگانو کي لوی بزرگ وو، او د خپل وخت د حديثو لوئی استاذ وو.
چي کله مريض سو، نو ډېر خلک به د ده پوښتني ته راتلل، په هغو کي يو صاحب داسي هم راغلی: چي د پوښتني د آدابو څخه نا خبره وو.
چي کله کښېناستی، نو بلکل ئې د ولاړېدلو نوم نه اخستی، او حضرت عبدالله بن مبارک رحمة الله عليه د مروت په وجه خاموشه وو، چي کله ډېره زمانه تېره سوه، خلک تلل، او راتلل، هغه صاحب بلکل د خپله ځايه نه ښورېدی.
حضرت عبد الله بن مبارک رحمة الله عليه چي کله د ده د دغه اوږدې ناستي څخه ډېر تنگ سو، نو ئې ورته وويل: چي يو طرف ته د ناجوړی تکليف دی، او بل طرف ته خلکو ته د پوښتني شرعي طريقه هم ور معلومه نه ده، نو د دغسي خلکو څخه ډېر په تکليف يم.
هغه صاحب په دې هم نه پوهېږي: نه وايي: چي حضرت! کچيري د خلکو څخه ډېر تنگ ئې نو زه به دغه دروازه بنده کړم، چي بيا څوک دننه رانسي، ده په جواب کي ورته وويل: چي هو! دروازه بنده کړه، خو د دننه طرف څخه نه، بلکه د دباندي طرف څخه.

ئې بنده کړه، خلاصه دا: چې انسان کله د مريض پوښتنه کوي، نو پکار دا دی: چې د دې خبرې زيات خيال وساتي: چې مريض ته تکليف او پرېشاني نه ورسيږي.

## د همسايه شپږم (۶) حق:

پيغمبر ﷺ د همسايه دا حق هم بيان کړی دی: چې کچيري هغه وفات سي، نو د هغه په جنازه کي شرکت کول، چې د هغه ځخه انسان ته د جنازې د شرکت ثواب هم او د همسايه سره د غمخوارۍ کولو اجر هم نصيب کيږي.

حضرت عبدالله بن عمر ﷺ و حضور ته حضرت ابوهريره ﷺ يو حديث مبارک پيش کړی: چې کچيري يو مسلمان د بل مسلمان په جنازه کي شرکت وکړي، الله تعالی به يو قيراط ورکړي، او په بل حديث شريف کي راځي: چې د جنت قيراط دا د احد د غره مقدار دی، او کچيري تر دفن پوري هغه په جنازه کي شريک پاته سي، نو الله تعالی به دوه قيراطه ورکړي.

حضرت عبدالله بن عمر ﷺ د حضرت ابوهريره ﷺ ځخه پوښتنه کوي: ايا تا دغه حديث د پيغمبر ﷺ ځخه پخپله اورېدلی دی؟ هغه په جواب کي ورته وايي: هو په خدای قسم! ما پخپلو غوږو اورېدلی دی، او هم زما دماغ او زړه حفظ کړی دی.

حضرت عبدالله بن عمر ﷺ د دغه په اورېدلو سره ډېر افسوس ښکاره کړی: چې زما ځخه څومره قيراطونه اجر ضائع سوی دی، کچيري زه وختي په دې خبر وای، نو زما ځخه به د مديني منورې يوه جنازه هم دغسي نه وای تېره سوې.(1)

دا د هر مسلمان پر بل مسلمان حق وي، چې د هغه په جنازه کي شرکت وکړي، بيا چي کله خبره د همسايتوب سي، نو بيا خو دا حق نور هم مضبوطه او ټينګ سي.

## د کلام خلاصه:

د کلام خلاصه دا سوه: چې د همسايه تر له شپږ (۶) حقوق سول:

١. چې کله محتاجه سي، حاجت ور پوره کول.
٢. د قرض طلب کولو په وخت کي قرض ور کول.

(1) سنن ترمذي: حديث نمبر ١٠٤٠

۳. د هغه په خوشحالي کي شرکت کول.
۴. او د غم په وخت کي تسلي ورکول.
۵. او د بیماري په وخت کي عیادت او پوښتني ته ورتلل.
٦. د وفات په وخت کي د هغه په جنازه کي شرکت کول.

لیکن د همسایه صرف دا غه شپږ(۶) حقوق نه دي، چي د دغه په پوره کولو د سړي ذمه فارغه سي، بلکه تر کمه حده چي د انسان وس وسي، د هغه سره حسن سلوک کول، د ډېر لوی خیر او ثواب ذریعه گرځي.

د یوې بلي خبري خاص خیال ساتل: هغه دا: کچیري انسان ته د همسایه یو عیب ور معلوم سي، نو د هغه پرده پوشي کول، ځکه چي پیغمبرﷺ د همسایه دغه حق هم بیان کړی دی، ځکه که یو څوک د مسلمان پر عیب باندي پرده واچوي، الله تعالی به د ده عیبونه پټ کړي. (١)

## د حضرت ابوحمزه سکري رحمة الله علیه واقعه:

زموږ چي څومره بزرگان تېر سوي دي، د هغوی د حالاتو د کتلو څخه داسي معلومیږي: چي د هغوی ټولو به همېشه د خپلو همسایگانو سره داسي ښه سلوک او عمده معاملهٔ وله، چي خلکو به د هغهٔ په همسایتوب باندي فخر کاوی.

یو ډېر لوی مشهور محدث د ابو حمزه سکري رحمة الله علیه په نامه باندي تېر سوی دی، د هغه نوم سکري ځکه مشهوره سوی دی: چي په عربي کي "سکر" نشې ته وایي، ده ته هم الله تعالی داسي اخلاص او خوږه ژبه ورکړې وه، چي د ده د خبرو د اوریدلو په دوران کي به همېشه په انسانانو د نشې غوندي اثر راتلی.

یو ځل ده د یو ضرورت په خاطر د خپل مکان د خرڅولو اراده وکړه، او د یو خریدار سره ئې خبره هم وسوه، د محلې خلک چي کله خبر سو، نو هغه ټوله د وفد په شکل ده ته راغلو، او د ده څخه ئې درخواست وکړی: چي ته موږ د خپل همسایتوب څخه مه محرومه کوه، او موږ ته د کور خرڅولو وجه بیان کړه.

---

(١) سنن ترمذي: حدیث نمبر ۱۴۲۶

حضرت ابو حمزه سکري رحمة الله عليه ورته و فرمايل: چي زما يو څه ضرورت وو، د هغه په وجه مي د کور خرڅولو ته سودا سوه، نو د محلې ټولو خلګو ورته وويل: حضرت! چي څومره پيسې د کور خرڅولو په وجه ستا لاس لره راځي، هغومره پيسې موږ په هديه کي ستا په خدمت کي پېشوولو ته تيار يو، خو ته موږ د خپل همسايتوب څخه مه محرومه کوه.

دا ځکه چي حضرت ابو حمزه سکري رحمة الله عليه به د خپلو همسايګانو خاص خيال ساتی، او د هغوی سره به ئې د ښه سلوک کولو ژندګي تېروله.(۱)

## همسايه څوک دی؟

همسايه صرف د ښه محل او بنګلې والا نه دی، بلکه د کوډلي والا هم د انسان همسايه دی، خو ددې ټولو خبرو څخه زياته اهمه او د غور قابله خبره داده: چي همسايه هغه څوک نه دی: چي د انسان سره په مرتبه کي برابر وي، چي زما ښه محل وي، نو دی به هم د ښه محل مالک وي، که چيري ده ښه مخل نه درلودی، بلکه په کوډل کي اوسېدی، نو هغه ته د همسايه په نظر نه ګورم.

ګورئ! همسايګان ټول سره برابر دي، که په ښه محل کي اوسېږي، او که په کوډل کي اوسېږي، که مالداره وي، او که مسکين وي، بلکه چي کم څوک په محله کي په کوډل کي اوسېږي، او زيات مسکين وي، هغه ډېر حقداره په شريعت کي بلل کيږي، ځکه چي مالداره خو د ځان کفالت کولای سي، داممکنه ده، چي هغه مسکين دي خود کفيل نه وي.

## غريب ته په سپک نظر نه کتل:

ليکن نن سبا په انسانانو کي يوه ډېره لويه وبا روانه ده، هغه دا: چي کم څوک زما د مرتبې سړی وي، نو هغه همسايه دی، د هغه سره ملاقات کول، مجلس کول، په خوشحالي او غم کي ور سره شريک کېدل، ليکن د غريب همسايه هيڅ خيال نه ساتل.

---

(۱) مسند ابي يعلى الموصلي: حديث نمبر ۳۴۵۶

همسایه خو پرېږده، نن سبا د قریبانو په باره کي هم دغه معیار خلکو جوړ کړی دی چي کم قریب د دغه معیار مطابق وي، نو د هغه سره ښه سلوک کول، او چي کم بېچار مسکین او غریب وي، هغه ته خو د قرابت په ویلو سره انسانان شرمیږي.

## د پیغمبر ﷺ د یو غریب صحابي سره محبت:

تاسو د پیغمبر ﷺ تعلیمات وګورئ! چي هغه په هر یو یو عمل کي موږ ته څنګه لا ښوونه کړېده.

په مدینه منوره کي په "مناخه" نامه یو بازار وو، (چي تر اوسه هم په داغه نامه یاد یږي) په دغه بازار کي به اکثره خلکو دوکانونه درلودل، بعضي غریبانو صحا کرامو به د لاري پر غاړه یو شی هوار کړی وو، او څه سودا به ئې پر ایښې وه.

په دغه صحابه کرامو کي یو صحابي د "ظاهر" په نامه چي د مدینې منورې څخه باندي پر یو څه فاصله اوسېدی، چي کله به دغه بازار ته راغلی، نو دوکان او نور څ خو ئې نه درلودل، هسي به د لاري په یو طرف کي ولاړ وو، او خپل سامان به ئ خرڅاوی.

یو خو بې انتهاء غریب وو، او بل طرف ته د شکل او صورت په اعتبار هم ډېر کمزور وو، پیغمبر ﷺ چي به کله دغه بازار ته راغلی، نو د ټولو څخه زیاته توجه به ئې دغه صحابي و طرف ته کوله.

یو ځل هغه خپل سامان خرڅاوی، پیغمبر ﷺ د ډېر زیات شفقت په خاطر د شا د خو سو که ورته راغلی، او د هغه صحابي پر سترګو ئې لاس ونیوی، هغه صحاب پرېشانه سو، چي دا څوک دی؟

پیغمبر ﷺ نعره وکړه، چي دغه غلام زما څخه څوک په یوه دراهم را نیسي، هغ صحابي پیغمبر ﷺ پر آواز و پېژاندی، او خپله ملا ئې نوره هم پر شا وایسته، او پیغمبر ﷺ د جسم سره ئې د لګولو کوشش کاوی، او وئې فرمایل: ای د الله رسوله که ته زما خرڅول غواړې، نو زه خو ډېر کم قیمت والا یم، ځکه چي یو طرف ته غریب یم، او بل د شکل په اعتبار کمزوری یم.

پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل: اى ظاهره! د دنيا خلک که هر څومره تاته د کم قيمت په نظر ګوري، ليکن دالله په نزد ته کم قيمت والا نه يې، د الله په حضور کي ستا قيمت ډېر زيات دی.

تاسو ګورئ! پيغمبر ﷺ به په هغه بازار کي ټوله مالداران پرېښوول، او صرف د يو داسي غريب صحابي طرف ته به متوجه وو، چي د هغه وطرف ته به هيڅا توجه نه کوله.

نو په همسايګانو کي توجه د هغه چا و طرفته زياته کول مناسب وي: چي هغه بې سر او سامان او تنګدسته او مسکين وي.(1)

## د حضرت عمر ﷺ د ژوند يوه واقعه:

حضرت عمر ﷺ به د خپل خلافت په زمانه کي اکثره وخت د شپې د چوکيدارۍ په طور د ښار د حفاظت لپاره د کور څخه راواتی.

يو ځل د شپې په نيمه حصه کي د مدينې منورې په اطرافو کي ګرځي، که ګوري يوه کوډل چي د وېښتانو څخه جوړه ده، هلته درېدلې ده، چي د دې څخه مخکي ده هلته کوډله نه وه لېدله.

دی نزدې ورغلی، که ګوري يو سړی د کوډلي په دروازه کي ناست دی، سلام يې ورته ووايي، او د هغه سړي سره کښېناستی.

چي کله يې پوښتنه ځني وکړه، چي ته څوک يې؟ هغه ورته وويل: چي زه يو مسافر يم، د ځنګله اوسيدونکی وم، امير المؤمنين ته د خپل ضرورت پېش کولو په خاطر دلته راغلی يم، چونکه په دې کلي کي ناولده يم، نو د شپې تېرولو لپاره مي د همسايه په شکل دلته خپله کوډل ودروله.

د خبرو په ذوران کي د خيمې څخه د ځګيروي آواز راځي، لکه په خيمه کي دننه چي يو څوک بيمار او په تکليف وي.

حضرت عمر ﷺ پوښتنه ځني کوي، چي په خيمه کي څوک دی؟ او ولي دومره په تکليف دی، چي آواز يې زموږ تر غوږو رارسيږي.

(1) اصلاحي مواعظ: جلد نمبر۱، صفحه نمبر۲۸

هغه سړي ورته وویل: سړیه! خپل کار کوه، زه مسافر یم، دا زما د کور مسئله ده، په دې باره کې زما څخه نوره پوښتنه مه کوه.

حضرت عمر ﷺ زیات اصرار کوي، چې خامخا راته ووایه، چې دا څنګه ځګیروی دی.

هغه سړي ورته وویل: چې زما زنانه په دې کوډل کې دننه ده، او د هغې د بچې د پیدا کېدلو وخت نږدې دی، نو ځکه هغه په تکلیف کې ده، چې آواز ئې تر موږ پورې رارسیږي.

حضرت عمر ﷺ ورته وویل: چې څوک بله زنانه ور سره نسته، هغه جواب ورکوي: چې هیڅوک ورسره نسته، ځکه موږ دلته مسافر او د همسایه په توګه شپه تیروو، او په دې کلي کې ناواقف او ناولده یو، څوک د خپل ضرورت لپاره نسو رابللای.

حضرت عمر ﷺ د هغه ځای څخه راولاړ سو، او په تلوار سره ئې خپل کور ته تشریف راوړی، او خپلې بي بي ام کلثوم ﷺ ته ئې وویل: چې یو ډېر د ثواب عمل ستا په قسمت کې راغلی دی، که ورته تیاره ئې، هغې پوښتنه ځني وکړه: چې څنګه عمل دی؟ ده ورته وویل: چې یو د صحراء غریب ناولده سړی مدینې منورې ته راغلی دی، او په فلان طرف کې ئې کوډل درولې ده، او د مدینې د خلکو همسایه دی، د هغه د زنانې د بچې د پیدا کېدلو تکلیف دی، او څوک ورسره نسته، نو زه تالره راغلم، که د هغه خدمت ته تیاره ئې.

حضرت ام کلثوم ﷺ جواب ورکړی: امیر المؤمنین! که ستا اجازت وي، نو زه یېخي د هغه خدمت ته په خوشحالي تیاره یم.

حضرت عمر ﷺ ورته وویل: چې د زنانې د بچې د ولادت په وخت کې چې کومو شیانو ته ضرورت پېښیږي، هغه ټول در سره راواخله، یو دېګ او څه غوړي، او وړه هم درسره راواخله، چې کله هغې دغه شیان راواخستل، نو حضرت عمر ﷺ په نیمه شپه کې د مخه روان دی، او خپل زنانه ورپسې ده، د مدینې د آبادیو څخه ووتل، او د څه تګ کولو څخه وروسته د هغه غریب سړي کوډل ته ودرېدل.

حضرت ام کلثوم خو کوډلې ته دننه ورغله، او حضرت عمر ﷺ اور بل کړی، دېګ ئې پر اور ایښی دی، په هغه کې ئې غوړي او وړه واچول، چې د هغه زنانې لپاره حلواه

تیاره کړي، لږ ګړی بعد چې د هغه زنانې د ولادت څخه فراغت وسو، نو "ام کلثوم" دننه څخه آواز وکړی: او وایي: امیر المؤمنینه! خپل دوست ته د هلک پیدا کېدلو زیری ورکړه.
هغه سړي چې کله د امیر المؤمنین نوم واوریدی، نو ډېر ووېریدی، ده مبارک ورته وویل: هیڅ د ویري خبره نه ده، ته زموږ همسایه ئې، او یو همسایه پر بل همسایه دا شان حق لري.
هغه دېګ ئې د پخېدو څخه وروسته د خیمې په دروازه کي کښېښوی، او "ام کلثوم" ته ئې وویل: په دغه زنانې څه وخوره، چې کله هغه زنانې د هغه دېګ څخه څه خورک وکړی، نو د هغه څخه وروسته "ام کلثوم" هغه دېګ د کوډلي څخه رادباندې کړی.
حضرت عمر ﷺ هغه دېګ د هغه غریب سړي و مخ ته کښېښوی، او ورته وئې ویل: ته هم څه وخوره، ټوله شپه دي په ویښه او په لوږه تېره کړه، د هغه څخه وروسته ئې خپله زنانه د ځان سره خپل کورته راروانه کړه، او هغه صاحب ته ئې وویل: چې سبا ته راسه، انشاء الله ستا د ضرورت پوره کولو کوشش به وکړو.(¹)
نو زموږ د سلفو به همېشه دا کوشش وو: چې په همسایګانو کي به کم څوک ډېر کمزوری وو، د هغه به ئې زیاته مرسته او کومک کاوی، او همېشه به ئې د همسایه د زړه د خوشحاله کولو کوشش کاوی.

## د حضرت عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه واقعه:

امام المحدثین امیر المؤمنین في الحدیث د خپل وخت "استاد کل" حضرت عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه ته یو همسایه راغلی، او ورته وئې ویل:
زما پر ذمه باندې اوه سوه (۷۰۰) دراهم قرض ده: کچیري ته دا ماته راکړې، نو زما د ذمې څخه به د قرضې بوج لیري سي، او زندګي به مې یو څه په سکون سي.

(¹) حکایات الصحابة: فضائل اعمال: باب شپږم: صفحه نمبر ۱۰۳

حضرت عبد الله بن مبارک رحمة الله عليه ورته وويل: چي ما ته قلم او کاغذ راوړه، هغه چ
کله راوړل، نو ده اوه زره(۷۰۰۰) دراهم پر کاغذ ور وليکل.
او ورته وئې ويل: ورسه، چي د کم چا سره زما د پيسو تصرف دی، دا کاغذ ورکړه، ا
پيسې څني واخله.
هغه سړی ډېر خوشحاله سو، نو د حضرت عبد الله بن مبارک رحمة الله عليه د پيسو متصر
ته ئې ورکړی، او ورته وئې ويل: چي ما ته زما د قرض ادا کولو دپاره اوه سوه(۷۰۰
دارهم راکړه.

هغه چي کله کاغذ وکاتی، نو پر کاغذ اوه زره(۷۰۰۰) ليکلي دي، او هغه سړی د او
سوو(۷۰۰) مطالبه کوي، نو ډېر په سوچ کي سو، د ځان سره ئې فيصله وکړه:
چي د حضرت عبد الله بن مبارک رحمة الله عليه څخه به پوښتنه وکړم، چي حضرت! د هغ
سړي مطالبه اوه سوه(۷۰۰) ده، او تا اوه زره(۷۰۰۰) ورته ليکلي دي، نو زما دا فک
سو: چي ستا څخه به شايد دا يوه نقطه او صفر په غلطي کي زيات سوی وي.
ده مبارک ورته وويل: چي کاغذ راکړه، چي صحيح ئې کړم، نو هغه اوه زره(۷۰۰۰
عدد ئې خراب کړی، او د هغه پر ځای ئې څورلس زره(۱۴۰۰۰) وليکل، او ورته وئ
ويل: چي دغه ورکړه.

بهر حال هغه سړي ته خو څورلس زره (۱۴۰۰۰) ور کړل سو، خو هغه د ده د پيس
متصرف راغلی، او ورته وئې ويل: حضرت! زما په خبره سر خلاص نه سو، قرضه او
سوه(۷۰۰) وه، او تا اوه زره(۷۰۰۰) ورته ليکلي وو، بيا چي زه کله پوښتني ته راغل
نو اوه زره(۷۰۰۰) دي کاټ کړل، او د هغه پر ځای دي څورلس زره(۱۴۰۰۰) وليکل.
ده په جواب کي ورته وويل: گوره! ما د پيغمبر ﷺ څخه يو حديث مبارک اوريدلو
وو:

............وَأَحَبُّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ سُرُورٍ تُدْخِلُهُ عَلَى مُسْلِمٍ». (۱)

---

(۱) معجم الاوسط: حديث نمبر ۶۰۲۶

الله تعالى ته محبوبترين عمل د يو مسلمان زړه خوشحاله کول دي، او داغه رانګه ماته د پيغمبرﷺ دا حديث هم رارسيدلی دی: چې کله يو بنده د يو مؤمن زړه ته اچانک او يو دم خوشحالي ور ورسوي، الله تعالى پر دغه عمل د ده د زندګۍ ټول ګناهونه ور معاف کوي.

چي کله دغه بنده ماته راغلی، او زما څخه ئې اوه سوه(۷۰۰) دراهم وغوښتل، نو ما دا فکر وکړی: چي په اوه سوه(۷۰۰) دراهمو ور کولو د ده زړه ته يو دم خوشحالي نه رسيږي، نو ما د خوشحالۍ و زړه ته رسولو په خاطر اوه زره(۷۰۰۰) وليکل، چي د هغه په ليدلو به د ده زړه يو دم خوشحاله سي، او ده ته به در توقع زياته خوشحالي ور نصيب سي، او په هغه سره به الله تعالى زما د تيري زندګۍ ګناهونه رامعاف کړي.

ليکن تا زما کار را خراب کړی، ځکه ته د اوو زرو (۷۰۰۰) پوښتني ته راغلې، اوس که ما و ده ته هغه اوه زره(۷۰۰۰) ور کړي وای، نو د ده په زړه کي يو د م خوشحالي نه پيدا کيدله، ځکه چي د ده په زړه کي د اوو زرو (۷۰۰۰) طمعه او توقع پيدا سوې وه، ليکن چي ما څورلس زره(۱۴۰۰۰) کړل، نو د هغه په ليدلو سره به د ده زړه يو دم خوشحاله سي، او ده ته به در توقع زيات شی په لاس ورسي، او د دغه عمل په وجه به الله تعالى زما ټول ګناهونه رامعاف کړي.(¹)

نو دا زموږ هغه بزرګان وه: چي د همسايګانو به ئې په دا رقم خيال ساتی، الله تعالى دي موږ او تاسو ټولو ته دا هغوی پر نقش او قدم باندي زندګي رانصيب کړي.

چي زموږ زندګي هم زموږ دسلفو او بزرګانو پشان په دنيا کي الله تعالى ته قبوله زندګي وي، او دغه زندګي زموږ او ستاسو د ټولو لپاره په آخرت کي د الله تعالى د عذاب څخه او هم د جهنم څخه د نجات ذريعه وګرځي.

او الله تعالى دي د همسايګانو د حقوقو په ښه طريقه د آدا کولو توفيق رانصيب کړي او الله تعالى دي دا څو مختصري خبري په خپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

---

(¹) خطبات فقير: جلد نمبر۱۹، صفحه نمبر ۱۹۵

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیہ)

# ایثار او قرباني

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الهاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقــــــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صـاحب |
| مـقـــــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشـــــاعــت | اول |
| تـاريــــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعــــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ،
وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ الْمُهَاجِرِينَ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ ذَهَبَتِ الْأَنْصَارُ بِالْأَجْرِ كُلِّهِ قَالَ: «لَا مَا دَعَوْتُمُ اللَّهَ لَهُمْ وَأَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِمْ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! الله تعالى پيغمبر ﷺ د ټوله امت د هدايت لپاره د يو عظيم رحمت په شکل دنيا ته راواستاوى، چې د ټوله انسانيت لپاره د مځکي پر هره خطبة باندي د ده تعليمات د هدايت ذريعه وه.

پر ځلويښت(۴۰) کاله عمر باندي الله تعالى ده ته د نبوت خلعت او لباس ور په برخه کړی، او هم ئې د نبوت تاج د ده پر سر مبارک ور کښېښودى، د نبوت د تاج پر سر اېښودلو څخه وروسته د ده د عمر مبارک ديارلس(۱۳) کاله د "مکې مکرمې" و انسانانو ته د دعوت په شکل په "مکه مکرمه" کې تېر سول.

چې په هغه کې اولني درې(۳) کاله ده په خپل کور کې دننه دعوت کاوی، ځکه چې په دغه درې(۳) کاله کې د الله تعالى له طرفه و ده ته دا پيغام وو:

.........وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ﴾. ته خپل نږدې قريبان ووېروه.

(۱)سورة الحشر، آيت نمبر ۹

(۲)سنن ابي داود: حديث نمبر ۴۸۱۲

او نور لس(۱۰) کاله ئې بيا و عامو انسانانو ته دعوت ورکړی، خو په دغه ديارلس(۱۳) کاله کي په "مکه مکرمه" کي ډېر خلګ په اسلام مشرف سول، ليکن چي د "مکې مکرمې" کم صاحب ثروت او سرداران ول، په هغه کي ډېره حصه د اسلام راوړلو څخه محروم پاته سول، او هغوی د اسلام راوړلو ته غاړه نه ايښوده.

نو بالآخر د پيغمبرﷺ او مسلمانانو مقابلې ته تيار سول، او پر هغې باندي ئې د ژوند تېرولو دائره راتنګوله، او په رنګارنګ بهانو به ئې هغوی ته تکليف او زوررنه ور کوله.

خو د ديارلس(۱۳) کاله مکي زندګۍ وروسته پيغمبرﷺ هجرت کولو ته مجبور سو، چي کله د الله له طرفه د هجرت اجازه ور کړل سوه، نو ئې د "مکې مکرمې" څخه "مدينې منورې" ته هجرت وکړی، او د ژوند آخرني لس(۱۰) کاله زندګي ئې په "مدينه منوره" کي تېره کړله.

چي کله پيغمبرﷺ "مدينې منورې" ته هجرت وکړی، نو صحابه کرام هم د "مکې مکرمې" څخه د هجرت په شکل "مدينې منورې" ته راشروع سول.

چي کله "مدينې منورې" ته ډېر مهاجرين راغلل، نو په دې وخت کي د ټولو څخه لويه مسئله د دې انسانانو په "مدينه منوره" کي د آباد کارۍ او استوګنې وه، ځکه يو طرف ته د انسانانو يو سېلاب د "مکې مکرمې" څخه "مدينې منورې" ته راروان وو، او بل طرف ته په دغه وخت کي "مدينه منوره" يو کوچنی کلی وو.

اوس چي کله خلګ مدينې ته راغله، نو د هغوی د کور ضرورت وو، او د هغوی د خوراک او څښاک ضرورت، او هغه د زندګۍ د ټولو ضرورياتو ته مجبوره وو، ځکه دا خلګ "مدينې منورې" ته په خالي لاس راغلي وه، حالانکه په "مکه مکرمه" کي د دوي مځکي جائيدادونه او هر څه وه، ليکن د دوی څخه هغه ټوله په "مکه مکرمه" کي پاته، "مدينې" ته خالي لاس راغلل.

## د انصارو قرباني او تکليفونه:

الله تعالی په "مدينه منوره" کي د انصارو صحابه وو په زړو کي داسي قرباني ور واچوله، چي هغوی د قربانۍ داسي مثالونه قائم کړل: چي په تاريخ کي د هغوی نظير او مثال پيدا کول مشکل دي.

انصارو صحابه وو د خپل دولت ټولي دروازې پر مهاجرو را خلاصي کړې، او دا هر څه ئې پخپله خوښه باندي کول، د پيغمبرﷺ په دغه باره کي دوی ته هيڅ حکم نه وو کړی.

بلکه انصارو صحابه وو به دا ويل: هر مهاجر صحابي چي تر مدينې پوري ځان راورسوي، د هغه لپاره به زموږ د کور دروازې خلاصي وي، او هغه به راځي، زموږ په کورو کي به زموږ سره ژوند تېروي، او زموږ به مېلمه وي، د هغه د خوراک او څښاک انتظام به موږ کوو.

پيغمبرﷺ چي کله د دوی دغه جذبه وليدله، نو د انصارو او مهاجرو په مابين کي ئې "مواخات" (ورور ګلوي) قائمه کړه، يعني هر مهاجر ئې د انصاري ور ورور کړی، هغه به د هغه سره اوسيدی، او د ژوند ضروريات به ئې هغه ور پوره کول.

تر دې حده پوري چي بعضو انصارو صحابه کرامو دا پيشکش وکړی: چي د کم چا به دوې(۲) زناني وې، نو هغه به دا ويل: زه د دې لپاره تيار يم، چي يوه زنانه پرېږدم، يعني طلاق ورکړم، او د ځان څخه ئې جدا کړم، بيا به د هغه د خپل مهاجر ورور سره نکاح ور وکړم، که څه هم داسي واقعه پيښه خو نه سوه، ليکن انصار صحابه دې ته تيار وه.

## د انصارو او مهاجرو مزارعت:

تر دې حده چي يو ځل انصار د پيغمبرﷺ حضور ته راغلل، او دا عرض ئې پيش کړی: چي ای د الله رسوله! زموږ چي کم مهاجر وروڼه دي، او زموږ سره اوسيږي، که څه هم موږ دوی پخپلو کورو کي د مېلمنو په شکل اوسوو، ليکن د هغوی په زړه کي هر وخت دا فکر او خيال ور ګرځي: چي موږ خو ميلمانه يو، او باقاعده د هغوی لپاره

دخپلي زندګۍ څه ترتيب نسته، نو هغه په ډېره نيولې پېنه زموږ کور ته راځي، او همېشه دا احساس ورسره وي.
موږ په خپل ماين کي دا فيصله کړې ده: چي په "مدينه منوره" کي زموږ څومره جائيدادونه دي، هغه به موږ نيمې نيمې په خپل ماين کي سره تقسيم کړو، يعني نيم جائيداد به مهاجر ورور ته ورکړو، او نيم جائيداد به دخپل ځان سره راوګرځوو.
د دوی پر دغه خبره پېغمبر ﷺ د مهاجرو صحابه وو سره مشوره وکړه، چي انصار صحابه خو دغه پيشکش کوي، ستاسو څه خيال دی؟
مهاجرو صحابه وو پيغمبر ﷺ ته وويل: چي موږ هيڅکله دا نه خوښوو: چي موږ د دوی نيمي مځکي او جائيدادونه ځني واخلو.
ددې څخه وروسته پيغمبر ﷺ دا فيصله وکړه: چي تاسو د انصارو په مځکو کي کار کوئ، چي کمه غله او پيداوار د مځکو څخه راځي، پخپل ماين کي ئې تاسو او انصار سره تقسيموئ، او دخپلو کورونو ګزاره په کوئ.
چنانچه مهاجرو به د انصارو صحابه وو په مځکو کي کار کاوی، چي کم حاصل به د مځکو څخه راغلل، دوی به پخپل ماين کي سره تقسيم کول، په دغه شکل به مهاجرو صحابه وو خپل وخت تېراوی.

## د صحابه کرامو عجيبه جذبات وو:

مهاجرو صحابه کرامو چي کله دانصارو قرباني وليده، نو دستي دا فکر ورسره پيدا سو: چي دا خو ثواب او اجر ټوله انصارو لره په نصيب ورغلی، موږ ته هيڅ هم راپاته نه سو.
نو يو ځل دغه حضرات د پيغمبر ﷺ خدمت ته راغلل، او عرض ئې پيش کړی: ای دالله رسول ﷺ!
........ذَهَبَتِ الْاَنصَارُ بِالْاَجْرِ كُلِّهِ).
د "مديني منورې" چي کم انصار صحابه دي، هغوی ټوله ثواب زموږ څخه پوره کړی، زموږ دلپاره ئې هيڅ هم نه پرېښوول.

تاسو ګورئ! دا انصارو صحابه وو جذبات څه وو؟ او د مهاجرو بیا څه جذبات دي؟ یو طرف ته انصارو د مهاجرو لپاره خپل هر څه قربان کړل، او د خپل وس مطابق ئې هغوی ته آساني جوړه کړه، او هم ئې د هغوی دټولو ضروریاتو خیال وساتی، او بل طرف ته مهاجرو ته بیا دستي، دا خیال په دماغ کي ورغلی: چي ټوله ثواب انصارو لره په لاس ورغلی، زموږ لپاره څه پاته نه سو.

په جواب کي پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل:

........لَا مَا دَعَوْتُمُ اللَّهَ لَهُمْ وَأَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِمْ﴾.(١)

یعني تاسو چي څه وایاست: چي ټوله ثواب زموږ څخه انصارو صحابه وو یوووړي، خو یوه خبره واورئ، هغه دا: چي دا په دماغ کي مه درګرځوئ، چي ستاسو لپاره هیڅ ثواب پاته نه سو، بلکه دا ثواب تاسو ته هم درکول کیږي.

تر څو پوري چي تاسو د هغوی په حق کي دعاګاني کوئ، او د هغوی شکر ادا کوئ، نو الله تعالی به تاسو هیڅکله د ثواب څخه نه محرومه کوي، او ستاسو د دغه عمل په نتیجه کي به الله تعالی د دوی په ثواب کي تاسو هم ورسره شریک کړي.

## د دنیا ژوند یو څو ورځي دی:

هلته دا نه وو: چي مهاجر د خپل ځان لپاره جلا ډله جوړه کړي، او په هغه سره د انصارو څخه د خپلو حقوقو حفاظت کوي، او یا دي انصار د دوی په مقابل کي ډلي جوړوي، چي هغه ډلي بیا د خپلو حقوقو د حصول په خاطر یو دبل سره لاس او ګریوان وي.

بلکه هلته معامله بر عکس ده، دهري ډلي دا خواهش دی: چي زه دخپل ورور سره څنګه احسان وکړم، او د هغه مدد او کومک لره څنګه ځان پیش کړم.

دا ځکه چي د هغوی ټولو په دماغو کي یوې خبري ځای نیولی وو: هغه دا: چي یوه ورځ به مرم، او هم به د دنیا څخه رخصتیږم، او زما د زندګۍ ټوله اعمال به د الله په حضور کي پیشیږي، بیا به هغه زما پر اعمالو ماته سزا او جزا راکوي.

---

(١) سنن ابي داود: حدیث نمبر ۴۸۱۲

او دا دنیا یو ځو ورځې ده، هر رنګه چې روانه وي، هغسې تېرېږي، که پر انسان باندې ښه حالت وي، او که د تنګۍ حالت وي، خو پر انسان باندې په هر شکل تیره سي.
البته: اصله خبره دا ده: چې د مرګ څخه وروسته چې د کمو حالاتو سره انسان مخامخ کیږي، نه ده معلومه: چې هلته به زموږ معامله څنګه وي؟
نو د دغه فکر دغه نتیجه وه: چې هر یو د بل ورور سره و هر قسم قربانۍ ته تیار وو، او هم ئې د هغه سره د آسانۍ کولو په خاطر هر قدم پورته کاوی.

## د آخرت فکر:

چې کله د انسان په دماغ کې د آخرت فکر نه وي، او په زړه کې ئې د الله ویره نه وي، او د ده سره د الله و حضور ته د درېدلو احساس نه وي، نو بیا خو د انسان و مخ ته صرف داغه دنیا وي، او هر وخت ئې په فکر کې دا وي: چې بل سړي زما څخه دنیا زیاته حاصله کړه، او زما سره کمه ده، نو بیا خو پر دا انسان په داغه فکر کې ژوند تیرېږي چې څنګه به ئې زیاته کړم، او څنګه به په فلاني پسې ځان ورسوم.
لیکن کچیرې د انسان په زړه کې دا فکر وي، چې په آخرت کې زما سره څه معامل کېدونکې ده، او د دې سره دا فکر هم ورسره وي: چې حقیقي راحت او خوشحالي مال او دولت په زیاتېدولو سره نه حاصلیږي، بلکه حقیقي خوشحالي داده: چې انسان په زړه کې سکون وي، او د انسان ضمیر مطمئن وي.
او حقیقي خوشحالي داده: چې انسان د یو مسلمان ورور پرېشاني ور لیرې کړي، او هغه پر مخ د خوشحالۍ آثار ښکاره سي.
چې کله دانسان په زړه کې د آخرت فکر او د حقیقي خوشحالۍ پیدا کولو تصو راسي، نو بیا انسان د نورو انسانانو سره د قربانۍ معامله کوي.

## د اسلام تعلیم:

د اسلام تعلیم صرف دومره نه دی، چې بس انسان به د نورو انسانانو واجب حقوق اد کوي، بلکه موږ ته اسلام د دې سره سره دا تعلیم راکړی دی: چې د نورو انسانانو سر به د قربانۍ معامله کوي.

تاسو یقین وکړئ! چي کله یو انسان د بل مسلمان وروړ سره قرباني وکړي، نو د هغه په نتیجه کي چي الله تعالی د ده په زړه کي کم سکون عافیت او راحت راولي، د هغه په مقابله کي د مال او دولت پیدا کولو خوشحالي هیڅ حیثیت نه لري.
چونکه زموږ د ژوند څخه د قرباني عمل وتلی دی، او زموږ په ژوندکي کي د قرباني هیڅ خانه پاته نه ده، چي د یو مسلمان په خاطر لږ تکلیف برداشت کړو، او د هغه د راحت لپاره قرباني ورکړو، نو ځکه د دغه قرباني لذت او راحت موږ ته هیڅ اندازه نه راکوي.

## د یو انصاري صحابي د قرباني واقعه:

"مدینه منوره" کي یوه ورځ یو مهاجر صحابي پیغمبرﷺ ته دخپلي لوږي او پرېشانحالي بیان وکړی، پیغمبرﷺ د خپلو زنانو حجرو ته حال ور واستاوی، کچیري هلته د خورک لپاره یو څه شی پیدا سي، خو د ده په کور مبارک کي هیڅ پیدا نه سول.
نو وروسته ئې صحابه کرامو ته وویل: چي څوک سته، چي د دغه مېلمه د یوې شپې مېلمستیا ورکړي؟ یو انصاري صحابي عرض وکړی: اې د الله رسوله! زه ئې مېلمستیا کوم.
نو هغه انصاري صحابي مېلمه کور ته راوستی، او خپلي زناني ته ئې وویل: چي دا د پیغمبرﷺ مېلمه دی، څومره اکرام ئې چي زموږ په کور کي کېدای سي، باید کمی په کي و نکړو، او هیڅ شی مه پټوه، هر څه چي موجود سته، هغه ټوله مېلمه ته راحاضر کړه.
زناني ورته وویل: د الله په ذات دي مي قسم وي: چي د ماشومانو لپاره مي لږ شی خوندي کړی دی، نور په کور کي هیڅ نسته.
هغه صحابي ورته وفرمایل:
......لوّمي الصّبيَة﴾. ماشومان دِلاسه کړه، او ویده ئې کړه.
......وأطفئ السّراج﴾. او څراغ په یو بهانه مړ کړه،

.......﴿وَقَرِّبِي لِلضَّيْفِ مَا عِنْدَكِ﴾. او تچي څه په کور کي سته هغه میلمه ته راتږدې کړه، چي هغه ئې وخوري.
نو هغه انصاري صحابي او زناني خپله شپه په لوږه باندي تېره کړه، او هم ئې ماشومان دغسي وږي ویده کړل، چي کله شپه تیره سوه، سهار "مسجد نبوي" ته راغلی، نو د لمانځه کولو څخه وروسته پیغمبرﷺ ورته وایي: چي ستاسو د شپې عمل الله تعالی ته ډېر خوښ وګرځیدی، او الله تعالی په شپه کي د جبرائیلعليه السلام په ذریعه ستاسو په هکله ماته دا پیغام راورساوی.
.........﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾.
ای پیغمبره! دا داسي د قربانۍ انسانان دي، چي دوی د خپل قربانۍ په خاطر بل مسلمان ورور ته ترڅان ترجیح یعني وړاندي والی ورکوي، که څه هم دوی پخپله د لوږي په حالت کي وي.(¹)

## د یو بل صحابي د قربانۍ واقعه:

په درمنثور کي د یو مهاجر صحابي متعلق دا واقعه رانقل سوېده: چي څو ورځي ئې پر لره پسې روژې ونیولې، او همیشه به د روژمات لپاره د ده سره هیڅ نه وو، نو ډېري لوږي څخه به کله دی د بېهوښۍ د کیفیت سره مخامخ کیدی.
یو انصاري صحابي حضرت ثابترضي الله عنه ته معلومه سوه، خپلي زناني ته ئې وویل: چي زه به ماښام یو میلمه راولم، چي کله موږ خوړک شروع کړو، نو ته به څراغ د سمولو په بهانه مړ کړې، او ترڅو پوري چي میلمه موړ نسوی نه وي، زه او ته به ئې نه خورو.
نو هغه زناني هم هغسي وکړل، دوی دواړه په خوړک په دا شان ورسره شریک ول: چي هغه ته دا ور معلومه سي: چي دوی زما سره خوړک کوي، حالانکه دوی په حقیقت کي خوړک نه کاوی، او نفقه ئې ټوله په میلمه وخوړله.
سهار چي کله حضرت ثابترضي الله عنه د پیغمبرﷺ په مجلس کي حاضر سو، نو هغه ورته وفرمایل: چي د شپې ستاسو د خپل میلمه سره ښه سلوک الله تعالی ته ډېر محبوب عمل وګرځیدی.(¹)

---

(¹) صحیح مسلم: حدیث نمبر ۲۰۵۴

## په سختو حالاتو کي د صحابه کرامو قرباني:

حضرت ابو جحم بن حذيفهﷺ فرمايي: چي د "يرموک" په جنګ کي زه د خپل اکا د زوی په تلاش د جنګ ميدان ته ورغلم، چي هغه په دغه جنګ کي شريک وو، د ځان سره مي يو "مشکوله" اوبه راخستي وې، دا مي فکر وو: چي د مسلمانانو زخميان ډېر زيات دي، کيدای سي: هغه هم زخمي سوی وي، نو زه به د غه اوبه تر هغه پوري ورسوم، کچيري زخمي وو، نو به ډېر تږی وي، او زه به يو غړپ اوبه د هغه په خوله کي ور واچوم.

اتفاقاً که ګورم، هغه په داسي ځای کي پروت دی: چي بدن ئې د تورو په زخمو سوری سوری دی، او په خپلو وينو او دجنګ په ګرد او غبار لړلی دی، زه چي کله ورته ودرېدم، نو د ده ساه په غوټو غوټو راځي، او حالت ئې د زکندن دی.

ما ئې دستي سر راپورته کړی، او په خپله غېږ کي مي ونيوی، او ورته ومي ويل: چي يو غړپ اوبه درکړم، هغه په اشاره سره راته وويل: چي اوبه راکړه، په دغه دوران کي د زخميانو په درميان کي يو طرف ته يو بل زخمي د ﴿اَلْعَطَش اَلْعَطَش﴾ يعني (تنده تنده) نعره کړه، يعني زه تږی يم، اوبه راکړئ، زه تږی يم، اوبه راکړئ.

زما د اکا زوی چي کله هغه آواز واوريدی، نو ماته ئې اشاره وکړه، چي ته دا اوبه يو ځل تر هغه سړي پوري ور ورسوه، او زما څخه مخکي يو ځل هغه ته اوبه ورکړه، زه چي ګله هغه ته راغلم، نو که ګورم، هغه هشام بن ابي العاصﷺ وو، نو هغه ته مي د اوبو هغه "مشکوله" برابره کړه، چي په خوله کي ئې ور توی کړم، خو په داغه حال کي د زخميانو د درميان څخه يو ئه ليري بل زخمي هم دالعطش اوازونه پورته کړل، نو هشام بن ابي العاصﷺ راته وويل: چي زما څخه مخکي پو ځل هغه زخمي ته دا اوبه ور ورسوه.

ما چي اوبه هغه ته وارسولې، نو که ګورم، د هغه ساه ختلې ده، او د شهادت مقام ته رسېدلی دی، چي د هغه لاس او پښې مي ور سم کړل، اوبه مي په منډه تر هشام بن ابي العاصﷺ پوري راورسولې، نو هغه هم شهيد سوی وو، دهغه څخه وروسته مي د

(۱) درمنثو بحواله حکايات صحابه: صفحه نمبر ۹۷

خپل اکا تر زوی پوري اوبه راوځغلولې، چي کله هغه ته راورسېدم، نو هغه هم د دنیا څخه رخصت سوی وو.

تاسو ګورئ! چي دا د قرباني انتها وه، چي د ده د اکا زوی په حالت د زکندن کي وو، او د تندي ئې نعرې کولې، بیا هم په داسي حال کي د بل تږي پر طرف اشاره کوي: چي زما څخه مخکي دي د هغو تنده په دې اوبو سره ما ته سي، حالانکه په داسي حالاتو کي د ډېر ځله د انسان هوش او حواس تو له کار پرېږدي.

لیکن هغه مبارکو انسانانو خپل ځانونه د تندي او سختۍ په شکل خپل رب ته ورسول، لیکن د پیغمبر په تعلیماتو کي چي د کم ایثار درس او تعلیم دوی ته ور کول سوی وو، هیڅ کله ئې هغه د خپل لاس څخه ورنکړی.

د حبیب بن ثابت ﷺ څخه لا دا روایت هم دی: چي "حارث بن هشام"، او "عکرمه بن ابي جهل"، او "عیاش بن ابي ربیعه" چي کله د "یرموک" په میدان کي زخمیان سول، نو "حارث بن هشام" د تندي ډېر شکایت کاوی، یعني چي زه ډېر تږی یم، نو یو صحابي ده ته د اوبو پتک (مشکوله) راوځغلاوی، چي کله ده ته ئې اوبه ور کولې، نو په دغه دوران کي "عکرمه بن ابي جهل" ده ته وکتل.

نو ده هغه صحابي ته وویل: ته یو ځل دا اوبه زما څخه مخکي تر "عکرمه" پوري ور ورسوه، اوبه چي کله "عکرمه" ته راورسیدې، نو "عیاش بن ابي ربیع" هغه اوبو ته د تږي په شکل وکتل، نو "عکرمه" هغه صحابي د اوبو سره د خپل ځان څخه مخکي "عیاش بن ابي ربیع" ته ور واستاوی، هغه صحابي چي کله اوبه "عیاش بن ابي ربیع" ته راورسولې، نو هغه شهید سوی وو، نو بیرته پر شا رامنډې کړې، چي تر "عکرمه" او "حارث" پوري ئې هغه اوبه رارسولې، هغه هم شهیدان سوي وو. (۱)

دا د هغه مبارکو انسانانو قرباني وه: چي یو به د بل په باره کي ئې کوله، چي په هر حالت کي ئې هغه تر خپل ځان مخکي کاوی.

د حضرت عمر ﷺ څخه یو روایت دی: چي د یو صحابي کور ته یو چا د بزې سر په هدیه کي راواستاوی، هغه صحابي دا فکر وکړی: چي زما فلان همسایه د دغه سر زیات ضرورت مند او مستحق دی، نو هغه هغه د بزې سر د همسایه کور ته ور

(۱) حیاة الصحابه، باب تحمل ابي عمر الأنصاري العطش في سبیل الله، صفحه نمبر ۲۹۲

واستاوی، هغه همسایه بیا په داغه جذبه د بل همسایه کور ته ور واستاوی، په دغه شکل هغه سر تر اوو (۷) کورو پوري ورسېدی، چي هر يوه به د ایثار په جذبه د بل کور ته ور استاوی، او آخر هغه سر د اول هدیه کونکي والا کور ته واپس راغلی.

## د ایثار کونکي د حساب څخه ماته شرم راځي:

سهل ابن عبد الله تستري رحمة الله علیه فرمايي: چي حضرت موسیٰ علیه السلام د الله رب العزت څخه دا خواست وکړی: چي یا الله! ماته د محمد ﷺ او د هغه د امت بعضي درجات راښکاره کړه.

الله تعالی ورته وفرمایل: ای موسیٰ! ته به د هغه د لیدلو تاب رانه وړې، خو بیا هم زه به تا د هغه د عظیمو مراتبو څخه یوه مرتبه وینم، چي د هغه په ذریعه ما و ده ته پر تاسو او پر خپل ټوله مخلوق باندي فضیلت ورکړی دی.

چنانچه د حضرت موسیٰ علیه السلام د نګاه او نظر څخه د آسمانو او د ملکوت ټول حجابونه پورته کړل، ده د سرکار دوعالم ﷺ د منزلت او لوړي مرتبې مشاهده وکړه، او د پیغمبر ﷺ چي کم قرب خداوندي او د منزلت انوار ولیدل، نو ګویا د ده نظر د هغه په لیدلو سره ښنبته سو.

ده د الله تعالی څخه پوښتنه وکړه: ای الله! محمد دغه مرتبې ته څنګه ورسېدی؟ الله تعالی جواب ورکوي: د یو داسي خصلت او خوی پر بنیاد چي هغه ما صرف په ده پوري او د ده په صحابه کرامو پوري خاص کړی دی، او هغه خوی قرباني ده.

ای موسیٰ! قرباني په انسانانو کي ماته دومره زيات خوښ عمل دی: که چیري یو سړي په ژوند کي یو ځل هم قرباني کړې وي، د قیامت په میدان کي د هغه سره د حساب کولو څخه ماته شرم راځي، زه به دی بلا حسابه جنت ته ور ولم، په جنت کي چي کم ځای د ده زړه غواړي هلته به او سېږي.(1)

(1) حکایات غزالي، صفحه نمبر ۹۷

## د یو غلام قرباني:

امام غزالي رحمة الله عليه په یو کتاب کي د حضرت عبدالله ابن جعفر ﷺ واقعه رانق
کړېده: چي دی د خپلي مځکي د یو حصې د لیدلو لپاره روان وو، په لاره کي د ی
قبیلې باغ وو، نو هغه ته ور وګرځېدی.
که ګوري په هغه کي یو حبشي غلام کار کوي، نو په دغه دوران کي هغه غلام ته د کل
څخه خوړکه راغله، او د هغه خوړکې د لیدلو سره یو سپی هم باغ ته راننواتی، او د هغ
غلام سره نژدې یو طرف ته کښېناستی.
هغه غلام یوه ډوډۍ هغه سپي ته ور واچوله، خو سپي هغه ډوډۍ وخوړله، غلا
دوهمه ډوډۍ هم ور واچوله، هغه ئې هم وخوړله، او بیا ئې دریمه ډوډۍ هم په هغ
سپي وخوړله، تر دې حده چي ده ته راغلې ډوډۍ ټوله سپي وخوړله، او ختمه سوه.
حضرت عبدالله ابن جعفر ﷺ دغه ټوله منظر په حیرانتیا سره وینئ، او ورته ګوري
نو ده د هغه غلام څخه پوښتنه وکړه: ستا روزانه خوړکه کمه ده؟ غلام په جواب کې
ورته وویل: دغه مقدار چي دا اوس تا ولیدله.
ده په حیرانتیا سره ورته وویل: بیا خو تا دا خپله خوړکه آخر ولې په دې سپي ټول
وخوړله.
غلام ورته وویل: پر کم ځای چي دغه زموږ باغ دی، دلته د سپیانو داستوګنې ځای
نسته، دا سپی د یوې ډېري لیري علاقې څخه صرف د خوړک په طمعه روزانه دلت
راځي، ماته دا خوند نه راکوي: چي دی بېچاره وږی پاته سي، او خوړکه زه وخورم.
عبدالله ابن جعفر ﷺ پوښتنه ځني وکړه: بیا نو ته ټوله ورځ څه کوې؟ هغه په جواب
کي ورته وویل: ټوله ورځ بیا پر ما په لوږه باندي تیرېږي.
حضرت عبدالله ابن جعفر ﷺ په دې خپل زړه کي وویل: زه دی پر سخاوت ملامت
کوم، حالانکه دی په حقیقت کي له ما څخه زیات سخي دی، نو بیا ده مبارک هغه وخت
د باغ مالک را طلب کړی: هغه غلام او باغ او په باغ کي موجود ټول آلات او اسباب
ئې ځني رانیول، نو غلام ئې آزاد کړی، او هغه باغ ئې و هغه غلام ته ور هبه کړی. (۱)

(۱) حکایات غزالي: صفحه نمبر ۹۷

## د حضرت علي ﷺ په عمل د الله فخر کول:

د هجرت په شپه حضرت علي کرم الله وجهه قریشو ته د پام اړولو او د پیغمبر ﷺ په حفاظت سره د وتلو په خاطر د ده مبارک پر بستره پیده سو.

الله تعالی حضرت جبرائیل او حضرت مکائیل ﷺ ته وفرمایل: چي ما خو ستاسو د دواړو په مابین کي اخوت او ورور ولي قائمه کړې ده، او په تاسو دوو کي مي د یوه د عمر د زیاتوالي اراده هم کړېده، اوس دا خبره زه تاسو ته کوم: چي په تاسو دوو کي د کم یوه عمر ور زیات کړم.؟

په دوی دواړو کي هر یوه دا غوښتل: چي زما عمر دي زیات سي، یعني یو دبل لپاره قرباني ته تیار نه وو،

الله تعالی ورته وفرمایل: تاسو دواړه: چي د "علي" برابر نه سوا ست، چي ما د ده او د خپل نبي محمد ﷺ په درمیان کي اخوت او ورور ولي قائمه کړې وه، هغه نن شپه خپل جان د محمد ﷺ په خاطر قربان کولو لپاره د هغه پر بستره ویده سو، او هغه د محمد ﷺ زندګي تر خپله زندګي مقدمه وبلله، اوس به تاسو مځکي ته ورسئ، او د دښمنانو څخه به د علي ﷺ حفاظت کوئ.

دوی دواړه مځکي ته راغلل، حضرت جبرائیل ﷺ د حضرت علي ﷺ سر ته یعني بالښت ته ودریدی، او حضرت مکائیل ﷺ د هغه د بستري هغه بل طرف یعني پښو ته ودریدی.

حضرت جبرائیل ﷺ وفرمایل: واه واه... ای د ابو طالب بچیه! ... واه واه... نن ستا غوندي هیڅوک نسته، الله تعالی نن پخپلو فرښتو کي په تا باندي فخر کوي، د هغه څخه وروسته دا آیت نازل سو:

........وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ﴾.(۱)

بعض انسانان داسي دي: چي د الله تعالی د رضا طلب کولو په خاطر خپل ځان هم قربانوي.(۲)

---

(۱) سورة البقرة: آیت نمبر ۲۰۷

(۲) حکایات غزالي: صفحه نمبر ۹۸

## بشر ابن الحارث په مستعار لباس کي وفات کېدل:

"عباس ابن دهقان" فرمايلي دي: چي د "بشر بن الحارث" څخه علاوه هيڅوک د دنيا څخه داسي نه دي رخصت سولي: لکه دی چي څنګه رخصت سو.

هغه ځکه چي يو سړي د ناجوړی په وخت کي د ده و حضور ته يو ضرورت پېش کړی، حالانکه په دغه وخت کي دی په مرض الموت کي مبتلا وو، ده خپل قميص د بدن څخه وکښی، او هغه سائل ته ئې ورکړی، او د يو بل چا څخه ئې قميص خواست کړی، او هغه ئې واغوستی، او په هغه قميص کي وفات سو.

يو صوفي خپله واقعه رانقل کوي: چي موږ يو څه ملګري په "طرطوس" ښار کي د "باب جهاد" پر طرف روان وو، د دغه ښار يو سپی هم په موږ پسې سو، چي کله موږ تر هغه دروازه ووتلو، نو يو ځای سره کښېناستو، هلته نږدې يو مردار سوی حيوان پروت وو، هغه سپي چي کله د هغه مردار سوي حيوان بوی محسوس کړی، نو ښار ته واپس راغلی، او د ځان سره ئې شل(۲۰) پنځويشت(۲۵) نور سپيان راوستل، دی پخپله يو طرف ته کښېناستی، هغه نور سپيان په هغه مردار سوي حيوان کي سره ولوېدل.

په لږ کړي کي هغه سپيانو د هغه حيوان غوښه وخوړله، صرف هډوکي پاته سول، چي کله ټول سپيان د حيوان خوړلو څخه وروسته سره رخصت سول، نو هغه سپی ور ولاړ سو، او هغه هډوکي ئې خوړل، چي دا د هغه سپي د خپلو ملګرو سره زيات قرباني وله.

## ايثار او قرباني انسان "مستجاب الدعوات" ګرځوي:

محمد ابن سويد فرمايي: چي يو ځل د مدينې خلک په کاختي کي مبتلا سول، په دغه ورځو کي په مسجد نبوي کي يو نيک او غير معروف انسان اوسېدی.

يو ځل ډېر زيات خلک په دعا کي مصروف ول، چي يو سړی راغلی، د هغه پر جسم باندي زړې کپړې وې، هغه دوه(۲) مختصر رکعتونه وکړل، او دا رقم ئې دعا وغوښتل:

........ ای الله! زه تاته قسم درکوم: چي په دې وخت کي پر دې خلکو باران وکړه.

محمد ابن سوید فرمایي: چي دغه نیک انسان لاسرنه و د دعا څخه فارغ شوی لا نه وو،
چي پرآسمان باندي وریځ راغله، او دومره زیات باران وسو، چي ځمکه د سیلاب په ډول د
ویري څخه په فریاد کي سوه.
نو هغه نیک انسان بیا دا دعا وکړه: چي ای الله! کچیري ته دغه اندازه باران د دغه
انسانانو لپاره کافي بولې، نو باران ودروه، نو هغه باران فوراً ودرېدی.
بیا دغه سړی په هغه نیک سړي چي په مسجد نبوي کي اوسېدی، پسې سو، او د هغه
د کور پته ئې ځان ته معلومه کړه، واپس راغلی، سهار وختي د هغه سړي د کور
دروازې ته ورغلی، چي کله هغه راوواتی، نو د ده څخه ئې پوښتنه وکړه: چي څنګه
ولاړ ئې؟ ده ورته وویل: چي ستا حضور ته مي یو درخواست راوړی دی: چي هغه دا:
چي پخپلو دعاګانو کي به ما خاص یاد ساتې.
هغه ورته وویل: سبحان الله! ته زما څخه څنګه د دعا درخواست کوې؟ حالانکه ما
پرونډ په خپلو سترګو ستا د دعا قبولیت ولیدی، خو صرف دومره راته ووایه: چي
دغه د دعا د قبولیت مرتبه الله څنګه درکړه؟
هغه په جواب کي ورته وویل: چي د الله په اوامرو او نواهي کي اطاعت کولو ماته دا
مرتبه رانصیب کړه، چي زه کمه دعا کوم، نو هغه قبلیږي.
در حقیقت انسانانو ته د الله د اوامرو او نواهیو تلقین کول، او انسانان د اوامرو او
نواهیو طرف ته رابلل او پخپله هم د اوامرو او نواهیو اطاعت کول، د انسانیت سره
لویه خیر خواهي ده، او هم د هغه سره ایثار او قرباني ده، د هغه په وجه په حقیقت کي
الله تعالی انسان ته د دعا د قبولیت مقام ور نصیب کوي.(۱)

## د پیغمبر ﷺ معمول:

پیغمبر ﷺ په ټوله زندګي کي دا معمول وو: چي کله به د یو سړي په باره کي دا ور
معلومه سوه: چي د هغه یو شي ته ضرورت دی، یا په یو مشکل کي اخته دی، نو دی
به ډېر بې چین او بې آرامه وو، چي تر څو به ئې په خپل قرباني سره د هغه مدد کړی نه
وای.

(۱) مأخوذ از حکایات غزالي، صفحه نمبر ۹۸

صرف د "صلح حدیبیه" پر موقع باندي چي کله ده د الله په حکم سره د کفارو سره معاهده وکړه، او د هغه معاهدې په نتیجه کي دی د هغه مسلمانانو چي د "مدینې" څخه به "مکې" ته د هجرت په شکل راتلل مدد نه وکړی، او هغه به ئې پر واپس کولو باندي مجبوره کول، ځکه ده به ورته فرمایل: چي زه ستاسو پر واپس کولو باندي مجبوره یم.

د دغه واقعې څخه علاوه شاید هیڅ کله به داسي سوي نه وي، چي ده به مسلمان په مشکل او تکلیف کي لیدلي وي، او د هغه سره به ئې د ایثار او قرباني معامله کړې نه وي.

الله تعالی دي موږ او تاسو ته د پیغمبر ﷺ پر سنت او عادت باندي زندګي رانصیب کړي، او الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته پر دغه خبرو باندي د عمل کولو توفیق رانصیب کړي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د حقوق العباد اهمیت

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰه صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰه صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقـــــریـر | الحاج مولوي اطیع اللہ صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتـي حـافـظ کلیم اللہ صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود مرحوم چمن |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاریـــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ، وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ، أُولَئِكَ هُمُ الْوَارِثُونَ، الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿الدِّينُ النَّصِيحَةُ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذَٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرینو! الله تعالی انسان ته په دنیا کي ژوندکي ورکړیده، خو د انسان د ژوندکی لپاره ئې یوه طریقه او نقشه او ضابطه حیات ټاکلې ده.

چي د هغه ضابطه حیات دوهم نوم: دین اسلام دی، چيّ هغه د انسان د ژوند تېرولو لپاره ډېره متوازنه، متوسطه او د خیره ډکه طریقه ده، چي دهر قسم افراط او تفریط او د تجاوزاو نقصان څخه پاکه طریقه ده.

چي کم چا ته الله تعالی د اسلام ددین پر احکامو باندي د ژوندکی تېرولو توفیق ورکړی دی، د هغوی ژوندکي چي کله انسان مطالعه کړي، نو په هغه کي به توسط او توازن نمایان او ښکاره معلومېږي.

(١) سورة المؤمنون: آية نمبر ٨-١٠

(٢) صحيح مسلم: حديث نمبر ٩٥

**دوه(۲) قسمه حقوق:**

په دنیا کي انسان چي کله پر دغه ضابطه او نقشه باندي خپله زندګي روانه کړي، نو دده پر ذمه دوه قسمه حقوق ادا کول ضروري ګرځي.

۱. یو د الله حقوق، چي هغه ته "حقوق الله" وايي.
۲. دوهم د بندګانو حقوق، چي هغه ته "حقوق العباد" وايي.

چي کم څوک پخپل ژوند کي دغه دواړه قسمه حقوق ادا کړي، نو د هغه انسان زندګي د عامي معاشرې لپاره یو د کامیابۍ نقشه او لاره بلل کیږي.

د الله رب العزت محبوب ﷺ پخپله زندګي کي دغه دواړه قسمه حقوق ادا کړل، او هم ئې معاشرې ته د هغه د ادا کولو وصیت پرېښوو.

کچیري یو انسان د پیغمبر ﷺ د مسجد او عبادت زندګي مطالعه کړي، او هم د د معاشرت او د تعلق زندګي وګوري، نو پر دې خبره به ئې پوخ یقین راسي، چي یقیناً هغه پیغمبر ﷺ پخپله زندګي کي دغه دواړه حقوق په ډېره ښه او کامله طریقه سره ادا کړي دي.

نن که زموږ معاشره ته انسان ګوري، نو بعضي انسانان به داسي په نظر ورسي: چي هغه خو د عبادت طرف ته زیات متوجه وي، د هغوی شپه او ورځ سهار او ماښام په عبادت کولو کي تیریږي.

لیکن د هغوی سره دا فکر نه وي ورسره: چي زما د ژبي څخه انسانانو ته څومره ضرر رسیږي، او زما د عمل څخه څومره انسانانو ته تکلیف دی، او زما د قول او وینا په وجه څومره انسانان د ذلت او رسوائي سره مخامخ کیږي.

او بعض نور انسانان بیا ظاهراً خو د ښو اخلاقو لوړي دعوې کوي، او دا وايي: چي د انسان لپاره داسي کول مناسب دي، او باید انسان د معاشرې د انسانانو سره په ښه سلوک سره ژوند تېر کړي، لیکن چي د هغه شخصي زندګي وګورې، د هغه سره د لمانځه د کولو فرصت نه وي، نه هغه د روژې عبادت ادا کوي، نه د حج کولو توفیق الله تعالی ورکړی وي.

نو که د اسلام د ضابطې او نقشې په نظر ور ته وکتل سي، نو هغه اول انسانان هم مریضان او دوهم قسم هم مریضان بلل کیږي.

ځکه که دې دوهم قسم د "حقوق الله" لحاظ نه دی کړی، نو اول قسم بیا د "حقوق العباد" لحاظ نه دی کړی، دغه انسانان کچیري خپل ژوند په کامله طریقه سره پر دین تېرول غواړي، نو باید دوی پخپله زندګي کي د دواړو حقوقو لحاظ وکړي.
ځکه زموږ دین خو جامع دین دی، که یو طرف ته په هغه کي د عباداتو ادا کول ضروري عمل بلل سوی دی، نو بعینه داغه رانګه د بندګانو حقوق ادا کول هم ضروري عمل دی، نو د الله تعالی څخه به دا دعا غواړو: چي الله تعالی موږ او تاسو ته پخپله زندګي کي د دواړو حقوقو ادا کولو توفیق رانصیب کړي.

## "حقوق العباد" ادا کول، د دین اهمه حصه ده:

زموږ په دین کي الله او د الله رسول ﷺ چي "حقوق العباد" و ته کم اهمیت ور کړی دی، او د هغه ټي څومره تاکید کړی دی، د هغه اندازه د دې څخه انسان کولای سي.
چي د دین اسلام ټوله تعلیمات، او د دین اسلام ټوله احکامات چي په کم علم کي راجمع سویدي، نو زموږ په عرف کي هغه ته "علم فقه" وایي، او په "علم فقه" کي د شریعت ټوله ضروري احکام بیان سویدي، چي دا حلال او دا حرام دی، او کم شی جائز او ناجائز دی.
کچیري تاسو د "علم فقه" یو کتاب راواخلی، او د هغه مطالعه وکړئ، نو د هغه کتاب به څلورمه(۴) حصه د عباداتو متعلق وي، مثلاً په هغه کي به د لمانځه او روژې او حج و زکوۃ بیان وي، او د هغه کتاب دا نوري درې(۳) حصې به مکمل د "حقوق العباد" بیان وي.
د "علم فقه" مشهور کتاب "هدایه" ده، چي شاید تاسو به ئې نوم اوریدلی وي، او هغه په څلور(۴) جلده کي لیکل سوېده، چي په هغه کي اول جلد دعباداتو متعلق دی، "یعني د طهارة، لمانځه، زکوة، روژې، او حج او باقي درې جلدونه ئې د "حقوق العباد" متعلق دي"، او دا د الله تعالی فیصله ده: چي تر څو پوري انسانان زما د پیدا کړو بندګانو حقوق ادا نه کړي، تر هغه وخته پوري زما حق نه سي ادا کولای.
د دې څخه تاسو اندازه کولای سئ: چي د دین اسلام د احکامو درې(۳) حصې د "حقوق العباد" و متعلق دي.

لیکن ما مخکي درته وویل: چي افسوس چي نن زموږ په معاشره کي انسانانو "حقوق العباد" متعلق د شریعت احکام داسي تر شا غورځولي دي: چي گویا:
بلکل د دین حصه نده، بس لمونځ کول، روژه نیول، زکوة ادا کول، یو څه تسبیحات
وظائف ویل، د انسان دا گمان وي: چي بس د الله حق ادا سو، او زما زندگي د دی
اسلام پر نقشه روانه ده.
نور دا فکر ور سره نسته: چي زه به د الله د بندگانو سره څنگه سلوک کوم، او د هغ
زما پر ذمه کم حقوق دي، او نه ئې په دماغ کي د دغه خبرو احساس سته.
کچیري د ده څخه د بندگانو په حقوقو کي تصور او کمي وسي، نو اول خو ئې گناه
بولي، کچیري ئې گناه هم وبولي، نو پر هغه باندي پښېماني په دماغ کي ور نسي، ا
چي پر کمه گناه انسان ته ندامت او پښېماني په دماغ کي نه ورځي، نو پر هغه باندي د
ته د توبې کښلو توفیق نه ور کول کیږي، او نه د دغه گناه پرېښوولو احساس ور سر
پیدا کیږي.

## "حقوق الله" صرف په توبه سره معافیږي:

زموږ په دین کي انسان ته د "حقوق العباد" د اهمیت اندازه د دي څخه هم کیږي: تاسو
گورئ! کچیري یو مسلمان په "حقوق الله" کي کوتاهي وکړي، یا یو غلطي څخ
وسي، مثلاً په یو گناه کي مبتلا سي، او هغه گناه د "حقوق الله" د ضائع کولو د قسـ
څخه وي.
چي کله ئې په زړه کي ندامت او پښېماني پیدا سي، او د شرمندگی په شکل د الله و
حضور ته د توبې کښلو اراده وکړي، نو یو ځل په رشتوني زړه سره د الله و حضور ته دا
کلمه پیش کړي، او دا ووایي:
........أَستَغْفِرُ اللهَ رَبِّي مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ).
یا الله زما څخه غلطي سوېده، زه تا ته خپله توبه کاږم، او معافي غوارم، یا الله ما
معاف کړې.
د الله تعالی وعده ده: چي هغه گناه معافیږي، او دا رنگه معافیږي، لکه: پیغمبر ﷺ
چي فرمایي:

......التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ، كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ. ﴾.(۱)

...ي کم څوک د ګناه څخه توبه وکاږي، هغه داسي دی: لکه ده چي ګناه کړې نه وي.

...مور بعضو بزرګانو لیکلي دي: چي صرف دا خبره نه ده: چي ګناه معافیږي، بلکه د ...ملنامې څخه خرابیږي، ځکه چي الله تعالی ډېر زیات کریم او رحیم ذات دی، هغه ...رمايي: چي کله زه دیو بنده ګناه معاف کړم، نو زه بیا هغه بنده هیڅکله د قیامت په ...رځ نه رسوا کوم، چي د ده په عملنامه کي دي هغه ګناه پاته وي، چي ده توبه ځني ...بنلې وي، نو ګویا هغه ګناه ده کړې نه ده: ځکه چي د ګناه هغه اوس په عملنامه کي ...یڅ وجود نسته.

...هر حال د "حقوق الله" متعلق که د انسان څخه یو ګناه وسي، نو د هغه معافي آسانه ...ه، هغه دار نګه: چي کله انسان هر کله هم د الله طرف ته متوجه سي، او په صادق زړه ...سره د توبې کښلو اراده وکړي، نو الله تعالی ئې معاف کړي.

## "حقوق العباد" په تر... سر... معافیږي:

لیکن کچیري خدا نخواسته د یو انسان څخه د یو بنده حق تلف سي، او دی د هغه حق تلفي وکړي، جاني حق وي، او که مالي حق وي، نو هغه صرف په توبه کښلو سره هیڅکله نه معافیږي.

مثلاً یو سړي یو چا ته جاني نقصان ور ورساوی، او یا ئې د وهلو په شکل پر هغه باندي ظلم وکړی، وروسته دا فکر ور سره پیدا سو: چي ماخو لویه غلطي وکړه، اوس که دغه سړی په کور کي کښېني، او توبه وکاږي، چي یا الله زما څخه لویه غلطي وسوه، ما معاف کړه.

نو د الله تعالی د طرفه دده په حق کي دا فیصله وي: چي زه تر هغه وخته پوري تاته معافي نه کوم: چي تر څو پوري هغه بنده چي تا ظلم ور باندي کړی دی تا معاف نکړي، ورسه! اول د هغه څخه معافي وغواړه.

یا یو چا د بل انسان مالي حق په دوکه یا په درواغو او یا په زور سره غصب کړی وي، نو اوس دا محض په توبه کښلو سره نه معاف کیږي، یا به د هغه خپل حق واپس ور

(۱) سنن ابن ماجه، حدیث نمبر ۴۲۵۰

وري، يابه ئې په هغه انسان باندي معافوي، چي تر څو پوري ئې هغه بنده معا
نکړي، نو هغه ګناه نه معافيږي.
الله تعالی خو خپل حق صرف په توبه کولو سره معافوي، ليکن د بنده حق تر هغه و
پوري نه معافوي، چي تر څو پوري ئې هغه بنده معاف کړی نه وي، او يا ئې هغه بن
ته خپل حق ور رسولی نه وي.

## د محشر په ورځ د الله تعالی اعلان:

حضرت عبد الله بن انيس رحمة الله عليه فرمايي: چي د محشر په ورځ به الله تعالی اعلا
کوي: چي زه يو د پر لو ی منصف او عادل بادشاه يم، هيڅ جنتي به تر هغه وخته پور
جنت ته ولاړ نه سي، او نه به يو دوزخي دوزخ ته ولاړ سي، چي تر څو پوري دوی
خپل درميان کي د حقوقو معامله صافه کړې نه وي، يعني چي هر حق والا ته خپل ح
رسېدلی نه وي.
نو په دغه ورځ به د ټولو انسانانو د حقوقو ادا کولو فيصله وي، او هم به د ټو
انسانانو د آخرت مسکنت او مالداري ښکاره کيږي، چي هر انسان به د بل انسان څخ
د خپلو حقوقو طلبګاره وي.

## مفلس څوک دی؟

په رواياتو کي راځي: چي يو ځل پيغمبر ﷺ د صحابه کرامو څخه پوښتنه کوي:
......... ﴿أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ؟﴾.
تاسو ته درمعلومه ده چي مفلس او مسکين څوک دی؟
......... ﴿قَالُوا: الْمُفْلِسُ فِينَا مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ،﴾.
صحابه کرام په جواب کي ورته وايي: چي مفلس هغه څوک دی: چي د هغه سره مال او
دولت نه وي ورسره.
پيغمبر ﷺ ورته وايي: چي دا حقيقي مفلس نه دی، ځکه دا د دنيا ترتيب دی: کله به
وي، او کله به نه وي، بلکه زه ستاسو څخه د حقيقي مفلس پوښتنه کوم.
صحابه کرام ورته وايي: چي الله او د هغه رسول ښه خبر دي: چي حقيقي مفلس څوک
دی؟

نو پيغمبر ﷺ ورته وايي: چي زه به تاسو ته حقيقي مفلس دروښيم.

......إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاةٍ، وَصِيَامٍ، وَزَكَاةٍ، وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا، وَقَذَفَ هَذَا، وَأَكَلَ مَالَ هَذَا، وَسَفَكَ دَمَ هَذَا، وَضَرَبَ هَذَا، فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ﴾.

مفلس هغه څوک دی: چي د قيامت په ورځ به راسي، چي ډېر زيات عبادتونه به ئې کړي وي، چي يو طرف ته به د هغه سره ډېر لوی عدد د لمنځو او روژو او نورو عباداتو ورسره وي.

او بل طرف ته به څه انسانان راسي،چي پر ده به عريضه کوي: چي ده په فلانی ورځ ماته ښکنځل کړي دي، او يا ئې پر ما باندي تهمت ويلی دی، او هم ئې زما مال خوړلی دی، او څوک به د وينو تويدلو دعوه لري، او څوک به د وهل کيدلو دعوه لري، چي ده زما وينه توی کړېده، يا ئې وهلی يم، په دغه شکل به پر ده باندي د قرضو دعوې وي.

نو به الله تعالی ملائکو ته امر وکړي: چي د ده د نيکو اعمالو څخه د هغه انسانانو قرضونه ورپوره کوئ.

نو به ملائکي د ده د نيکو اعمالو څخه هغه انسانانو ته د دوی د حق په مقدار حصه ورکوي، تر دې حده پوري چي د ده نيک اعمال ختمېدلو ته ورسيږي.

......فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْهِ أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ، ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ﴾.

چي کله ئې نيک اعمال ختم سي، ليکن د ده پر ذمه باندې د هغه انسانانو حقوق پاته وي، نو بيا به الله ملائکو ته ووايي: چي اوس د دغه انسانانو گناهونه پر ده باندي واچوئ.

چي کله د ده پر ذمه باندي ډېر گناهونه واچول سي، نو وروسته به الله تعالی د ده د جهنم فيصله وکړي، او دی به جهنم ته ور واچوي، نو زما په امت کي حقيقي مفلس دغه انسان ته وايي.(1)

(1) مسلم شريف، حديث نمبر ۲۵۸۱

نو چې کله د انسان پر ذمه باندې په دنیا کې د "حقوق العباد" څخه یو څه پاته سي، یا د قیامت په میدان کې د هغه ادا کول ډېره درنه مسئله ولې، چې د کم چا سره د خبرو احساس وي، نو هغه یا د "حقوق العباد" په باره کې د دنیا په زندګې کې زیات احتیاط کوي.

## د حضرت مولانا قاسم نانوتوي رحمۃ اللہ علیہ وېره:

حضرت مولانا قاسم نانوتوي رحمۃ اللہ علیہ چې د "دارالعلوم دیوبند" اول مهتمم وو، وویل: چې ماته د ټولو څخه زیاته بېره د مدرسې د چندې په معامله کې وي، چې کله یو څوک ماته د مدرسې لپاره د چندې پیسې راکړي، نو زما سره دا ډېره زیاته وي: چې هسې نه: چې غلط ځای استعمال نسي، ځکه کچیري د مدرسې چنده غلط استعمال سي، نو یا خو دا د بېشماره بندګانو حق دی، چې زما څخه ضائع سي.
اوس به زه د چا او چا څخه معافي اخلم؟ او هم به ئې چیري پیدا کوم؟ او په چا او چا ئې معافوم؟ حالانکه چې دا محض په توبه کښلو سره هم نه معاف کیږي.
نو ځکه چې د مدرسې یوه یوه پیسه په احتیاط سره خرڅ کول غوارم، چې هسې نه دا پیسې د الله د رضا خلاف خرڅې سي، بیا خو د دې معافي آسانه نه ده.

## د نابالغ ماشوم په حق کې احتیاط کول:

نو ځکه زموږ په شریعت کې د نابالغ بچې په حق ضائع کولو کې ډېر احتیاط کول پکار دي.
مثلاً د نابالغ بچې حق ضائع کول، دا داسې ګناه ده: چې د هغې معافي ډېره مشکله ده، ځکه چې دغه ګناه په توبه سره خو نه معافیږي، ځکه دا د بنده حق دی، کچیري په هغه بچې باندې ئې معاف هم کړي، نو چونکه د نابالغ بچې معافي شرعاً معتبره نه ده، کچیري هغه زر (۱۰۰۰) ځله درته ووایي: چې زما د طرفه معاف ئې، لا هم نه معافیږي، ځکه چې هغه تر اوسه د خپل بلوغ ته د نه رسیدلو په وجه قابل د معافي نه دی.
نو ځکه "حقوق العباد" چې الله تعالی د بندګانو پر ذمه فرض کړځولې دي، د هغه معامله الله تعالی دومره سنګینه او درنه کړځولې ده، چې د هغه څخه د انسان ډېره بېره او خوف په زړه کې پیدا کیږي.

نو زه دا وایم: محترمو! نن خو یو چاته فلطه خبره کول، ډېر آسانه کار دی، مګر سبا د قیامت په میدان کې د هغې جواب ورکول، ډېر مشکل کار دی.
د قیامت په ورځ چې کله الله تعالی په ډومره جلال کې وي، چې د الله تعالی انبیاء هم د ډېر وهم او خوف په حالت کې وي، په دغه ورځ د "نفسا نفسي" عالم وي، او انسان د ډېر خوف څخه د ډېر زیات عجز په شکل د الله و حضور ته ولاړ وي، لکه په حدیث شریف کې راځي:
.........﴿وَيَقِفُ ابْنُ آدَمَ بَيْنَ يَدَيْ رَبِّهِ كَأَنَّهُ بَذَجٌ﴾.([1])
چې بنده به په داسې حال کې د الله حضور ته ولاړ وي: لکه د بزې بچی چې نوی د مور څخه پیدا سي، نو دی نه د پوره ولاړې طاقت لري، او نه پر خپل ځای پرېوزي، بلکه ولاړ سي، بیا غوزار سي، نو د بنده به هم د الله و حضور ته د ولاړې دغه کیفیت وي، کچیرې په دغه ساعت کې الله تعالی د انسان څخه پوښتنه وکړي: چې تا فلان ته ذلیل یا بې ایمان یا په نورو بدو القابو ولې ویل؟ نو تاسو فکر وکړئ! چې د الله رب العزت په عدالت کې به بیا زموږ لپاره د دغه خبرو صفائي پېشول څومره ګران کار وي.

## بني اسرائیلو ته تنبیه:

په روایاتو کې راځي: چې په بني اسرائیلو کې یو ځل کلختي راغله، چې اووه(۷) کاله مسلسل روانه وه، انسانان ډېر زیات تنګ سول، او د هغوی حالت دومره خراب سو، چې هغوی د خپلې لوږې په خاطر د مردارو حیواناتو غوښې هم خوړلې.
حضرت موسٰی علیه السلام به دوی همېشه د استسقاء په نیت باندې غرو او دښتو ته بېول، او دعاګانې به ئې کولې، چې آخر د الله په دربار کې د دوی د دعاګانو د قبلېدلو هیڅ اثر نه ښکاره کېدی.
آخر پر حضرت موسٰی علیه السلام باندې د الله د طرف وحي راغلې: چې ای موسٰی! دې قوم ته ووایه، کچیرې تاسو هر څومره عبادتونه کوئ، او د عبادت کولو په وجه د وچو لرګیو په شان باندې وچ وګرځئ، لاهم زه ستاسو دعا نه قبلوم، چې تر څو پورې تاسو په خپل مابین کې حقوق نه وي سره ادا کړي.

([1]) سنن ترمذي، حدیث نمبر ۲۴۲۷

## د انسانانو سره ښه ژوندګي کول:

نو په انساني معاشره کي چي کله انسانان يو د بل سره اوسيږي، نو کچيري يو څوک ستاسره احسان وکړي، نو د هغه شکريه ادا کول، ليکن په نن دور کي نه معلوم: چي موږ مسلمانانو څه وسو، چي د چا شکريه ادا کول زموږ د دماغ څخه وتلي دي حالانکه موږ ته خو په شريعت کي دا حکم دی:

.........مَنْ لَمْ يَشْكُرِ النَّاسَ لَمْ يَشْكُرِ اللهَ﴾.(1)

چي څوک د انسانانو شکر ادا نکړي، نو هغه د خپل رب شکر هم نسي ادا کولای، نو موږ ته خو دا تعليم راکول سوی دی: مګر زموږ دې طرف ته هيڅ توجه نسته.

او زموږ د دين اهم تعليم دا هم دی: چي انسانان يو د بل سره د اکرام سلوک او معامله وکړي، ځکه کله کله الله تعالی د بنده څخه د لږ اکرام کولو په معامله باندي ډېر زيات راضي کيږي.

حضرت انس بن مالک ﷺ فرمايي: چي يو ځل حضرت سلمان فارسي ﷺ د حضرت عمر بن خطاب ﷺ حضور ته راغلی، حضرت عمر ﷺ پر بالښت باندي تکيه لګولې وه، چي کله ئې حضرت سلمان فارسي ﷺ وليدی، نو هغه بالښت ئې و ده ته ور وښکاوی، حضرت سلمان فارسي ﷺ ورته وفرمايل: ﴿صَدَقَ اللهُ وَ رَسُوْلُهٗ﴾ الله او د الله رسول ريښتيا قول کړی دی.

حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل: ای ابو عبدالله! (چي د سلمان فارسي کنيت وو) دا راته ووايه: چي د الله او د الله د رسول کم قول په ياد درغلی؟

حضرت سلمان فارسي ﷺ ورته وفرمايل: يو ځل زه د پيغمبر ﷺ خدمت ته حاضر سوم، ده مبارک يو بالښت ته تکيه کړې وه، چي زه ئې وليدم، نو زما طرف ته ئې راوښکاوی.

او بيا ئې راته وويل:

(1) الترغيب والترهيب، جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۷۷

......ای سلمانه! چې کم مسلمان د خپل مسلمان ورور حضور ته ورسي، او هغه مسلمان د ده اکرام لپاره ده ته بالښت پیش کړي، نو الله تعالی ته دغه اکرام دومره محبوب دی: چې د هغه د دغه اکرام په وجه ضرور د ګناهونو مغفرت کوي.(۱)
او کچیرې د هغه اکرام نسي کولای، نو بیا کم ازکم باید د هغه د حقوق ادا کولو کوشش وکړي.

## د مسلمان حقوق:

زموږ د پیغمبر ﷺ په احادیثو کې د بندګانو حقوق په دا شان بیان سویدي:

۱. کچیرې تالره دی په مخه درغلی: نو ده ته به السلام علیکم وائې.
۲. او که دعوت درکړي: نو بیا به د هغه دعوت قبلوې.
۳. او کچیرې هغه ونږل، نو د هغه د دعا جواب به په ﴿یَرْحَمُکَ اللهُ﴾ سره ورکوې.
۴. او که ناجوړه سو، نو د هغه عیادت او پوښتنې ته به ورځې.
۵. کچیرې وفات سو، نو د هغه په جنازه کې به شرکت کوې.
۶. او که دی ستا پر یو عمل باندې قسم واخلي: نو د هغه د حانث کېدلو څخه د حفاظت کوشش به کوې.
۷. که ستا څخه یو مشوره طلب کړي، نو د خیرخواهي مشوره به ور کوي.
۸. او چې کله دی غائب وي، نو د ده د هر قسم عزت حفاظت به کوې.
۹. او د ده لپاره به هغه څه خوښوې، چې د ځان لپاره ئې خوښوې.
۱۰. او هم به د ده لپاره هغه څه ناخوښه بولې، چې د ځان لپاره ئې نه خوښوې.

## د دوو (۲) انسانانو اختلاف:

انسانانَ چې په دنیا کې هر څومره ښه ژوندګي تېروي، بیا هم ممکنه ده، چې د دوی په مابین کې یوه ورځ اختلاف راسي.
څکه په اشپز خانه کې چې کله لوښي پرېول کېږي، د هر څومره احتیاط سره سره یو لوښي د بل سره مښلي.

(۱) حیاة الصحابه، جلد نمبر۲، صفحه نمبر ۵۶۱

او دوه موټرو انان چې هر څومره تجربه کار او احتیاط کاره وي، نو یوه ورځ دا ممکنه ده: چې د دوی موټران سره ومبنلي، نو انسانان هم چې هر څومره ښه زندګي سره تېروي، نو پخپل درمیان کې کله اختلاف راتلل ممکنه وي، مګر باید انسانان پخپله زندګي کې د اختلاف په صورت حال کې د عفوې او معافي معامله سره وکړي.
ځکه په حدیث شریف کې راځي: چې کم انسان په دنیا کې د نورو انسانانو غلطي ژر معاف کوي، نو الله تعالی به هم په قیامت کې د ده غلطي د نورو انسانانو څخه ژر ور معاف کړي.
خو کوشش دا کول: چې د نورو انسانانو غلطي فوراً معاف کړي، او دا خبره بلکل د خپل زړه څخه وباسي، ځکه چې د زړه څخه اختلاف او رنجش لیري کول د انسان سینه د بغض او نفرت څخه محفوظه ساتي.
چې کم رنجش او اختلاف د انسان په زړه کې باقي پاته سي، نو د هغه څخه آخر کینه او بغض پیدا کیږي، زموږ د دین په نظر کې کینه او بغض ډېر بد ترین عمل بلل سویدی.
ځکه چې په حدیث شریف کې راځي:
چې الله تعالی د هري دو شنبې او پنج شنبې په ورځ د انسانانو نیک اعمال ګوري، او د هغه پر بنیاد د دوی د جنت د تللو فیصله کوي.
.........إِلَّا رَجُلًا كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ، فَيُقَالُ: أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا، أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا، أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا).(۱)
خو مګر هغه سړی چې هغه د خپل مسلمان وړور سره په زړه کې بغض او عناد ساتي، نو الله تعالی د هغه عناد او بغض ساتونکو انسانانو د جنت فیصله تر هغه وخته پوري نکوي، چې تر څو ئې عناد او بغض ختم کړی نه وي.
ځکه الله تعالی ملائکو ته مکرر دا وایي: چې تاسو دغه دوو عناد کونکو انسانانو ته د صلح تر وخته پوري انتظار وکړئ.
نو د مؤمنانو په باره کې باید انسان پخپله سینه کې بغض او عناد نه وساتي، ځکه الله تعالی ته سینه بغیر د کینه او بغض څخه ډېره محبوبه وي.

---
(۱) صحیح مسلم، حدیث نمبر ۲۵۶۵

ځيري په معاشرتي زندګي کي د يو چا د طرفه انسان ته تکليف ورسيږي، نو د خپل
ړه په اخلاص سره هغه ته معافي کول، دا د پيغمبرﷺ اخلاق دي، چي هغه به همېشه
عافي کوله، بلکه د امت اولياؤو خو د معافۍ داسي مثالونه قائم کړيدي: چي
نسان د هغه په ويلو باندي حيران سي.

## يو بزرګ واقعه:

و بزرګ د حج پر سفر روان دی، پر يو علاقه باندي تېرېږي، د ده په لاس کي يوه تيلۍ
ه، چي په هغه کي د ده د لاري د خرڅ يو څه پيسې دي، يو غله د ده د لاس څخه هغه
تيلۍ غلا کړه، او په منډه وتښتېدی.
چي کله ليري ولاړی، نو يو دم د هغه پر سترګو توره تياره راغله، او د سترګو بينائي
ئې ختمه سوه، هغه غل پر هغه ځای کښېناستی، او ژړا ئې شروع کړه.
خلګو پوښتنه ځني وکړه: چي سړيه! څه در وسوه؟ او ولي ژاړې؟ ده په جواب کي
ورته وويل: چي ما د يو سړي څخه د پيسو تيلۍ راچل کړه، هغه د الله تعالی ډېر مقرب
بنده وو، او ديندار انسان وو، نو په هغه وجه زما د سترګو بينائي ختمه سوه، تاسو د
خدای پخاطر ما تر هغه سړي پوري ور ورسوئ، چي زه د هغه څخه معافي وغوارم.
خلګو پوښتنه ځني وکړه: چي دغه واقعه چيري پېښه سوه؟ ده په جواب کي ورته
وويل: چي د فلان حجام (نائي) د دوکان سره نژدې پېښه سوه.
خلګو دی هغه دوکان ته ور واستی، او د حجام څخه ئې پوښتنه وکړه: چي دغه رنګه
سړی دلته تېر سو، ته هغه پېژنې؟ حجام په جواب کي ورته وويل: چي کور خو ئې نه
دی رامعلوم، البته د لمانځه کولو لپاره پر دغه لار تېرېږي، او راتېرېږي، اوس به د را
روان لمانځه لپاره پر دغه لار باندي راځي.
خلک د هغه په انتظار کي ورته کښېنستل، هغه بزرګ پر هغه لار باندي پر خپل وخت
را روان دی، خلګو هغه غل ور واستی، نو غله د هغه لاس ونيوی، ور مچ ئې کړی، او
په پښو پوري ور وموښتی، چي زما څخه غلطي وسوه، زه پر هغه ډېر پښېمانه او
شرمنده يم، او هم زما د سترګو بينائي ختمه سوه، ته دغه خپلي پيسې واخله، او ما
معاف کړه، چي الله تعالی زما د سترګو بينائي ماته واپس راکړي.

هغه بزرگ ورته وویل: چي ما خو ډېر مخکي لا ته معاف کړې، غله چي دا خبره واورېده، نو ډېر حیران سو، ورته وایي: چي حضرت! ما خو ستا د پیسو تیلی په تېښته در څخه یووړه، او ته راته وایي: چي د معافی غوښتلو څخه مخکي ما ته معاف کړې.
هغه بزرگ ورته وایي: چي هو، زما په زړه کي یو خبره راوګرځېدله، هغه دا: چي ما د پیغمبر ﷺ په یو حدیث کي دا ویلي وو: چي په هغه کي پیغمبر ﷺ فرمایل: چي کله د قیامت په ورځ زما امت د حساب لپاره د الله و حضور ته پیش سي، نو زه به تر هغهٔ وخته پوري د میزان(ترازو) سره قریب ولاړ یم، تر څو پوري چي زما د آخري امتي فیصله سوې نه وي.
زما په زړه کي دا خبره راغله: کچیري زه دغه غل معاف نکړم، نو د قیامت په ورځ به زما دغه مقدمه د الله و حضور ته پیش کیږي، او چي څومره وخت زما د دغه مقدمې پر فیصله باندي لګیږي، د الله محبوب ﷺ به د جنت څخه دباندي وي.
نو ما خپله فیصله معاف کړه، چي نه به دغه مقدمه د قیامت په ورځ د الله په حضور کي پیش کیږي، او نه به زما د دغه مقدمې په وجه د الله رسول ﷺ د جنت څخه دباندي وخت تېروي، بلکه زما کوشش دا دی: چي د الله رسول ﷺ ډېر ژر جنت ته ورننوزي.

## د غصې خوړلو فضیلت:

کچیري په دغه زندګي کي د یو چا څخه انسان ته تکلیف ورسیږي، نو دی دي پخپل دماغ کي دغه کښېنوي: چي د دې سړي څخه کوتاهي وسوه، زه به ده ته پر دغه کوتاهي معافي وکړم، د هغه په بدله کي به الله تعالی ما معاف کړي.
او کچیري انسان ته د یو چا پر خبره باندي غصه ورسي، نو د غصې هغه غړپ تېرول ظاهرآ که څه هم دغه غړپ ډېر تریخ دی.
لیکن په حدیث شریف کي راغلي دي، چي کم بنده د خپلي غصې غړپ نوش کړي: حالانکه ده هغه خپله غصه کښلای سوه، یعني د ده سره دا وسائل او زور، قوت ور سره وو، چي ده د خپلي غصې بدله اخیستلای سوه، مګر ده د الله د رضا پخاطر هغه

(۱) خطبات فقیر، جلد نمبر ۵، صفحه نمبر ۲۳۷

غصه وخورله، الله تعالی به د قیامت په ورځ د غصې د هر غړپ په بدله کې ده ته مشاهده او خپل دیدار ور نصیب کړي.
دې به د الله و ذات ته ګوري، نو انسان دې د ځان سره دا فکر وکړي: چې کمه سودا ډېره ښه ده، په دنیا کې د غصې اظهار کول، یعني د الله د حسن او جمال دیدار کول.
لکه په یو حدیث شریف کې د غصې خوړلو لا دا فضیلت هم راغلی دی، پیغمبرﷺ فرمایي:
﴿مَا مِنْ جُرْعَةٍ أَحَبُّ إِلَى اللهِ تَعَالَى مِنْ جُرْعَةِ غَيْظٍ كَظَمَهَا رَجُلٌ، مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى إِنْفَاذِهِ مَلَأَهُ اللّٰهُ أَمْنًا وَإِيمَانًا﴾.(١)
هیڅ یو داسې غړپ نشته: چې الله تعالی ته دې ډېر خوښ وي، د غصې تر هغه غړپ چې انسان ئې نوش او برداشت کړي.
چې کله سړی خپله غصه راوګرځوي، حالانکه دی د هغه پر کښېلو باندې قادر وي، الله تعالی به د ده زړه په امن او ایمان سره معمور او آباد کړي.
او داغه رنګه په ابن ماجه کې هم د پیغمبرﷺ حدیث مبارک په دغه الفاظو رانقل سوی دی:
﴿مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُنْفِذَهُ، دَعَاهُ اللّٰهُ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ الْحُورِ شَاءَ﴾.(٢)
چې کم چا خپله غصه کنټرول کړه، الله تعالی به د قیامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو د صفو پر سر دی و خپل حضور ته را طلب کړي، او دا به ورته ووايي: چې د جنت کمه حوره ستا خوښه وي، هغه در سره بوزه.

## د عقل زکوٰة:

مسلمان چې کله په دغه خبرو کې فکر کوي، نو باید په خپل مزاج کې حلم او برداشت پیدا کړي، یو څوک که څه هم په ناداني سره د ده سره خبره وکړي، نو دی هغه ته معافي وکړي.

(١) مسند شهاب القضاعي، حدیث نمبر ۴۳۷
(٢) سنن ابن ماجه، حدیث نمبر ۴۱۸۶

ځکه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه به فرمایل: چي د ناپوهانو خلکو پر خبرو
تحمل مزاجي او برداشت کول د انسان د عقل زکوة دی، نو باید د انسانانو پر ک
کوچنیو خبرو باندي انسان په جذباتو کي رانسي، بلکه د نورو انسانانو غل
معاف کړي.
ځکه د غلطي معاف کول، او تکلیف برداشت کول د انسان د عقل زکوة بلل کیږ
چي کله الله تعالی انسان ته عقل ور کړی وي، نو انسان باید د خپل عقل زک
کړي.
لیکن افسوس چي نن زموږ په معاشره کي هر انسان پخپله دا غواړي: چي زه
لوی لوی قصور او تجاوزات را معاف کړل سي، مګر پخپله د نورو انسان
کوچنیو کوچنیو غلطیو معافي کولو ته تیار نه وي.

## د ټولو څخه بدترین انسان:

حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهما روایت کوي: چي نبي اکرم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ایا زه تا
بدو خلکو څخه اګاه او خبر نکړم؟ یعني زه وتاسو ته د خپل امت بدترین انس
وښیم؟
صحابه کرامو په جواب کي ورته وویل: چي ضرور ئې راوښیه، ده مبارک
وفرمایل: چي زما د امت زیات بدترین انسان هغه دی: چي یوازي خورک کوي
خپل غلام په درو وهي، او د هغه سره د بخښني او رحمت معامله نکوي.
د هغه څخه وروسته بیا پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ایا زه وتاسو ته د دې څخه هم بد
انسان دروښیم؟
صحابه کرامو عرض وکړی: چي ضرور ئې راوښیه، پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:
د دې څخه زیات بد انسان هغه دی، چي د انسانانو سره بغض کوي، او انسانان
سره بغض کوي.
د هغه څخه وروسته بیا پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چي ایا د دې څخه هم بدترین ان
دروښیم؟

صحابه کرامو عرض وکړی، چې ضرور ئې راوښیه، پیغمبرﷺ ورته وفرمایل: هغه انسان چې د هغه څخه د نیکۍ امید نه وي، او د هغه د شر څخه انسانان په امن نه وي.
د یو څه خاموشۍ څخه وروسته بیا پیغمبرﷺ ورته وفرمایل: ایا تر دې هم بدترین انسان درونښیم؟
صحابه کرامو عرض پیش کړی: ای د الله رسوله! ضرور ئې راوښیه؟ پیغمبرﷺ ورته وفرمایل: چې کم بنده د یو چا لغزش او غلطي نه معافوي، او نه د چا عذر قبلوي، زما په امت کې هغه د ټولو څخه زیات بدترین انسان بلل کیږي.
نو زموږ په دین کې عفو او درگزر ډېر لوی اهمیت لري، چې انسان د انسانانو د غلطیو او کوتاهیو په مقابله کې د هغوی سره د عفوې او درگزر معامله کوي.

## د حضرت امام حسین رضی الله عنه معافي کول:

حضرت امام حسین رضی الله عنه یو ځل و فرمایل: کچیرې یو څوک ماته په یو غوږ کې ښکنځل وکړي، او په دوهم غوږ کې د معافۍ طلب وکړي، نو زه به دې ته په هغه وخت کې دستي د دې پر ښکنځلو معافي ورته کوم، نو د هغه انسانانو د پیغمبرﷺ پر تعلیماتو په دغه شکل باندې عمل وو.[1]

## د امام زین العابدین رحمة الله علیه معافي کول:

یو ځل امام زین العابدین رحمة الله علیه یو سړی ولیدی، چې هغه د ده غیبت کاوی، نو ده ورته وفرمایل:
ای دوسته! که ته په دغه خبرو کې رښتونی ئې، نو الله دې ماته معافي وکړي، او که ته دروغجن ئې نو الله دې تاته معافي وکړي.
په څومره آسانه جواب کې هغه ټوله معامله ختمه کړه.
او بل سړي هم یو ځل د ده غیبت کاوی نو ده ورته وفرمایل:
ای دوسته! چې څومره تاته زما د عیبونو معلومات دي، د هغه څخه زما عیبونه نور هم زیات دي، چې د هغه لا تر اوسه تاته معلومات نسته.

[1] خطبات فقیر: جلد نمبر ۱۰، صفحه نمبر ۲۳۷

د هغه ځخه وروسته ئې هغه بنده ته زر(۱۰۰۰) دیناره د هدیې په طور پیش کړل، چې کله هغه بنده د ده دغه حسن سلوک ولیدی، نو هغه ته شرم ورغلی، او دستي ئې معافي طلب کړه، او وئې ویل: زه تصدیق کوم، چې ته یقیناً هم د پیغمبر ﷺ لمسی یې.(۱)

**مقصد ته اعاده:**

نو ما درته وویل: چې د انسان پر ذمه دوه(۲) قسمه حقوق او ذمه وارئ عائدې کرځي، چې یو: "حقوق الله"، او بل: "حقوق العباد" بلل کیږي.
خو د "حقوق العباد" و معامله ډېره زیاته نازکه او زیاته سنګینه او هم ډېره اهمه ده، او الله تعالی د "حقوق العباد" و ډېري زیاتي شعبې ایښي دي، مثلاً د مور او پلار حقوق، د وروڼو او خوندو حقوق، د قریبانو او دوستانو حقوق، د خاوند او ښځو حقوق، د همسایګانو حقوق، او د عامو مسلمانانو حقوق، تر دې حده چې د کافرانو حقوق او د حیوانانو حقوق هم زموږ په شریعت کي پوره حصه او برخه لري.
د دغه ټولو په باره کي الله تعالی احکام را استولي دي، چي د بنده لپاره پر هغه احکامو ټولو باندي عمل کول ضروري دي، چي د هغه بغیر د انسان زندګي د دین اسلام پر معتدله لار باندي نه بلل کیږي، او نه د هغه بغیر انسان فلاح او کامیابي پیدا کولای سي، الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته د ټولو انسانانو د حقوقو ادا کولو توفیق را نصیب کړي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

(۱) خطبات فقیر، جلد نمبر۱۰، صفحه نمبر ۲۳۷

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# دين خيرخواهي ده

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود مرحوم چمن |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــــخ | ١٦ رمضان المبارك ١۴۴١ بمطابق ١٠ مئی ٢٠٢٠ |
| تـعـــــداد | (١١٠٠) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ،
وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَأَمَّا مَا يَنْفَعُ النَّاسَ فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿الدِّينُ النَّصِيحَةُ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهید:**

محترمو سامعینو! زه همیشه ستاسو په حضور کي د دې خبري یادونه کوم: چي الله تعالی "دین اسلام" د انسان د ژوند تېرولو لپاره نقشه او هم ئې د ده د ژوند کولو طریقه را استولېده، چي هغه د انسانیت د ژوند تېرولو لپاره ډېره بهترینه او کامیابه لار ده.

خو چي کله یو انسان د "دین اسلام" پر ضابطه باندي ژوند روان کړي، نو که یو طرف ته پر ده باندي د الله د حقوقو ادا کولو ذمه واري راځي، چي دی به د الله تعالی په عباداتو کولو سره د هغه ذمه داری څخه خپله ذمه فارغه کړځوي.

نو بل طرف ته پر ده باندي د بندګانو د حقوقو ادا کولو ذمه داري هم راځي، چي د انساني معاشرې سره په ښه سلوک کولو سره به د هغه څخه خپله ذمه فارغه کرځوي.

(١) سورة الرعد، آیت نمبر ۱۷

(٢) صحیح مسلم، حدیث نمبر ۵۵

او زه همیشه دا خبره هم تکرار وم، کچیرې د انسان څخه د الله په حقوقو کي کوتاهي وسي، نو د هغه معافي ډېره مشکله نه ده، ځکه چې صرف په پښېماني کولو سره انسان ته الله تعالی معافي کوي.
لیکن خدانخواسته، کچیرې د انسان څخه د بندګانو په حقوقو کي کوتاهي راسي، نو بیا د هغه معافي ګرانه ده، چې تر څو پورې دغه انسان د صاحب حق څخه معافي تر لاسه کړې نه وي، تر هغه وخته پورې دی د الله په حضور کي د معافۍ مستحق نه بلل کیږي، او نه ورته معافي کیږي.
دا د تجربه وتلې خبره ده، چې کله انسان ته الله تعالی په معاشره کي بهترین اخلاق او بهترین کردار ورکړی وي، نو چې کله د هغه انسان زندګي مطالعه سي، نو ډېر ځله هغه انسان د حقوق العباد یعني د بندګانو د حق ادا ینه په معاشره کي په ښه طریقه سره کوي.
خو ښه کردار په ظاهري نظر باندي یو بې قیمته شی معلومیږي، لیکن په حقیقت کي انسان د هغه په ذریعه ډېر لوی لوی کارونه کولای سي، دنیا خو د تُوري مقابله کولای سي، مګر د کردار مقابله هیڅوک نه سي کولای.
په هر ځای کي چې مقابله راسي، نو همیشه فتحه د ښه کردار وي، ځکه حضرت عائشه مبارکه فرمایي:
......... فُتِحَت الْمَدِينَةُ بِالْأَخلَاقِ﴾.(۱)
نبي کریم ﷺ مدینه منوره په ښو اخلاقو او په بهترین کردار سره فتحه کړله، خو په زندګي کي ښه اخلاق پیدا کول، او د خپل ځان لپاره بهترین کردار برابرول، څه آسانه خبره نه ده، بلکه دا محنت غواړي، او په ډېر مشقت سره د انسان اخلاقي کیفیت برابریږي، او د ډېر محنت څخه بعد معاشره د انسان پر کردار باندي قناعت کوي.

## د پیغمبر ﷺ بهترین کردار،

الله تعالی چې په هره زمانه کي د دین د احکامو د بیانولو لپاره مختلفو قومونو او قبیلو ته انبیاء کرام را استولي دي، او هغه انبیاء کرامو د توحید او د "بعث

(۱) خطبات فقیر، جلد نمبر ۸، صفحه نمبر ۲۳۴

بعدالموت" عقیده د خپلو قومونو و مخته ایښې ده، نو هغه قومونو د دوی څخه د نبوت تصدیق او دلیل غوښتې دی، دوی دخپل نبوت د تصدیق لپاره د هغه قومونو و مخته مختلف معجزات پیش کړي دي.

مثلاً قوم ثمود ته چي کله حضرت صالح علیه السلام راغلی، او هغه قوم د ده څخه د نبوت پر تصدیق باندې دلیل وغوښتی، نو حضرت صالح علیه السلام د دوی پر غوښتنه باندې د دبرې څخه اوښه ورته پیدا کړې ده، چي هغه ډېر "غریب الخلقت" حیوان وو.

لکه د حضرت ابو موسیٰ الاشعاری رضي الله عنه پر روایت دی: چي یو ځل مونږ د یو غزا په سفر کي د قوم ثمود پر علاقه راغلو: نو:

........﴿رَأَیتُ مَبرَکَهَا فَإِذَا هُوَ سِتُّونَ ذِرَاعاً فِي سِتِّینَ ذِرَاعاً﴾(١)

نو ما د هغه اوښې د ملا هډوکی ولیدی، چي شپیته(۶۰) په شپیته(۶۰) گزه کي پروت وو.

او حضرت موسیٰ علیه السلام چي کله خپل قوم ته راغلی، او هغو د ده څخه د نبوت د تصدیق دلیل وغوښتی، نو ده "ید بیضاء" او عصا (لکړه) ورته پیش کړه.

او حضرت عیسیٰ علیه السلام بیا دخپل نبوت پر تصدیق باندې دلیل د مور زاده ړانده بینا کول د خپلي معجزې او د نبوت د تصدیق د دلیل په شکل پیش کړله

خو پیغمبر صلی الله علیه وسلم چي کله د صفا پر غونډۍ باندې د نبوت اعلان وکړی، او قوم د ده څخه د نبوت تصدیق وغوښتی نو ده بطور تصدیق خپل څلوېښت(۴۰) کلن کردار د هغوی و مخته کښېښوی.

لکه ده چي خپل قوم ته داوینا پیش کړه:

........یا قومي! ﴿لَقَدْ لَبِثْتُ فِیكُمْ عُمُرًا مِنْ قَبْلِهِ﴾.

ای قومه! ما خو په تاسو کي ډېره زمانه یعني څلوېښت(۴۰) کاله عمر تېر کړی، زما ماشوموالی او زما ځواني په تاسو کي تېره سوې، او هم دې عمر ته ستاسو په دې کلي کي را ورسیدم.

........﴿فَهَلْ وَجَدتُمُونِي صَادِقًا أَمْ كَاذِبًا﴾.

---

(١) فتح البیان في مقاصد القران تحت تفسیر آیة: ﴿لَهَا شِرْبٌ وَلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَعْلُومٍ﴾.

ايا په دغه څلويښت(۴۰) کلنه زندګي کې تاسو زه څنګه وليدلم؟ زما څنګه کر
وو؟ او په کم شکل ما په تاسو کې داخپل ژوند تېر کړی؟
دا ډېر سخت امتحاني سوال وو، ځکه چې يو انسان کله يو کال په يو کلي کې
کړي، نو د خپل کردار متعلق هغو ته چيلنج نه سي ورکولای، چې تاسو زما پر زند
او ژوند باندې داغ پيدا کړی.
ليکن پيغمبرﷺ خپل څلويښت کاله کردار د هغو ومخته ايږدي، او بيا هر کش
مشر مخالف او موافق ته وايي، چې اوس زما پر کردار نظر وکړئ، او ماته پ
کردار کې کوتاهي راښکاره کړئ.
هغه قوم ټولو په يوه خوله دا جواب ورکړی،
........جَرَّبْنَاكَ مِرَارًا فَمَا وَجَدْنَا فِيكَ إِلَّا صِدْقًا﴾.(١)
موږ ته ډېر زيات تجربه کړې، او ستا زندګي مې د ډېره نږدې څخه مطالعه کړ
موږ په تا کې د بهترين کردار او د بهترينو اخلاقو او د رښتيا وينا کولو څخه بغير
په تا کې هيڅ نه دي ليدلي.
نو پيغمبرﷺ د خپل نبوت د تصديق لپاره بطور دليل خپل بهترين کردار د هغه قو
مخته ايږدي، او هغه قوم ته د خپل نبوت په باره کې په خپل بهترين کردار سره قنا
ورکوي.
هغه قوم ده ته ساحر او مجنون بلا شکه ويلای سي، ليکن هيڅوک پر ده باند
کاذب تهمت نه سي لګولای.
نو د پيغمبرﷺ داسي ښکاره او صفا کردار وو، چې دده جاني دښمنان هم د د
کردار باندې دعيب لګولو جرأت نلري.
د دغه بهترين کردار دويم نوم، "خيرخواهي" ده، يعني چې انسان به د معاشر
انسانانو سره ښه کردار کوي، او هم به ئې په دماغ کې د هغوی سره د خير خوا
کولو فکر او تصور وي.

(١) سبل الهدی والرشاد في سيرة خير العباد، باب ابولهب، صفحه نمبر ۴۶۴

**د خير خواهی معنی:**

د "خير خواهی" معنی داده، چي د انسان سوچ او فکر به همېشه مثبت وي، د منفي سوچ او فکر څخه به ځان ګوري، د نورو انسانانو تجاوزات به نظر انداز کوي، او د خپل طرف څخه به د هغوی سره ښه معامله کوي، دغه ته خير خواهي وايي.
الله تعالی ته هغه بنده ډېر محبوب او خوښ وي: چي د نورو انسانانو سره خير خواهي کوي، لکه ما ستاسو په مخ کي د پيغمبر ﷺ حديث پيش کړی: چي ﴿الدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ﴾ دين سراسر "خير خواهي" ده، نو په ټولو انسانانو کي ديندار انسان هم هغه بلل کيږي: چي د انسانانو سره د "خيرخواهی" معامله کوي.
او په حقيقت کي زيات صوفي او د طريقت صاحب هم هغه سړی بلل کيږي، چي د ده زندګي د انسانانو په خير خواهي کي او د انسانانو په خدمت کي او د هغو په حاجت پوره کولو کي تيريږي، لکه: مولانا روم رحمة الله عليه فرمايي:

*ز تسبيح و سجاده و دلق نيست*

*طريقت بجز خدمت خلق نيست*

په زياتو تسبيحاتو او په ګدړی او په زياتو عباداتو طريقت نه دی، حقيقي طريقت هغه دی: چي د انسان ژوند د انسانانو په خدمت کي تير سي، لکه حضرت جرير بن عبدالله رضي الله عنه هم دا رنګه بيان رانقل کوي:

﴿.........بَايَعْتُ رَسُولَ اللّهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى إِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ﴾.(۱)

ما د پيغمبر ﷺ سره بيعت د لمانځه پر کولو او د زکوة پر ور کولو او د هر مسلمان سره د خيرخواهی پر کولو باندي وکړی، نو دا معلومه ده: چي د اسلام بنيادي ارکان هم دغه دي.

---

(۱) مسند الحميدي: حديث نمبر ۸۱۳

## د دين دارۍ او خير خواهۍ تلازم،

د پيغمبر ﷺ د حديث مبارک الفاظ داسي دي، "اَلدِّيْنُ اَلنَّصِيْحَةُ" عام طور په عربي ک
يوه مبتدا وي، او يو خبر وي، مبتداء اکثريت معرفه وي، او خبر نکره وي، ليکن
دي الفاظو کي عجيبه معامله ده، چي لفظ د "اَلدِّيْنُ" مبتداء او معرفه ده، او "اَلنَّصِيْحَةُ"
خبر هم معرفه دی.
علماؤ ليکلي دي، چي په کم عبارت کي مبتدا او خبر دواړه معرفه راسي، نو د دو
په مابين کي تلازم وي، يعني هر يو د هغه بل سره لازم وي، چي يو هم د هغه بل بغير
راځي.
نو اوس د دي حديث مبارک معنٰی دا راوزي، چي کم شی دين دی، هغه سرا
خيرخواهي ده، او چي کم ځای خير خواهي ده، نو هلته دين دی.
نو کچيري په يو معاشره کي يو مسلمان د بل مسلمان بدخواه جوړ سي، او
مسلمانانو په مابين کي د خير خواهۍ پرځای د بدخواهۍ معامله روانه سي، نو
دي پوه سه، چي د دين جنازه د مسلمانانو له مابين څخه وتلېده.
لکه د پيغمبر ﷺ حديث هم راځي،
.......إِذَا لَسَابَتْ أُمَّتِيْ سَقَطَتْ مِنْ عَيْنِ اللهِ). ([1])
چي کله په امت کي بنکنځل زيات سي، او يو انسان د بل انسان څخه نفرت شرو
کړي، نو هغه امت بيا د الله تعالی د نظر رحمت مستحق نه بلل کېږي.

## د مؤمن د زړه خوشحاله کولو فضيلت،

په يو روايت کي راځي، چي کله يو سړی په خپل ښه کردار او ښه قول او عمل سره د يو
مسلمان زړه خوشحاله کړي، الله تعالیٰ به د هغه خوشحالۍ څخه يو فرښته پيدا کړي
هغه فرښته به تر قيامته پوري د الله حمد او ثناء بيانوي، او د هغه فرښتي د ذکر ثواب
به د دغه بنده په عملنامه کي ليکل کېږي،
او حضرت عمر ﷺ هم يو حديث رانقل کوي،

([1]) فيض القدير، حديث نمبر ۷۶۰، مکتبه شامله.

چې د پیغمبر ﷺ څخه د افضل اعمالو متعلق پوښتنه وسوه، ده يو څو اعمال ورته بيان کړل؛

- ......﴿إدخالُكَ السُّرُورِ عَلَى مُؤمِنٍ﴾. د مسلمان زړه خوشحاله کول.
- ......﴿أشبَعْتَ جُوْعَتَهُ﴾. د هغه لوږه ختمول.
- ......﴿أوْ كَسَوْتَ عَوْرَتَهُ﴾. او يا هغه ته لباس ورکول.
- ......﴿أوْ قَضَيْتَ لَهُ حَاجَةً﴾. او يا د هغه حاجت ور پوره کول. (۱)

همدغه رنګه حضرت انس ؓ د پيغمبر ﷺ حديث رانقل کوي:

چې کله يو سړی په خپل قول او عمل او فعل سره زما د يو امتي حاجت پوره کړي، او په هغه سره د هغه امتي زړه خوشحاله سي، نو هغه بنده زما زړه خوشحاله کوي، او چې کم چا زه خوشحاله کم، هغه خپل رب خوشحاله کوي، او چې کم چا خپل رب خوشحاله کړي، هغه به الله تعالی ضرور جنت لره ور داخل کوي.

دغه احاديثو د وينا څخه وروسته موږ بايد پخپل کړيوان کي سر کښته کړو، چې ايا موږ هم يو وخت يو کار صرف د دې لپاره کړی دی؛ چې په دې سره به زما د مؤمن ورور زړه خوشحاله سي، حالانکه د مؤمن ورور د کوچنيو کوچنيو ضرورتو پوره کول کله د انسان د ټولې زندګۍ د ګناهونو د بخشش ذريعه ګرځي.

لکه په يو حديث مبارک کي راځي؛

.........﴿مَنْ مَشَى فِي حَاجَةِ أخِيهِ كَانَ خَيْرًا لَهُ مِنَ اعْتِكَافِ عَشْرِ سِنِينَ،﴾.

چې کم څوک د مسلمان د حاجت پوره کولو لپاره روان سي، د هغه لپاره دا عبادت د لس (۱۰) کاله اعتکاف کولو څخه خير دی.

........﴿وَمَنِ اعْتَكَفَ يَوْمًا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللهِ جَعَلَ اللهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّارِ ثَلَاثَ خَنَادِقَ، كُلُّ خَنْدَقٍ أبْعَدُ مِمَّا بَيْنَ الخَافِقَيْنِ﴾.

او چې کم څوک يو ځل اعتکاف د الله د رضا لپاره وکړي، الله به د ده او د جهنم په مابين کي درې خندقه ليرې والی راولي، چې د هر خندق عرض به د ځمکې او آسمان په مابين کي د فاصلې سره برابر وي. (۱)

---

(۱) الترغيب والترهيب؛ حديث نمبر ۱۴۰۶

په یو بل حدیث کي پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: چي کم چا د یو پریشانحاله مدد وکړ الله تعالی به د ده لپاره درو اویا (۷۳) مغفرته ولیکي، چي د یو مغفرت په خاطر به د ټولي زندګی ګناهونه معاف سي، او دو اویا (۷۲) مغفرته به د قیامت په ورځ د د درجاتو د بلندی لپاره وي.(۱)

## د ژبي غلط کردار:

محترمو! موږ او تاسو باید ډېر کوشش دا وکړو: چي په خپل ښه عمل او کردار سره مسلمان زړه خوشحاله کړو، چي د پیغمبر ﷺ د بشاوتو لائق او مستحق وګرځو کچیري دغه نه سو کولای، چي د مسلمان زړه خوشحاله کړو، نو بیا خو باید د مسلما زړه ته غم او تکلیف هم نه ورسوو.

ګورئ! د انسان د اندامو په ناجوړي کي د ټولو ځخه لویه ناجوړي د زړه ناجوړي د او د زړه په ناجوړیو کي د ټولو ځخه بده ناجوړي د مسلمان زړه زهیرول دي، مګر مو په ډېر لوی جرأت سره د مسلمان دل آزاري کوو، او هم هغه ته تکلیف ور رسوو.

خاوند ډېر ځله زناني ته داسي خبره وکړي: چي هغه بېچاره بیا ټوله ورځ په کور کي ژړا ناسته وي، کله خو زنانه خاوند ته داسي خبره وکړي: چي د هغه بېچاره ټوله سکو ور برباد کړي، ځکه یو شاعر لیکلي دي:

جَرَاحَاتُ السِّنَانِ لَهَا الْتِيَامُ وَ لَا يَلْتَامُ مَا جَرَحَ اللِّسَانُ

د تُوري زخم جوړیږي، مګر د ژبي زخم تر ډېره وخته پوري جوړېده نکوي، دغه ژ داسي رشتې او قرابتونه ماتوي، چي هغه ډېر ځله انسان په ډېره تیره تُوره هم نه سم ماتولای.

نن سبا زموږ په معاشره کي د ژبي د چلولو ډېر لوی عادت دی، هر وخت انسان شرو وي، او خبري کوي، د اوریدلو عادت د انسانانو د مزاج ځخه ختم سوی دی، حالانک زموږ سلفو به د ژبي سره ځومره زیات احتیاط کاوی.

(۱) المعجم الاوسط، حدیث نمبر ۷۳۲۶

(۲) مأخوذ از خطبات فقیر جلد نمبر ۸، صفحه نمبر ۲۴۶، ۲۴۷

حضرت ابوبکرﷺ چې د انبیاؤ څخه وروسته د ټوله انسانیت افضل ترین انسان وو، ډېر ځله به ئې د ژبه په لاس نیولې وه، او پر لره پېچله به ئې، یو صحابي پوښتنه ځنې کوي: چې ای ابوبکره! دا څه په کوې؟ ده به ورته ویل:
.........إِنَّ هَذَا أَوْرَدَنِيَ الْمَوَارِدَ﴾.(۱)
دې ژبې زه ډېر د هلاکت ځایو ته رسولی یم.
په بعضو روایاتو کي راغلي دي: چې ده مبارک به ﴿يَضَعُ حَصَاةً فِيْ فِيْهِ يَمْنَعُ بِهَا نَفْسَهُ عَنِ الْكَلَامِ﴾ همېشه یو کوچنی ډبره په خوله کي اچولې وه، چې بلا ضرورته زیاتي خبري زما د ژبې څخه راونوزي.(۲)

## د ژبې تیزي:

یو ځل یو صحابي د پیغمبرﷺ خدمت ته راغلی: چې ای د الله رسوله! زموږ په کلي کي یو زنانه ده، چې هغه لمونځ هم کوي، او روژې هم نیسي، او په ډېر کثرت سره صدقې هم کوي، لیکن کله ناکله د خپلو همسایګانو سره بد زباني کوي، یعني پخپله ژبه سره همسایګانو ته تکلیف رسوي، د دغه زناني به څه حکم وي؟ پیغمبرﷺ په جواب کي ورته وایي: چې دغه زنانه دوزخي ده.
دوهم ځل هغه صحابي بیا د پیغمبرﷺ څخه د بلي زناني متعلق سوال کوي، چې هغه ډېر زیات لمونځونه او روژې او عبادات خو نکوي، خو لیکن نور انسانانو ته د ژبې تکلیف هم نه ورکوي، د دغه زناني بیا څه حکم دی؟ پیغمبرﷺ ورته وایي: چې دغه زنانه جنتي ده.(۳)
د دې څخه دا معلومېږي، چې د انسان لپاره د خپلي ژبې غلط استعمال څومره خطرناکه عمل دی. چې انسان د نورو انسانانو سره بد زباني وکړي، او پخپله ژبه سره هغو ته تکلیف ورسوي، بیا خو چې هر څومره زیات نفلي عبادتونه کوي، هغه ده لره په بنه نه ورځي، او نه د ده د نجات ذریعه ګرځي.

---

(۱) موطا امام مالک، کتاب الکلام باب ما جاء في ما يخاف من اللسان.
(۲) احیاء علوم الدین، صفحه نمبر ۱۰۱
(۳) احیاء علوم الدین، باب ریاضة النفس و تهذیب الاخلاق، صفحه نمبر ۵۰

## انسانان دوه (۲) قسمه دي،

عام طور چي انسان پر دې معاشره باندي نظر واچوي، نو دوه قسمه انسانان
معاشره کي ښکاره کيږي.
بعض انسانان د شهد (عسل) د "مچۍ" غوندي وي، او بعض انسانان بيا د هغه
"مچ" په مثال باندي وي.
د شهد (عسل) "مچۍ" شهد جوړوي، مگر گنده "مچ" پر نجاست باندي کښيني
دغه دواړو په درميان کي بنيادي فرق وي.
د گنده "مچ" په دماغ کي د نجاست بد بوئي پرته وي، نو همېشه د گنده او بد
شيانو په تلاش کي وي، چي په کم ځای کي گندکيويني، نو هلته کښيني، او په
کي هم پر داسي ځای کښيني: چي هلته زخم وي، او د هغه زخم څخه نجاست را اوري
نو د گنده "مچ" سوچ هم گنده وي، او د هغه تلاش هم گندکي وي، او همېشه د گ
شيانو پر شا او خوا گرځي راگرځي، او هلته هم دده استوګنه وي.
او د شهدو د "مچۍ" په دماغ کي خوشبوئي وي، او دا همېشه د گلانو په تلاش
وي، او همېشه پر گلانو گرځي راگرځي، او د هغه رس را څوښي، نو د هغه سوچ
خوشبويه وي، او همېشه د ښو او خوشبويه گلانو په تلاش کي وي.
دغه مثال چي انسان و مخته کښېږدي، نو دا ورمعلومېږي: چي د انسانانو هم د
قسمه دي، يو قسم د شهدو د "مچۍ" په مثال وي، چي په هغه کي پخپله هم خير و
او په نورو انسانانو کي هم د خير تلاش کوي، او انسانان د خير طرف ته رابولي
هغو په نظر کي د دنيا ټوله انسانان ښه ورمعلومېږي، او پر هغه باندي د خير او
نيکۍ گمان کوي.
او دوهم قسم هغه دي: چي د هغه خپل سوچ گنده وي، او د هغه نفس پخپله د خبا
څخه ډک وي، چي کم ځای بېکاره محفل ور معلومېږي، نو هلته ځان ور رسوي، او
هغو سره دوستي جوړوي.
چي کله يو بنده ته نظر وکړي، نو د ده په نظر کي د هغه بنده بدي ور ځي، او د هغه
ښو صفاتو د ده نظر نه لگيږي، نو ځکه همېشه د ده په خوله کي دا الفاظ وي: چي
ياره! نن سبا خو په هيچا کي خير نسته.

نه هغه دعلماؤ څخه راضي وي، او نه د مشايخو او بزرګانو څخه راضي وي، او نه دحاکمانو څخه راضي وي، او نه د قريبانو او همسايګانو څخه راضي وي، غرض دا: چي هغه دهيچا څخه راضي نه وي.
بلکه بعض په دغه انسانانو کي خو داسي منحوس غوندي وي؛ چي د خپل رب څخه هم راضي نه وي، او همېشه د هغه څخه شکوې او ګلې کوي: چي الله تعالى زموږ دعاګاني نه اوري، او نه زموږ دعاګاني قبلوي، نو دغه بنده د هغه ګنده "مچ" غوندي ژوند تېروي.
چي کم ځاى کښېني، بدي خبري کوي، او که ئې اوري، نو هم بدي خبري اوري، او چي کم طرف ته ګوري، نو د ده نظر د بدۍ و طرف ته متوجه وي، او د ده په دماغ کي همېشه د بدو خبرو سوچونه او فکرونه ورګرځي.
د الله تعالى څخه به دعا غواړو: چي الله تعالى دي موږ د شهدو د "مچۍ" غوندي ښه انسانان جوړ کړي، چي موږ په انسانانو کي د ښو خويونو تلاش وکړو.

## د انسان قدر:

نن انسانان په معاشره کي د ژوند په حالت کي د انسان قدر نکوي، او د مرګ څخه وروسته بيا د هغه قدر ور معلوم سي، او په هغه پسي ارمانونه کوي.
زموږ لپاره مناسبه دا ده: چي په ژوند کي لا د انسانانو قدر کول زده کړو، زموږ شا او خوا چي څومره انسانان اوسيږي، که مي قريبان وي، او کمي همسايګان وي، او که عام انسانان وي، چي زموږ ور سره تعلق وي، په هغو کي خير دى، په هغو کي نيکي ده، بايد موږ په خپل زړه کي د هغو قدر پيدا کړو، ځکه د جدائي څخه وروسته بيا د انسان په زړه کي د قدر ارمان پاته وي، نو انسان ته د پښېماني څخه بغير نور هيڅ په لاس نه ورځي.

## يو عجيبه واقعه:

مولانا روم رحمه الله عليه پخپل کتاب کي يو عجيبه واقعه ليکلې ده: چي يو "عطار" وو، (يعني عطر خرڅوونکى)، هغه پخپل دوکان کي يو "طوطي" ساتلى وو، د ده دوکان ته به چي کله يو څوک د شي اخستلو لپاره راغلى، نو هغه طوطي به هغه ته سلام

کاوی، لکه "مینا" چي کله خبري کوي، نو عام طور دا سلام وايي، او د راتلونک
انسان څخه به هغه "طوطي" پوښتنه کوله: چي څنګه حال دي دی؟
چنانچه خلک به د ډېره لیري لیري څخه د ده دوکان ته راتلل، چي مورږ خو هسي هم ع
رانیسو، او سودا کوو، نو د بل چا څخه د رانیولو پر ځای به د هغه "طوطي" وا
دوکان لره ورسو، عطر به هم څني رانیسو، او د "طوطي" د خبرو څخه به هم خو
واخلو.
چنانچه د هغه "عطار" پر دوکان د سودا کونکو انسانانو څخه رش زیات سو، نو خلک
به د لیري ځای څخه ورته راتلل، او ډېر ځله خو به بچیانو د مور او پلار سره ض
کاوی: چي مورږ هغه د "طوطي" دوکان لره بوزه، هغوی به هغه خپل بچیان هلت
راوستل، او د هغو به ئې فرمائش پوره کاوی، نو په دغه شکل د عطار دوکاندار
ورځ تر بله پر مخ روانه وه.
یوه ورځ هغه "عطار" دوکان بند کړی، مګر هغه "طوطي" ئې په "قفس" کي بندو
هیر سو، "طوطي" دغسي د "قفس" څخه آزاد پاته سو.
چي کله هغه د یو طرف څخه د شپې د پشو آواز واوریدی، نو پر ده باندي وېره خور
سوه، نو په دوکان کي الوتی راالوتی، کله به یو طرف ته کښېناستی، او کله به بل
طرفته چونکه په دوکان کي هر طرف د عطرو شیشې وې، او د شیشو سامان ایښوول
سوی وو، نو چي پر کم ځای به دی کښېناستی، نو هغه شیشې به یو په بله کي سره را
ایله سوې، او هم به ماتي سوې، د شیشو د شور پیدا کیدو په وجه به "طوطي" نور هم
وویرېدی، نو بیا به پر بله الماري کښېناستی، چي د هغه څخه به نوري زیاتي شیشې
راولوېدې، نو په دغه شکل دوکان ته ډېر نقصان ورسېدی، چي ډېري شیشې ئې ماتي
سوې.
سهار چي کله دوکاندار راغلی: نو دوکان ئې خلاص کړی، که ګوري د هغه ډېر زیات
مال ضائع سوی دی، نو هغه ته ډېر افسوس وسو، نو هغه "طوطي" ئې د سر تر
وېښتانو را ونیوی، او یو څه ئې وټکاوی، چي د هغه د سر وېښتان وختل، او خوږ هم
سو، او په سر به پک او ګنجه معلومېدی.

اوس چي کله طوطي ته دا محسوسه سوه: چي ده خو زه ډېر ووهلم، نو "طوطي" خپله ژبه بنده کړه، او چپ سو، عطار د معمول مطابق خپله دوکانداري شروع کړه، ليکن اوس يو فرق راغلی: چي هر کله خلک راسي: نو عطار دا غواړي: چي دغه "طوطي" د ده سره خبري وکړي، مګر "طوطي" خبري نکوي.

نو هغه هر څه کوشش وکړی: چي په يو شکل "طوطي" پر خبرو راولي، چي د هغه په وجه د ده دوکان ته خلک راسي، او د ده دوکانداري پر مخ روانه سي، مګر "طوطي" د چپوالي روژه نيولې ده، په هيڅ شکل خبرو کولو ته نه اماده کيږي.

چي کله "طوطي" خبري پرېښوولې نو په لږ زمانه کي د هغه عطار دوکانداري ته د خلکو راتګ کم سو، او د ده دوکانداري ورځ تر هغه بله د نقصان پر طرف روانه سوه، اوس د هغه دوکاندار سره دا احساس پيدا سو: چي ما خو د هغه "طوطي" قدر نه وکړی: پرمعمولي کار مي هغه وواهی، او هم مي د سر وېښتان ور وکښل، چي اوس هغه خبري کول پرېښوول، چي د هغه په وجه زما کاروبار د نقصان سره مخامخ سو.

نو اوس هغه عطار نفل کوي، او هم دعاګاني غواړي، چي يا الله! هغه طوطي خو يا په خبرو شروع کړي، مګر د ده د هر څومره کوشش سره "طوطي" خبرو ته نه اماده کيږي.

نن زموږ په معاشره کي عام طور خاوند خپله زنانه تنګوي، چي کله هغه ناراضه سي، نو بيا دی پرېشانه وي، چي په کم شکل به ئې راضي کړي.

ډېر ځله زنانې خپل خاوند ناراضه کړي، چي کله هغه خبري بندي کړي، نو بيا پرېشانه ګرځي، او د تعويذاتو په تلاش کي وي، او همېشه دا وايي: حضرت! ماته تعويذ راکړه، زما خاوند زما سره برابر نه دی، نو د ناراضګۍ څخه وروسته بيا دوی ته د هغه قدر په دماغ کي ورسي.

بهر حال دا خبره په درميان کي راغله، نو مولانا روم رحمة الله عليه فرمايلي دي: چي هغه سړي ډېري دعاګاني غوښتې، مګر "طوطي" په هيڅ شکل باندي خبرو کولو ته تيار نه وو، او په دغه شکل د هغه ژوند تېرېدی.

نو ده خو د هغه "طوطي" څخه دا سبق واخيستی: چي زما لپاره د اول څخه د هغه "طوطي" قدر کول ضروري وو، ما د هغه ناقدري وکړه، چي د هغه په وجه زما دوکانداري ورځ تر هغه بله د نقصان پر طرف روانه ده.

يوه ورځ يو فقير د هغه "عطار" دوکان ته راغلی، چې د هغه پر سر وېښتان ن
"طوطي" چې هغه فقير ته وکتل، نو دستي ئې خبري شروع کړې، او هغه فقير ت
وويل: ايا تا هم د مالک د دوکان شيشې ور ماتي کړي دي؟ چې هغه ستا د
وېښتان در څخه کښلي دي؟
نو هغه طوطي فقير پر ځان قياس کاوی، چې ما چونکه د مالک د دوکان شيشې
ماتي کړې، نو هغه زما څخه د سر وېښتان وکښل، نو دغه فقير چې پر سر ورېښت
لري، شايد ده به هم د خپل مالک د دوکان شيشې ورماتي کړي وي؛ چې هغه به د
سر څخه وېښتان کښلي وي.
مولانا روم رحمة الله عليه فرمايي: يو خو د دې قصې څخه دا سبق اخيستل: چې پکا
دی: انسان په ژوند کې د يو چا قدر وکړي، د مرګ څخه بعد بيا د هغه په قدر ک
پسې ارمانونه کول هيڅ فائده نلري، او نه دا انسان لاس لره څه ورځي.
او دوهم سبق دا هم دی: چې ډېر ځله يو انسان بل څوک پر خپل ځان قياس کوي: چ
ده په زړه کې کمه خبره وي، د ده خيال دا وي: چې شايد د هغه بل په زړه کې به هم د
خبره وي، اکثر تاسو وينئ: چې دغه شی ډېر ځله د اختلافاتو لوی سبب ګرځي.
نو د حقوق العباد په معامله کې ډېر زيات احتياط کول ضروري وي، دا سې نه چې
انسان د بل انسان ناقدري وکړي.
يا انسان د غلط فهمې په وجه د بل د حقوقو خيال نه وساتي، خو که نن په دنيا کې
د انسانانو د حقوقو خيال نه وساتو، نو سبا د قيامت په ورځ به مونږ د هغه ج
ورکوو.

## حيوانات درې(٣) قسمه دي:

امام غزالي رحمة الله عليه په "احياء العلوم" کې ليکلي دي: چې الله تعالى په دنيا
درې(٣) قسمه حيوانات پيدا کړي دي:

١. اول قسم هغه دی: چې انسانانو ته فائده وررسوي، شاذ او نادر به کله د
څخه يو چاته نقصان وررسيږي، مثلاً: غوا، بزه، او وغيره دا داسې حيوا

دي: چي د شيدو په وجه انسانانو ته فائده رسوي، چي کله ئې شيدې ختمي سي، نو بيا انسانان هغه ذبح کوي، او د هغه غوښې خوري، او په دې شکل دی د فائدې رسولو لپاره خپل ځان قربانوي، او اکثريت چاته نقصان نه رسوي.

۲. دوهم قسم هغه حيوانان دي: چي د هغو کار صرف او صرف تکليف رسول دي، ښکاره د هغوی هيڅ فائده نه وي، مثلا: مار، لړم، درنده، وغيره، دا ټوله ضرر رسونکي حيوانان دي، چي کله د يو انسان سره يو ځای سي، نو هغه ته تکليف رسوي، او په نيښ ئې وهي.

۳. د حيوانانو دريم قسم هغه دی: چي نه چاته تکليف رسوي، او نه فائده رسوي، لکه په ځنګله کي وسيدونکي حيوانان: ګيدړه، او چغال، او نور حيوانان، چي نه د هغوی څخه انسان ته يو خاص فائده ورسيږي، او نه نقصان.

د دغه درو(۳) قسمه حيوانانو بيانولو څخه وروسته امام غزالي رحمة الله عليه انسان ته مخاطب ګرځيدلی دی، ورته فرمايي:
ای انسانه! ته خو "اشرف المخلوقات" ئې، او پر ټولو حيوانانو ته فضيلت لرې، نو کچيري انسان نه سې جوړېدلای، بلکه حيوان د ځانه جوړوې، نو کم ازکم اول قسم حيوان خو جوړ سه، چي نورو انسانانو ته فائده ورسوې، او انسانان ستا د نقصان څخه محفوظه وي، لکه غوا، او بزه، وغيره.

او کچيري د هغه څخه هم ځان کښته درجې ته راشوه کوې، نو بيا خو دريم(۳) قسم حيوان له ځان څخه جوړ کړه: چي نه نقصان رسوي، او نه فائده رسوي.

کچيري تا و انسانانو ته د فائدې رسولو پر ځای نقصان ور رسول، شروع کړل، نو بيا خو ته د مار او لړم او د نورو درندګانو په قسم کي داخل بلل کيږې.

## موږ انسانان ليدلي دي:

بهر حال د مسلمان او غير مسلمان خبره خو ډېره وروسته ده، دا غه رنګه د عالم، او غ
عالم، د عابد، او غير عابد، خبره هم ډېره وروسته ده.

اول خبره داده: چې انسان انسان جوړ سي، او د انسان جوړېدلو لپاره ضروري ده: چ
هغه اسلامي معاشرت اختيار کړي، او د هغه دذات څخه يو چا ته لږ تکليف
ورسيږي، د هغه د لاس څخه او د هغه د ژبې او عمل څخه يو څوک پرېشانه نسي.
يو ځل حضرت تهانوي رحمۃ اللہ علیہ په ډېره زياته تواضع سره و فرمايل: چې کامل او پو
انسانان خو موږ هم نسو جوړېدلای.

ليکن "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ"! انسانان مي ليدلي دي: چې انسان څنګه وي؟ هيڅوک موږ
دو که نسي راکولای، چې زه انسان يم، او په حقيقت کي دی انسان نه وي.[1]

## د مسلمان درې(۳) حقونه:

يو بزرګ فرمايلي دي: چې د هر مسلمان پر بل مسلمان درې(۳) حقونه دي.

۱. اول حق دا دی: چې فائده مسلمان ته نسي ور رسولای، نو نقصان دي هم نه
رسوي.
۲. دوهم دا: چې کچيري يو مسلمان ته خوشحالي نسي ور رسولای، نو تکلي
دي هم نه ور کوي.

اول خو زموږ لپاره مناسب دا دی: چې نورو انسانو ته خوشحالي ور ورسوو،
خوشحالي د هغو په مابين کي ور تقسيم کړو، کچيري خوشحالي تقيسم کول زموږ
قسمت او نصيب کي نه وي، نو کم ازکم تکليف خو نه ور ورسوو.

---

(۱) احياء العلوم بحواله اصلاحي خطبات: جلد نمبر ۸، صفحه نمبر ۱۰۷

ن سبا حالت دا دی: چي خوشحالي خو څه کوي؟ موږ نورو انسانانو ته بس صرف رنج او تکليف ور رسوو، او په يو شکل د اشکالو د ژبي څخه ترخه وينا ورته راباسو، چي د هغه د زړه د زهير کېدلو سبب ګرځي.

۲. دريم حق: کچيري ته د مسلمان تعريف خو نسي کولای، نو پخپلو خبرو د هغه عزت هم مه ور خرابوه.

دا د مسلمان حق دی، او زموږ پر ذمه د مسلمان دا حق جوړيږي: چي موږ د هغه تعريف وکړو، او خاص پيا په دې جذبه چي دا زما د محبوب ﷺ امتي دی، او زما د رب بنده دی، نو زه به د ده تعريف کوم، او که مي د ژبي څخه د ده تعريف نه راوزي، نو کم ازکم غيبت خو به ئې نه کوم.
نه ده معلومه! چي انسانانو په دغه مختصره زندګي کي د نفرت لپاره وخت د کم ځای څخه راايستلی دی؟ چي په معاشره کي د هر چا څخه که قريب وي، که همسايه وي، او که بل مسلمان وي، د هغو ټولو څخه نفرت کوي.
حالانکه نفرت که انسان کوي، بايد د کفارو څخه د انسان نفرت وي، د الله د دښمنانو څخه د انسان نفرت وي.
ليکن چي کم څوک کلمه وينونکي مسلمان وي، نو د هغه سره خو بايد انسان محبت وکړي، الله تعالى دي موږ ته هم د محبت جذبه رانصيب کړي، چي پخپله زندګي کي د نورو انسانانو د "خير خواهي" کوشش وکړو.
او چي تر اوسه پوري د نفرت کولو کوم ګناهونه راڅخه سوي دي، د مرګ څخه مخکي مخکي د هغه د معافي غوښتلو کوشش وکړو، الله تعالى دي په دې څو خبرو د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.
او الله تعالى دي دغه زموږ او ستاسو اصلاحي مجالس زموږ او ستاسو لپاره او هم زموږ او ستاسو د ټولو قريبانو او دوستانو لپاره او هم د ټوله امت مسلمه لپاره د نجات ذريعه وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د نبي کریم ﷺ د خورک طریقه

(بیان)

مولوی **اطیع الله** صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ **کلیم الله** صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشـــــاعـت | اول |
| تــاريــــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: ﴿عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ، فَلَا يَمْسَحْ يَدَهُ حَتَّى يَلْعَقَهَا أَوْ يُلْعِقَهَا﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهيد:

محترمو حاضرينو! ستاسو په حضور كې ما د پيغمبر ﷺ يو حديث مبارک پيش كړى: چې د هغه راوي مشهور صحابي: حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما دى.
حضرت عبدالله د پيغمبر ﷺ د اكا زوى وو، خو د پيغمبر ﷺ په زمانه كې د ده عمر ډېر كم وو، ځكه چې كله د پيغمبر ﷺ وفات راتلى، نو په دې وخت كې د ده عمر صرف لس(١٠) كاله وو، خو پيغمبر ﷺ د ده سره ډېره مينه او محبت درلودى، او كله كله به ئې د ده پر لاس د شفقت لاس ورتېراوى، او هم به ئې دا دعا ورته كوله:
........اللّٰهُمَّ عَلِّمْهُ الْكِتَابَ وَفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ﴾.(٣)
يا الله عبدالله ته د قرآن كريم علم وركړه، او هم په دين كې پوهنه ور نصيب كړه، د پيغمبر ﷺ د دعا بركت وو، چې حضرت عبدالله ته الله تعالى د قرآن كريم داسي علم

(١) سورة آل عمران: آيت نمبر: ٣
(٢) مسند احمد: حديث نمبر ١٩٢۴
(٣) البدايه و النهايه: باب ممن توفى فيها، صفحه نمبر ٣٢٧، مكتبه شامله

ورکړی: چي څو مره انسانانو د قرآن کريم تفسيرونه وکړل، په هغه ټولو کي د دوی
رئيس المفسرين وګرځېدی.
دی مبارک د پېغمبر ﷺ دا حديث رانقل کوي: چي هغه به موږ ته ويل:
........ ﴿إِذَا أَكَلَ أَحَدُكُمْ﴾.
چي کله په تاسو کي يو څوک خورک وکړي، نو ﴿فَلَا يَمْسَحْ يَدَهُ بِالْمِنْدِيلِ﴾ نو تر ها
وخته پوري دي خپل لاس په يو تولیه يا بل شي باندي نه صفا کوي، ﴿حَتَّى يَلْعَقَهَا
يُلْعِقَهَا﴾ چي تر څو پوري ئې خپلي ګوتي په پخپله خوله باندي څټلي او صفا کړي
وي، يا بل چا ور لره څټلي نه وي.(۱)

## د خورک کولو اول ادب او مسئله:

- د دې حديث مبارک څخه فقهاء کرامو د خورک متعلق دا يو مسئله او ادب معلو
کړی دی: چي د خورک کولو څخه وروسته لاس پرېول، صرف جائز نه بلکه سنت ا
مستحب عمل دی، داغه رنګه خپل لاس په يو شي سره وچول، هم جائز دی.
يعني افضله طريقه خو دا ده: چي د خورک کولو څخه وروسته انسان لاس و مينځي
ليکن که يو ځای اوبه نه وي، يا د اوبو په استعمال کي سختي او تکليف کوي، نو ب
هلته په کاغذ يا په يو بل شي سره د لاس صفا کول هم جائز دي، لکه نن سبا (ټيش
پيپر) کاغذ د دغه کاز لپاره ايجاد سوی دی.

## دوهم ادب او مسئله او د حديث اصل مقصود:

چي د حديث مبارک اصل مقصود دی، هغه دا: چي پېغمبر ﷺ به فرمايل: چي د لاس
د پرېوللو يا صفا کولو څخه مخکي خپلي ګوتي څټل، او پخپله د پېغمبر ﷺ معمول
او طريقه هم دا وه: چي ده به د خورک کولو څخه وروسته خپلي ګوتي څټلې، چي پ
ګوتو به کمه نفقه لګېدلې وه، نو د څټلو په شکل به ئې هغه هم خوړله.

(۱) احياء علوم الدين: کتاب آداب الاکل، جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۹

## د ګوتو څټلو حکمت:

د هغه حکمت په يو حديث مبارک کي پيغمبر ﷺ دا بيان کړی دی:

......... فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي فِي أَيِّ طَعَامِهِ كَانَتِ الْبَرَكَةُ﴾.(¹)

چي دا معلومه نده: چي د دغه نفقې او خوړکې په کمه حصه کي برکت دی، يعني تاته څه معلومه ده: چي دالله تعالی د طرفه د دغه خوړکې په کمه مخصوصه حصه کي برکت اينبوول سويدی، کيدای سي: چي کم اجزاء او حصه پر ګوتو لګيدلې ده، په هغه کي دي برکت وي.

نو هغه نه ضايع کول، او نه غورځول، بايد هغه هم انسان وخوري، چي د الله تعالی د طرفه د راغلي برکت څخه محروم او بې نصيبه ونګرځي.

## برکت څه دی؟

انسانان نن په موجوده دورکي په ماده پرستي کي داسي ننوتلي دي، چي د سهار څخه تر ماښامه پوري د هغوی ټوله تلاش او محنت پر ماده پرستي باندي دی، بس مال او دولت راجمع کول، او خپل ځان لره ساز او سامان برابرول، چي د انسانيت ټوله قوت او توانائي پر هغه باندي صرفيږي.

چي د هغه په وجه د يو شي وحقيقت ته د رسېدلو صلاحيت په انسانانو کي ختم سويدی، که هر څو مره د ده و مخته د برکت نوم واخيستل سي، او ده ته د برکت پيدا کولو ترغيب ور کول سي، نو دی غريب د هغه په حقيقت نه پوهيږي، چي ياره! برکت بيا کم شی دی؟ چي دا خلګ ئې راته ذکر کوي.

د برکت معنٰی او مفهوم يو ډېر وسيع او فراخ دی، چي په هغه کي د دنيا او آخرت صلاح او فلاح ټوله راځي، او دا د الله تعالی ورکړه ده، چي انسان ته ئې ور نصيب کړي، ډېر څله انسانانو ته پخپله زندګي کي هغه ښکاره ور معلوميږي.

تاسو ګورئ! ډېر څله انسان د دنيا مال او دولت راجمع کړي، او په هغه باندي بهترين کور ځان لره برابر کړي، او په هغه کور کي د آسايش او آرام ټوله اسباب جمع کړي، مثلاً د خپل ځان لپاره بهترينه حجره او په هغه حجره کي بهترين پلنګ، او بستره، خو د

(¹) جامع معمر بن راشد: حديث نمبر ۱۹۵۵۵

گرمۍ په زمانه کي د يخي هوا او د يخنۍ په زمانه کي د گرمي هوا بند وبست هم د ځا
لپاره برابر کړي.
غرض دا: چي ټومره د آسايش او آرام اسباب دي، هغه ټول و ده ته موجود وي، ليکن
"صاحب بهادر" چي کله پر هغه بستره په هغه بهترينه کمره کي پرېوزي، نو ټوله شپه
پر يو اړخ او بل اړخ اوړي، ځکه ده لره خوب نه ورځي، بيا دی چار او لاچار خپل ځا
لره خوب په گوليو او په نشه‌آور دوايانو راولي.
نو دد ې څخه دا معلومېږي: چي ساز او سامان خو ټول ورته موجود دی، ليکن هغه
ده د راحت سبب نه گرځي، ځکه چي په هغه کي الله تعالی د ده لپاره برکت نه دی
اچولی.

## راحت پيدا کول د اسبابو په ذريعه نه دی:

نو د برکت نه کېدلو معنٰی دا ده: چي د ساز او سامان څخه کمه فائده حاصلېدله، هغه
حاصله نسوه، ځکه ساز او سامان پخپله مقصود نه دی، ځکه دا ټول محض سبب او
ذريعه ده، د سکون او آرام حاصلولو لپاره.
او سکون او آرام بيا خالص د الله تعالی عطا ده، چي کم چا ته ئې ور کوي، نو هغه ئې
پيدا کولای سي، او چي کم چا ته ئې الله تعالی نه ورکوي، هغه که هر څومره مال او
دولت او د راحت او سکون اسباب راجمع کړي، ليکن قطعاً په هغه کي آرام او راحت
او سکون او خوشحالي نه سي پيدا کولای.
نن هر سړی د ځان سره فکر کولای سي: چي د هر سړي سره د نن څخه شل(۲۰) او
پنځويشت(۲۵) کاله مخکي چي کم مال او دولت او ساز او سامان وو، نن په هغه کي
زيات وب راغلی دی، ځکه په عامه معاشره کي معاشي ترقي راغلېده.
د هغه د کور په ساز او سامان کي اضافه ‌توب سوی دی، او هر سړي د خپل ځان لپاره
څه نا څه د آرام او راحت ترتيب برابر کړی دی، ليکن انسان په هغه کي څه سکون او
راحت پيدا کړی دی؟ او يا ئې د خوشحالۍ او اطمينان ژوند کي تېر کړېدی؟ کچيري
د دغه آرام او راحت د ترتيباتو سره ده ته آرام او راحت نه ور نصيب کيږي، نو دا د دې
علامه ده: چي په دغه ترتيباتو کي الله تعالی برکت نه دی پيدا کړی.

نو برکت د دغه نوم دی: چې د یو شي د استعمال څخه انسان ته کمه فائده حاصلیږي، هغه حاصله سي، که څه هم هغه شی د بر کم وي، خو فائده ئې زیاته وي.
او بې برکتي بیا دې ته وایي: چې ساز او سامان خو د انسان سره زیات وي، لیکن نه راحت سته، او نه آرام او نه سکون سته، چې هغه ته د ستړیا او پرېشانۍ بغیر نور څه په لاس نه ورځي.
چې د کم چا په مال او دولت کي برکت نه وي، تاسو د هغه زندګۍ ته ګورئ! د شمار په اعتبار به ستاسو پیسې د هغه څخه کمي وي، لیکن د پیسو چې کمه فائده ده، آرام او راحت پیدا کول هغه به د ده په نصیب نه وي.
مثلاً یو دولتمند انسان د دنیا ساز او سامان او د راحت اسباب راجمع کړي، بهترین کور وي، او خادمان وي، او بهترینه نفقه وي، چې کله د ده و مخته دسترخوان هوار سي، نو پر هغه به مختلف اقسام او انواع خوړکه پرته وي، لیکن د هغه معده خرابه وي، لوږه نه ورځي، یا خو ډاکټر او طبیب منع کړی دی، که دي دغه شی وخواړی، نو ستا لپاره به زیات نقصان مند وي.
تاسو ګورئ! چې هر څه نعمتونه ورته موجود دي، مګر د دغه نعمتو فائده دا ده: چې هغه انسان و خوري، او د هغه څخه خوند واخلي، هغه د ده په نصیب او قسمت کي نسته، نو دا د ده د پاره یو قسم بېبرکتي ده.

## برکت دا دی:

لیکن بل طرف ته یو مزدور اته(۸) ساعته مکمل محنت کوي، چې د هغه په نتیجه کي ده لره یو معمولي رقم او پیسې په لاس ورسي، او په هغه سره دی خپل ځان لره معمولي نفقه برابره کړي، او چې کله پر هغه نفقه کښیني، نو په بهترین شوق سره ئې و خوري، او د هغې څخه زیات خوند واخلي.
او چې کله پر بستره پرېوزي، نو اته(۸) ساعته په خوند او مزه سره خپل خوب پوره کړي، نو د خوړک او خوب څخه لذت او خوند دغه سړي واخیستی، که څه هم هیڅ ساز او سامان د راحت اسباب د هغه سره نسته، نو په دغه لږ شي کي الله تعالی ده ته برکت ور اچولی دی، چې په هغه سره ده خپله نفعه واخیسته.

دغه خوړکه چې انسان خوري، د هغې خوراک کول بذات خود مقصود نه دي، دغه مقصود دا دی: چي دا د انسان د بدن یو حصه وګرځي، او د انسان بدن د هغه ځنې قوت پیدا کړي، او انسان د هغه څخه خوند او راحت حاصل کړي، او دغه شیان محض د الله تعالی عطا بلل کیږي.

نو دغه شی پیغمبر ﷺ بیان کړیدی، چي نه معلوم د خوړکې په کمه حصه کي الله تعالی برکت اېښی دی؟ کیدای سي: چي کمه خوړکه انسان و خوري، په هغه کي دي برکت وي، او دا هم کیدای سي: چي د خوړکې کم ذرات او حصه پر ګوتو لګیدلې ده، په هغه کي دي برکت وي، چي کله تا هغه پرېښوولې، نو د هغه د پرېښوولو په وجه ته د برکت څخه محرومه پاته سوې.

نو ځکه د پیغمبر ﷺ عادت هم دا وو، او هم ئې امت ته دا هدایت وو: چي د خوړکې خوړلو څخه وروسته لاس تر هغه وخته پوري په اوبو مه پرېوځ، او مه ئې صفا کوئ، چي تر څو پوري مي ګوتي څټلي نه وي، ځکه چي تاسو د خوړکې د برکت څخه محروم او بې نصیبه نسئ.

## د خوړک پر باطن باندي اثر:

دا خو زه صرف د ظاهري سطحي خبره کوم، لیکن چي کم چا ته الله تعالی د بصیرت او دیده سترګي ورکړیوي، هغه د دې څخه هم یو څه مخته ځي، هغه وایي: چي په خوړک کي فرق وي، او خوړک د انسان پر فکر او سوچ او جذباتو او خیالاتو باندي ډېر اثر لري.

بعضي خوړکې د انسان په باطني حالاتو کي ظلمت او تاریکي او بېکاره خیالات او بد جذبات پیدا کوي، چي د هغه په وجه د انسان په مزاج کي د ګناهونو شوق پیدا کیږي.

او بعضي بیا داسي بابرکته خوړکې وي، چي د هغه د خوړلو په وجه د انسان په باطن کي نور راځي، او د انسان روح ته تقویه ورکوي، چي د هغه په وجه د انسان په دماغ کي ښه خیالات او ارادې پیدا کیږي، چي بیا د انسان رغبت او شوق همېشه د نیکو اعمالو و طرف ته وي، او دا د خوړک باطني برکت بلل کیږي.

موږ ته خو بعضي اوقات د دغه خبرو احساس نه کیږي، ځکه چي زموږ سترګي د ماده پرستۍ په منډه او محنت کي ړندې سویدي، او هم مي دیني بصیرت د لاس څخه ور کړیدی، نو ځکه د خوراک کولو په وخت کي پر موږ باندي د ظلمت او د نور هیڅ امتیاز او فرق نه راځي.

حکیم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه د خپل استاد حضرت مولانا محمد یعقوب نانوتوي رحمة الله علیه چي د "دار العلوم دیوبند" صدر مدرس وو، واقعه رانقل کړیده:

چي یو ځل ده ته یو چا د میلمستیا دعوت ورکړی، دی چي کله د هغه کور ته راغلی، او پر دسترخوان باندي د خوراک کولو لپاره کښیناستی، چي کله ئې یوه ګوله ترحلق تیره کړه، نو دا معلومات ورته وسو: چي د دغه سړي کمه نفقه چي زه خورم، د ده آمدني او ګټه حلاله نده.

نو هغه وخت ده نوره خوراکه پرېښووله، او ځني ولاړ سو، لیکن فرمایي: چي هغه حرامه ګوله، زما نس لره ورغله، نو د هغې ظلمت ما تر دوو(۲) میاشتو پوري محسوس کوی، هغه دا رنګه: چي تر دوو(۲) میاشتو پوري زما په دماغ کي د ګناه کولو خیالات او وسوسې پیدا کیدلې، او په زړه کي به مي د ګناه کولو و طرف ته رغبت او شوق ډېر زیات وو.

بظاهر انسان ته څه نابلده ور معلومیږي، چي یاره! یوه ګوله تر حلق تېره سوه، او د هغه په وجه د انسان په زړه کي د ګناه وسوسه راغله، موږ ته خو به دا ځکه نابلده محسوسیږي، او نه به د دې حقیقت را ښکاره معلومیږي: ځکه چي زموږ زړونه د ظلمت د داغو څخه تک تور دي، لکه پر یو کپړه چي بېشماره داغونه وي، او پر هغه باندي سر بیره بل داغ ولګیږي، انسان ته هغه د داغ رنګ او تور والی نه ور معلومیږي، ځکه چي کپړه هسي هم په ډېرو داغو تکه توره ده.

لیکن چي کله یو کپړه صافه ستره او تکه سپینه وي، پر هغه باندي کچیري لږ داغ هم راسي، نو انسان ته دستي هغه داغ ور معلومیږي.

نو د الله د نيکو بندګانو زړونه د هنداري غوندي صاف اوسپين وي، پر م
باندي کچيري يو داغ هم راسي، نو هغه داغ دستي محسوسوي، او د هغه ظلمت
معلوميږي.
چنانچه دغه د الله نيک بنده دستي دا محسوسه کړه، چي د يوې ګولې خوړلو ځ
مخکي په زړه کي د نيکو اعمالو تقاضاوي پيدا کيدلې، او د ګناهونو څخه نفرت و
اوس چي دغه يوه ګوله وخوړل سوه، نو د هغه څخه فوراً وروسته په زړه کي د ګناهو
تقاضاوي پيدا سوې، نو دا په حقيقت کي د هغه خرابي ګولې ظلمت او تاريکي و
نو د حلال خورک څخه نيک جذبات پيدا کېدل، او د ګناهونو څخه د نفرت جذبه پي
کېدل، د دې نوم دی: باطني برکت.

## د ژوند بهترين نظم:

چي کله الله تعالى انسان ته باطني برکت ور نصيب کړي، نو د هغه څخه د انسان
باطن کي ترقي راځي، اخلاقيات او خيالات پر صحيح لار برابريږي.
په "ديوبند" محله کي يو بوډا اوسيږي: هغه روزانه ځنګله ته ځي، او په هغه کي
قدرتي بوټي پرې کوي، او د هغه بار پر خپله شا زاوړي، او په کلي کي ئې په شپ
پيسې خرڅوي:
دوې(۲) پيسې د خپل يو ذاتي ضرورت لپاره خوندي کوي، او دوې(۲) پيسې صدق
کوي، او دوې(۲) پيسې د دار العلوم ديوبند د استاذانو د دعوت لپاره جمع کوي.
چي کله هغه پيسې دومره جمع سي: چي په هغه سره د دعوت بندوبست برابريږي، نو
بيا دی دعوت او مېلمستيا په هغه برابروي.
او دعوت هم داسي: چي خالي وريجي په اوبو کي جوش کړي، او يو څه دال ور سره
کنبېږدي، او د "دارالعلوم ديوبند" مشران استاذان راطلب کړي، او د هغه و مخته
ئې پېش کړي.
او چي کم حضرات په دغه دعوت کي شريکان سي، نو هغه بيا د دغه دعوت حال
داسي بيانوي: چي موږ ټوله مياشت د الله د دغه بنده د دعوت په شوق يو، ځکه چي په

دغه وریجو او دالو کې چې کم نور او برکت دی، نو هغه بیا موږ په ډېرو لویو لذیذو ښو او خوندورو خوړکو کې نه دی لیدلی.
ځکه دا داسې خوړکه وی: چې د هغه د خوړلو وروسته د انسان په زړه کې د الله او د رسول محبت پیدا کیږي، او د هغه یوې خوړکې اثر په میاشتو میاشتو د انسان پر باطن باندې پاته وي، نو ځکه د دوی به دا انتظار وو: چې د الله هغه نیک بنده به دوباره کله دعوت وکړي، په لذت کې به شاید هغه هیڅ هم نه وي، لیکن باطني طور الله تعالی هغه دعوت د نوره ډک کړځولی دی.

## ظاهري او باطني برکت:

نو په خوړک کولو کې ظاهري برکت دا دی: چې ما درته بیان کړی، یعني چې د هغه شي مقصد انسان ته حاصل سي، راحت او خوند ور باندې واخلي، او په دغه سره د انسان په صحت او قوت کې اضافه او زیاتوالی راسي.
او باطني برکت دا دی: چې د هغه څخه په زړه کې نورانیت پیدا سي، خو انسان دغه برکات تر هغه وخته پوري نسي پیدا کولای: چې تر څو پوري د نبي کریم ﷺ د سنتو اتباع نه وي.
نن د "فېشن پرستۍ" زمانه ده، او خلګو د خپله ځانه نوي نوي طریقې د خوړک لپاره ایجاد کړي دي، نو ځکه کله د دوی څخه دا خبره ښکاره سي: چې دا خو د تهذیب خلاف ده، چې پر دسترخوان سړی کښېني، او په ناسته خوړک کوي، او چې پر ګوتو باندې کمه نفقه پرته وي، هغه په خوله سره څټل په دې سره انسان شرمیږي، او خلګ پر انسان خاندي او وایي: چې دا څومره غیر مهذب او ناښائسته انسانان دي.
لیکن په دې ښه سر خلاصول! چې ټوله تهذیب او ښائست د پیغمبر ﷺ په سنتو کې حصر دی، چې کم شي پیغمبر ﷺ تهذیب او ښائست بللی دی، نو هغه تهذیب او ښائست دی، د فېشن ښائست او تهذیب ته هیڅ اعتبار نسته، ځکه فېشن خو ورځ تر هغه بله په بدلون کې راځي، موږ ئې په سترګو وینو، چې کم عمل پرونډ د تهذیب خلاف وو، هغه نن د خلګو په سترګو کې هغه عمل عین تهذیب ورغلی دی.

## د پیغمبر ﷺ د خوړک معمول:

پخپله د پیغمبر ﷺ یو معمول د خوړک کولو په دوران کي دا هم وو: چي هغه
عموماً خوړک په دریو (۳) ګوتو سره کاوی، یعني یوه بټه ګوته، او دوهمه د شهادت
ګوته، او دریمه درمیانه ګوته، دا دري (۳) به ئې سره یو ځای کړې، او په هغه سره
ئې ګوله پورته کوله.

محدثینو د دې حکمتونه لیکلي دي: یو حکمت خو دا: چي کله انسان ګوله
دړو (۳) ګوتو پورته کوي، نو عموماً هغه ګوله وړه او کوچنۍ وي، او د کوچن
ګولي یوه فائده خو دا ده: چي په طبي لحاظ ګوله چي څومره کوچنۍ وي، هغه په آسا
طریقه هضم کیږي، ځکه لویه ګوله زیاته نه ژوول کیږي، نو چي کله "معدې"
ورسي، د هغه څخه نقصان پیشیږي.

او دا هم علماؤ لیکلي دي: چي په لویه ګوله کولو کي د انسان حرص ښکاره کیږي
چي هغه ډیر ناخوښه او ناپسنده عمل دی، او په کوچنۍ ګوله کي د انسان قناعت
ښکاره کیږي، چي هغه ډیر ښائسته عمل بلل کیږي.

نو ځکه د پیغمبر ﷺ معمول مبارک په دړو (۳) ګوتو سره خوړک کول وو، که څه هم
ده څخه کله نا کله په څلورو (۴) ګوتو سره هم خوړک کول ثابت دي، او په یو روایت
کي په پنځو (۵) ګوتو هم د پیغمبر ﷺ خوړک کول ذکر سوید ی.(۱)

چي د هغه څخه پیغمبر ﷺ دا خبره امت ته ښکاره کړېده: چي دا ټوله جائز دي، لیک
عام طور د ده سنت د درو ګوتو استعمالول وو، چي کله به د خوړک څخه فارغه سو، ن
هغه دري ګوتي به ئې څټلې.(۲)

## د صحابه کرامو عشق نبوي ﷺ:

د صحابه کرامو عشق ته ګوری! چي دوی د پیغمبر ﷺ هر کوچنی عمل زموږ لپاره پ
عجیبه طریقه محفوظه کړېدی، د دې لپاره چي موږ ته د هغه اتباع کول آسانه سي

---

(۱) فتح الباري، صفحه نمبر ۵۷۸، از کتاب سنت حبیب ﷺ، صفحه نمبر ۱۲۰

(۲) صحیح مسلم: کتاب الاشربه، باب استحباب لعق الاصابع، صفحه نمبر ۱۶۰۵، جلد نمبر ۲

هغوی موږ ته دا هم بيان کړيده؛ چي پيغمبر ﷺ به په کم ترتيب سره خپلي ګوتي مبارکي څټلې.

هغوی دا فرمايلي دي: چي د پيغمبر ﷺ د ګوتو څټلو ترتيب داسي وو: چي اول به ئې د مابين ګوته، بيا د شهادت ګوته، او بيا به ئې بټه ګوته څټله.[1]

چنانچه صحابه کرامو به پخپل مابين کي باقاعده د دې تذکره سره کوله: او دوی به يو بل ته ترغيب سره ورکاوی: چي موږ خو د پيغمبر ﷺ د دغه عمل کول په دا شان ليدلی دی: بايد موږ ئې هم دغسي وکړو.

نو د خوړک کولو څخه وروسته ګوتي نه څټل، څه د ګناه خبره خو نه ده، او نه انسان په دې سره ګنهګاره کيږي، البته دا ويلای سو: چي د سنت د برکت څخه محرومي ضرور په کي راځي.

## د مسلمان قوم عزت:

مسلمان دي پخپل دماغ کي دې خبري ته ځای ورکړي: چي الله تعالی چي ده ته کم عزت ورکړيدی، يا ئې ورکوي، هغه ټوله د پيغمبر ﷺ د عزت په خاطر دی.

ځکه د رواياتو څخه دا معلوميږي: چي الله تعالی د پيغمبر ﷺ د بعثت سره يعني چي دی ئې دنيا ته د يو مبعوث پيغمبر ﷺ په شکل را واستاوی، نو ئې پر عرش باندي يو فيصله وليکله: چي د هغه فيصلې اعلان پيغمبر ﷺ کوي:

.........جُعِلَ الذِلَّةَ وَ الصَّغَارَ عَلَى مَنْ خَالَفَ اَمْرِي﴾.([2])

د نن څخه بعد ای پيغمبره! ذلت او رسوائي د هغه قوم او طبقې په نصيب وي: چي هغه ستا پر نقشه باندي ژوند نه تيروي؛ چي د هغو د ژندګی تېرولو هر عمل ستا پر سنت طريقه باندي نه وي.

او الله تعالی پيغمبر ﷺ ته وايي:

..........يَا مُحَمَّدَا لَوْاسْتَفْتَحُوا كُلَّ بَابٍ وَ جَاؤُوْنِى مِن كُلِّ طَرِيْقٍ لَمَا وَسَعَهُ اِلَّا اَتْبَاعُکَ﴾.

---

([1]) جمع الوسائل: صفحه نمبر ۱۸۹، سنت حبيب ﷺ: صفحه نمبر ۱۲۰

([2]) شرح سير کبير، جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۶

د نن څخه بعد ای محمده! که دغه انسانان هره دروازه وټکوي، او پر هره لار باندې
ماپوري د راتګ کوشش وکړي، چي ترڅو پوري ستا نقشه او ستا سنت طريقه نه وي
هيڅکله تر ماپوري راتلای نسي.
نو ځکه پيغمبر ﷺ به فرمايل:
.........لَوكَانَ آدمَ صَفِيّ الله حيًّا لَمَا وَسِعَهُ اِلَّا اتِّبَاعِي﴾.
کچيري حضرت آدم علیه السلام ته نن په دنيا کي الله تعالی ژوند ور کړي، نو هم به زما
طريقه ژوند تېروي.
.........لَوكَانَ اِبْرَاهِيمَ خَلِيْلُ الله حيًّا لَمَا وَسِعَهُ اِلَّا اتِّبَاعِي﴾.
نن کچيري حضرت ابراهيم علیه السلام ته الله ژوند ور نصيب کړي، نو به هم زما پر نقشه خ
ژوند تېروي.
نو د پيغمبر ﷺ د راتګ څخه وروسته د دې انسانيت ټوله عزت د پيغمبر ﷺ په نبو
نقشه کي دی، چي د دوی ناسته او ولاړه، خورک، چيښک، تګ او راتګ، غرض د
چي د زندګی هر ترتيب به ئې د پيغمبر ﷺ پر سنت طريقه وي، نو بيا به په دنيا ک
دوی د کاميابه قوم په شکل ژوند تېروي.
نن خو مسلمان د مغربي قومونو نقالي شروع کړه، چي د سر څخه تر پښو پوري ئې خ
د هغوی په رنګ کړی، په لباس او پوشاک، خورک، او چيښل، ناسته او ولاړه، يعن
چي څه ئې د هغوی څخه وليدل، نو ئې ور سره شروع کړل، او دا ئې سوچ او فکر ج
کړی: چي په دې کي به زموږ عزت وي.
حالانکه هغه قوم نن مسلمان ته د ذلت په نظر ګوري، او په هر ځای کي ئې پر م
ټکوي، او د ځمکي پر مخ ئې د ژوند تېرولو دائره ور باندې تنګه کړېده.
هغه ځکه چي مسلمان خپله نبوي د عزت نقشه پرېښوله، او د دغه قومونو نقالي ا
طريقه ئې اختيار کړه، په دې وجه چي که نن موږ د پيغمبر ﷺ پر سنت طريقه ژون
روان کړو، نو بيا به دغه قومونه موږ ته د بنياد پرستی پېغور راکوي، او موږ به غ
مهذب او خودپرسته بولي.

حالانکه دغه طعنې د حق د لارې د تلونکو زيور دی، يعني چې کله انسانان د حق پر لارو باندې روان سويدي، دوی ته همېشه دغه خبرې او پېغور ور کول سويدی: چې پېغمبرانو ته هم دا ويل سويدي:

.........وَمَا نَرَاكَ اتَّبَعَكَ إِلَّا الَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ الرَّأْيِ﴾.(¹)

چې موږ خو وينو کم خلک چې په تاسو پسې دي، هغه خو ډېر غريب خوار او غيرمهذب انسانان دي، نو دغه طعنې په هر وخت کې پېغمبرانو ته هم ور کول سويدي.

موږ کچيرې مسلمانان يو، او د پېغمبرانو تابع يو، او دهغه د امتيانو يو، نو د هغوی په وراثت کې که يو طرف ته نورې خبرې راپاته دي، نو دغه طعنې او پېغور هم د هغوی د وراثت يو حصه ده، نو د دې طعنو په خاطر د سنت طريقې څخه مخ نه ګرځول، بلکه دغه سنت طريقه په هره زمانه کې په هر عمل کې د خپل ځان لپاره باعث فخر بلل چې الحمد لله چې کمې طعنې انبياؤ ته ور کول کيدې، هغه موږ ته هم راکول کيږي.

نو د هغه پرواه د خپل زړه څخه ايستل، او په هر عمل کې دا کتل: چې د پېغمبرﷺ طريقه څه وه؟ او پر هغه طريقه باندې هغه عمل کول انشاء الله په دنيا کې د عزت سبب ده، ځکه د دې امت لپاره د عزت لويه ذريعه د پېغمبرﷺ د سنتو اتباع ده.

## پر اتباع سنت باندې لوی بشارت،

د پېغمبرﷺ د سنتو پر اتباع باندې الله تعالی په قرآن کريم کې ډېر لوی زيری او بشارت بيان کړيدی، لکه الله تعالی فرمايلي دي:

.........قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ﴾.(²)

ای پېغمبره! ته ټولو ته ووايه، کچيرې تاسو د الله سره محبت کوئ، نو زما اتباع به کوئ، او زما پر نقشه او سنتو به ژوند تېروئ، نو تاسو به الله تعالی محبوب جوړ کړئ.

(¹) سورة هود، آيت نمبر ۲۷
(²) سورة آل عمران، آيت نمبر ۳۱

نو د پیغمبرﷺ د خورک یوه طریقه په درو (۳) ګوتو سره خورک کول وو، او بیا د خورک کولو څخه وروسته خپلې ګوتي څټل، لکه، حضرت کعب بن مالکؓ د پیغمبرﷺ سنت طریقه رانقل کوي، او وایي:

............﴿انّ رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ كَانَ يَأكُلُ بِثَلَاثِ اصَابِعَ، فَإذَا فَرَغَ لَعِقَهَا﴾.(۱)

پیغمبرﷺ به همېشه په درو ګوتو سره خورک کاوی، او چي کله به د خورک کولو څخه فارغه سو، بیا به ئې هغه ګوتي څټلې.

هم دغه رنګه حضرت جابرؓ هم د دې حدیث معنٰی رانقل کوي،

..........﴿انّ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ أمَرَ بِلَعْقِ الْأصَابِعِ وَالصّحْفَةِ، وَقَالَ: إنّكُمْ لَا تَدْرُونَ فِي أيّهِ الْبَرَكَةُ﴾. (۲)

چي پیغمبرﷺ به د ګوتو څټلو حکم کاوی، او هم به د پیالې صفا کولو حکم کاوی، او هم به ئې دا ویل، چي تاسو ته څه معلومه ده، چي د دغه خورکې په کمه حصه کي برکت دی،

## د کاچوغې په خورک کي سنت ادا کول،

بعض انسانان د بر څله خپل خورک په کاچوغه سره کوي، او خپل لاس خورک ته نه وروري، نو په دې وخت کي به د ګوتو څټلو پر سنت انسان څنګه عمل کوي؟ څکه خورکه خو دلته په ګوتو سره نه وي،

بعض علماؤ فرمایلي دي، کچیري د انسان خورک په کاچوغه سره وي، نو چي پر کاچوغه کمه حصه د خورکې مښتې وي، هغه دي وڅټي، او دا دي نیت وکړي، چي پیغمبرﷺ فرمایلي دي، چي نه معلوم د خورکې په کمه حصه کي برکت وي، زما پر ګوتو که څه هم خورکه نه ده مښتې، نو پر کاچوغه خو مښتې ده، نو هغه دي صفا کړي، نو د الله تعالی په دربار کي امید دی، چي د سنت طریقې د ادا کولو ثواب به هم پیدا کړي، او هم به د سنت طریقې د نورانیت څخه محرومه نسي.

---

(۱) مسند احمد، حدیث نمبر ۲۷۱۶۹

(۲) صحیح مسلم، حدیث نمبر ۲۰۳۳

## د خورک په دروان کې د پیغمبر ﷺ بل هدایت:

د خورک په دروان کې کچیري د انسان څخه یو ګوله یا د ګولې یوه حصه ولویږي، نو هغه دې راپورته کوي، او د صفا کولو څخه وروسته دې ئې خوري، دا هم په خورک کولو کې د پیغمبر ﷺ یو سنت طریقه ده.

لکه حضرت جابر ﷺ د پیغمبر ﷺ یو روایت رانقل کوي؛

.........إِذَا وَقَعَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيَأْخُذْهَا، فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ أَذًى وَلْيَأْكُلْهَا،).(¹)

کچیري د خورک کولو په دوران کې په تاسو کې د یو سړي څخه ګوله ولویږي، نو مناسب دا ده، چې هغه راپورته کړي، کچیري پر هغه باندې یو شی یعنې خاوره یا نور څه لګیدلي وي، هغه دې صفا کړي، او هغه ګوله دې وخوري، ﴿وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ﴾ او د شیطان لپاره دې ئې نه پریږدي.

د خورک کولو په وخت کې دېر ځله داسې کیږي، چې یو څه حصه د انسان څخه پر ځمکه ولویږي، نو د هغه د راپورته کولو څخه انسان شرمیږي، نو پیغمبر ﷺ دا فرمایلي دي: چې داسې نه کول، بلکه دا د الله تعالی رزق دی، د هغه عطا ده، د دغه ناقدري نه کول.

کچیري هغه ګوله داسې ځای ولویږي، چې بلکل مکمله خرابه ناپاکه سي، او د هغه صفا کول او خوړل ممکن نه وي، نو بیا خو مجبوري ده، لیکن چې تر څو پوري د هغې راپورته کول، او خوړل ممکن وي، نو باید انسان ئې نه پریږي، ځکه دا د الله تعالی رزق دی، د هغه ادب، تعظیم، او قدر واجب دی.

کچیري انسان د الله تعالی د رزق د دغه کوچنیو حضو تعظیم نه وکړي، نو د الله تعالی د طرفه په هغه رزق کې برکت نه راځي.

لیکن نن سبا زموږ معاشره دا حال ته رسیدلې ده؛ چې دغه عمل یعنې ګوله راپورته کول، او بیا خوړل، د آدابو خلاف بولي، نو ځکه د هغه په را پورته کولو شرمیږي، او وایي، که زه دغه ګوله راپورته کړم، نو خلک به وایي، چې څومره نادیده، او د تهذیبه لیري انسان دی.

(¹) صحیح مسلم، کتاب الاشربه، جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۱۶۰۶

حالانکه د مسلمان لپاره ښه طریقه دا ده: چې هغه په هر صورت او د ژوند په هره گوښه کي دپیغمبر ﷺ د سنت طریقې خیال وساتي، کچیري پر سنت طریقه انسانان و ده ته په هر قسم نظر گوري، دی د هغه پرواه و نه کړي، لکه د صحابه وو هم دا طریقه وه.

## د حضرت حذیفه رضی الله عنه ایماني جرأت:

حضرت حذیفه رضی الله عنه پیغمبر ﷺ ته په ډېرو قریبو صحابه وو کي وو، او د ده لقب وو: ..........صَاحِبُ سِرِّ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ ).

یعني دی د پیغمبر ﷺ رازدار او د هغه د پټو حالاتو څخه خبر وو، چې په مدینه منوره کي به پیغمبر ﷺ د ټولو منافقینو د نمونو لیست و ده ته ور ښوولی وو، او ده ته به د مدینه منوره کي د ټولو منافقینو معلومات وو.

حضرت حذیفه چي کله د مسلمانانو په لښکر کي ملگری وو، او دوی پر "کسریٰ" باندي حمله وکړه، "کِسریٰ" پخپل عصر کي ډېر لوی قوت وو، او د "ایران" تهذیب په ټوله دنیا کي مشهوره وو.

ځکه په دنیا کي دوه تهذیبه وو: یو د روم، او بل د ایران، ایراني تهذیب پخپل نظافت او صفائي کي ډېر زیات مشهور وو، چي کله د "کِسریٰ" سره څه معرکه وسوه، نو هغه مسلمانانو ته پیغام راواستاوی: چي راسئ! زموږ سره مذاکرات وکړئ.

صحابه کرامو یو څو کسان چي په هغه کي حضرت حذیفه بن یمان رضی الله عنه هم وو، مذاکراتو او خبرو لپاره و "کِسریٰ" ته ور واستول.

"کِسریٰ" د دنیا په عظیم ترینو بادشاهانو کي یو بادشاه وو، چي په ("کلاه کیان") باندي مشهور وو، یعني کړه خولۍ پر سر کونکی دا د ده د تکبر او د فخر علامت ښکاره کول وو.

حضرت حذیفه او د ده ملگری حضرت ربعي بن عامر رضی الله عنه په دغه شان د "کسریٰ" دربار ته راغلل، چي په لاس کي ئې توري ولې، او د حضرت ربعي توره یو څه مات سوې، چي غالباً هغه ئې په یو معمولي رښکي باندي تړلې وه.

چي کله دوی د "کِسریٰ" محل ته داخلیدل، نو په دروازه کي چوکیدار راوگرځول چونکه د دوی ډېره زمانه د معرکو په سفرونو کي تیره سوې، نو کپړې ئې خیرني وې

نو د "کِسرٰی" د محل چوکیدار ورته وویل: تاسو په دغه خیرنو کپړو کې د "کِسرٰی" دربار ته نسئ ورتللای، تاسو ته به صفا لباس او جُبې در کول کیږي، د هغه دا غوستلو ځخه وروسته به تاسو د "کِسرٰی" حضور ته پیشیږئ.
حضرت ربعي بن عامر ﷺ ورته وویل: چې موږ خو پخپله د هغه د ملاقات خواهش نه دی ظاهر کړی، ځکه ده پیغام را استولی دی، چې تاسو ملاقات ته راسئ، او د ملاقات خواهش هم ده ظاهر کړیدی، کچیرې په داغه حالت کې زموږ سره خبره کوي، نو خو تیار یو، او که په دغه لباس کې زموږ سره ملاقات نکوي، نو موږ هم د ده د ملاقات ضرورت نلرو، واپس ځو.

## د حضرت ربعي ابن عامر قوت:

هغه چوکیدار ورته وویل: دا ستا په لاس کې چې کمه ماته توره ده، ایا دا هم یو توره ده؟ او په دغه توره ته د ایران فتحه کولو ته راغلی ئې؟ او په دغه توره ته ایران فتحه کوې؟
حضرت ربعي بن عامر جواب ورکوي: چې تاخو توره ولیدله، لیکن توره چلونکی لاس دي نه دی لیدلی، هغه چوکیدار غوښتنه وکړه، چې ته لاس هم رابنکاره کړه، ده ورته وویل:
کچیرې ته د دغه لاس تجربه کول غواړې، نو ستا سو په ټوله ایران کې چې د ټولو ځخه زیات مضبوط ډال او سپر وي، او هغه د توري وار راګرځوي، ته هغه راوغواړه، او د یو چا په لاس ئې ورکړه، او دلته ئې و دروه، بیا به تاته در معلوم سي، چې توري چلونکی لاس ځنګه وي؟
هغه هغه ډال راطلب کړی، چې ډېر مضبوط وو، او یو انسان ته ئې په لاس ورکړی، او وحضرت ربعي ﷺ ته ئې ودراوی، حضرت ربعي ابن عامر ﷺ چې کله پر هغه باندې د توري وار وکړی، نو هغه ډال دوې ټکړې سو، په دې وخت کې نه معلوم چې د ده سره د کم مخلوق قوت الله تعالی ملګری کړی، چې هغه چوکیدار د ده و دغه قوت ته په حیرت کې پاته سو، نو ئې ورته وویل: چې بس تاسو په داغه حالت کې ورسئ، او د بادشاه سره خبره وکړئ.

## د حضرت حذيفه ﷺ د سنت طريقې خيال ساتل،

چې کله حضرت حذيفه بن يمان ﷺ د خپل ملګرو سره هلته ورغلي، نو هغو د د
مدارات په خاطر يو څه خوړکه ورته برابره کړه، او دی پر هغه خوړکه بانديې د ملګ
سره کښېناستی.

د خوړک کولو په دوران کې د ده د لاس څخه يوه ګوله پر مځکه ولويده، نو فورا
پيغمبر ﷺ حديث وريادسو، چې هغه به فرمايل،

کچېرې ستاسو څخه يوه ګوله ولوېدله، نو هغه مه ضائع کوئ، بلکه دهغه خاوره،
خيره صفا کړئ، نو ئې وخورئ.

چنانچه دوهغه ګوله راپورته کړه، د صفا کولو څخه ورروسته ئې و خوړله، چې کم ځو
د ده سره ناست وو، هغه ورته وويل: بايد داسې دې نه واى کړي، ځکه دا د "کسرى
دپرلوی عالي شانه دربار دی، په دې دربار کې په دې عمل خلک ستا ناقدري کوي
او د بيعزتی په سترګه درته ګوري، او هم دې سپک بولي، او وايي: چې دا دپرنادېد
او بې تهذيبه خلک دي، نو ځکه مصلحت په دې کې وو، چې نه دې هغه ګوله راپورا
کړې واى، او نه دې خوړلې واى.

حضرت حذيفه ﷺ په جواب کې يو عجيبه جمله ورته پيشوي،

......... اَتْرُکُ سُنَّةَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ لِهٰؤُلَاءِ الْحُمَقَاءِ).(۱)

ايا زه به د خپل نبي سنت د دغه بې وقوفه انسانانو په خاطر پرېږدم، چې دا به بيا زه
دغه عمل بد بولي، يا زما تذليل کوي؟ نو زه په هيڅ صورت کې د پيغمبر ﷺ سنت
طريقه دخپله ژوند څخه نسم ليري کولای.

## د "کسرى" سلوک،

"کسرى" ته د دوی د دغه عمل څخه ډېره غصه ورغله، چې دوی د شاهي آدابو ډېر
سپکاوی وکړی، نو چونکه دوی قاصدان ول، قتل کولای خو ئې نسوای، او نه ئې
سزا ورکولای سوه.

---

(۱) اسلامي تهذيب، صفحه نمبر ۱۰۰، افادات اشرف علي تهانوي، سنتي جنت، صفحه نمبر ۲۱۵

نو ئې خپل يو درباري ته وويل، چې بطور سزا يوه ټوکرۍ د خاورو ډکه کړه، او د دوی پر سرئې ور کړه، او د دربار څخه ئې و باسه، چې په دې شکل د دوی تذليل وسي، او د ذلت په طريقه زموږ د دربار څخه رخصت سي.

## تاسو د ايران خاوره موږ ته راکړه،

صحابه وو هغه خاوره پر سر واخيسته روان سوه، او "کسری" ته ئې وويل: چې تاخو په خپل اختيار د "ايران" خاوره موږ ته راکړه، او اوس ايران زموږ سو، د دغه وينا کولو سره دوی د دربار څخه ووتل.

الله تعالی دوی ته د سنتو د اتباع په خاطر هغه عزت او اکرام ورکړی، چې کله د دوی په لاس "کسری" هلاک سو، نو دغه وخت د پيغمبرﷺ دغه حديث مبارک پوره سو،
.........إِذَا هَلَكَ كِسْرَى، فَلَا كِسْرَى بَعْدَهُ).(¹)

چې کله يو ځل "کسری" هلاک سي، نو بيا بل "کسری" د ده څخه وروسته نه پيدا کيږي.

## اتباع سنت او فتوحات،

د اتباع سنت په وجه باندې الله تعالی دې امت ته زيات فتوحات ورکړي دي، لکه د سيرت په کتابو کې ليکلي دي،

چې کله عدي ابن حاتم رضي الله عنه ته پيغمبرﷺ د اسلام دعوت ورکړی، ده چونکه د ايران او د روم د بادشاهانو جاه او جلال ليدلی وو، چې کله د پيغمبرﷺ سره کښيناستی، نو هغه د خپل ځنګ هالبنت و ده ته پيش کړی، او پخپله د غسې ورته کښيناستی، نو ئې ورته وفرمايل، ای عدي! ايمان راوړه، سلامتيا او کاميابي به دې په نصيب سي، عدي رضي الله عنه په سوچ او فکر کې ډوب ولاړی.

"عدي بن حاتم" دا د "حاتم طائي" زوی وو، او "حاتم طائي" د "بنو طی" د قبيلې مشهوره سردار تير سو، او ډير زيات سخي وو، او دغه عدي د هغه جانشين وو.

(¹) صحيح مسلم، حديث نمبر ۲۹۱۹

د څه خاموشۍ څخه وروسته پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل: چې ايا دا در وښيم، چې ته ولې خاموشه سوې؟ عدي ورته وويل، چې هو، راته ووايه، پيغمبر ﷺ ورته وويل: چې ته اسلام راوړلو ته ځکه نه ئې تيار، او خاموش ئې ستا په ګمان کې دا دي: چې د ده دښمنان خو زيات دي، او دوستان ئې کم دي، او پر ده ايمان راوړونکي ټول غريبان دي، چې خلګو د خپلو کورو څخه ايستلي دي، نو د دوی په ملګرتيا کې به زما کمه فائده وي، او حکومت د نورو په لاس کې دی، نو زما ايمان راوړل، به ماته د ذلت څخه سوا نور هيڅ رانکړي، نو په دغه سوچ او فکر کې ته ورک ئې او د دا خبرو په خاطر ايمان راوړلو ته نه تيارېږې.

"عدي" قسم خوري: چې زما په خدای قسم: چې کمې خبرې پيغمبر ﷺ په هغه ورځ باندې و ماته وکړې، هغه ټولې يقيناً هم زما په سوچ او فکر کې پر لره ګرځيدلې، او د هغه په وجه ما د اسلام راوړلو جرأت نسو کولای.

وروسته پيغمبر ﷺ ورته وويل: ای عدي! زما خبره واوره، د خدای په ذات قسم! چې زما يو څو خبرې به ضرور رشتيا کيږي، کچيرې ته ژوندی وې، نو په خپلو سترګو به ئې وويني.

په هغوی کې يوه خبره دا: چې "کسری" (د ايران بادشاه) او هرمز (د "کسری" زوی) د دوی علاقې او حکومتونه به فتحه کيږي، او ته به هم د هغو په فتحه کې شريک ئې، او د دوی "قصرابيض" (سپينه ماڼۍ) به مسلمانانو لره په لاس ورځي.

او د دوی خزانې به "مسجد نبوي" ته راځي، او د غنيمت په شکل به په "مدينه منوره" کې تقسيمېږي، او د دوی لوښي به د مينځو پشان په "مسجد نبوي" کې سره وېشل کيږي.

حضرت عدي ؓ وايي: چې ما خو د "کسری" جاه او جلال ليدلی وو، نو دا خبره مې هيڅکله په برداشت کې نه راتله، نو د ده مبارک خبره مې ور پرې کړه، او د خبرې په درميان کې مې ورته وويل، دا ته اوس څه وايې؟ ته د ايران د بادشاه چې د هغه لقب "کلاه کج ايران" دی يادوې، که بل کسری ستا په نيت کې دی؟ ده راته وويل: نه نه، زما مراد د "ايران" والا "کسری" دی، چې کم لقب ئې تا ياد کړی.

او اې عدي! دا هم درته وايم؛ "تاحيره" (دا د عراق پر کناره يو ښار دی) ليدلی دی، حضرت عدي ﷺ وايي: چي ما ورته وويل: ليدلی خو مي نه دی، البته نوم مي ئې اوريدلی دی، ده راته ورزيل؛ چي يو ښائسته او خوبصورته زنانه چي په زر او زيور به آراسته وي، را روانه سي، او تر "بيت الله" پوري به يوازي راسي، او په ټوله لار کي به د هغې سره نه د ځان او نه د مال او نه د عزت لوټ کيدلو خطره وي.
حضرت عدي وايي؛ ما په دې زړه کي د ځان سره وويل: ﴿فَأَيْنَ لِصُوْصُ بَنِيْ طَيٍّ﴾ هغه زموږ د قبيلې غله به چيري وي، چي په دغه شکل زنانه ځني راتيريږي، ځکه د بنو طی قبيلې غله چي په ټوله عربو کي مشهوره ول.(١)
بيا څه وسول، د دريای دجله پر کناره د مداين يو ښار دی، چي د "ايران" نيمه حصه د هغه سره لگيدلې ده، او دوهم نيمی ئې د عربو سره لگيدلی دی، پر دغه نيمی ښار چي کله حضرت سعد ابن ابي وقاص حمله وکړه، او د هغه پر قلعه ګانو ور پورته سو، په هغو کي عدي ابن حاتم هم وو.
چي کله صحابه د ايران "قصر ابيض" (سپينه مانۍ) ته ور ننوتل، نو په هغه انسانانو کي هم حضرت عدي وو، نو حضرت عدي ﷺ چي کله د ايران "قصر ابيض" فتحه سوی وليدی، نو ئې په زوره چيغه کړه: ﴿اَللّٰهُ اَكْبَرُ صَدَقَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ﴾ د الله او د هغه د رسول خبره صادقه سوه، چي زما د ايمان راوړلو په وخت کي ئې د "قصر ابيض" د فتحه کېدلو متعلق ماته ويلي وو.(٢)
د ايران خزانې چي کله مدينې ته راغلې، نو بيا په مسجد نبوي کي د غنيمت په شکل د هغو تقسيم کيدی.

د ايران د بادشاه تاج راوړل سو، چي دو نيم منه وزن خالص سره زر وه، يعني سل(١٠٠) کيلو وو، او س هغه به "کسری" پر سر څنګه ايښووی؟ او دا دومره بوج به ئې څنګه برداشت کاوی؟ نو هغه ئې دننه په يو ځنځير ترلی وو، چي د باندي هغه ځنځير يا تار د

(١) صحيح البخاري، باب علامات النبوة، جلد نمبر١، صفحه نمبر٥٠٧
(٢) زرقاني، جلد نمبر٣، صفحه نمبر٥٣، د ده د اسلام راوړلو مفصله واقعه په "اصابه" کي موجود ده.

د ايران د بادشاه تاج راوړل سو، چي دو نيم منه وزن خالص سره زر وه، يعني سل(۱۰۰)
کيلو وو، اوس هغه به "کسری" پر سر څنګه ايښوؤی؟ او دا دومره بوج به ئې څنګه
برداشت کاوی؟ نو هغه ئې دننه په يو ځنځير تړلی وو، چي د باندي هغه ځنځير يا تار د
ليري ځای څخه نه معلوميدی، چي کله به انسان د پر قريب ورته راغلی، نو بيا به ور
معلوم سو.

"کسری" به د هغه تاج څخه لاندي د "تاج" په برابري کي کښيناستی، او سر به ئې پر
تاج برابر وو، د خلګو به دا خيال وو: چي دا زموږ خدای دی، او د ده سره دومره طاقت
دی، چي دا دومره وزني تاج ئې پر سر نيولی دی، او هم ئې د هغه تاج بوج برداشت
کړيدی، نو به دوی و هغه ته په سجده کي پراته وو، نو هغه تاج په مسجد نبوي کي پر
چتائي باندي پروت وو.

او د "کسری" تخت چي کله مديني ته راغلی، نو يو سل اويا(۱۷۰) ګزه، دهغه
اوږدوالی وو، او يو سل لس(۱۱۰) ګزه د هغه فراخ والی وو، او پر هغه باندي درو
پنځوس(۵۳) منه او درويشت(۲۳) سيره سونه لګيدلې وه، ځکه چي د هغه د
خوبصورتۍ لپاره زر(۱۰۰۰) ګنبدي د سرو زرو لګيدلي وې، چي په هغه کي يو لک
څلويښت زره(۱۴۰۰۰۰) د سپينو زرو مېخونه لګېدلي وه، چي د د هغه مېخو
مجموعي وزن دوولس سوه ديارلس(۱۲۱۳)منه وو، او دا تخت هم د مديني په
مسجد نبوي کي پروت وو.

يو غالی(قالين) چي د هغې نوم: "باغ" او "بهار" وو، چي دوه سوه شل(۲۲۰) ګټه
د هغه اوږدوالی او يو سل نيوي(۱۹۰) ګټه د هغه پراخوالی وو، چي پر هغه باندي
دوی د نقشو په شکل د ملغلرونهرونه جوړ کړي وو، او د سرو زرو حاشيې وې، او د
وريښمو او سرو زرو ملغلرو او جواهرو په مختلفو اشکالو ئې پر هغه باندي د
"ايران" نقشه جوړه کړې وه.

چي د يخ په موسم کي به "کسری" هغه هواره وله، او پر هغه به ئې "موسم بهار"
جوړاوی، او پر هغه به ئې د شرابو چيښلو مجلس روان وو، دغه غالی هم د مسجد
نبوي په صحن کي پرته وه.

حضرت عمرﷺ د ملګرو څخه مشوره وغوښته: چي دغه "غالي"(قالين) به څه په کوو، نو هغوی ورته ورېل: چي دا به محفوظه کړو، ځکه چي دا يو يادګار دی.

حضرت علي ﷺ ورته وويل: چي داد عياشي يادګار دی، بايد موږ ئې ختم کړو، نو حضرت عمرﷺ وفرمايل: چي ابوالحسنﷺ رشتيا وايي، نو ئې حکم وکړی: چي دغه ټکړه ټکړه کړی، او بيا ئې د غنيمت په شکل صحابه وو ته ور تقسيم کړی، نو د تقسيم څخه وروسته يوه لويشت د هغه غالی(قالين) چي د قُټ څخه هم کمه ده په زر(۱۰۰۰) دراهمه خرڅه سوه.(۱)

دا هر څه عزتونه کاميابی چي الله تعالی صحابه کرامو ته ور نصيب کړي، دا ټوله د سنت طريقو د اتباع برکت وو، نو د دې امت لپاره عزت صرف د پيغمبرﷺ د سنتو په اتباع کي دي.

او د سنتو د اتباع يو شکل دا دي: چي بايد انسان خوړک په درو ګوتو سره وکړي، او د خوړک کولو په وخت کي کچيري د انسان څخه يو ګوله ايله سي، بايد د شرم په خاطر هغه نه پرېږدي، بلکه راپورته ئې کړي، د صفا کولو څخه وروسته ئې وخوري.

صرف خوړک نه بايد مسلمان د زندګی په هره ګوشه کي د پيغمبرﷺ سنت عملي کول د خپل ځان لپاره عزت وبولي، د يو معمولي شرم يا د چا د طعنې او پيغور په وجه هغه نه پرېږدي، دا به د هغه امتي د پيغمبرﷺ سره وفا وي، او د هغه سره د وفا کولو پخاطر به الله تعالی دغه امتي ته فلاح دارين ور نصيب کړي.

---

(۱) صحابه کرام کي عظمت: صفحه نمبر ۲۲۴

الله تعالى دي مي زندګي د پيغمبرﷺ پر سنت طريقه برابره كړي، او هم دي
پيغمبرﷺ په سنت طريقه باندي د عمل كولو توفيق رانصيب كړي، او هم دي دا
څو خبري په خپل دربار كي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیہ)

# د میلمه عزت او اکرام کول

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰه صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰه صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ،
وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا﴾.(١)

﴿ وَ عَنْ كَعْبِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْكُلُ بِثَلَاثِ أَصَابِعَ، فَإِذَا فَرَغَ لَعِقَهَا﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَىٰ ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهید:**

محترمو حاضرينو! په تیره جمعه کي ستاسو حضور ته ما د پیغمبر ﷺ د خورک کولو طریقه بیان کړې وه.

چي د پیغمبر ﷺ عادت مبارک دا وو: چي هغه به همیشه خورک په درو ګوتو: یعني ابهامه، سبابه، او وسطی، باندي کاوی.

او که به چیري د ده څخه د خورک کولو په دروان کي ګوله یا د ګولي یو حصه ولوېدله، نو هغه به ئې را پورته کوله، او چي پر هغه به کمه خاشه او خاوره، یعني خرابي لګیدلې وه، لیري کوله، او بیا به ئې خوړله.

او د خورک کولو څخه وروسته به پیغمبر ﷺ خپلي ګوتي مبارک د وللو، او یا په تهوال او کاغذ باندي صفا کولو څخه مخکي په خوله سره څټلې او صفا کولې.

لکه د حضرت کعب بن مالک ﷺ روایت دی:

---

(١)سورة الانسان: آیت نمبر ۸

(٢)صحیح مسلم: حدیث نمبر ۲۰۳۲

.........انَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْكُلُ بِثَلَاثِ أَصَابِعَ، فَإِذَا فَرَغَ لَعِقَهَا﴾. (۱)

چي پيغمبرﷺ به په درو گوتو باندي خورک کاوی، او د خورک څخه به چي فارغه سو، نو گوتي به ئې په ژبه باندي څټلې.

او د حضرت جابرؓ په روايت کي بيا داسي راغلي دي:

..........أَمَرَ بِلَعْقِ الْأَصَابِعِ وَالصَّحْفَةِ، وَقَالَ: إِنَّكُمْ لَا تَدْرُونَ فِي أَيِّهِ الْبَرَكَةُ﴾.(۲)

چي پيغمبرﷺ د گوتو څټلو سره سره د پيالې او لوښي د صفا کولو حکم هم کړ او دا ئې فرمايلي دي: چي تاسو ته څه معلومه ده؟ چي د خورکې په کمه حصه کي برکت دی؟

په دې حديث کي د پيالې ضفا کول هم اضافه سوی دي، چي انسان به د خورک څخه وروسته گوتي هم څټي، او چي په کم لوښي کي خورک کوي، هغه به هم صفا کوي، چي دا الله تعالى د رزق ناقدري ونه سي.

## د بزرگانو وينا:

زموږ بزرگانو ليکلي دي: چي کله يو سړی په خپل ژوند کي د الله تعالى د رزق قدر کوي، او هغه نه ضائع کوي، نو الله تعالى همېشه ده ته رزق د قدر او عزت په طريقه رسوي.

او که چيري يو انسان د رزق ناقدري کوي، نو رزق خو هسي هم د الله تعالى وعده ده چي ده ته به رسيږي، ځکه الله تعالى دا وعده کړې ده:

.........وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا﴾.(۳)

چي د مځکي پر مخ د مخلوق رزق الله تعالى ور رسوي.

خو د رزق په پيدا کولو کي به همېشه دی بې قدره او بې عزته وي، ځکه چي د الله تعالى د رزق قدر او عزت نه دی کړی.

---

(۱) صحيح مسلم: حديث نمبر ۲۰۳۲

(۲) صحيح مسلم: حديث نمبر ۲۰۳۳

(۳) سورة هود: آيت نمبر ۶

## د خوړک کولو بهترینه طریقه:

ښه طریقه خو داده: چي په لوښي کي انسان دومره خوړک و خپل مخ ته کښېږدي، چي څومره د ده د خوړک کولو اراده وي، او زیات خوړک په لوښي کي و خپل مخ ته نه کښېږدي، نو که چیري یو لږ څه د ده څخه پاته سي، نو هغه هم و خوري، او هغه لوښی صفا کړي.

لیکن که چیري بالفرض د ده څخه خوړک په لوښي کي زیات پاته سو، او د هغه د خوړلو ګنجائش د ده سره نه وو، نو هم بعضي خلک وایي: چي د دین حکم دا دی: چي دغه به ختموي.

او لوښی به صفا کوي، که څه هم دغه خوړک د ده د بیماری ذریعه جوړېږي، لیکن په حقیقت کي د دغه خبرو د دین سره هیڅ تعلق نسته.

نو اول خو خوړک کم مخته ایښول، لیکن که زیات سو، او د خوړک ګنجائش ئې نه وو، نو هغه باقي خوړک په لوښي کي پرېښول، شرعاً د دې ګنجائش او اجازت سته.

لیکن پرېښول هم په داسي طریقه: چي هغه پاته حصه د خوړکې د لوښي یو طرف ته کول، او په لوښي کي سره خوره وره نه پرېښوول، او د لوښي و خپل مخ ته حصه صفا کول.

چي یو څوک بیا وروسته دغه خوړکه خوري، نو د هغه زړه څني بد نه سي، او نه ئې خواه څني ماته سي، بلکه په شوق او رغبت سره دغه پاته خوړکه وخوري، او هغه پاته خوړکه ضائع نه سي.

## د یوه انسان خوړک د دوو لپاره کافي کېدای سي:

داغه رنګه د خوړک متعلق حضرت جابر رضي الله عنه د پیغمبر ﷺ یو بل ادب او طریقه هم رانقل کوي، چي پیغمبر ﷺ به همېشه ویل:

......طَعَامُ الْوَاحِدِ يَكْفِي الِاثْنَيْنِ، وَطَعَامُ الِاثْنَيْنِ يَكْفِي الْأَرْبَعَةَ، وَطَعَامُ الْأَرْبَعَةِ يَكْفِي الثَّمَانِيَةَ).(۱)

د یوه سړي خوړکه د دوو (۲) دپاره، او د دوو (۲) انسانانو خوړکه د څلورو (۴) دپاره، او د څلورو (۴) خوړکه، د اتو (۸) دپاره کفایت کولای سي.

(۱) صحیح مسلم: حدیث نمبر ۲۰۵۹

په دې حدیث مبارک کې پیغمبر ﷺ یو اصول بیان کړې دې: که چیرې د خورک کول
په دوران کې یو ضرورت مند یا د ملاقات په نیت یو څوک راسي، نو هغه په دې وج
نه رد کول، چې دغه خورکه خو دیوه سړي دپاره برابره سوې ده، د دوهم انسان
شریک کولو په وجه په دغه خورکه کې کمی راځي، ځکه پیغمبر ﷺ فرمایلي دي
چې د یو انسان خورکه د دوو(۲) انسانانو کفایت کولای سي، نو هر څوک چې راسي
د خورک کولو په وخت کې هغه ته د میلمه په نظر کتل، او په دغه خورکه کې د خپا
ځان سره شریکول.

## فقیر هم میلمه دی:

زموږ په عرف کې خو میلمه هغه چاته وایي، چې په دعوت رابلل سوی وي، که چیرې
په خپله راسي، نو موږ بیا هغه چاته د میلمه په نظر ګورو، چې په حالاتو کې زموږ سر
برابر وي، یا مو ور سره قرابت او دوستي، او تعلق وي.
که چیرې یو بې چاره، غریب، مسکین، او فقیر راسي، نو بیا هغه ته د میلمه په نظر نه
ګورو، حالانکه هغه هم د الله تعالی د طرفه را استول سوی میلمه دی، د هر ضرورت
مند میلمه پر هر مسلمان باندې د اکرام کولو حق دی،
نو دا فکر نه کول، که چیرې دغه ضرورت مند زموږ سره پر خورکه کښېني، نو په دې
کې به کمي راسي، بلکه د پیغمبر ﷺ د دغه وینا په خاطر هغه د ځان سره په خورک
کې شریک کول، او هم هغه ته د میلمه په نظر کتل، او هم ئې عزت کول.
ځکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی؛
........مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ).(¹)
چې کم څوک پر الله او آخرت باندې ایمان لري، نو هغه دې د خپل میلمه اکرام او عزت
کړي.
په یو روایت کې راځي، چې پیغمبر ﷺ یو ځل د حضرت جبرائیل علیه السلام څخه پوښتنه
وکړه، چې الله تعالی په کم عمل باندې حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل خان "خلیل" جوړ

(¹) صحیح البخاري، حدیث نمبر ۶۰۱۸

کړي، او هم د ده لقب "ابو الانبیاء" وګرځیدی، چي دده په نسل کي تر لس زر (۱۰۰۰۰) زیات پیغمبران راغلل؟

حضرت جبرائیل علیه السلام په جواب کي ورته وویل، چي د حضرت ابراهیم علیه السلام عادت د میلمه خوړول وو، چي د ډېر ځله به ده ته میلمه ور پیدا نه سو، نو ده به تر هغه وخته خوړک نه کاوی، چي ترڅو ئې میلمه نوای پیدا کړي، او دغه صفت ئې الله تعالی ته ډېر محبوب وګرځیدی، نو ځکه ئې ده ته د خلیل لقب او د دوستۍ مقام ور نصیب کړی.(١)

حضرت عکرمه رحمة الله علیه فرمایي، چي حضرت ابراهیم علیه السلام دومره زیات مهمان نوازه وو، چي د ده لقب "ابوالضیفان" (یعني د میلمنو پلار) د ده به د مهمان خانې څلور(۴) دروازې وې، چي یو ناولده انسان ته به په تللو او راتللو کي تکلیف نه وي.

حضرت عطا رحمة الله علیه فرمایلي دي: چي حضرت ابراهیم علیه السلام به ډېر ځله د مهمان په تلاش کي په میلونو سفر کاوی، او چي کله به ئې پیدا کړی، نو بیا به ئې د خپل ځان سره د غرمې یا ماښام پر خوړکه کښېناوی، او د هغه سره به ئې خپله خوړکه خوړله.(٢)

حضرت مجاهد رحمة الله علیه د قرآن کریم د دې آیت،

........هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ الْمُكْرَمِينَ).

په تفسیر کي لیکلي دي، چي د حضرت ابراهیم علیه السلام معمول دا وو، چي هغه به د میلمه خدمت په خپل لاس کاوی، او هم به د میلمه سره د ده اول ملاقات په ډېر بشاشت او خوش روئي او ورین تندي سره وو.

## د پیغمبر ﷺ او د صحابه وو مهمان نوازي،

زموږ پیغمبر ﷺ په انسانانو کي ډېره لوړه درجه مهمان نواز وو، اصحاب صفه رضي الله عنهم ګویا د ده مستقل میلمانه وو، هسې به هم چي "مدینې منورې" ته کم وفدونه راتلل، نو هغه به ټول د پیغمبر ﷺ میلمانه بلل کیدل.

(١) الترغیب والترهیب للیافعي، صفحه نمبر۹۲
(٢) الترغیب والترهیب للیافعي، صفحه نمبر۹۳

کله به زیات میلمانه راغله، نو ده به د خپلو زنانو په حجرو کي معلومات کاوی، چي په کمه حجره کي به د خورک څه نا څه بندوبست کیدی، هغه به ئې د میلمه و مخته پیش کاوی.

که به د زنانو په حجرو کي څه بندوبست نه وو، نو د هغه څخه وروسته به ده دغه میلمانه خپلو صحابه کرامو ته ور تقسیم کول، او چي د کم صحابي په حصه کي به دغه میلمه راغلی، نو هغه به چي څومره ممکنه وه، نو په پوره خوشحالي او خوش دلي سره به ئې د هغه خدمت کاوی.

او همېشه به ئې د هغه میلمه خدمت په خپل لاس سره کاوی، او دا به ئې د ځان دپاره سعادت او نیک بختي بلله، صرف صحابه کرام نه، زموږ د اکثرو سلفو به دا معمول وو.

## د عمر بن عبدالعزیز رح د میلمه اکرام:

رجاء بن حیوة رحمة الله علیه یو ځل د خلیفه عادل امیر المؤمنین حضرت عمر ابن عبدالعزیز رحمة الله علیه د صاحب زاده عبدالعزیز بن عمر په کور کي میلمه وو.

هغه ته ئې وویل: چي ما ستا تر پلار زیات کامل عقل والا انسان نه ولیدی، یوه شپه زه د ده په کور کي میلمه سوم، چي کله زموږ مجلس روان وو، نو د مجلس په دوران کي د څراغ تیل ختم سول، او هغه مړ سو.

موږ ته نژدې یو خادم ویده وو، ما ده ته عرض وکړی: چي دغه خادم راکښېنوه، چي په څراغ کي تیل واچوي، او هغه برابر کړي، ده راته وفرمایل: چي خادم خو ویده دی، ما بیا عرض وکړی: چي زه به ئې برابر کړم، ده راته وفرمایل: چي په میلمه باندي خدمت کول، د شرافت او مروت خلاف دي.

بیا دی په خپله ور ولاړ سو، په هغه کي ئې تیل واچول، او د هغه "فلیته" ئې سمه کړله، او وئې لګاوی، او د هغه څخه وروسته ئې ما ته وویل: چي کله زه ور ولاړ سوم، نو هم عمر بن عبدالعزیز وم، او چي کله راغلم، کښېنستم، نو هم عمر بن عبدالعزیز یم، یعني دغه څراغ لګولو زما په حیثیت کي هیڅ فرق رانه واستی.(۱)

(۱) شعب الایمان، جلد نمبر ۷، صفحه نمبر ۱۰۲

نو دغه زموږ د سلفو عادت وو، چې د میلمه اکرام به ئې په خپل لاس سره کاوی، او هم به ئې تر ممکن حده پورې هغه ته د راحت رسولو کوشش کاوی.
ابن عون رحمة الله علیه فرمایي: چې زه د حضرت حسن بصري رحمة الله علیه او د حضرت محمد بن سیرین رحمة الله علیه په "مهمان خانه" کې د میلمه په شکل و اوسیدم، چې هغه دواړه حضرات به ولاړ ول، په خپله به ئې زما دپاره بستره هوارلوله، او حضرت حسن بصري رحمة الله علیه خو به په خپل لاس مبارک سره زما بستره صفا کوله. (۱)

## د میلمه حقوق:

د میلمه د حقوقو متعلق حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي قدس سره یو څو جامع خبرې فرمایلي دي، ده مبارک په خپلو کتابو کې لیکلي دي: چې د میلمه عام طورپر کور والا باندې څلور حقوق دي:

۱. د راتګ په وخت کې په ورین تندي د هغه سره ملاقات کول، او د تګ په وخت کې کم ازکم تر دروازې پورې د هغه د رخصت کولو دپاره ور سره تلل.
۲. د هغه د معمولاتو او ضروریاتو په خپل کور کې تر ممکن حده پورې انتظام کول، چې د هغه څخه میلمه په راحت سي.
۳. په تواضع او اکرام او مدارات کولو سره د میلمه زړه خوشحاله کول، بلکه په خپل لاس سره د هغه خدمت کول.
۴. کم ازکم یوه ورځ د میلمه دپاره په خوړکه کې درمیانه درجه تکلف کول، چې هغه هم د کور والا د شان سره مناسب وي، او تر درو ورځو پورې د خپل کور په عامه خوړکه کې د ځان سره شریک ګرځول، دومره خو د هغه حق ضروري دی.

لکه د پیغمبر ﷺ په روایت کې هم راغلي دي:

.........مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ جَائِزَتَهُ»، قَالُوا: وَمَا جَائِزَتُهُ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: «يَوْمُهُ وَلَيْلَتُهُ. وَالضِّيَافَةُ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ، فَمَا كَانَ وَرَاءَ ذَلِكَ فَهُوَ صَدَقَةٌ عَلَيْهِ». (۲)

(۱) شعب الایمان: جلد نمبر ۷، صفحه نمبر ۱۰۲
(۲) صحیح مسلم: حدیث نمبر ۴۸

چي کم څوک د الله تعالی پر ذات او د آخرت پر ورځ ایمان لري، نو هغه دي د خپ
میلمه اکرام په "جائزه" سره کوي.
صحابه کرامو عرض وکړی؛ چي ای د الله رسوله! "جائزه" څه شی ده؟
ده مبارک ورته وفرمایل: چي یوه ورځ او شپه د میلمه په خورک کي د خپل استعدا
مطابق د تکلف اهتمام کول، دغه ته "جائزه" وايي.
او میلمستیا دري(۳) ورځي ده، او چي کم څوک د دې څخه زیاته میلمه ته نوره د
خورکه ورکوي، نو دا د ده پر هغه باندي صدقه شمارل کیږي، او پیغمبر ﷺ و میلم
ته هم دا وصیت کوي، چي:
........وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يَثْوِيَ عِنْدَهُ حَتَّى يُحْرِجَهُ).(١)
چي د میلمه دپاره هم دا روا نه ده؛ چي دی هلته دومره ورځي تیري کړي؛ چي کور وال
ګنهګاره کړي.
صحابه کرامو پوښتنه څني وکړه؛ چي د کور والا د ګنهګاره کول څنګه وي؟
ده مبارک ورته وفرمایل: چي میلمه دومره اوږده زمانه کښېني، چي د کور والا سر
هیڅ پاته نه سي، نو دهغه نتیجه دا راوزي؛ چي هغه به د ده سره بد اخلاقي کوي، یا ب
د ده د خورک پیدا کولو دپاره زیات تکلیف او مشقت پر ځان تیروي.
د دې روایت څخه دامعلومه ده؛ چي د میلمه مدارات کول، که څه هم د کوروال
اخلاقي او دیني ذمه واري ده، لیکن د میلمه دپاره هم دامناسب عمل نه دی؛ چي دی
کور والا په اذیت کي مبتلا کړي.
نو د پیغمبر ﷺ په تعلیماتو باندي عمل کول، که چیري یو ځای پر انسان باندې
میلمه زیات راسي، نو په خپله نفقه کي د ځان سره هغه شریک کړل، او داعقید
ساتل، چي زموږ نفقه که څه هم ظاهراً کمه ده، خو الله تعالی به په دې نفقه کي دومر
برکت راولي؛ چي زموږ د ټولو انسانانو به کفایت کوي.

(١) سنن ترمذي، حدیث نمبر ۱۹۶۸

## د برکت عجيبه واقعه،

دې امت ته د پیغمبرﷺ په دور کې الله تعالی عجيبه برکتونه ورنصيب کړي ول، چې دېر ځله به هغه د پيغمبرﷺ د معجزاتو په شکل ښکاره کيدل.

چې کله په "مدينه منوره" کې "غزوه تبوک" راغله، عجيبه غزوه وه، د يهودو قبائل د "مکې مکرمې" د قريشو سره يو ځای سول، او ټولو په خپل درميان کې معاهده سره وکړه، چې يو دم به پر "مدينه منوره" باندې حمله کوو، او د مسلمانانو به مکمله خاتمه کوو،

نو د دې مقصد دپاره د دوی مشترک لښکر دوولس زره(۱۲۰۰۰) کسان "مدينې منورې" ته د يو لوی لښکر په شکل را روان سول، پيغمبرﷺ ته چې کله د دوی حال راورسيدی، نو ئې دا کلمه دېره ويله،

.........حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ﴾.

الله تعالی زموږ دپاره کافي ذات دی، او هغه زموږ بهترين کارساز دی، نو ئې په "مدينه منوره" کې د صحابه کرامو مشوره راطلب کړه، چې د "مدينې منورې" حفاظت به څنګه کوو،

د مختلفو مشورو څخه وروسته آخر د حضرت سلمان فارسيؓ پر مشوره باندې اتفاق وسو، چې د "مدينې منورې" دحفاظت دپاره به د دښمن و مخ ته "خندق" کاږو، چې هغه به د "جبل سلع" څخه شروع وي، بيا به تر "جبل راتونا" پورې رسيږي،

دا غالباً لږ کم شپږ(۶) کيلو ميټره ځکه ده، چې د هغه ږور والی به پنځه(۵) گزه وي، او عرض به ئې دومره وي، چې يو د آس سپور پر هغه باندې په آسانه نه سي را اوښتلای، او د ابن سعد روايت دی، چې صحابه کرام به دا په شپږ(۶) ورځې کې پوره کوي،

چې کله پر "خندق" باندې کار شروع سو، نو يو طرف ته زيات ډيرې حالت دی، ځکه د دښمن د مقابلې دپاره اسلحه او ساز او سامان نسته، او هم دېر زيات يخ دی، چې د هغه د دفاع دپاره کافي بندوبست او جامې نسته، او هم دېر زياته لوږه ده، چې دخورک دپاره څه شی نسته،

ليكن صحابه كرام په داغه حالت كي د الله او د الله د رسول ﷺ ملگري دي، چي د هغ
څخه د جلا كيدلو هيڅ تصور نه سي كولاى.
صحابه كرام چونكه د پيغمبر ﷺ دعاشقانو مجمع وله، نو په دوى كي حضرت
جابر ﷺ چي كله پيغمبر ﷺ ته وكتل، نو دهغه رنگ د لوږي څخه ډېر زيات ضعيف
او متغير دى، خو دغه ليدل، حضرت جابر ﷺ نه سو برداشت كولاى.
نو په منډه كور ته راغلى، خپلي زناني ته وايي: ايا ستا سره زموږ په دې كور كي
خورک دپاره څه سته؟ هغه ورته وايي: چي يو خو دا دبزې بچى(سيرلى) ولاړ دى، او
هم دوه(۲) يا درې(۳) كيلو وربشي سته.
دى ورته وايي: ته ډېر ژر دغه وربشي وكوټه، او ډوډى څني پخه كړه، او دغ
"سيرلى" ذبح كړه، او په "كټو" كي ئې واچوه، ما نن پيغمبر ﷺ په داسي حالت كي
ليدلى دى: چي پر هغه ډېر زيات د لوږي آثار وو، نو هغه به كور ته راولو، او زموږ پ
كور كي به نفقه وخوري.
حضرت جابر ﷺ واپس د كور څخه خندق ته راغلى، پيغمبر ﷺ ته وايي: اى دالله
رسوله! ته او يو څو صحابه به زما كور ته راځى، خو ورته وايي:
.........ثَلَاثَةَ عَشَرَ وَ اَنْتَ رَابِعُ عَشَرَ﴾.
ديارلس(۱۳) كسان به نور وي، او ته به څورلسم(۱۴) ئې.
او يا ئې داسي ورته وويل:
.........اَرْبَعَةَ عَشَرَ وَ اَنْتَ خَامِسُ عَشَرَ﴾.
څورلس(۱۴) كسان به نور وي، ته به پنځلسم(۱۵) ئې، ما په كور كي د دغ
پنځلس(۱۵) كسانو دپاره نفقه برابره كړې ده.
پيغمبر ﷺ دې وخت كي د پنځلس سوه(۱۵۰۰) كسانو سره په خندق كي كار كاوى،
چي كله ئې د جابر ﷺ دعوت قبول كړى، نو د خندق څخه راوخاتى، او دخاورو پر يو
كوره ودريدى: او نعره ئې كړه:
.........يَا اَهْلَ الْخَنْدَقِ! هَلُمُّوْا اِلَى غَدَاءِ جَابِرٍ﴾.
اى د خندق خلكو جابر په خپل كور كي ستاسو دپاره ميلمستيا برابره كړې ده، درځئ!
چي د جابر په كور كي نفقه وخورو.

حضرت جابر ﷺ فرمايي: چي زما زړه و غورځيدی، او پښو مي د وارخطائي څخه بلک شروع کړی، چي ما خو د پنځلس(۱۵) کسانو نفقه برابره کړي ده، او دلته د پنځلس(۱۵) پرځای خبره پنځلس سوه (۱۵۰۰) ته ورسيده.

نو زما به په خپل کور کي څومره عزت خراب سي، چي زما په کور کي ميلمانه ناست وي، او دهغو دپاره خورکه نه وي، او دا يقيناً هم د عزت مند سړي دپاره د برداشت وړ خبره نه وي.

نو حضرت جابر ﷺ مخکي منډي کړې، پيغمبر ﷺ د پنځلس سوو(۱۵۰۰) صحابه کرامو سره وروسته دی، پيغمبر ﷺ ته خو معلومات وسو، چي دی ولي منډي وهي، نو دشا څخه آواز ئې ورپسي وکړی: چي:

........لَا تَدَعُ الْبَرْمَى﴾.

"برمٰی" په عربي کښنی "کټوي" ته وايي، څکه لوی "کټوي" ته په عربي کي "قِدر" وايي، نو پيغمبر ﷺ ورته وايي: چي ما ته خو معلومه ده: چي تاسو کښنی "کټو" باندي کړې ده، چي تر څو پوري زه نه يم درغلی، نو هغه "کټو" د اور څخه مه راکښته کوئ.

پيغمبر ﷺ د حضرت جابر ﷺ کورته راغلی، هغه "کټو" پر اور باندي پرته وه، ده مبارک په خپل لاس سره را شوه کړه، او لږ حصه ئې د خپلو لاړو مبارکو ور کي واچوله، او ډوډی ئې دخپل ځان سره کښېښوولې، او دسترخوان ئې هوار کړی.

صحابه کرامو ته ئې وويل: تاسو پر دسترخوان باندي کښېنئ، ده مبارک په خپل لاس سره سالن ورا چوی، او هم ئې د دسترخوان څخه ډوډی ور کوله، حضرت جابر ﷺ او يو څه صحابه خدمت کوي، هغه ټول صحابه چي د هغوی تعداد پنځلس سوه(۱۵۰۰) انسانانو ته قريب وو، و خوړله.

چي کله صحابه ټوله فارغه سو، نو په هغه "کټو" کي سالن پاته دی، او هم هغه د اوربشو څو ډوډی په دسترخوان کي پرتې دي.

د صحابه کرامو د رخصت کولو څخه وروسته ده مبارک حضرت جابر ﷺ ته وويل: دغه پر دسترخوان پراته هډوکي راټول کړه، چي کله هغه سره راجمعه کړل، نو ده مبارک و خپل مخ ته کښېښول، او په دعا ئې لاس پورته کړی.

د ده د دعا برکت وو: چي الله تعالی هغه د "بزې" بچی بیرته ژوندی کړی، او هغه
هغه خپل شکل پر هغه ځای ودریدی، ده حضرت جابر ﷺ ته وویل: چي خپل د بز
بچی او خپلي د وډی در سره خوندي کړه، موږ د الله تعالی میلمانه وو، او هغه موږ
خورکه راکړله.(۱)

## د سائل سره بد سلوک نه کول:

کچیري یو سړی د میلمه اکرام نسي کولای، خو زیات احتیاط په دي کي باید وکړ
چي کله یو فقیر د سړي کور یا دوکان ته راسي، نو کم از کم په بد اخلاقي سره
رخصت کول.
ځکه دیر ځله ظاهر رنګ ئې د فقیر وي، لیکن په حقیقت کي د انسان د امتحان دپاره
الله د طرفه یو قاصد او استازی وي، چي په هغه سره الله تعالی د انسان امتحان اخلي

## پیغمبر ﷺ ته د سائل په باره کي د الله د طرفه تنبیه:

حضرت عثمان ﷺ ته چونکه الله تعالی په "مدینه منوره" کي مال او دولت ورکړ
وو، د ده یوازي نه بلکه د ټولو صحابه وو به همېشه دا کوشش وو: چي پیغمبر ﷺ
څنګه د ځان څخه خوشحاله وساتي، او څنګه د ده خدمت وکړي.
نو یو ځل ده د خورما په باغ کي یو ښائسته وږی پیدا کړی، نو رائې وړی، پیغمبر ﷺ
ته ئې په هدیه کي پیش کړی، خو هغه په دې وخت کي په "مسجد نبوي" کي ناست
وو.
د پیغمبر ﷺ و څنګ ته یو سائل ناست وو، نو هغه د ده څخه د هغه خورما د "وږي"
سوال وکړی، پیغمبر ﷺ هغه وږی سائل ته ورکړی.
سائل چي کله روان سو، نو حضرت عثمان ﷺ په لار کي ور ته ودریدی، او هغه وږی
ئې په یو دراهم څني رانیوی، او پیغمبر ﷺ ته ئې بیا په هدیه کي پیش کړی.

---

(۱) السیرة النبویة لابن کثیر: باب سنة خمس من الهجرة النبویة غزوة الدومة: صفحه نمبر ۱۹۰

هغه سائل چې وړی د پیغمبر ﷺ سره بیا ولیدی، نو دوهم ځل ئې بیا سوال د وړي ځني وکړی، چې ای د الله رسوله! دغه وړی ماته راکړه، چې زه ئې وخورم، او دخپل ځان لوږه په ختم کرم، پیغمبر ﷺ هغه وړی بیا هغه سائل ته ورکړی.
سائل چې کله د "مسجد نبوي" څخه وواتی، په لاره کي حضرت عثمان رضی الله عنه بیا په یو دراهم ځني رانیوی، او په هدیه کي ئې دریم ځل پیغمبر ﷺ ته پیش کړی، سائل بیا د یو طرف څخه راغلی، او د پیغمبر ﷺ څخه ئې د هغه وړي سوال وکړی.
په دي ځل پیغمبر ﷺ هغه سائل ته صرف دومره وویل:
..........أ التَ سَائِلٌ اَمْ تَاجِرٌ﴾.
ایا ته اوس سائل ئې، او که پر دغه وړي باندي تجارت کوې؟ چې دلته ئې زما څخه په سوال باندي واخلې، او د "مسجد نبوي" د دروازې څخه د باندي ئې بیرته خرڅوې.
د پیغمبر ﷺ صرف دغومره خبره وه، چې دستي الله تعالی جبرائیل علیه السلام د عرش څخه ورته راواستاوی، چې هغه دا آیت د الله د طرفه ورته راوړي:
..........وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ﴾.(۱)
چې سائل ته به تیزه خبره نه کوې، او نه به سائل ترټې.(۲)
نو چې کله د انسان و مخ ته سائل راغلی، که د انسان په طاقت کي څه وي، نو د هغه سره مرسته او کومک کول، که نه وي، نو بیا په ښه طریقه او په ښه وینا تر خپل ځان تیرول، سائل ته دَ تیزي خبري او د بدسلوک څخه خپل ځان ساتل، ځکه هغه کله د الله تعالیٰ د ناراضګی ذریعه وګرځي.

## کله خو سائل د الله لوی امتحان وي:

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله علیه په خپلو مواعظو کي د یو صاحب واقعه لیکلې ده: چې هغه ډېر زیات دولت مند وو.
یوه ورځ دخپلي زناني سره پر دسترخوان باندي ناست دی، او ډېره بهترینه نفقه ورته پرته ده، په ډېر ذوق او شوق سره ئې خوري.

(۱) سورة الضحی، آیت نمبر ۱۰
(۲) روح البیان تحت تفسیر سورة الضحی: صفحه نمبر ۴۵۹. مکتبه شامله

په دغه دوران کي په دروازه کي يو سائل د سوال کولو ږغ وکړی، نو ده ته په دې وخ
کي دروازې ور تلل، او هغه ته يو څه ورکول، ډېر سخت او ناخوښه وګرځيدی، نو چ
کله دروازې ته ورغلی، نو هغه سائل ته ئې يو څه غصه وکړه، او هم ئې هغه په ډېر ذل
او سپکاوي سره د کور څخه پسې واخستی، او واپس راغلی، د خپل کور د زناني س
پر نفقه کښېناستی.

يو څه زمانه بعد د ده او د کور د زناني په مابين کي بې اتفاقي راغله، او همېشه به ئ
په کور کي سره جګړې او آوازونه وو، تر دې حده چي خبره طلاق ته ورسيده، نو هغ
سړي خپله زنانه ته طلاق ورکړی.

زناني چي کله د طلاق عده تيره کړله، نو ئې د يو سړي سره ئې نکاح وکړه، چي هغه
ډېر زيات دولت مند وو، او خپله زندګي ئې د هغه سره روانه کړه.

يو ځل د هغه سره هم داغه شان معامله مخته راغله، چي يوه ورځ دا د خپل خاوند س
نفقه خوري، نو دروازې ته سائل راغلی، نو هغه زناني خپل خاوند ته وويل: چي زه ب
ژر تر دغه سائله پوري يو څه خيرات ور ورم، ځکه زه ېېرېږم: چي هسي نه د څه ن
ورکولو په صورت کي پر موږ د الله غضب نازل سي، خاوند ورته وويل: چي ور ئ
وړه، او ژر راسه.

چي کله زنانه د خيرات ور وړلو دپاره دروازې لره ورغله، که ګوري هغه سائل د دې
مخکني خاوند وو، چي دې د هغه څخه طلاق اخستی وو، نو دا په ډېره حيرت سره او
خاوند ته واپس راغله، او هغه ته ئې وويل: چي نن خو مي عجيبه منظر وليدی، دغ
سائل زما مخکني خاوند وو، چي ډېر زيات دولت مند وو، ليکن نن د يو سوالګر پ
شکل زموږ په دروازه کي د سوال کولو دپاره ولاړ وو.

هغه خاوند ورته وويل: چي زه به و تاته د دې څخه هم ډېره ناولده خبره وکړم، هغه دا:
چي کم سائل هغه وخت کي ستاسو د کور دروازې ته درغلی وو، او ستا هغه خاوند د
هغه سره بد سلوک کړی وو، در حقيقت هغه زه وم.(١)

الله تعالی هغه فقير دولت مند جوړ کړی، او هغه دولت مند ئې د فقير په شکل د هغه و
دروازه ته و دراوی، الله تعالی دي موږ د دغه رنګه حالاتو څخه محفوظه وساتي.

(١) اصلاحي مواعظ: جلد نمبر١، صفحه نمبر ٢٣۴

نو زه عام طور دا وایم: چې د سائل سره د بد سلوک کولو څخه باید انسان ځان وګوري، ډېر ځله سائل په حقیقت کې سائل نه وي، صرف د الله یو امتحان وي، چې په هغه سره الله تعالی د انسان استعداد معلوموي.

نو پیغمبر ﷺ د دغه رنګه حالاتو څخه په دغه الفاظو مبارکو باندې دعا غوښتې ده:

.........اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْحَوْرِ بَعْدَ الْكَوْرِ).(١)

یا الله! زه په تا سره پناه غوارم، د بد حالت د راتللو څخه وروسته تر ښه حالت.

زه همېشه دا وایم: چې اسلام ډېر معتدل دین دی، چې هغه په هره معامله کې د افراط او تفریط څخه پاک دین دی، او په هغه کې د هر چا د ضروریاتو خیال ساتل سوی دی.

ډېر ځله سائل انسان دومره تنګ کړي، چې انسان ته د هغه ته د تیزو خبرو کولو بغیر بله لار نه وي، نو په دغه صورت کې فقهاء کرامو اجازت ور کړی دی، خو بیا هم حتی الامکان باید د انسان دا کوشش وي: چې د بد سلوک کولو بغیر سائل تر خپل ځان تیر کړي.

## د حدیث دوهم مفهوم:

بعض محدثینو د دې حدیث چې د یو سړي نفقه د دوو کسانو کفایت کوي، دا مفهوم هم لیکلی دی: چې د خپل خورک د پاره یو مقدار داسې نه ټاکل: چې بس دا د ډېرې لیکه ده، په دې کې به هیڅ بدلون نه راځي، او چې څومره زما د خورک کولو معمول دی، هره ورځ به دغو مره خورم.

بلکه یوه ورځ که چیرې د انسان په خورک کې کمې وسي، نو د هغه هم ګنجائش ایښول، الله تعالی دې په خپل رحمت سره د دې خبرو د حقیقت فهمولو توفیق را کړي.

## خلاصه:

نو خلاصه د کلام دا ده: چې د پیغمبر ﷺ په دغه احادیثو کې درې (۳) سنتونه بیان سول:

(١) سنن ترمذي، حدیث نمبر ۳۴۳۹

۱. د خوړک کولو په وخت؛ کې ګوتې څټل.
۲. د خوړک کولو وروسته، لوښي صفا کول.
۳. که چیرې یو ګوله پر مځکه ولوېږي؛ هغه نه ضائع کول.

او د دې سره دا حکم هم بیان سو :چي د یو سړي خوړکه د دوو دپاره کفایت کو سي، په دغه سنتو که د انسان عمل نه وي، نو دنن څخه په دغه باندې دځېل ء شروع کولو عزم کول؛ چي زموږ په زندګي کي دد سنتو نور او برکت راسي.

## د سنتو برکت او د حضرت مجدد الف ثاني رحمةالله علیه وینا :

حضرت مجدد الف ثاني رحمةالله علیه فرمایلي دي: چي الله تعالی ماته علوم ظاهر داسي شان رانصیب کړل؛ چي په هغه کي زه د کمال درجې ته ورسیدم، بیا د صو کرامو د علوم باطنه د تحصیل طرف ته متوجه سوم.

الحمد لله! الله تعلی ماته په علوم باطنه کي هم داسي مقام رانصیب کړی: چي په پیغمبر ﷺ په خپل لاس مبارک سره ماته خلعت او چپنه راواغوسته، او ده د فرمایلي دي:چي بیا الله تعالی د مختلفو درجاتو حاصلولو څخه وروسته دومر مقام راکړی: که هغه زه پخپله ژبه بیان کړم، نو علماء د ظاهر به پرما باندې د کف علماء د باطن به د "زندیق" کیدلو فتوی وکړي، لیکن زه څه وکړم، الله تعالی واقعتاً دغه لوړ مقامات رانصیب کړي دي.

زه بیا هم د دې ټولو درجاتو او مراتبو حاصلولو څخه وروسته یوه دعا کوم: چ سړی زما پر دغه دعا باندې آمین وایي، انشاء الله د هغه به هم مغفرت په نصیب س هغه دعا زه دا کوم: چي یا الله! ماته د نبي کریم ﷺ د سنت طریقې اتباع رانه کړه، (آمین) او هم ماته د نبي کریم ﷺ پر سنت طریقه مرګ رانصیب کړه.(آمین)

حضرت مجدد رحمةالله علیه فرمایلي دي: د ټولو لوړو درجاتو او مقاماتو د سیر کولو وروسته آخري نتیجه دا ده: چي د نبي اکرم: د سنتو د متابعت کولو په شکل انسا هر څه په لاس ورځي.

(۱) اصلاحي مواعظ، جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۲۳۶

نو زموږ دپاره مناسب دا ده: چې د نن څخه پخه اراده وکړو: چې د پیغمبرﷺ څومره سنتونه راته بیان سوي دي: پر هغه به عمل کوو، د عمل کولو وروسته به انشاء الله ثم انشاء الله زموږ په زندګي کي نور او برکت او مزه او راحت راځي.

زما د خدای په ذات قسم! د زندګۍ لطف او خوند دا په آزادي او فسق او فجور او ګناه کولو کي نه دی، بلکه دا الله تعالی په طاعاتو او عباداتو کي ایښی دی، تاسو د دغه لطف او خوند پوښتنه د هغه چا څخه وکړئ! چې کم چا خپل ژوند د نبي کریمﷺ د سنت طریقې تابع ګرځولی دی.

## د حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه فرمان:

حضرت سفیان ثوري رحمة الله علیه فرمایلي دي: چي الله تعالی د زندګۍ کم خوند او سرور او لطف او لذت موږ ته راکړی دی: که چیري د هغه حقیقت د دنیا بادشاهانو ته ور معلوم سي، نو خپلي توري به د پوښ څخه زموږ د مقابلې دپاره راوباسي، او هم به زموږ څخه دغه د زندګۍ لطف او لذت واخلي، خو دغه لطف او خوند د سنت طریقې د اتباع نتیجه ده.

لکه حافظ شیرازي رحمة الله علیه دا حقیقت ښکاره کړی دی:

*زانگه که یافتم خبر از ملک نیم وشب　　من ملک نیم روز رابیک جو نمی خرم*

چي کم وخت الله تعالی زه د نیمي شپې د حکومت او لذت څخه اشنا کړم، نو اوس خو زما و مخ ته د "نمروز" د حکومت بادشاهت یوه "وربشه" هم نه ارزي.

الله تعالی دې دغه حقیقت زمونږ په زړو کې را کښېنوي، او هم دې د پیغمبر ﷺ د ټولو سنتو اتباع را نصیب کړي، او هم دې زمونږ دغه مجالس په خپل دربار کې قبول مقبول وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیہ)

# د صدقې او خیرات کولو طریقه

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ٹاؤن) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمُ الْآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ﴾.(1)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿الْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى، وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ، وَخَيْرُ الصَّدَقَةِ عَنْ ظَهْرِ غِنًى، وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللّٰهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللّٰهُ﴾.(2)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! ستاسو په حضور کي ما دپيغمبر ﷺ يو حديث مبارک پيش کړی، د هغه راوي مشهور صحابي حضرت ابو هريره رضي الله عنه دی.

حضرت ابو هريره رضي الله عنه چونکه ډېره زندګي د پيغمبر ﷺ سره تېره کړله، او د پيغمبر ﷺ اعمال، اقوال، او افعال ئې ډېر د نژدې څخه وکتل، نو دی په هغه صحابه وو کي دی، چي د کم چا څخه د پيغمبر ﷺ ډېر احاديث دي امت ته رانقل سويدي، او پر دې امت باندي د هغه ډېر احسان دی.

(1) سورة البقرة، آيت نمبر ۲۱۹

(2) صحيح البخاري، حديث نمبر ۱۴۲۷

## د پیغمبرﷺ نصیحتونه:

ده مبارک په دې حدیث کې د پیغمبرﷺ یو څو نصیحتونه او وصیتونه رانقل کړي دي، چې هغه د قیامت تر ورځې پورې دټوله انسانیت لپاره د ژوند تیرولو بهترینې طریقې دي.

په هغه نصیحتو کې اولنی نصحیت د پیغمبرﷺ دا دی، چې ده مبارک به فرمایل:

........اليَدُ العُلْيَا خَيْرٌ مِنَ اليَدِ السُّفْلَى).

چې دهغه ترجمه دا ده: چې لوړ لاس د لاندې لاس څخه خیر او بهتر دی، د لوړ لاس څخه مراد: د ور کولو والا لاس، او د لاندې لاس څخه مراد: اخیستلو والا لاس دی، چونکه عام طور چې کله یو سړی بل چا ته څه ورکوي، نو همېشه د ده لاس لوړ وي، او د اخستلو والا لاس لاندې وي.

لیکن دلته مراد: محض لوړ او کښته مراد نه دي، بلکه دا جمله په حقیقت کې د ورکړې، او راکړې څخه کنایه ده، خو د پیغمبرﷺ د دغه جملې څخه مراد دا دی: چې کم چا ته په معاشره کې الله تعالی د ورکړې مزاج ورکړي، او د خلکو سره احسان کوي، هغه تر هغه چا خیر دی، چې هغه د بل چا څخه د غوښتنې طمع او انتظار کوي.

## بعضې پیران داسې هم وي:

دا مشهوره خبره ده: چې بعضې بې علمه پیران هغه خپلو مریدانو ته دا تاکید کوي: چې کله یو څوک مالره هدیه راوړي، نو هغه راکونکی دې لاس کښته نیسي، او پیر صاحب دې د لوړ طرف څخه لاس ور وړاندې کوي، او هغه هدیه دې ځنې اخلي، چې د هغه مذکور حدیث مصداق جوړ نسي.

حالانکه په حقیقت کې مراد: لوړ او کښته نه دی، بلکه مراد دا دی: چې د ورکولو والا لاس د اخیستلو د لاس څخه بهتر دی.

د پیغمبرﷺ د دې نصیحت مبارک څخه دې طرف ته اشاره کول مقصود دي: چې انسان باید حتی الامکان خپل حاجت د نورو و مخ ته پیش نه کړي، او نه د هغو څخه سوال او غوښتنه وکړي، بلکه داسې مواقع د خپل ځان څخه برابر کړي: چې هغه ئې په خپله ده ته ورکړي.

## د سوال کولو مذمت:

په حديث شريف کي راځي: چي د کم سړي سره د يوې ورځي او يوې شپې خورکه موجوده وي، نو د هغه لپاره سوال کول حرام دي، او په شريعت کي د سوال کولو متعلق سخت وعيدات راغلي دي.
چي د کم سړي لپاره سوال کول جائز نه وي، هغه بيا هم د خلګو څخه سوال کوي، نو د قيامت په ورځ به په داسي حال کي راسي: چي د ده پر مخ به د خراشو او زخمو نښانونه وي.(۱)
يعني هغه سوال چي ده د انسانانو څخه کړی دی، هغه به د مخ د خراشو او زخمو په صورت کي د ده پر مخ ښکاره کيږي.
سوال کول دې ته نه وايي: چي بس د انسان به کچکول او پياله په لاس کي وي، او پر کورو به ګرځي، او فقر به غواړي، بلکه د يو چا څخه د پيسو غوښتنه کول، يا د خورک د شي غوښتل، که څه هم په پټه طريقه سره وي، په سوال کي د اخل دی، او د هغه هم داغه حکم دی: چي حرام دی.

## يو اهمه مسئله:

د دې سره سره فقهاؤو دا مسئله هم لکيلې ده: چي کم سړي ته سوال کول حرام وي، نو هغه ته ورکول هم جائز نه دي، ځکه چي کله دی سوال کوي، نو د حرامو ارتکاب کوي، اوس که تا و ده ته څه ورکړل، نو دا په ګناه کي د ده سره معاونت او کومک ګرځي، نو دغسي سړي ته بايد څوک شی ور نکړي.
ليکن د دې مطلب دا دی: چي د کم سړي په باره کي يقيني در معلومه نه وي، صرف د بدګماني په وجه يا د هغه د ظاهر حال څخه اندازه لګول: چي دا خوپيشه ور فقير دی، چي صرف فقرئې د ځان پيشه او عادت جوړ کړی دی، د ورکولو څخه بايد انسان ځان نه راوګرځوي.

(۱) عن عبدالله ابن مسعود: مشکوة، صفحه نمبر ۱۶۲، رواه ابو داؤد و الترمذي و غيرهما

## د حضرت مولانا تقي عثماني (مد ظله العالي) واقعه:

زموږ استاد مولانا محمد تقي عثماني(مد ظله العالي) یو ځل ویل: چې کله زه نوی "دارالعلوم" څخه فارغ سوم، نو دې وخت کې زما هغه د دوره حدیث مسائل په دما
کې ګرځېدل، او هم مې جذبات ډېر مضبوط ول.
یو ځل د خپل پلار مفتي محمد شفیع رحمة الله علیه سره په موټر کې یو طرف ته روان وم، چ
کله مخته سره بتۍ (د ترافیکو اشاره) راغله، نو موټر د ټرافیک قوانینو په وجه د
سرې بتۍ ته ودریدی.
تاسو به عام طور لیدلي وي: چې پر هغه ځای بیا دغه سوال کونکي او فقیران د
زیات وي، چې د هغه دغه فقر کول عادت او کسب ګرځولی وي، او ټوله زندګي
داغه کې ور باندې تېره سي، او دا ضروري نه ده: چې دوی دې یقیناً هم مجبوره ا
محتاج وي، بلکه ډېر ځله د هغه پیسې په بینکونو کې پرتې وي، او بس داغه سوا
کول، د ده عادت او پیشه جوړه سوې وي.
نو چې کله موټر و دریدی، نو دغه شان یو فقیر راغلی، نو والد محترم هغه ته :
ورکړل، ما چونکه تازه تازه دا ویلي وه: چې د کم سړي لپاره سوال کول حرام وي،
هغه ته ورکول هم ناجائز وي.
نو ما د خپلې دغه مسئلې تازه یاد په وجه د خپل پلار څخه پوښتنه وکړه: چې حضرت
دا خو ټوله داسې پیشه ور غونډې فقیران دي، یعني په حقیقت کې غریبان نه دي،
دوی ته خو سوال کول حرام دي.
او علامه شامي لیکلي دي: چې دوی ته څه ورکول هم جائز نه دي، ځکه چې د
مستحقین نه دي.
نو ماته چې خپل پلار کمه خبره وکړه، نو هغه د هغه ځای سره ډېره مناسبه وه، هغه را
وفرمایل: سړیه! دا ته چې استحقاق یاد وې، ته دا ماته ووایه: کچیري الله تعالی مو
او تاسو ته د استحقاق پر بنیاد باندې د راکولو فیصله وکړي، نو ایا موږ او تاسو
مستحقین جوړ سو.
دغه رزق چې د الله د طرفه موږ ته راکول کیږي، او سهار او ماښام د نعمتونو راباند
باران دی، ایا موږ د دې مستحق یو؟ کچیري موږ او تاسو د خپل ژوند اعمالو او

زندګۍ خيالاتو ته وګورو، نو استحقاق خو ډېره ليري خبره ده: بلکه حقيقتاً مستحق د دې يو چې الله تعالى د رزق دروازې رابانديې بندې کړي، نو که د استحقاق خبره سي، نو بيا خو موږ هم په حقيقت کې د الله د رزق او د نعمتونو مستحق نه يو.
اصل خبره دا ده: چې فقهاء کرامو دغه مسئله د هغه سړي په باره کې ليکلې ده، چې د هغه په باره کې يقيني انسان ته ور معلومه وي، چې د هغه لپاره سوال کول حلال نه دي، و هغه ته پر ورکولو کې په ګناه کې د زيات مبتلا کيدلو خطره وي.
ليکن کچيرې يو سوالګر ودرېږي، که څه هم د قرائنو څخه دا معلوميږي: چې دا يو پيشه ور فقير دی، ليکن چونکه يقيني معلومه نه ده: نو ځکه هغه ته تر نه ور کولو ور کول بهتر دي، ځکه چې الله تعالى په قرآن کريم کې انسانانو ته دا فرمان کړی دی:
.........﴿وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ﴾.(۱)
چې سائل به نه ترټې، ځکه چې تا ته د هغه د استحقاق د حقيقت يقيني علم خو نسته.
امام غزالي رحمة الله عليه د سيدنا عيسى عليه السلام دا قول رانقل کړی دی:
چې کم سړی د خپلې دروازې څخه سائل محرومه او بې نصيبه وشړي، تر اوو(۷) ورځو پورې د رحمت فرشتې د هغه کور ته نه ورداخليږي.
هو! زه دا منم: چې د نه ورکړې، په عواملو کښې خپل حاجت او موقع او حوصله ته کتل کيدلای سي، مګر سائل ته د تيزې خبرې کولو څخه به په هر حال کې انسان پرهيز کوي.

## دوهم(۲) نصيحت:

د حديث دوهمه جمله او د پيغمبر صلى الله عليه وسلم دوهم نصيحت او وصيت دا وو:
.........وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُولُ﴾.
چې کله د صدقې کولو موقع راسي، نو ابتداء د هغه خلکو څخه کوه: چې ستا تر کفالت لاندې وي.

(۱) سورة الضحى، آيت نمبر ۱۰

مثلاً د انسان د کور زنانه، بچیان، او مور او پلار کچیري معذوره وي، داغه رانګه نو
قریبان او دوستان باید انسان د صدقې ابتداء د هغو څخه وکړي، او هغو ته په صد
ورکولو باندي الله تعالی انسان ته ډېر لوی ثواب ورکوي.
لکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی: چي د ټولو څخه ښه صدقه هغه ده: چي انسا
ئې پر خپل اهل او عیال باندي وکړي.

## دریم (۳) نصیحت:

او د حدیث مبارک دریمه جمله چي د پیغمبر ﷺ په دغه حدیث مبارک کي در
نصیحت او وصیت دی:
........وَخَيْرُ الصَّدَقَةِ عَنْ ظَهْرِ غِنًى).
بهترینه صدقه هغه ده: چي د هغې د کولو څخه وروسته د انسان سره غنا پاته سي.
یعني داسي نه وي: چي یوه ورځ دي بل چا ته صدقه ورکړه، او دوهمه ورځ بیرته
انسانانو څخه سوال کولو ته مجبوره وي، نو د دغه صدقې هیڅ فائده نسته، بلک
بهترینه صدقه هغه ده: چي دومره ورکوه: چي د هغه څخه وروسته ته و بل ته محتاج
نسې.

## په هر عمل کي اعتدال:

تاسو ګورئ! الله تعالی موږ ته یو داسي دین راکړی دی: چي په هر عمل کي موږ ته
اعتدال تعلیم راکوي: اوس یو طرف ته که انسان و ګوري: نو د صدقې بیشمار
فضائل دي.
لکه پیغمبر ﷺ فرمایي:
د قیامت په ورځ چي ترکم وخته پوري حساب او کتاب نه وي سوی، نو تر هغه وخت
پوري هر سړی د خپلي صدقې تر سایه لاندي ولاړ وي.
داغه رنګه په یو بل روایت کي راځي:
چي صدقه د قیامت د ورځي ګرمي لیري کوي.(١)

---

(١) صدقہ کی اہمیت و مصارف، صفحہ نمبر ۱

په يو بل حديث کي به پيغمبر ﷺ د صدقې اهميت په دغه شان بيانوي:
صدقه د تکليف اويا(۷۰) دروازې بندوي. (¹)
او دا هم د پيغمبر ﷺ فرمان دی:
چي صدقه د انسان عمر ډېروي، او د بېکاره مرګ څخه د انسان حفاظت کوي، او د انسان فخر او تکبر ختم کوي. (²)
لکه يو روايت لا داسي هم راځي:
چي کله د قيامت ورځ سي: الله تعالی به اعلان وکړي: زما د امت فقيران چيري دي؟ چي کله فقيران د الله تعالی په حضور کي پيش سي، نو د الله تعالی د طرفه به حکم ورته وسي: چي کم سړي زما د رضا په خاطر تاسو ته يوه ګوله ډوډی درکړې ده، يا ئې يو غړپ اوبه درکړي دي، يا ئې نوې يا زړه جامه درکړې ده، نو ورسئ! د هغه لاس ونيسئ! او د ځان سره ئې جنت ته داخل کړئ.
چنانچه فقراء او محتاجه انسانان به د خپل ځان سره تعاون کونکی هر سړی به په جنت کي د داخل کولو ذريعه جوړه سي.
پيغمبر ﷺ به خپل جانثار صحابي حضرت زبير رضي الله عنه ته د الله تعالی په لار کي د صدقه کولو ترغيب ورکاوی، نو به ئې ورته وفرمايل:
ای زبيره! د رزق دروازه د اوو(۷) آسمانو څخه پورته د عرش څخه لاندي راخلاصه ده، نه هغه د ورځي بنديږي، او نه د شپې، الله تعالی د هر سړي لپاره د هغه دروازې څخه رزق راشوه کوي.
او دغه روزي د هر سړي د نيت او د هغه د ورکړي، او د هغه د صدقې مطابق راځي، چي کم سړی زياته صدقه کوي، نو د هغه لپاره زياته نفقه راشوه کيږي، او چي کم سړی صدقه کمه کوي، نو د هغه په نفقه کي هم کمي وي.
ای زبيره! په خپله ئې هم خوره، او نورو ته ئې هم ورکوه، تنګي مکوه، هسي نه چي ستا سره د تنګۍ معامله وسي، انسانان په مشقت کي مه اچوه، هسي نه: چي ته په

---

(¹) صدقه کی اهميت و مصارف، صفحه نمبر ۱
(²) صدقه کی اهميت و مصارف: صفحه نمبر ۱

مشقت کې واچول سي، ای زبيره! الله تعالى په صدقه کې وسعت او فراخي کون
خوښوي، او تنګي کونکي د الله ناخوښه وي.
دهغه مبارک د ترغيب نتيجه دغه وه: چې د حضرت زبير په باره کې صاحب د "اصاب
ليکلي دي: چې د ده زر (۱۰۰۰) غلامان وه، چې ده ته به ئې خراج راوړی، ليکن د ده
کور کې به يو (۱) درهم هم نه پاته کيدی، بلکه ټوله به ئې صدقه کول، او چې کله د
وفات سو، نو دوه ويشت لکه (۲۲۰۰۰۰) دراهم لا دځان څخه مقروض وو، نو دا د ا
تعالى د نيکو بندګانو صدقه وه.(۱)
ليکن زموږ او ستاسو د استعداد د کموالي په وجه پيغمبر ﷺ موږ ته داسي فرمايل
دي: چې صدقه کله ورکوې، نو په هغه کې هم د اعتدال خيال ساته، چې بيا وروسته
پرېشانه نسې.
تاسو ګورئ! زکات پر موږ فرض دی، او هغه د مال څلويښتمه حصه ده، د هغه څخ
علاوه چې څومره صدقات موږ کوو، هغه ټوله مستحب دي، داسي نه کول: چې نن خ
ته په جوش کې راغلې، هر څه دي صدقه کړل، او صبا بيرته د حسرت او افسوس ا
پرېشانۍ سره مخامخ ئې.
نو د يو نيک کار کولو څخه وروسته چې کله انسان په پرېشاني کې مبتلا کيږي، ا
هغې څخه ډېره ښه خو دا خبره ده: چې هغه کار د سره څخه ونه کړي.
لکه موږ او تاسو ته دغه د اعتدال تعليم په قرآن کريم کې راکول سوی دی، ځکه الل
تعالى صدقه کونکي انسانان په دغه الفاظو ذکر کوي:
.............وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا﴾.(۲)
چې کم خلک مال خرڅوي، هغه به نه ډېر اسراف کوي، او نه به د ډېر بخل څخه کار
اخلي، بلکه د اعتدال لار به خپلوي، چې هغه د اسراف او بخل په درميان کې ده..
لهذا په صدقه کولو کې د دغه خبري لحاظ ساتل ډېر ضروري دی: چې تر اعتدال به
تجاوز نه وي.
لکه په يو بل ځای کې الله تعالى داسي هم فرمايي:

(۱) مأخوذ از صدقه حقيقت اهميت مصارف تأليف مولانا قيصر نواز، صفحه نمبر ۱-۲
(۲) سورة الفرقان: آيت نمبر ۶۷

.........﴿وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ﴾.(۱)

خلک به پوښتني کوي، چي کم څه نفقه او صدقه کړو، نو ته ورته ووایه: چي کم شی تر تاسو زائد وي، هغه صدقه کړئ.

**سوال او جواب:**

کله د بعض انسانانو په دماغ کي یو سوال پیدا سي: چي د پیغمبرﷺ په باره کي بعض روایات داسي راځي: چي د هغو څخه بظاهر دا معلومیږي: چي ده مبارک خپل هر څه د الله په لار کي خرڅول، تر دغه حده پوري: چي د ده په کور کي به دري(۳) دري(۳) میاشتي اور بل نه سو.

حضرت عائشه مبارکه فرمایي: چي موږ به بعض اوقات متواتر دري(۳) میاشتي داسي تیرولې: چي زموږ په کور کي به اور بل نه سو، یو صحابي پوښتنه ځني کوي: چي بیا به نو ستاسو گزاره په څه باندي کیدله؟

دا مبارکه ورته فرمایي:

.........الْأَسْوَدَانِ: التَّمْرُ، وَالْمَاءُ.(۲)

پر دوو(۲) شیانو به زموږ گزاره وله، یعني خورما او اوبه، د دې څخه علاوه زموږ په کور کي نه اور بلېدی، او نه نور څه وو.

په یو روایت کي داسي هم راځي: چي پیغمبرﷺ یو ځل د لمانځه کولو لپاره په محراب کي ودرېدی: چي کله اقامت وسو، نو یو دم ده ته یو فکر ور پیدا سو، او د حجرې مبارکې پر طرف روان سو، صحابه وو ته ئې وویل: تاسو لږ انتظار وکړئ، زه واپس راځم، نو د یو څه گړي ځنډ څخه وروسته واپس راوواتی، او صحابه کرامو ته ئې لمونځ ورکړی.

د سلام گرځولو څخه وروسته صحابه کرامو پوښتنه ځني وکړه: ای د الله رسوله! نن تا یو داسي عمل وکړی: چي د دې څخه مخکي دي هیڅکله نه ووکړی، چي د اقامت کېدلو څخه وروسته کورته ولاړې، او یو څه وځنډېدې، او بیا واپس راغلې.

---

(۱) سورة البقرة، آیت نمبر ۲۱۹

(۲) سنن ابن ماجه، حدیث نمبر ۴۱۲۵

نو ده مبارک ورته وفرمائيل: چي زه کله پر مصله و درېدلم، نو زما په ياد کي راغله
چي زما په کور کي اوه(۷) ديناره دغسي پراته دي، او ماته د الله و مخ ته د حاضرېدل
څخه شرم ودرېدی: چي په داسي حال کي پر ما باندي لمر لوېږي، او زما سره اوه(۷
ديناره تر ضرورت زيات پراته دي، نو ځکه اول ورغلم، هغه مي صدقه کړه، د هغه څ
وروسته مي لمونځ وکړی.

نو د دغه رواياتو حاصل خو دا دی: چي کله د پيغمبرﷺ حضور ته څه راتلل، هغه
ئې دستي صدقه کول، او په کور کي به ئې هيڅ نه پرېښدل، نو يو طرف ته د ده مبار
معمول دغه وو.

او بل طرف ته د ده فرمان دغه دی: چي صدقه به په اعتدال کي کوئ، چي د هغې
کولو څخه وروسته صبا ته د پرېشانۍ سره مخامخ نه ئې، نو د عمل او قول تطبيق
څنګه کيږي.

نو د خبري حقيقت بايد انسان په دماغ کي ښه کښېنوي، او هم په دغه خبره باندي
ښه شکل سر خلاص کړي.

پيغمبرﷺ به د خپلو ټولو زنانو نفقه او خرچه هر کال د کال په شروع کي پر يو ځا
باندي ور کوله، نو چي کمه نفقه پر ده واجب وه: هغه به ادا کېدله، نور خو نو د ده
"ازواج مطهرات" هم "سخي النفس" مخلوق وو، هغو به د هغه خپلي نفقې څخ
صدقې کولې، او ده مبارک به پخپله هم زياته صدقه کوله، نو په دغه وجه به کله کله
ده د کور حالت و دغه حال ته ورسيدی: چي بيا به د ده سره هيڅ نه وو.

د پيغمبرﷺ په کور کي دا عادت هم نه وو: چي کم وخت به د ده په کور کي هيڅ پاته ن
سو، نو بيا به ئې د بل څخه سوالونه کول، ځکه د هغو مزاج او عادت دا وو: چي د الل
څخه علاوه د بل هيڅ چا و مخته د لاس غوړولو هيڅ سوال نه پيدا کيدی.

ليکن زموږ کمزورو انسانانو لپاره دغه طريقه نه وه، بلکه زموږ لپاره د دا نصيحت او
وصيت پرې ايښی دی.

........وَخَيْرُ الصَّدَقَةِ عَنْ ظَهْرِ غِنًى).

بهترينه صدقه هغه ده: چي د هغه تر شا غنا پاته سي.

خلاصه دا، چي انسان باید په خپل کور کي د خپل ځان د ضرورت لپاره یو څه شي خوندي کوي، او د پیغمبرﷺ په دغه فرمان باندي عمل کوي، او د پیغمبرﷺ خپل ذاتي عمل د خپلي زندګۍ لپاره اصلي حکم بولي.

## **څلورم(۴)، او آخري نصیحت:**

او د پیغمبرﷺ څلرم وصیت او نصیحت خپل امت ته دا دی:

.............. ﴿وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللَّهُ، وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللَّهُ﴾.[1]

چي کم انسان پاکدامني اختیار کول غواړي: نو الله تعالی به ده ته پاکدامني ور نصیب کړي، او چي کم سړی د الله تعالی څخه دا وغواړي: چي زه د چا محتاجه نه سم، نو الله تعالی به ده ته بې نیازي ور نصیب کړي.

د پیغمبرﷺ په دغه نصیحت زموږ اکابرو عجیبه عمل کاوی، او هغوی عجیبه زندګۍ تیري کړې، چي الله تعالی پخپله زندګي کي دوی د چا محتاجه نکړل، بلکه چي کله به ضرورت پیدا سو: الله تعالی د غیبو څخه ور پوره کاوی.

## **د سالم بن عبدالله بن عمر رضی الله عنه واقعه:**

حضرت سالم بن عبدالله بن عمر رضی الله عنه د "بیت الله" په طواف کي روان دی، د بنو امیه مشهور او طاقتور خلیفه هشام بن عبدالملک هم په طواف کي ور سره روان دی، چي کله ئې د ده سره ملاقات وسو، نو د پوښتني څخه وروسته هشام ورته وایي: حضرت! که یو څه حاجت وي، نو ماته ئې ووایه، چي زه ئې در پوره کړم.

دی ورته وایي: ﴿إلیٰ الله﴾ سړیه! د الله څخه و بیرېږه، د الله په کور کي د الله پر بیته باندي د طواف کولو په حالت کي روان یم، او په دې ځای کي د الله څخه ما سوا د بل چا څخه غوښتنه کول، څومره د شرم خبره ده.

هشام خاموشه سو، او خپل طواف ئې پوره کړی، د طواف پوره کولو څخه وروسته د حرم څخه د باندي وواتی، او لار ئې ورته ونیوله.

[1] صحیح البخاري: حدیث نمبر ۱۴۲۷

چي کله حضرت سالم بن عبدالله بن عمر ﷺ د طواف څخه فارغه سو، رااوواتی، د
تر حدودو راتير سو، نو په لاره کي هشام بيا ملاقات ورسره وکړی، نو تر لاس
ونيوی، او ورته وئې ويل: حضرت! اوس خو يو حاجت راڅخه وغواړه.
حضرت سالم بن عبدالله ورته وايي: اى هشامه! د دنيا حاجت در څخه وغواړم، او
د آخرت حاجت؟
هغه ورته وايي: د آخرت حاجت به زه څه در پوره کړم، ځکه د آخرت لوی امام خوت
بلکه زما څخه د دنيا يو حاجت که لري، وئې وغواړه، چي زه ئې در پوره کړم.
نو حضرت سالم بن عبدالله ورته وايي:
.........وَ اللهِ مَا سَئَلْتُ مَنْ يَمْلِكُهَا فَكَيْفَ مَنْ لَا يَمْلِكُهَا﴾.
په خدای قسم! دنيا تر اوسه پوري ما د هغه چا څخه نه ده غوښتې: چي کم ذات د
ټولي دنيا حقيقي مالک دی، او ټوله دنيا هغه جوړه کړې ده، نو چي کم څوک
مالک نه دی، او نه دنيا د هغه په لاس جوړه سوېده، نو د هغه څخه به ئې څ
وغواړم.
هشام چي کله د ده دغه د استغناء ډک کلام واورېدی، نو د مايوسی په شکل :
روان سو، او دی ئې هلته پرېښوو ی.(1)
نو د پېغمبر ﷺ په دې حديث مبارک کي آخرنی وصيت او نصيحت دا دی: چي
څوک په رښتوني طريقه د الله تعالی څخه د عفت ژوند وغواړي، يا د الله څخه علا
بل چا د محتاجی څخه د خلاصي زندگی غوښتنه وکړه، نو الله تعالی هغه ته هرڅ
کوي، خو شرط ئې په اخلاص سره او په کامل يقين سره او په کامله توجه سره د
تعالی د ذات څخه غوښتنه ده.

## يو عجيبه او غريبه واقعه:

حافظ ابن کثير په "البدايه و النهايه" کي يو عجيبه او غريبه او رښتوني واقعه را:
کړېده: چي د روسي ترکستان په طرف کي د ري بزرگان اوسېدل، او د درو سرو نو
محمد وو.

(1) شاهکار تقارير صفحه نمبر ۲۰۲

یو محمد بن جریر طبري رحمة الله علیه، چې د هغه تفسیر د "تفسیر ابن جریر" په نامه باندې مشهوره دی.
او دوهم محمد بن خزیمه رحمة الله علیه، چې ډېر لوی محدث وو، او د ده "صحیفه خزیمه" د حدیثو مشهور کتاب دی.
او دریم محمد بن نصر المروزي رحمة الله علیه، چې دی هم ډېر لوی محدث وو، او د "قیام اللیل" په نامه د ده تصنیف مشهوره دی.
په ابتدا کې دوی په خپل کلي کې استوګنه کوله، او علم به ئې حاصلوی، لیکن دا ئې اورېدلي وه: چې لوی لوی علماء محدثین، فقهاء، اومفسرین په "بغداد" کې اوسیږي.
چنانچه دوی یو ځل د علم حاصلولو په خاطر د "بغداد" پر طرف د تللو سودایان سول.
لیکن چیري ترکستان او چیري بغداد او عراق.
خو بالآخر د ځان سره ئې یو څه "زاد سفر" برابر کړی، او د سفر کولو په اراده د خپل وطن ترکستان څخه د بغداد پر طرف روان سول.
اوس هغه نه د جهازونو او ریل ګاډیو او بسونو زمانه ده، چې دومره طویل سفر دي په آسانه طریقه وکړي، نه معلوم: چې هغه انسانان پر آس یا اوښ یا پیدل د سفر په اراده را روان دي.
د څو میاشتو سفر کولو څخه وروسته په داسي حال کې "بغداد" ته را ورسېدل: چې د دوی زاد سفر او هغه خرچه ټوله خلاصه سوله، او د یوې ورځې خورکه هم ور پاته نه ده، او نه په "بغداد" کې څوک داسي واقف او شناخته لري، چې د هغه سره وخت تیر کړي.
بهر حال د ښار پر کناره ئې یو زوړ او خرابه مسجد پیدا کړی، او په هغه کې ئې خپلي بسترې کښېښولې، او پخپل درمیان کې ئې مشوره سره وکړه، چې زموږ خرڅه خو ختمه ده، نو د پر مخ تللو پر ځای باید یو ځل د خپل خرچې او نفقې بندوبست وکړو.
او د ځان لپاره یو ځای د مزدورۍ تلاش وکړو، چې یو څه شی زموږ لاس لره راسي، او په هغه باندې زموږ د خورکې سامان برابر سي، بیا به یو عالم ته ورځو، او د هغه څخه به علم حاصلوو.

چنانچه د مزدورۍ په تلاش کي راووتل، توله ورځ وګرځېدل، لیکن مزدوري یو ځا
هم نسوه ورپیدا، مابنام پیرته دغسي خالي لاس هغه مسجد ته سره راغله، حتی چ
درې(۳) ورځي دغسي د لوږي په حالت کي ور باندي تیري سوې، څو هیڅ کار
پیدا نکړی.
بالآخر درو سره وو په خپل مابین کي مشوره سره وکړه: چي اوس خو زموږ حالت
حد ته ورسیدی: که د خورک یو څه پیدا نسي، نو زموږ د مرګ خطره ده، او په دغه
کي موږ ته الله تعالی سوال کول جائز ګرځولی دی، نو اوس بغیر د دې څخه چي یو
ته به ورځو، او هغه ته به خپل حالت ښکاره کوو، او د هغه څخه به سوال کوو، بله چا
نسته.
حالانکه درې(۳) سره بزرګان داسي دی: چي توله عمر په دوی کي یوه هم داسي
نه دی کړی، نو دوی پخپل مابین کي دا مشوره طی کړه: چي یو ملګری به په قر
اندازي سره منتخب کړو، هغه به ځي، دغه سوال به کوي.
چي کله دوی پخپل مابین کي قرعه اندازي وکړه، نو په هغه کي د محمد ابن نصر
راووتی.
نو محمد ابن نصر ملګرو ته وویل: چي اوس خو په قرعه کي زما نوم راوتلی دی، او
به ضرور په دغه کار پسي ځم، لیکن د تللو څخه مخکي ماته د دوه(۲) رکعته لمان
کولو وخت او اجازت راکړئ.
چنانچه دوی اجازت ورکړی، نو محمد بن نصر اودس وکړی، او د او داسه کولو څ
وروسته ئې د دوه(۲) رکعته لمانځه نیت وتاړی، د لمانځه کولو څخه وروسته ئې
الله تعالی څخه دعا وغوښته.
چي ای الله! دغه لاس تر اوسه پوري ستا د دربار څخه علاوه د بل چا و مخ ته نه د
وړاندي سوی، نن داسي مجبوري پر موږ راغلې ده: چي د بل چا و دربار ته د لا
وړاندي کولو ته مجبوره سوي یو، که ته پخپل فضل سره داسي بندوبست وکړې: چ
دغه لاس د بل و مخ ته نسي وړاندي، ته خو پر هرڅه قادر ئې، ستا به پر موږ عظ
احسان وي.

نه معلوم چې د هغو انسانانو په دعا کې کم تاثیر وو، چې دعا لا نه وه ختمه سوې، د مسجد په دروازه کې یو سړی دسترخوان په لاس کې را ښکاره سو، او د دغه درو(۳) بزرگانو نوم ئې واخیستی، او د دوی معلومات ئې کاوی.

دوی ډېر زیات حیران سوه، چې په ټوله بغداد کې خو زموږ پېژندونکی هیڅوک نسته، موږ خو یو اجنبي او مسافر دلته راغلي یو.

غرض دا: چې هغه سړي دوی ته وویل: چې ستاسو لپاره د "بغداد" حاکم خورکه را استولې ده، دا در واخلئ، دوی ورته وویل: چې خورکه خو به ورروسته را اخلو، لیکن دا راته ووایه: چې د "بغداد" د حاکم سره زموږ څه تعلق حالانکه د "بغداد" په ټوله ښار کې نه موږ څوک پېژني، او نه موږ څوک پېژنو.

چې کله تحقیق د خبرې وسو، نو دا معلومه سوه: چې په دغه شپه د "بغداد" حاکم ته په خوب کې پیغمبر ﷺ راغلی، او ورته وئې ویل: چې ته څنګه د "بغداد" حاکم ئې: ستا په دې ښار کې زما درې(۳) میلمانه په داسې حال کې اوسیږي: چې پر هغو باندې دا درې(۳) ورځې په لوږه تیرېږي، او د هغوی د خورک هیڅ انتظام نسته.

بیا په خوب کې پیغمبر ﷺ هغه ته د دوی پوره معلومات ورکړی، چې د "بغداد" په فلان مسجد کې دي، او په هغو کې:

۱. د یوه نوم: محمد بن جریر.
۲. د دوهم نوم: محمد بن خزیمه.
۳. د دریم نوم: محمد بن نصر دی.

د بغداد حاکم چې کله د خوب څخه رابیداره سو، د ټولو څخه مخکې کار ئې دا وکړی: چې ما ته ئې دغه خورکه راکړه: او ستاسو حضور ته ئې راواستولم.

خبره په اصل کې دا ده: چې زموږ سره د الله د دربار څخه د غوښتلو ترتیب نسته، او په حقیقت کې موږ خلک په غوښتنه نه پوهیږو، او نه د غوښتنې طریقه را معلومیږي.

ورنه که موږ هم دغه رنګه د مشکل حالاتو په وخت کې د الله و طرف ته خپله رجوع وکړو، او هم خپله توجه برابره کړو، نو الله تعالی به د غیبو د طرفه زموږ امداد کوي، او هم به مې د بل و لاس ته نه مجبوره کوي.[1]

---

[1] البدایه و النهایه: باب و فیها توفی: جزء نمبر۱۱، صفحه نمبر۱۱۶، (مکتبه شامله)

## بهترينه صدقه:

د صدقې متعلق په قرآن کريم او د پيغمبرﷺ په احاديثو کې يو اهمه مسئله يا
سوېده: چې الله تعالى په دغه آيت کې اشاره ورته کړې ده:

..........﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَنْفِقُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا كَسَبْتُمْ وَمِمَّا أَخْرَجْنَا لَكُمْ مِنَ الْأَرْضِ وَلَا تَيَمَّمُ
الْخَبِيثَ مِنْهُ تُنْفِقُونَ وَلَسْتُمْ بِآخِذِيهِ إِلَّا أَنْ تُغْمِضُوا فِيهِ﴾.(۱)

اې مؤمنانو! تاسو په صدقه کې د خپل مال څخه عمده شی ورکوئ، او هم د ځمکې
پيداوار څخه مسکين ته په صدقه کې عمده او ښه شی ورکوئ.

ردي او ناکاره شی مه ورکوئ، چې تاسو پخپله د هغه شي د چشم پوشۍ څخه علاو
په خوښه آخيستلو ته تيار نه یاست.

د بعضې انسانانو عادت دا وي: چې هغه په صدقه کې کمزوری او بې قيمته ش
ورکوي، حالانکه قرآن کريم د انسانانو د دغه طرز عمل په وجه دې آيت ته متوجه کړ
دي:

..........﴿لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ﴾.(۲)

تاسو نيکۍ ته هيڅ کله نسئ رسيدلای، چې تر څو پورې مې خپل خوښ شی صدقه
کړې.

زموږ په معاشره کې ما درته ويل: د انسانانو عادت دا دی: چې څومره کمزوری او
ده ناخوښه شی وي، دی هغه صدقه کوي، حالانکه د هغې څخه د صدقې چې ک
فضيلت دی: کله حاصل نسي.

د تاريخ څخه دا معلوميږي: چې د صحابه کرامو حال دا وو: چې د دغه آيت
رانازلېدلو څخه وروسته د پيغمبرﷺ خدمت ته ډله تر ډله راتلل، او هر سړي به پ
خپل مال کې د ټولو څخه زيات محبوب شی د پيغمبرﷺ خدمت کې پيش کوی.

---

(۱) سورة البقره: آيت نمبر ۲۶۷
(۲) سورة آل عمران: آيت نمبر ۹۲.

## د حضرت ابو طلحه رضي الله عنه سخاوت:

د دغه آیت د رانازلیدلو څخه وروسته حضرت ابو طلحه رضي الله عنه د پیغمبر ﷺ حضور ته راغلی، او ورته وئې ویل: ای د الله رسوله! ماته په ټوله مال کې زیات محبوب هغه باغ دی، چې په هغه کې یو ځا دی، چې د هغه اوبه ډیرې خوږې، او هم زیاتې دي، او پیغمبر ﷺ به اکثریت هغه ځای ته ورتلی، او د هغه اوبه ئې چیښلې، نو هغه باغ زما تر ټولو خوښ او محبوب مال دی، او د الله تعالی فرمان دی:

..........لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ﴾. (۱)

نو زه دغه خپل باغ صدقه کول غواړم، پیغمبر ﷺ په جواب کې ورته وویل:

..........بَخٍ، ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ، ذَلِكَ مَالٌ رَابِحٌ﴾. (۲)

واه، واه، دا خو ډیر د نفعې مال دی، او بیا ده ته پیغمبر ﷺ مشوره ورکړه: چې دغه په خپلو نزدې قریبانو کې سره تقسیم کړه.

چنانچه ده خپلو نزدې قریبانو ته ورتقسیم کړی، او د پیغمبر ﷺ په هدایت په هغه کې حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه او حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه ته هم حصه ورسیدله.

## د نورو صحابه کرامو جذبه:

یو ځل یو صحابي پیغمبر ﷺ ته راغلی، او ورته وایې: ای د الله رسوله! ما ته پخپل ټوله مال کې د ټولو څخه زیات خوښ هغه آس دی: چې هغه ما په ډیرو پیسو او په ډیر شوق سره رانیولی دی، زه هغه صدقه کول غواړم: چې د الله تعالی په دغه فرمان مذکور باندې زما عمل را برابر سي.

یو بل صحابي راغلی: او ورته وایې: ای دالله رسوله! زما په ټوله ملکیت کې یوه منځه ما ته د ټولو څخه زیاته محبوبه ده، زه هغه صدقه کول غواړم.

صحابه کرامو خو تر دغه حده پورې د الله په فرمان عمل کاوی، نو به ئې د ټولو څخه زیات محبوب شی صدقه کاوی، حالانکه حکم د نفس محبوب شې د صدقه کولو وو،

---

(۱) سورة آل عمران: آیت نمبر ۹۲

(۲) صحیح البخاري: حدیث نمبر ۱۴۶۱

لیکن صحابه کرامو به همېشه د زیات ثواب پیدا کولو کوشش کاوی، چې کم شی به تر ټولو زیات محبوب وو، هغه به ئې صدقه کاوی.

## د زکات څخه علاوه هم یو څه حقوق دي:

نو ځکه زموږ لپاره مناسب دي: چې د زکات څخه علاوه هم یو څه شی د الله په لار کي صدقه کوو، زکوة خو فرض دی: لیکن صرف د هغه پهٔ ادا کولو سړی نه خلاصیږي.
لکه څنګه په لمانځه کي انسان صرف پر فرائضو اکتفا نسي کولای، بلکه سنت به هم کوي، چې د هغه بغیر د انسان لمونځ مکمل نه بلل کیږي.
داغه رنګه د زکات د ادا کولو څخه وروسته دا فکر کول: چې نور نو زما دپاره هیڅ د صدقه کولو ضرورت نسته، دا د انسان لویه غلط فهمي ده.
ځکه په یو حدیث کي پیغمبر ﷺ فرمایي:
.........إِنَّ فِي الْمَالِ حَقًّا سِوَى الزَّكَاةِ). ([1])
د انسان په مال کي د زکوة څخه علاوه نور هم حق وي، (یعني صدقات وغیره) چنانچه زموږ د بزرګانو طریقه دا وه: چې هغو به د خپلي آمدنی یو حصه جلا کوله، او هغه به جلا ځای پرته وه، او هغه به د دوی د صدقې کولو مال وو.

## په صدقه کي زموږ د بزرګانو معمول:

د حضرت تهانوي رحمة الله علیه په حالاتو کي لیکلي دي: چې هغه به د خپل مال خمس یعني پنځمه حصه چې شل فیصده جوړیږي، جلا کاوی، او په جلا تیلۍ کي به ئې ایښوی، او بیا به ئې د خیر په مصارفو کي صدقه کاوی.

د حضرت علامه شبیر احمد عثماني په باره کي راځي: چې هغه به د خپل ملکیت لسمه(۱۰) حصه د دغه مقصد یعني صدقې لپاره جلا ایښوله.
د حضرت مفتي محمد شفیع رحمة الله علیه معمول دا وو: چې هغه به ورته کتل: چې کمه آمدني به د محنت په بدله کي وه، نو د هغې به ئې شلمه(۲۰) حصه صدقه کوله، او چې

([1]) سنن ترمذي، حدیث نمبر ۶۶۰

کمه آمدني به بغير د محنته وه، د هغه به ئې لسمه(۱۰) حصه د صدقې لپاره جلا په يو تيلۍ کي اېښوله، چي پر هغه به "مبّرات" يعني(صدقه او خيرات) ليکلي وو.

د هغه به دا فائده وه: چي دی به همېشه د صدقې پر کولو اماده وو، او د صدقې لپاره به ئې زيات سوچ او فکر ته ضرورت نه وو، مثلاً چي کله به ده ته لس(۱۰) روپۍ راغلې، نو ده به يوه روپۍ څني جلا کوله، که به ماتي پيسې نه وې، نو هغه به ئې ماتولې، او يوه روپۍ به ئې د صدقې په تيلۍ کي اچوله.

اوس بظاهر خو دا کار انسان ته ګران ور معلومېږي: ليکن د دې عمل په وجه د ډېرو انسانانو حقوق ادا کيږي.
او دا کار هر انسان کولای سي، که هر څومره غريب وي، مثلاً د يو سړي ملکيت لره يوه روپۍ راغله، نو د هغه څخه به ئې يوه آنه جلاکوله، او د صدقې لپاره به ئې اېښوله، چي کله به دهغه څخه روپۍ جوړه سوه، نو بيا به ئې صدقه کوله.
نو د ده دغه صدقه او د يو بل مالداره انسان په يو لک کي زر(۱۰۰۰) صدقه کول سره برابر دي.

ځکه چي د وی دواړو هر يوه د خپل ملکيت سلمه(۱۰۰) حصه صدقه کړله، الله‌تعالی د صدقې کثرت او قلت ته نه ګوري بلکه هغه د انسان د زړه اخلاص او جذبې ته اعتبار ورکوي.
نو دنيا او د مال محبت د ټولو فساداتو جړ او بنياد دی، د هغه د ختم کولو لپاره الله تعالی انسانانو ته د صدقې حکم او ترغيب ور کوي.

الله تعالى دي زموږ په زړو کي د دغه حکم اهميت پيدا کړي، او هم دي موږ ته د بهترينو صدقاتو توفيق رانصيب کړي، او الله تعالى دي دغه مذاکره پخپل دربار کي قبوله وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# جنتي ژوند

(بیان)


مولوی **اطیع الله** صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ **کلیم الله** صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــریـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود مرحوم چمن |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاریـــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ، لَكُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ كَثِيرَةٌ مِنْهَا تَأْكُلُونَ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، وَالْفِرْدَوْسُ أَعْلَى الْجَنَّةِ وَأَوْسَطُهَا، وَفَوْقَ ذَلِكَ عَرْشُ الرَّحْمَنِ، وَمِنْهَا تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ، فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللَّهَ فَسَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ.﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُلِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو ! زموږ او ستاسو په سترګو کي د کائناتو چي څومره نظام راځي، د دې ټوله نظام خالق او مالک او چلونکی د الله تعالی ذات دی.

خو الله تعالی دا نظام د یو ضابطې او طریقې ماتحت چلوي، هغه ضابطه او قاعده دا ده: چي کم انسان د دې کائناتو په نظام کي یو ځل د مور د نس څخه دې دنیا ته سترګي را روښي کړې، او په دنیا کي ئې خپله زندګي روانه کړه، هغه به یو ځل ضرور د دنیا څخه سترګي پټوي، او هم به د آخرت پر سفر روانیږي.

یعنی چي کم چا ته په دنیا کي ژوند ور کول سو، هغه به یوه ورځ د مرګ سره ضرور مخامخ کیږي.

---

(١)سورة الزخرف، آیت نمبر ۷۳

(٢)سنن ترمذي: حدیث نمبر ۲۵۳۰

د شيخ ابو علي ابن سينا څخه يو چا پوښتنه وکړله: چي انسان چي يو ځل په دنيا کي ژوند پيدا کړي، نو د هغه څخه وروسته ده لره مرګ راځي، خو په دنيا کي د انسان د مرګ سبب څه دی؟ يعني مرګ ولي ورلره راځي..

هغه په جواب کي ورته وويل: چي د انسان د مرګ سبب د انسان ژوند دی، چي کم چا ته په دنيا کي ژوند ورکول سو، نو هغه به يو ورځ ضرور د مرګ سره مخامخ کيږي.

اوس د مرګ څخه وروسته انسان پر کم طرف ځي؟ او د کمو حالاتو سره مخامخ کيږي، د هغه حالاتو معلومولو د انسان سره هيڅ لار نسته.

نه يو داسي علم سته، او نه يو داسي فن سته، او نه يو داسي معلومات سته: چي په دنيا کي انسان د مرګ څخه د وروسته حالاتو څخه خبرداره کړي، چي کم انسان د دنيا څخه د مرګ پر سفر روان سي، نو هغه خو د هغه حالاتو څخه خبر سي، ليکن موږ ته د هغه تلونکي انسان هيڅ معلومات نکيږي، او نه د هغه حالات را معلوميږي.

## د يو بزرګ عجيبه قصه:

حضرت مولانا مفتي محمد شفيع رحمة الله عليه د يو بزرګ واقعه ليکلې ده: چي يو بزرګ وو، د هغه مريدانو ده ته يو ځل وويل: حضرت کم سړی چي مړ سي، او د دنيا څخه رخصت سي، نو هغه بيا داسي زموږ څخه غائب سي: چي د هغه د هيڅ حالاتو څخه موږ نه خبريږو.

نه هغه کس د راته وايي: چي کم ځای ته ورسيدم، او نه دا ربنکاره کوي: چي زما سره څه معامله وسوه، ته موږ ته يو داسي تدبير راوښيه: چي موږ ته د هغه حالاتو څخه معلومات وسي.

هغه بزرګ ورته وويل: تاسو داسي وکړئ: چي کله زه وفات سوم، او ما په قبر کي ايږدئ، نو زما سره په قبر کي يو کاغذ او قلم هم کښېږدئ، ماته کچيري موقع په لاس راغله، نو زه به تاسو ته په ليکلې بڼه د هغه حالاتو خبر درکړم، چي هلته کم واقعات پېښيږي، او د انسان و مخ ته کم حالات راځي؟ هغه انسانان ډېر خوشحاله سول، موږ ته به د آخرت د حالاتو معلومات وسي.

چي کله هغه بزرگ وفات سو، نو د هغه د وصیت مطابق د ده د دفن کولو په وخت کي ئې هغه انسانانو د ده سره په قبر کي کاغذ او قلم کښېښوول، خو هغه بزرگ دا وصیت هم کړی وو: چي دوهمه ورځ به زما قبر ته راسئ، هغه کاغذ به واخلئ، پر هغه به تاسو د مرګ څخه بعد پېښېدونکي حالات لیکلي وي،

چنانچه دوهمه ورځ هغه خلک ټول د هغه بزرګ قبر ته ورغلل، نو که ګوري: هغه کاغذ د ده پر قبر پروت ده، او پر هغه باندي خط لیکلی دی، دوی چي کله هغه کاغذ ولیدله، نو ډېر خوشحال سول، چي نن خو به موږ ته د دنیا څخه د رخصت کیدلو وروسته حالات رامعلوم سي، لیکن چي کله ئې کاغذ راپورته کړی، او هم ئې ووایي، نو پر هغه باندي دا لیکلي وه:

.........."د دې ځای حالات د لیدلو دي، خو چاته د بیانولو ندي".

اوس الله تعالی په دې خبر دی: چي دا څنګه واقعه ده: چي ربښتیا ده، او کنه، د الله تعالی په قدرت کي خو سته، چي الله تعالی داسي وکړي، نو دا واقعه دي ربښتیا وي، او دا هم کیدای سي: چي یو چا دي د ځان څخه جوړ کړی وي.

لیکن حقیقت داغه دی: چي د هغه ځای حالات د ویلو نه دي، صرف د لیدلو دي، نو ځکه الله تعالی د هغه ځای حالات په داسي راز کي ساتلي دي، چي پر هیڅ چا ئې هم یوه ذره نه دي ښکاره کړي.

بس په قرآن کریم کي الله تعالی یا د پیغمبرﷺ په احادیثو کي چي څومره خبري راغلي دي، د هغه څخه زیات هیچاته هم د هغه حالاتو په باره کي دمعلومات کولو هیڅ لاره نسته.

په قرآن کریم کي یا د پیغمبرﷺ د احادیثو په ذریعه چي کم حالات تر موږ پوري رارسېدلي دي، د هغه یو مختصره حصه زه ستاسو په مخ کي ایږدم، الله تعالی دي ماته د صحیح بیانولو توفیق رانصیب کړي، او هم دي موږ او تاسو ټولو ته پر هغه باندي د عمل کولو توفیق راکړي.

## د الله تعالى نظام:

د کائناتو په نظام کي الله تعالى په دنيا کي انسان په څه امورو مکلف ګرځولى دى، چي انسان به هغه پر ځاى کوي، او هم ئې انسان د بعض اعمالو څخه منع کړى دى، چي انسان به د هغه څخه ځېل ځان راګرځوي.
کچيري يو انسان په دنيا کي زندګي د الله تعالى پر دغه امورو باندي برابره تېره کړي، او د الله تعالى اوامر پرځاى کړي، او هم د الله تعالى د نواهيو څخه پرهيز وکړي، نو د مرګ څخه وروسته الله تعالى به هغه انسان ته د دغه اعمالو په بدله کي په خپله مهمان خانه جنت کي مېلمستيا ورکوي.
چي بيا به دغه انسان د الله تعالى "ميلمه" وي، او جنت به "د ميلمانه خانه" وي، او الله تعالى به د دغه ميلمستيا "کوربه" وي، اوس په جنت کي انسان ته د الله د طرفه کم نعمتونه تيار سويدي، د هغه ذکر الله تعالى قرآن کريم کي کړيدى:
.........لَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ ۝ نُزُلًا مِنْ غَفُورٍ رَحِيمٍ﴾.(¹)
ستاسو لپاره به په جنت کي هغه څه وي، چي ستاسو هغه ته اشتها کيږي، او ستاسو د زړه غوښتنه وي، او هم به ستاسو دپاره هغه څه وي: چي تاسو ئې طلب کوئ، او دا به ستاسو لپاره د الله د طرفه ميلمستيا وي.

## د جنت درجات:

چونکه په دنيا کي د انسانانو حالات مختلف دي، ځکه بعضي انسانان بعضي اعمال په ډېره لوړه درجه کي ادا کوي، او بعضي انسانان بيا په اعمالو کي کمزوري وي، نو ځکه د الله تعالى د طرفه په ميلمستيا کي هم فرق وي، او هم داغه رنګه د جنت په درجاتو کي فرق راځي.
لکه د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دى:
.........إِنَّ فِي الجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ، وَالفِرْدَوْسُ أَعْلَى الجَنَّةِ وَأَوْسَطُهَا، وَفَوْقَ ذَلِكَ عَرْشُ الرَّحْمَنِ، وَمِنْهَا تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الجَنَّةِ، فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللَّهَ فَسَلُوهُ الفِرْدَوْسَ﴾. (¹)

---

(¹) سورة فصلت، آيت نمبر ۳۱

په جنت کي سل(۱۰۰) درجې دي، او د هرو دوو(۲) درجو په درمیان کي دومره فاصله ده: لکه د مځکي او آسمان په درمیان کي، په ټولو جنتو کي اعلی جنت "جنت الفردوس" دی، تاسو د الله تعالی څخه د هغه غوښتنه کوئ.

د پیغمبرﷺ د روایاتو څخه ضمناً دا ښکاره کیږي: چي په دې جنتو کي یو جنت دی: چي هغه ته "جنت الفردوس" وایي، او هغه الله تعالی په امر د "کُن" سره جوړ کړی دی، چي د هغه څخه د ټولو جنتو نهرونه را بهیږي.

د هغه متعلق حدیث قدوسي دی: چي الله تعالی فرمایي:

.........غَرَسْتُ اَشْجَارَهَا وَ جَرَيْتُ اَنْهَارَهَا﴾.

ما په خپل لاس د هغه درختي لګولي دي، او هم مي د هغه نهرونه روان کړي دي.

.........لَمْ يَرَى اَحَدٌ مِنْ خَلْقِ لَانَبِيٌّ مُرْسَلٍ وَ لَا مَلِكٌ مُقَرَّبٌ﴾.

تر اوسه الله تعالی نه یو نبي ته ور ښکاره کړی دی، او نه یو مقربي ملائکي لیدلی دی.

لکه د حضرت ابو هریرهؓ روایت دی: چي دی مبارک وایي: ما د پیغمبرﷺ څخه پوښتنه وکړه:

.........مِمَّ خُلِقَ الخَلْقُ؟﴾.

الله تعالی مخلوقات د څه څخه پیدا کړي دي؟ ده په جواب کي راته وویل:

......... مِنَ الْمَاءِ،﴾.

چي د اوبو څخه.

بیا ما دوهمه پوښتنه د جنت او د هغه د بناء وکړه، ده په جواب کي راته وویل:

......... لَبِنَةٌ مِنْ فِضَّةٍ﴾. یوه خښته د سپینو زرو څخه،

.........وَلَبِنَةٌ مِنْ ذَهَبٍ،﴾. او بله خښته د سرو زرو څخه.

.........وَمِلَاطُهَا الْمِسْكُ الأَذْفَرُ،﴾. او د هغه خټه تیز خوشبویه مشک وي.

.........وَحَصْبَاؤُهَا اللُّؤْلُؤُ وَالْيَاقُوتُ،﴾. او د هغه غوندی ملغلري او یاقوت وي.

.........وَتُرْبَتُهَا الزَّعْفَرَانُ،﴾. او د هغه خاوره او چمنیان زعفران وي.

---

[1] سنن ترمذي، حدیث نمبر ۲۵۳۰

..........مَنْ دَخَلَهَا يَنْعَمُ وَلاَ يَبْأَسُ، وَيَخْلُدُ وَلاَ يَمُوتُ، لاَ تَبْلَى ثِيَابُهُمْ، وَلاَ يَفْنَى شَبَابُهُمْ ).(١)

- چي کم څوک يو ځل جنت ته ورننوزي، په ډېر آرام او سکون سره به وي.
- د هغه سره به هيڅ پرېشاني نه وي.
- او ژوند به ئې همېشه وي، چي بيا به پر ده باندي مرګ نه راځي.
- او کپړي به ئې همېشه نوي وي، چي بيا به هيڅکله زړي نسي.
- او ځواني به ئې دائمي وي، چي بيا به پر ده باندي بوډاوالی نه راځي.

لکه د قران کريم په آياتو کي د دغه جنتيانو د استوګني لپاره د "مسکن طيب" ذکر سويدی، چي الله تعالی وايي:

..........وَمَسَاكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنَّاتِ عَدْنٍ﴾.(٢)

د جنتيانو لپاره به په دغه جنتو کي بيا خاص په جنت عدن کي د استوګني بهترين ځايونه وي.

د حضرت ابو هريره ﷺ څخه چا پوښتنه وکړه:

..........مَا مَسَاكِنُ طَيِّبَةً﴾.

ای ابو هريره! "مسکن طيب" څه ته وايي؟ چي الله تعالی د جنتيانو د استوګني لپا برابر کړيدی.

ده په جواب کي ورته وويل:

..........قَصْرٌ فِي الْجَنَّةِ مِنْ لُؤْلُؤَةٍ، فِيهَا سَبْعُونَ دَارًا مِنْ يَاقُوتَةٍ حَمْرَاءَ،﴾.

په جنت کي الله تعالی د دوی لپاره يو قصر او بنګله د ملغلرو څخه جوړه کړېده، چي هغه کي د دوی لپاره اويا (٧٠) کوره، د سرو ياقوتو څخه جوړ سويدي.

..........فِي كُلِّ دَارٍ سَبْعُونَ بَيْتًا مِنْ زُمُرُّدَةٍ خَضْرَاءَ،﴾.

او په هر کور کي اويا (٧٠) خوني او کوټې د زرغونو زمرودو څخه جوړي دي.

..........وَكُلُّ بَيْتٍ سَبْعُونَ سَرِيرًا،﴾.

او په هره خونه کي اويا (٧٠) کټونه پراته دي.

---

(١) سنن ترمذي، حديث نمبر ۲۵۲۶

(٢) سورة الصف: آيت نمبر ۱۰

.........عَلَى كُلِّ سَرِيرٍ سَبْعُونَ فِرَاشًا مِنْ كُلِّ لَوْنٍ﴾.

او پر هر کټ باندي اويا(۷۰) بسترې هواري دي، د هر رنگ او هر قسم څخه.

.........عَلَى كُلِّ فِرَاشٍ امْرَأَةٌ﴾.(۱)

او پر هره بستره د دوی لپاره د جنت يوه حوره ناسته ده.

هغه به څنگه حوره وي؟ چي د هغه صفت د پيغمبر ﷺ په احاديثو کي داسي بيان سويدی: چي هغه به د څلورو (۴) شيانو څخه جوړه وي:

- د مشکو څخه.
- د عنبرو څخه.
- د زعفرانو څخه.
- د کافور څخه.

او الله به په هغه کي د ژوند پيدا کولو لپاره "ماء الحيات" اچولي وي.

چي د هغې د يو گوتي نوک دې دنيا ته ښکاره سي، نو د هغه د حسن په وجه به د دنيا لمرتاريک او بې نوره وگرځي.

.........لَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ بَصَقَتْ فِي سَبْعَةِ أَبْحُرٍ لَكَانَتْ تِلْكَ الْأَبْحُرُ أَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ﴾.(۲)

کچيري د هغې د خولې لاړي يو حصه د دنيا "درياب" ته ور ولوېږي، نو دغه ټول دريابونه به تر عسلو ډېر خواږه سي.

کچيري هغه د مړي سره خبره وکړي، نو هغه به د دې د ښائسته آواز په وجه راژوندی سي، او کچيري د ژوندي سره خبره وکړي، نو د هغه سينه به د هغه خبري د برداشت نه راوړلو په وجه سره وچاودل سي.

لکه د بخاري شريف په حديث کي لا داسي هم راځي:

.........وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَتْ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا، وَلَمَلَأَتْهُ رِيحًا، وَلَنَصِيفُهَا عَلَى رَأْسِهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا﴾.(۱)

---

(۱) معجم الكبير للطبراني: حديث نمبر ۲۵۳ (مکتبه شامله)

(۲) صفة الجنة لابن ابي الدنيا، حديث نمبر ۲۸۶

کچيري جنتي زنانه دنيا ته مخ رابنکاره کړي، نو د "مشرق" څخه تر "مغرب" پوري به ټوله فضا روښانه سي، او هم به د خوشبوئي څخه ډکه سي، چي د هغه حوري پر سر کم پړونی او چادر دی، هغه د ټولي دنيا او څه چي په دنيا کي دي بهتر دي.
چي کله هغه انسان ته مخامخ وي، نو هم د دې چهره او مخ انسان ته برابر وي، او که دا د انسان څخه مخ واړوي، هم ئې چهره او مخ انسان ته برابر وي، يعني د هغې چهره او مخ هيڅکله د انسان څخه نه غائبيږي.
او په اويا (۷۰) جوړو کي د ننه به د دې بدن د سپوږمی په شان ځليږي، لکه د حضرت عبدالله ابن عمر ﷺ روايت دی:
.........إنَّ أدْنَى أَهْلِ الجَنَّةِ مَنْزِلَةً لَمَنْ يَنْظُرُ إِلَى جِنَانِهِ وَأَزْوَاجِهِ وَنَعِيمِهِ وَخَدَمِهِ وَسُرُرِهِ مَسِيرَةَ أَلْفِ سَنَةٍ، وَأَكْرَمَهُمْ عَلَى اللهِ مَنْ يَنْظُرُ إِلَى وَجْهِهِ غَدْوَةً وَعَشِيَّةً﴾.(۱)
په جنت کي به د مرتبې په اعتبار سره ادنا سړی هغه وي: چي د خپلو باغو او زنانو او نعمتو او خدمت گارانو او د خپل د ناستي کټان چي په زر (۱۰۰۰) کاله مسافت کي با سره غوړيدلي وي، نظر کوي او گوري.
او د الله تعالی په حضور کي د اعلی جنتي به هغه وي: چي سهار او ماښام د الله ديدار کوي.
د هغه څخه وروسته به پيغمبر ﷺ د دغه آيت تلاوت کاوی:
.........وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾.(۲)
يو څه مخان به په دغه ورځ د خپل پروردگار د ديدار څخه تر او تازه او خوشحاله وي.
نو په دغه کور کي به د دغه شان حورو سره د ده زندگي تيريږي.
.........وَيُعْطَى الْمُؤْمِنُ مِنَ الْقُوَّةِ مَا يَأْتِي عَلَى ذَلِكَ كُلِّهِ فِي غَدَاةٍ وَاحِدَةٍ﴾.(۳)
او هم به الله تعالی دغه جنتي ته دومره طاقت او قوت ورکوي، چي د يو ځاښت په وخت کي به دی د دغه ټولو حورو سره نږدېکت کولای سي.
.........فِي كُلِّ بَيْتٍ سَبْعُونَ مَائِدَةً عَلَى كُلِّ مَائِدَةٍ سَبْعُونَ لَوْنًا مِنَ الطَّعَامِ﴾.(۱)

---

(۱) سنن ترمذي: حديث نمبر ۲۵۵۳
(۲) سورة القيامه: آيت نمبر ۲۲
(۳) معجم الكبير للطبراني: حديث نمبر ۳۵۲ (مكتبه شامله)

او په هره کوټه کي به ده ته د خورک کولو دپاره اویا(۷۰) دسترخوانه لګېدلي وي، او پر هر دسترخوان به ده ته اویا(۷۰) قسمه خورکي پرتې وي، چي دا به د ده لپاره د الله تعالى د طرفه بهترين ناز او نعمت وي.

## د ادنى جنتي حال:

چنانچه د حضرت مغيره بن شعبه ﷺ څخه روايت دی: هغه فرمايي: چي حضرت موسىٰ علیہ السلام د الله تعالى څخه پوښتنه وکړه: چي ای پروردګاره! په جنتيانو کي دټولو څخه کمه درجه به دچا وي؟ او د ټولو څخه به ادنا انسان د مرتبې په لحاظ په جنت کي څوک وي؟

الله تعالى په جواب کي ورته وفرمايل: چي کله ټوله جنتيان جنت ته ولاړ سي، او جهنميان جهنم ته ولاړ سي، نو يو انسان به دجنت د تللو څخه پاته سوی وي، نو الله تعالى به ده ته د جنت خپله حصه ور معلوموي.

الله تعالى به ورته وفرمايي: چي کله ته په دنيا کي وې، نو هغه وخت به تا د لوی لوی بادشاهانو ذکر اورېدلی وي، د هغه بادشاهانو څخه د څلورو(۴) بادشاهانو انتخاب پخپله خوښه سره وکړه، او ماته ئې بيان کړه، او چي د هغه بادشاهانو حکومتونه د مځکي پر څومره حصه باندي وو د هغه څخه چي ته دڅومره حصو نوم بيانولای سې، هغه هم بيان کړه.

چنانچه هغه سړی به ووايي: يا الله! ما د فلان او فلان بادشاه ذکر اورېدلی وو، چي د هغه دېر لوی بادشاهت وو، او د هغه سره دېر لوی نعمتونه وو، زما زړه غواړي: چي ماته هم دغه غوندي بادشاهت او نعمت راکول سي، نو دغه رنګه به دی د څلورو(۴) بادشاهانو حکومتونه او نعمتونه ذکر کړي.

الله تعالى به ورته ووايي: چي تاخو دهغه حکومتونه او د علاقو نمونه ياد کړل، ليکن هغه بادشاهانو ته چي کم لذتونه اوراحتونه حاصل وو، او د هغه په باره کي به تا هم اورېدلي وي، چي فلان بادشاه په داسي عيش او آرام کي ژوند تيراوی، د هغه لذتو څخه چي ته کم مقدار لذتونه غواړې، هغه هم ياد کړه.

---

(۱) معجم الکبير للطبراني، حديث نمبر ۳۵۳ (مکتبه شامله)

چنانچه هغه سړی به د هغه لذتونه ذکر د الله و مخ ته وکړي، چي ما خو اورېدلي وو، چي فلان بادشاه ته دا نعمت او لذت حاصل وو، او همدا رنګه په راحت کي د ده زندګي تېرېدله، زه غوارم: چي دغه لذت او راحت ما ته هم را کول سي.
بیا به الله تعالی د ده څخه سوال وکړي: چي د کمو بادشاهانو نمونه تا واخستل، او هم دي د هغو حکومتونه را ته ذکر کړل، او هم دي نعمتونه او لذتونه او راحتونه یاد کړل، کچیري هغه تا ته در کول سي، ایا ته به راضي ئې؟
هغه بنده به عرض وکړي: چي یا الله! د دې څخه لوی به نور زما لپاره کم نعمت کیدای سي؟ زه به ضرور په هغه باندي راضي کېږم.
الله تعالی به ورته وایي: چي تا د کمو حکومتو نوم واخیستی، او هم دي د هغه نعمتونه، لذتونه، راحتونه زما مخ ته ذکر کړل، د هغه څخه لس(۱۰) چنده زه تا ته په دغه جنت کي در کوم، الله تعالی حضرت موسٰی علیه السلام ته وایي: چي دغه به نو په جنت کي د ټولو څخه د کمي درجې جنتي وي.
حضرت موسٰی علیه السلام د الله تعالی څخه بیا سوال کوي: چي یا الله! چي کله د ادنا جنتي دغه حال دی: نو چي کم ستا خوښ بندګان وي، او هغو ته ته د جنت لوړ درجات ورکوې، د هغه به څه حال وي؟
الله تعالی په جواب کي ورته فرمایي: ای موسٰی! چي کم زما خوښ بندګان وي:
.........خَلَقْتُ كَرَامَتَهُمْ بِيَدِي، وَعَمِلْتُهَا وَخَتَمْتُ عَلَى خَزَائِنِهَا».
د هغو د اکرام لپاره نعمتونه ما په خپل لاس سره جوړ کړیدي، او هغه مي په خزانو کي مهر ور باندي لګولي او محفوظ ایښي دي، او په هغه کي داسي شیان دي:
.........وَلِيهَا مَا لَمْ تَرَ عَيْنٌ، وَلَمْ يَسْمَعْ أُذُنٌ، وَلَمْ يَخْطُرْ عَلَى قَلْبِ أَحَدٍ مِنَ الْخَلْقِ».
یعني په هغه جنتو کي داسي نعمتونه دي: چي تر اوسه پوري سترګي نه دي لیدلي، او نه د چا غوږ د هغه تذکره اورېدلې ده، او نه تر ننه پوري د انسان په زړه او دماغ کي د هغه فکر او تصور راغلی دی.[1]

[1] الزهد والرقاق لابن المبارک، باب صفة الجنة وما اعد الله فیها، صفحه نمبر ۶۶

## د يو بل ادنى جنتي جنت:

په يو بل حديث کي په خپله نبي کريمﷺ د يو بنده حال بيان کړيدی: چي د ټولو څخه به په آخر کي هغه بنده جنت ته داخل سي؛ هغه به داسي سړی وي؛چي دخپلو بدو اعمالو په وجه به يو ځل په جهنم کي اچول سوی وي.

ځکه که څه هم انسان مؤمن هم وي، ليکن په دنيا کي د ده اعمال خراب وي، نو اول به دی دخپلو اعمالو سزا په جهنم کي وينى، او دهغه لپاره به اول ځل يو وار دی جهنم ته اچول کيږي، بيا به وروسته جنت ته راځي.

خو هغه بنده به په جهنم کي سوځل سوی وي، نو په دې وخت کي به دی الله تعالى ته عرض پيش کړي: يا الله! زه دجهنم توږم او ګرمی. وسوځلم، او زما بدن ټوله سکاره سو، ستا به پر ما ډېر مهرباني وي که ته يو ځل ما د جهنم د مابين څخه وباسې، او دجهنم پر کناره مي کښېنوې، چي د لږ ګړي لپاره خو د جهنم د سوځلو څخه محفوظه سم.

الله تعالى به ورته فرمايي: که زه تا هلته کښېنوم، نو ته به راته وايي: چي ما يو څه نور هم دجهنم څخه ليري کړه.

نو هغه بنده به الله تعالى ته وايي: چي زه ستا سره وعده کوم: چي بس يو ځل مي د دې ځای څخه وباسه، بيا نور څه يعني نور ليري کول ستاڅخه نه غواړم، او نه سوال درڅخه کوم، دا مي ستاسره وعده ده.

نو الله تعالى به دده سوال قبول کړي، او دی به دجهنم څخه راوباسي، او د جهنم پر يو کناره به ئې کښېنوي.

دی چي کله هلته يو ګړی کښېني، او هوش او هوس ئې سره پر ځای سي، نو لږ ګړی بعد به بيا د الله په حضور کي سوال او زاری شروع کړي، چي يا الله! تاخو زه دلته کښېنولم، او دجهنم څخه دي راويستلم، ليکن اوس هم د جهنم د لمبو توږښ پر ما باندي مبتلي، لږ ګړی خو مي يو څه نور هم ځني ليري کړه، چي دغه د لمبو توږښ ماته نه رارسيږي.

الله تعالی به ورته وفرمايي: تااوس زما سره وعده وكړله: چي زه بيا د نور ليري والي سوال نه كوم، ليكن اوس بيرته وعده خلافي كوې، دى به ووايي: يا الله! يو څه مي نور ليري كړه، نو زه وعده كوم: چي بيا هيڅ نه وايم، او نه څه غوارم.
چنانچه الله تعالی به هغه سړی د جهنم څخه يو څه نور ليري كړي، او هلته به ئې كښېنوي، اوس دهغه ځای څخه به ده ته جنت او د هغه مانۍ ور معلوميږي.
نو لږ ګړی بعد به هغه بنده بيا سوال او زاری شروع كړي: چي يا الله! تاخو زه د جهنم څخه راوېستلم، او اوس ماته جنت رامعلوميږي: ته لږ اجازه راته وكړه: چي زه د دغه جنت يو لږ نظاره او ديد وكړم، او د هغه دروازې لره ورسم، صرف ور ته وګورم: چي جنت څنګه ځای دی؟
الله تعالی به ورته وفرمايي: چي ای وعده خلاف بنده! ته بيا وعده خلافي كوې، نو هغه بنده به جواب وركړي: چي يا الله! چي تا كله زه په خپل كرم سره تر دې ځايه پوري راورسولم، نو يو نظر په ما باندي جنت هم ووينه.
الله تعالی به ورته وفرمايي: چي كله زه په تا باندي جنت ووينم، نو ته به بيا وعده خلافي شروع كړې، او ماته به سوال او زاری كوې: چي ما يو ځل جنت ته ور داخل كړه، نو هغه بنده به وايي: چي يا الله! چي زه بيا وعده خلافي نه كوم، ته دا يو احسان پر ما وكړه: چي په ما يو ځل يو نظر جنت ووينه، د هغه څخه وروسته نه بيا څه وايم، او نه څه غوارم.
چنانچه الله تعالی به په هغه بنده جنت يو نظر ويني، ليكن دجنت د يو نظر ليدلو وروسته به هغه الله تعالی ته ژړا او فرياد شروع كړي: چي يا الله! ته خو "ارحم الراحمين" ذات ئې چي كله تا زه دجنت تر دروازې پوري راورسولم، نو ته ما پخپل فضل او كرم سره جنت ته ور داخل كړه.
الله تعالی به ورته فرمايي: چي ما خو د اول ځل څخه تاته ويل: چي ته وعده خلافي كوې، ليكن څه! چي كله ما ته پخپل رحمت سره دلته راورسولې، نو اوس زه تا جنت ته هم ور داخلوم.
او په جنت كي تاته دومره لويه رقبه دركوم: لكه څومره چي د مځكي د ټولي ګړې رقبه ده، هغه سړی به ووايي: يا الله! ته "ارحم الراحمين" ئې:

........أتستهزئ بي، وأنت رب العالمين؟). (¹)

ایا ته زما سره مذاق او مسخرې کوې، او ته د ټوله عالم رب ئې، زه وګوره، او د جنت دومره لویه رقبه وګوره.

الله تعالی ورته فرمايي: چې زه ستا سره مذاق او مسخرې نه کوم، زه واقعتاً تاته د جنت دغو مره رقبه درکوم.

حديث شريف کي راځي: چې پيغمبرﷺ به د دې حديث د ويلو په دوران کي وخندل، بیا چې کم صحابي دا حديث واوريدی: او هغه د خپلو شاګردانو په مخ کي پيش کوئ، نو هغه به هم خندل، تر دې حده پوري چې د پيغمبرﷺ د وخت څخه تر نن وخت پوري چې کله هر محدث دغه حديث بيانوي، نو بيان کونکی هم خاندي، او اوريدونکی هم ورسره خاندي، نو په دې وجه دغه حديث ته "مسلسل بالضحک" وايي.

## د مځکي د "کرې" سره برابر جنت:

بهر حال دا به هغه بنده وي: چې د ټولو څخه آخر په جنت کي داخل سي، اوس تاسو اندازه وکړئ! چې د ټولو څخه آخر په جنت کي د داخليدونکي بنده په باره کي په حديث شريف کي دا ذکر کيږي: چې د مځکي د کرې مقدار حصه به ده ته په جنت کي ورکول کيږي، نو بيا به د لوړو درجاتو کم حال وي، او هغو ته به په جنت کي څومره لوی مقام ورکول کيږي.

خبره په اصل حقيقت کي دا ده: چې موږ د دنيا په چار ديواري کي اوسيږو، او پر موږ باندي د هغه عالم هوا نه ده لګيدلې، نو ځکه موږ ته د هغه عالم د وسعت او فراخۍ هيڅ اندازه نکيږي، او نه ئې کولای سو.

نو ځکه چي کله په جنت کي يو سړي ته د مځکي د کرې ور کيدلو جنت واورو، نو موږ ته پر دې تعجب کيږي: چې دومره جنت به ده ته څنګه ورکول کيږي؟ او که ورکول هم سي، نو بيا به دی دومره لويه مځکه او حصه د جنت څه په کوي؟ او دغه اشکال او تعجب ځکه زموږ په دماغونو کي راګرځي: چې پر موږ باندي دهغه عالم هوا نه ده

(¹) مسند احمد: حديث نمبر ۳۸۹۹

نوځکه چي کله په جنت کي يو سړي ته د ځمکي د کرې ور کيدلو جنت واورو، نو موږ ته پر دې تعجب کيږي؛ چي دومره جنت به ده ته څنګه ورکول کيږي؟ او که ورکول هم سي: نو بيا به دی دومره لويه ځمکه او حصه دجنت څه په کوي؟ او دغه اشکال او تعجب ځکه زموږ په دماغونو کي راګرځي: چي پر موږ باندي دهغه عالم هوا نه ده لګيدلې، او نه ئې معلومات راته کيږي، او نه زموږ په عقل کي په دنيا کي دومره استعداد سته: چي د هغه ځاى حالات ځان ته معلوم کړو.

## دعالم آخرت مثال:

د دغه عالم آخرت په مقابله کي زموږ مثال داسي دی :لکه دمور په نس کي بچى چي کله پر هغه بچي باندي د دنيا هوا مبنتې نه وي، نو هغه بچى د دنيا د فراخۍ او وسعت اندازه نسي کولاى، نه ئې په دماغ کي دومره استعداد وي: چي په هغه باندي د دنيا د وسعت اندازه معلومه کړي، نو دی دمور نس د ځان لپاره هر څه بولي.

ليکن چي کله هغه بچى دنيا ته راسي: او پر ده باندي د دنيا هوا ولګيږي: او د ده په عقل کي د دنيا د وسعت او فراخۍ معلومولو استعداد پيدا سي: نو هغه وخت بيا ده ته معلومه سي: چي د مور نس فراخوالى د دنيا په مقابله کي هيڅ هم نه وو.

الله تعالى دي موږ ټولو ته د آخرت عالم د خپلي رضا سره رابنکاره کړي، نو بيا به موږ ته معلومه سي: چي عالم آخرت څه دی؟ او هلته څومره وسعت او فراخي ده، او په کم شکل الله تعالى د مؤمنانو لپاره تيار کړی دی.

حضرت داکټر عبدالحی رحمة الله عليه ليکلي دي:چي "الحمدلله" جنت الله تعالى دمؤمنانو لپاره تيار کړيدی، چي هر صاحب ايمان به هغه ته ور داخليږي، کچيري تاسو د الله پر ذات باندي کامل يقين ولرئ،نو ستاسو لپاره ئې تيار کړی دی.

خو البته: تر دغه جنته پوري د رسيدلو اود هغه پر لاره د تللو په خاطر او د لاري څخه موانع ليري کولو لپاره انسان ته په دنيا کې يو څه مشقت برداشت کول او کار کول، ګوري، بس هغه کار وکړئ، نو انشاء الله هغه جنت ستاسو دئ، او ستاسو لپاره الله تعالى تيار کړيدی.

## پر انسان لویه حادثه:

نن د انسانانو په دماغ کي دا خبره ده: چي پر انسان باندي راتلونکي د ټولو څخه لويه حادثه مرگ دی، ليکن علماؤو ليکلي دي: چي د مرگ څخه هم لويه حادثه دا ده: چي انسان بغير توبې څخه د مرگ په سفر روان سي.

علامه ابن قيم رحمة الله عليه ليکلي دي: چي د دې څخه زيات لوې سوی مسافر او قافله نسته، چي هغه د مرگ سفر ته روان په داسي حال کي: چي جنت خرڅ کړي، او د هغه په عوض کي ئې دنيا رانيولې وي، نو دا د ټوله انسانيت لوی مظلوم او لوټ سوی مسافر بلل کيږي.

د هغه څخه به زيات محروم او بې نصيبه څوک وي؟ چي د جنت د حورو سودا وکړي، او د دنيا هغه بېوفا زنانو ته ځان ورسوي، او د هغه په عشق او شوق کي زندگي ور باندي تېره سي.

او هغه به څومره لوی نادانه وي: چي د جنت هغه شائسته کورونه پرېږدي، او د دې دنيا د کورو په شوق سرگردانه وي، او هم هغه د جنت حکومت او سلطنت د لاس څخه ورکړي، او د دې ځای د څو ورځو د حکومت پيدا کولو طلبگار وي.

## د جنت "لاعبه" حوره:

په رواياتو کي راځي:

﴿........إِنَّ فِي الْجَنَّةِ حُوْرٌ، اِسْمُهَا لَاعِبَه،﴾.

په جنت کي يو حوره الله تعالی پيدا کړې ده، چي د هغې نوم: لاعبه ده.

﴿........خُلِقَتْ مِنْ اَرْبَعَةَ اَشْيَاءِ﴾.

د څلورو (۴) شيانو څخه الله پيدا کړيدي:

- مشک.
- عنبر.
- زعفران.
- کافور.

او په هغه کي ئې "آب حيات" اچولي دي، او بيا الله تعالى د قم امر ورته کړيدی، هغه ولاړه سوېده.
هغې ته الله تعالى داسي حسن او جمال ور کړی دی: چي کله جنتي مخلوق هغې ته ګوري، کچيري مرګ په جنت کي نه وای ختم سوای، نو دهغې د حسن د ليدلو په وجه به ټوله اهل جنت مړه وای، لکه د حديث شريف الفاظ دي:
.........لَوْلَا اَنَّ اللهَ قَضَى لِاَهْلِ الْجَنَّةِ اَنْ لَا يَمُوْتُ لَمَاتَ مِنْ حُسْنِهَا وَ جَمَالِهَا﴾.
کچيري د الله تعالى فيصله په جنت کي دا نه وای: چي مرګ به نه وي، نو جنتيان به د هغې د حسن او جمال په خاطر ټوله مړه وای.
..........وَ جَمِيْعُ حُوْرُ الْعَيْنِ عُشَّاقُ لَهَا﴾.
د جنت ټولي حوري به پر هغه باندي عاشقان وي.
او هغه حوري به د دې پر وړه باندي لاس کښېږدي، او دوی به ورته وايي:
......... يَا لَاعِبَا لَوْ يَعْلَمُ الطَّالِبُوْكِ لَوَجَدُوْ لِيْکِ﴾.
ای لاعبې! کچيري د دنيا انسانان ستا په حسن او جمال باندي خبر سي، نو ستا د حاصلولو لپاره به هر څه قربان کړي.
په يو روايت کي راځي:
...........مَكْتُوْبٌ فِيْ نَحْرِهَا،﴾.
د هغې پر غاړه باندي ليکلي وي.
په يو بل روايت کي راځي:
...........مَكْتُوْبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ،﴾.
د هغې د سترګو په درميان کي ليکلي وي:
.........مَنْ كَانَ يُرِيْدُ اَنْ يَكُوْنَ لَهُ مِثْلِيْ فَلْيَعْمَلْ بِرَضَاءِ رَبِّيْ﴾.
چي کم څوک زما غوندي حوره په جنت کي غواړي: نو زندګي دي زما د رب په رضا کي تيره کړي.(۱)

(۱) اللہ کو اپنا بنالو: صفحہ نمبر ۲۳۰

چي هغه به ټولي نوعمره او د نوجواني په زمانه کي وي، چي د بعضي رواياتو څخه د هغې عمر درو ديرش (۳۳) کاله ثابت دی.

.......لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَانٌّ﴾.(¹)

چي د دوی څخه مخکي به نه انسانانو او نه جناتو هغه ته لاس ور وړی وي.

په حديث شريف کي راځي: چي دغه جنتي به په جنت کي دا خپل لاس به تر زنه لاندي و نيسي، الله تعالی به دده و مخ ته د جنت يو منظر را خلاص کړي، دی به په هغه کي داسي محو وي: چي اويا (۷۰) کاله به تير سي، ليکن د ده څخه به د خپل لاس دوهمي زني ته ارول هير سي.

او چي دی هغه حوري ته ګوري، نو هغې ته به الله تعالی داسي حسن ورکړی وي، چي څلويښت (۴۰) کاله به په ورته کتلو سره د ده شوق پوره نسي، او هم به دغه جنتي ته الله داسي حسن ورکړی وي: چي په څلويښت (۴۰) کاله به هغه حوره د ده په ديدار نه مړيږي.

او چي کم چا خپله ځواني خرابه کړې وي، او هم ئې د زنا په غلاظت داغداره کړې وي، هغه به د جهنميانو په وينو او زوو کي غوټې خوري.

او يو وخت به داسي راځي: چي کم چا په دنيا کي د شرابو څخه د خپل ځان حفاظت نه وي کړی، نو به د دوزخيانو ګندګي چيښي، او چي کم چا په دنيا کي خپله شونډان د دنيا د شرابو څخه محفوظه ساتلي وي، نو: الله تعالی به هغو ته په خپل لاس د شرابو جامونه ورکوي، لکه الله تعالی فرمايلي دي:

........وَسَقَاهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا﴾.(²)

الله تعالی به د صفا شرابو جامونه ورکوي.

(¹) سورة الرحمن، آيت نمبر ۷۶

(²) سورة الدهر، آيت نمبر ۲۱

چي کم چا خپل نظرونه په دنیا کي د غلاظت او ګندګی څخه محفوظه نه وي کړي خولي، نو هغو ته به په سترګو کي د اوسپني میخونه ټکول کیږي، او چي کم چا خپل نظرونه په دنیا کي محفوظه ساتلي وي، هغه به د الله په دیدار کي مشغوله وي، ځکه بیحیا سترګي ته د الله دیدار نه ورنصیب کیږي.

## د حوري ښائست:

په یو روایت کي راځي: چي الله تعالی جبرائیل علیه السلام ته وویل: ته ورسه! زما جنت ووینه، هغه چي کله د جنت د لیدلو لپاره راغلی، نو په جنت کي یو د نور تجلي پورته سوه، نو ده د سبحان الله نعره وکړه، او دا ئې ګمان سو: چي د الله تعالی دیدار دی، نو په سجده کي پرېواتی.

تر "سدرة المنتهٰی" پوري د جبرائیل رسېدل وي؛ د هغې څخه پورته د الله تعالی څخه علاوه هیچاته معلومات نه وي، هلته هر وخت د الله د نور "تجلی" پورته کیږي، خو جبرائیل چي کله هغه "تجلی" ولیدله، نو ئې ورباندي د الله د دیدار ګمان سو، نو په سجده کي پرېواتی.

د الله تعالی د طرفه آواز ورباندي وسو: ای روح الامینه! ته ولي پر سجده پرېوتې، سر راپورته کړه، ده ورته وویل: چي ای الله! زما په خیال کي ستا دیدار دی، نو زړه مي غواړي: چي په حالت د سجدې کي ئې وکړم.

الله تعالی ورته وایي: ای جبرائیله! زما دیدار چیري دی، دا صرف د جنت یو حوري وخندل، د هغو د غاښونو برېښنا په جنت ولاړه سوه، دا د هغه رڼا ده.
نو د جنت دغه حوري او دغه نعمتونه هغه چاته الله تعالی ورنصیب کوي: چي په دنیا کي د دین په خاطر تکالیف برداشت کړي، او په هر حالت کي د الله پر دین باندي استقامت ښکاره کړي.

نو د جنت دغه حوري او دغه نعمتونه هغه چاته الله تعالى ور نصيب كوي: چي په دنيا كي د دين په خاطر تكاليف برداشت كړي، او په هر حالت كي د الله پر دين باندي استقامت ښكاره كړي

لکه پیغمبر ﷺ وايي:

.........لَمَّا خَلَقَ اللهُ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ، أَرْسَلَ جِبْرِيلَ، قَالَ: انْظُرْ إِلَيْهَا وَإِلَى مَا أَعْدَدْتُ لِأَهْلِهَا فِيهَا، فَجَاءَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا وَإِلَى مَا أَعَدَّ اللهُ لِأَهْلِهَا فِيهَا،﴾.

الله تعالى چي كله جنت او جهنم پيدا كړل، نو جبرائيل عليه السلام ته ئې وويل: ورسه! زما جنت او په هغه كي تيار سوي نعمتونه وګوره، حضرت جبرائيل عليه السلام چي كله جنت او په هغه كي تيار سوي نعمتونه وليدل:

............فَرَجَعَ إِلَيْهِ، فَقَالَ: وَعِزَّتِكَ، لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا،﴾.

نو الله تعالى ته راغلى، ورته وايي: ستا په عزت دي مي قسم وي: چي يو څوک د جنت د دغه نعمتو بيان واوري، نو خامخا به ځان جنت ته داخل كړي.

............فَأَمَرَ بِهَا فَحُجِبَتْ بِالْمَكَارِهِ،﴾.

خو الله تعالى د جنت په باره كي امر وكړى: چي زما جنت به په تكاليفو او قربانيو باندي پټ وي، يعني چي څوک په دنيا كي قرباني او تكاليف او استقامت پر دين باندي برداشت كړي، نو دا جنت او نعمتونه به د هغه دپاره وي.

چي كله الله تعالى پر جنت باندي د تكاليفو پرده هوار كړه: نو بيا ئې جبرائيل عليه السلام ته وويل:

............ارْجِعْ إِلَيْهَا فَانْظُرْ إِلَيْهَا وَإِلَى مَا أَعْدَدْتُ لِأَهْلِهَا فِيهَا،﴾.

اوس ورسه: بيا ئې وګوره! چي ما پر هغه باندي كمه پرده هوار كړېده.

.........فَرَجَعَ إِلَيْهَا فَإِذَا هِيَ قَدْ حُجِبَتْ بِالْمَكَارِهِ، فَرَجَعَ إِلَيْهِ، فَقَالَ: وَعِزَّتِكَ، قَدْ خَشِيتُ أَنْ لَا يَدْخُلَهَا أَحَدٌ،﴾. (١)

(١) احاديث اسماعيل بن جعفر: حديث نمبر ١٣٥

نو په دنيا کې الله تعالى موږ ته جنت در تکاليفو لاندې ساتلى دى، د دين پخاطر به دغه تکاليف برداشت کوو، چې کمه ورځ تکاليف خلاص سو، هغه به زموږ د مرګ ورځ وي، نو الله تعالى به موږ جنت ته ور ولي، خو الله تعالى دې د استقامت کولو توفيق رانصيب کړي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د جنت مناظر

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقــــــریر | الحاج مولوي اطیع اللہ صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتـي حافظ کلیم اللہ صاحب |
| مقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاریـــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿لَهُمْ دَارُ السَّلَامِ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَهُوَ وَلِيُّهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿ إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ: أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! الله تعالی انسان ته په دنيا کي زندگي ور کړيده، خو د انسان زندگي په دنيا کي د سفر زندگي ده، ځکه دنيا د انسان "وطن اصلي" ندی، بلکه د مسلمان "وطن اصلي" جنت دی، او د کافر "وطن اصلي" جهنم دی، دنيا د انسان لپاره "وطن اقامت" دی، دلته به يو څو ورځي تېروي، بيا به د خپل "وطن اصلي" پر طرف کوچ کوي، او روانيږي به.

لکه دلته په دنيا کي چي يو څوک د خپل کلي او وطن څخه مسافر سي، د ده بچيان او قريبان ټول پخپل کلي او وطن کي پاته وي، نو دی همېشه د کلي او وطن پر طرف د روانېدلو په فکر کي وي، او هم ئې همېشه په خپل کلي او وطن کي فکر او دماغ بند وي.

(۱)سورة الانعام: آيت نمبر ۱۲۷

(۲)جامع معمر بن راشد: حديث نمبر ۲۰۸۷۴

داغه رنګه په دنیا کي موږ او تاسو مسافر یو، دغه سفر مو همېشه روان دی، که حالت د خوب، او که د وېښوالي وي، حالت د خوشحالی، او که د غم وي، که د راحت او د که د تکلیف حالت وي، خو چي کله دغه سفر ختم سي، نو د خپل "وطن اصلي" پ طرف به کوچ کوو، او هم به روانیږو.

الله تعالی مو هم د هغه و طرف ته ور بولي، لکه قرآن کریم په دې باندي صراحتاً ګو دی:

........﴿وَاللّٰهُ يَدْعُو إِلَى دَارِ السَّلَامِ﴾.(¹)

الله تعالی انسانان "دار السلام" جنت ته ور بولي.

او پیغمبر ﷺ هم به همېشه د خپل "وطن اصلي" جنت غوښتنه د الله تعالی څخ کوله، لکه د بره ځله به ئې دا دعا ویله:

........﴿اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ﴾.(²)

ای الله! زه ستا څخه د جنت طلب کوم، او زه په تا سره د اور څخه پناه غوارم.

نو د مرګ په حالت کي چونکه د مؤمن د خپل "وطن اصلي" و طرف ته تلل دي، او هم خپلو دوستانو او قریبانو سره ملاقات او وصال وي، نو ځکه مؤمن بنده همېشه مرګ څخه نه وېرېږي، بلکه د مرګ راتللو په انتظار وي.

## د حضرت ابراهیم علیه السلام د وفات منظر:

د حضرت ابراهیم علیه السلام د وفات په وخت کي ده ته "ملک الموت" راغلی، او عرض ئې ورته پیش کړی: ای ابراهیم خلیل الله! ته الله رب العزت یاد ولې، ده "ملک الموت" ته وویل: څه مطلب؟ هغه ورته وویل: زه د الله په امر او اجازه ستا د روح قبض کولو دپاره حاضر سوی یم.

حضرت ابراهیم علیه السلام وفرمایل:

..........﴿هَلْ رَأَيْتَ خَلِيلًا يَقْبِضُ رُوحَ خَلِيلِهِ؟﴾.

ایا تا یو داسي دوست لیدلی دی: چي د بل دوست روح قبض کوي؟

---

(¹) سورة یونس: آیت نمبر ۲۵

(²) مسند السراج: حدیث نمبر ۱۹۲

......... ﴿فَعَرَجَ مَلَكُ الْمَوْتِ إِلَى رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ، ثُمَّ عَادَ إِلَيْهِ﴾.

"ملک الموت" دغه خبره د الله رب العزت په حضور کي پيش کړه، نو الله رب العزت د هغې په جواب کي ورته وويل: چي ته ورسه، ابراهيم خليل الله ته ووايه:

......... ﴿هَلْ رَأَيْتَ خَلِيلًا يَكْرَهُ لِقَاءَ خَلِيلِهِ؟﴾.

ايا تا يو داسي دوست ليدلی دی: چي دخپل دوست د ملاقات څخه انکار کوي، حضرت ابراهيم عليه السلام په دې باندي پوه سو: چي زما د وصال وخت رارسېدلی دی، نو دالله رب العزت د ملاقات وخت دی، نو ئې "ملک الموت" ته وويل:

......... ﴿عَجِّلْ عَجِّلْ فَاقْبِضْ رُوحِي السَّاعَةَ﴾.

ته په تلوار تلوار زما روح قبض کړه، او ما د خپل رب سره وصال ته ورسوه.(¹)

دغه رنګه د الله نيکو بندګانو ته مرګ د خوشحاليو د يو پيغام په شکل راځي، هغه چي کله "ملک الموت" ويني، نو خوشحاله سي، چي د دنيا د مشکلاتو څخه د خلاصون وخت راورسېدی.

يو بزرګ وفات سو، يو څه زمانه بعد يو چا په خوب کي وليدی، نو پوښتنه ئې څني وکړه: چي د مرګه بعد څه معامله در سره وسوه؟ ده په جواب کي ورته وفرمايل: چي د هغه ګنده او بد بويه دنيا څخه مي نجات پيدا کړی، چي کم کور ته ورغلم: هغه د هغه پاته سوي کور څخه ډېر اعلى دی، او چي د کمو حورو سره مي زندګي ده، هغه د دنيا د زنانو څخه خوبصورته دي، چي د کم چا حضور ته ور روان يم، هغه د دنيا تر انسانانو پر ما ډېر مهربانه او زما لپاره بهتر دی.

## د عاشقانو مرګ:

چي کم زړونه د الله د عشق څخه ډک او لبريز دي، او زندګي ئې د الله د ملاقات په شوق کي تيره سي، نو هغه په دې باندي پوهيږي: چي د مرګ څخه وروسته د الله تعالى وصال دی، نو هغه چي کله د مرګ خبر واوري، زيات خوشحاله کيږي.

(¹) الفوائد و الزهد و الرقائق: باب لقاء ابراهيم بملک الموت، حديث نمبر ۱۷

حضرت خواجه باقي بالله رحمة الله عليه ته چې به کله يو څوک راغلی، او ورته وبه ئې ويل چې فلانکی انسان وفات سو، نو ده به ويل: "اَلْحَمْدُلِلّٰهِ"، د دنيا د تکليفو څخه خلاص سو، ځکه هغه په دې پوهيدل: چې دلته هره ورځ او هر ساعت امتحان دی.

دغه وجه وه: چې کله به مرگ راغلی: نو د مرگ په وخت کې به د دوی د خولې څخه دا نعره ختله:

..........فُزْتُ وَرَبُّ الْكَعْبَةِ﴾.(۱)

په رب د کعبې دې مې قسم وي: چې زه کامیابه سوم، گويا هغه به همېشه د مرگ په انتظار کې ول، ځکه هغه په دې پوهيدل: چې:

..........الْمَوْتُ جِسْرٌ يُوْصِلُ الْحَبِيْبَ إِلَى الْحَبِيْبِ﴾.(۲)

مرگ يو پُل دی: چې دوست د بل دوست سره يو ځای کوي.

او دا خبره به هم دهغو و مخ ته راتله:

..........تُحْفَةُ الْمُؤْمِنِ الْمَوْتُ﴾.(۳)

مرگ د مؤمن لپاره تحفه ده، او د هغه لپاره د خوشحالۍ ورځ ده، او هم د هغه لپاره د سلامتۍ ورځ ده.

لکه د عيسىٰ عليه السلام غوښتنه هم دا وه:

..........وَالسَّلَامُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدْتُ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا﴾.(۴)

سلامتي دې وي پر ما باندې: په هغه ورځ چې زه پيدا سوم، او په هغه ورځ چې زه د دنيا څخه رخصت اخلم، او په هغه ورځ چې د الله په حضور کې پېشېږم.

## دآخرت فکر:

نو چې کله انسان د دنيا څخه رخصت واخلي، او دغه خپله د سفر زندگي په محنت او مشقت او پر دين باندې په استقامت ور باندې تېره سي، نو د دې په بدله کې الله تعالى

(۱) الاستعداد للموت، باب البحث الثالث عشر علامة خاتمة الخير، صفحه نمبر ۲۰۸

(۲) التذكره باحوال الموتى و امور الاخرة: صفحه نمبر ۱۱۶

(۳) الاستعداد للموت: باب البحث التاسع الترهيب من كراهية الموت، صفحه نمبر ۱۸۹

(۴) سورة مريم، آيت نمبر ۳۳

د مرګ څخه بعد جنت ورکوي، په جنت کې به مختلف حالات، مختلف مناظر، مختلف نعمتونه، او مختلف بازارونه، دی وويني، او هم ئې په هغه کې ژوند تيرېږي.

## د استاد و شاګرد ته دعا:

په يو روايت کې راځي: چې حضرت سعيد بن مسيب رحمة الله عليه چې د لوړې درجې د تابعينو څخه وو، او د الله تعالى لوى "ولي" وو، په صحابه وو کې د حضرت ابو هريره رضي الله عنه خاص شاګرد وو.

يوه ورځ د خپل استاد حضرت ابو هريره رضي الله عنه سره د جمعې په ورځ د "مدينې منورې" بازار ته ولاړې، چې هغه استاد په بازار کې يو څه سودا کوله، چنانچه بازار ته سره ولاړل، او هغه سودا ئې وکړه، چې کله د بازار څخه واپس را روان دي، نو حضرت ابو هريره رضي الله عنه ورته فرمايي: اى سعيده! زه دعا کوم، چې الله تعالى ما او تا دواړه په دغه شان د جنت په بازار کې هم سره يو ځاى کړي.

د صحابه کرامو رضي الله عنهم عجيبه شان وو، چې هغوى به هره لمحه او هر ساعت د آخرت يو څه نه څه خبره په يو مناسبت سره کوله، او د آخرت و طرف ته به ئې خپل فکر راګرځاوى، او هم به ئې د هغه ذکر په خپل دماغ کې تازه کوى، چې د دنيا مصروفيات انسان په خپل ځان کې داسې مشغوله نکړي: چې آخرت ځني هير سي، نو چې د دنيا کار به ئې کاوى، او په بازار کې ئې سودا او خريداري کوله، نو په هغه دوران کې ئې هم هغه استاد د شاګرد و مخته دغه دعا وکړه.

## په جنت کې بازار:

حضرت سعيد بن مسيب رحمة الله عليه فرمايي: چې ما د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه: چې ايا په جنت کې هم بازار سته؟ ځکه موږ خو دا اوريدلي دي: چې په جنت کې هر شى انسان ته مفت ور کول کيږي، او په بازار کې خو خرڅول او رانيول وي.

په جواب کې حضرت ابو هريره رضي الله عنه راته وفرمايل: چې هو، هلته هم بازار سته، ما د پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي: چې د هرې جمعې په ورځ په جنت کې د جنتيانو لپاره بازار جوړيږي.

بیا پیغمبرﷺ د هغه تفصیل داسي راته بیان کړی: چي کله جنتیان جنت ته ولاړ سي، او ټوله پخپلو خپلو قصورو او بنګلو کي وي، او په د هر عیش او آرام سره به د غه ژوند ور باندي تیریږي، او هلته به دوی ته دومره زیات نعمتونه ورکول سي: چي د هغه د ځای څخه بل ځای ته به دوی د تللو تصور هم نکوي.

نو یو دم به یو اعلان وسي: چي ټوله اهل جنتو ته دعوت ور کول کیږي: چي د هغه دخپلو خپلو کورو څخه راووزي، او د یو بازار طرف ته راسئ، چنانچه ټوله جنتیان به د خپلو خپلو کورو څخه راووزي، او د بازار طرف ته به را روان سي.

چي کله هلته راسي، نو یو داسي بازار به وویني: چي په هغه کي به یو داسي عجیب او ناولده اشیاء پراته وي، چي جنتیانو به د دې څخه مخکي هیڅکله نه وي لیدلي، او د هغه اشیاؤ څخه به د جنت دوکانونه ډک وي، لیکن هلته به خرڅول او رانیول نه وي، بلکه هلته به دا اعلان وسي: چي کم جنتي ته چي کم شی په دغه بازار کي خوښ وي، هغه دي د دوکان څخه واخلي، او د ځان سره دي ئې یوسي.

چنانچه جنتیان به د یو طرف او بل طرف بازار په دوکانو کي عجیب او غریب اشیاء ویني، او په هغه کي چي کم شی د دوی خوښ سي، هغه به د خپل ځان سره بغیر د قیمته وړي.

## په جنت کي د الله تعالی دربار:

چي کله په بازار کي خریداري ختمه سي، نو د هغه څخه وروسته به د الله تعالی د طرفه دا اعلان وسي: چي اوس ټوله خلک د الله په دربارکي په یو اجتماع کي سره راجمع سئ.

او دا به وویل سي: چي دا نن هغه ورځ ده: چي تاسو په دنیا کي واست، نو هلته به د جمعې ورځ راتلله، او تاسو به د جمعې د لمانځه لپاره د خپلو کورو څخه تللاست، او د لمانځه ادا کولو دپاره به یو ځای سره جمع کیدلاست، د هغې جمع د اجتماع په بدله کي په جنت کي دغه اجتماع ستاسو دپاره الله تعالی جوړه کړېده، او د الله تعالی دربار لګېدلی دی، هلته تاسو ته د حاضرېدلو دعوت در کول کیږي.

چنانچه ټوله جنتیان به هغه دربار ته ځان راورسوي، او په هغه دربار کي به د هر سړي لپاره د اول سر څخه کرسۍ لګېدلي وي، چي دچا کرسۍ به د سرو جواهرو څخه جوړه وي، او دچا کرسۍ به د سرو زرو څخه، او دچا به د ملغلرو څخه جوړه وي، او دهغه کرسۍ به د دوی لپاره د جمعې د شرکت کولو پر بنیاد باندي لګېدلي وي.

## په جمعه کي څوک شریکان بلل کېږي؟

د روایاتو څخه دا معلومېږي: چي کم څوک په جمعه کي په اول وخت کي شرکت کوي، نو هغه ته به دغه انسانانو کي په اول صف کي ځای ورکول کېږي، بیا چي څومره وروسته راځي، د هغه ځای به په وروسته صفو کي وي.
بعض خلګ د جمعې په لمانځه کي د خراب عادت په وجه په آخر کي شرکت کوي، حالانکه د پیغمبر ﷺ حدیث دی: چي د جمعې د لمانځه وخت شروع سي: نو ملائکي د خپلو صحائفو او ورقو سره په دروازو کي ولاړي وي، چي کم څوک وختي راسي، نو د هغه نوم په اولو شرکت کونکو کي لیکي.
بیا چي څومره انسانان په آخر کي راځي: د هغو نوم په آخرو کي لیکي، لیکن چي کله امام خطبې ته ودرېږي، نو ملائکي خپلي صحیفې بندي کړي، او بیا د خطبې د اورېدلو لپاره کښېني، نو وروسته که څوک راسي، نو هغه په دغه درجاتو کي هیڅ مقام نسي پیدا کولای، ځکه دهغه نوم د ملائکو په ورقو کي د جمعې په شرکت کونکو کي نه لیکل کېږي.
او د الله په دغه دربار کي هغه جنتیان شرکت کوي: چي د هغو نمونه د ملائکو په صحیفو کي د جمعې په شرکت کونکو کي لیکلی وي.
چي کم انسانان د کښتو درجو والا وي، نو د هغوی لپاره د مشکو پر غونډیو د ناستي ځایونه مقرر سوي وي، او دوی به پر هغه باندي کښېني.
چي کله ټول جنتیان پر خپلو ځایو باندي کښېني، نو د هغه څخه وروسته به د الله تعالی د دربار آغاز وسي: نو پدې وخت کي به د الله تعالی د طرفه یو منادي اعلان وکړي: چي زما هغه بندګان چیري دي: چي په دنیا کي ئې حرامي غزلي او موسیقي نه اورېدل، او هم ئې خپل ځان د هغه څخه محفوظه ساتلی وو.

## د قوم بدقسمتي:

د يو قوم د بد قسمتۍ لپاره دا کافي ده: چې هغه د موسيقۍ دلدادهاو شوقين س
يو نوجوان نسل د هلاکت لپاره دا کافي ده: چې هغه د غزلو او سروزو شوقيان
کچيري يو قوم څوک ختم کول غواړي، نو هغه دي پر موسيقي او غزلو اوريدلو با
راولي.
چې د هغه څخه به د دوی اخلاق ختم سي، او هم به حيا او پاکدامني څني رخصت
او هم به ئې هغه لوړ همت او غيرت دلاسه ووزي، هغه به د ذلت پر طرف روان وي،
تر څو پوري په ذلت کي انتهاء ته رسيږي.

## د شيطان مؤذن:

ابن قيم رحمة الله عليه ليکلي دي: چې شيطان د الله تعالی څخه خواست وکړی: چې يا ا
زما کتاب به څه وي؟ نو الله تعالی ورته وفرمايل: چې "علم النجوم"، به ستا ک
وي، او ده ويل: زما مؤذن به څوک وي؟ نو الله تعالی ورته وويل: چې دغه موس
ږغونکی به ستا مؤذن وي.
نو ابن قيم رحمة الله عليه ليکلي دي: چې موسيقي د شيطان نغمه او دعوت دی، او غ
ويونکی دا امام دی، او موسيقي ږغونکی مؤذن دی، او اوريدونکي ئې مقتد
دي، نو دغه مؤذن او امام او مقتديان دغه خپل عمل د شيطان د خوشحاله کولو لپ
کوي، لکه انسانان چې لمونځ د الله د خوشحاله کولو دپاره کوي، نو چونکه دوی
دا خپل عمل د شيطان د خوشحاله کولو لپاره کوي، نو په قيامت کي به د شيطان
يو ځای وي.

## د جنت دربار:

نو چې کله د الله د طرفه اعلان وسي: نو پدې سره به د جنت د دربار آغاز کيږي، ?
اول ځل به د جنت حوري چې هغوی ته الله تعالی داسي حسن ورکړی وي: چې د هغ
يوه ګوته دنيا ته ښکاره سي: نو د دنيا لمر به تاريک پاته سي، او د هغې خبري ک
مړي سره وسي، نو د هغوی د ذوق او خوند په وجه به مړی راژوندی سي: او د هغې

لاړي یو ځاځکی که دریاب ته ورشوه سي، نو د دنیا ټوله دریابونه به تر عسلو زیات خواږه سي.

نو هغه د جنت حوري به د الله تعالی د صفاتو نغمه روانه کړي، نو د جنت انسانان به ئې ننداره کوي، یو طرف ته د جنت حوري دي، او د هغوی آواز دی، او د جنت ساز دی، دا به ټوله داسي منظر پیدا کړي: چي ټول جنتیان به د وجد په حالت کي داسي ځنګيږي: لکه یو نری ښاخله چي په هوا کي ولاړه وي.

نو الله تعالی به ورته وایي: چي ایا داسي نغمه مي یو وخت هم اورېدلې ده؟ دوی به وایي: چي نه هیڅکله مي نه ده اورېدله، نو الله تعالی به ورته وایي: ایا تر دې هم ښه نغمه درباندي واورم؟ نو جنتیان به حیران وي: چي تر دې ښه نغمه به د چا وي؟

نو الله تعالی به حضرت داؤد علیه السلام را طلب کړي، چي ای داؤد! پر منبر باندي کښېنه، او زما بندګانو ته زما کلام واوروه.

داؤد علیه السلام ته الله تعالی داسي آواز ورکړی وو: چي کله به هغه "زبور" وایي: نو د ځنګلو ټول مرغان به راوتل، او د ده سره به کښېنستل، او د "زبور" د وینا په وخت کي به د ده د ښه آواز په وجه غرونو هم د ده سره تسبیحات ویل.

چنانچه حضرت داؤد علیه السلام به د قرآن کریم دغه آیاتونه تلاوت کړي:

.........إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ...الخ﴾.

د حضرت داؤد علیه السلام پر تلاوت به جنتیان دوه سوه (۲۰۰) کاله د وجد په کیفیت کي وي، چي کله دوی پر خپل حالت سي، نو بیا به الله تعالی ورته ووایي: ای زما بندګانو! تاسو د دې څخه ښه آواز هم یو وخت اورېدلی دی؟ دوی به ورته ووایي: ای الله! موږ د دې څخه زیات ښه آواز نه دی اورېدلی.

نو به الله تعالی ورته ووایي: زه اوس په تاسو باندي د دې څخه هم ښه آواز اوروم، نو به الله تعالی اعلان وکړي: ای زما حبیب محمد صلی الله علیه وسلم! ته راسه، پر منبر کښېنه، او زما بندګانو ته "سورة طه" او "یس" واوروه.(۱)

---

(۱) فتح العلی المالک لابن علیش، جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۲۴. کنز العمال: حدیث نمبر ۳۹۳۲۵

په حديث شريف کي راځي: الله تعالى به نبي اکرم ﷺ ته د حضرت داؤد عليه السلام ځن
اويا(۷۰) ځله زيات ښائسته آواز ورکړي، او دی چي کله په دغه ښائسته آواز د قرآ
کريم تلاوت کوي: نو پنځه سوه(۵۰۰) کاله به جنتيان د وجد په کيفيت کي وي.
چي کله ئې هغه کيفيت ختم سي، نو بيا به الله تعالى ورته ووايي: چي ايا تاسو تر د
زيات ښه آواز يو وخت اوريدلی دی؟ جنتيان به جواب ورکوي: چي هيڅ کله مې
دی اوريدلی، نو الله تعالى به ورته وايي: چي اوس ئې زه در باندي اوروم.
نو دې وخت کي به الله تعالى په خپله بلا کيفه، بلا جهته په خپلو بندګانو باند
راښکاره کيدونکی وي، او "رضوان" ملائکي ته به دا فرمان جاري کوي:
......﴿يَا رِضْوَانُ ارْفَعِ الْحُجُبَ بَيْنِي وَبَيْنَ عِبَادِي وَزُوَّارِي﴾.(¹)
ای رضوانه! زما او زما د بندګانو په مابين کي حجاب او پردې پورته کړه، چي دو
ماته ګوري، يو خو الله تعالى ته کتل د ټر لوی نعمت دی، د دنيا او آخرت د ټولو ځن
لوی نعمت دالله تعالى ديدار دی، چي کله ټولي پردې ليري سي، نو الله تعالى به
تبسم او خندا په شکل پر ټوله انسانيت باندي راښکاره سي، او دا به وايي:
......﴿سَلَامٌ قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ﴾.(²)
ستاسو رب تاسو ته سلام کوي، بيا به الله تعالى د هر يوه نوم اخلي، او هم د حا
پوښتنه ځني کوي، لکه د حديث شريف الفاظ دي:
......﴿حَتَّى إِنَّ أَحَدَكُمْ لَيُحَاضِرُ رَبَّهُ مُحَاضَرَةً﴾.(³)
تر دې حده چي په تاسو کي به هر يو د الله سره مخامخ خبري کوئ، الله به تاسو هر يو
نامه يادوي، او د حال پوښتنه به کوي.
د نامه يادولو او بيا د حال پوښتلو د لذت او خوند اندازه مونږ د دې ځخه معلوملا
سو: چي د حضرت ايوب عليه السلام غونډي بيماري پر هيڅ چا نه وه راغلې، پر هغه باند
لوی امتحان وو، او تر اتلس(۱۸) کاله پوري هغه په دغه بيماري مبتلا وو.

(¹) روية الله للدار قطني، حديث نمبر ۶۴
(²) سورة يس: آيت نمبر ۵۸
(³) روية الله للدار قطني، حديث نمبر ۳۱

اتلس(۱۸) کاله بعد چي کله الله صحت ورکړی، نو يو ځا د ده څخه پوښتنه وکړه: چي ای ايوبه! هغه د بيمارۍ ورځي يو وخت هم در يادېږي، ده په جواب کي ورته وويل: چي هغه ورځي د اوس ...ځو څخه ډېري زياتي مزه داره او خوندوري وې.
هغه سری پوښتنه ځني کوي: چي هغه څنګه؟ ده په جواب کي ورته وويل: چي کله زه بيمار وم، نو الله به هره ورځ د عرش څخه پر ما باندي پوښتنه کوله، چي ای ايوبه! څنګه حال دی؟
د هغه يوې پوښتني خوند او لذت به زما په بدن کي څلرويشت(۲۴) ساعته د داسي نشې په شان پر لړه ګرځيدی: چي تاسو د هغه اندازه نسی لګولای، چي کله به هغه نشه زما د بدن څخه لانه وه ختمه سوې، دوهمه ورځ به بيا د الله هغه ندا او آواز زما غوږ ته رارسيدی، چي ای ايوبه! څنګه حال دی؟

## دالله د ديدار او کلام لذت:

چي کله موږ په جنت کي الله تعالی ته مخامخ ګورو، او زموږ نظر د الله تعالی پر ذات باندي مبنلي، او الله تعالی پوښتنه راڅخه کوي: چي څنګه حال دی؟ د هغه د لذت اندازه څوک لګولای سي.
بيا به الله تعالی په جنتيانو خپل کلام اوروي، او هغه به د .سورة انعام" د تلاوت اورولو په شکل وي، سترګي به د الله تعالی د ديدار لذت او خوند اخلي، او غوږونه به د هغه ذات د آواز په اوريدلو سره د سماع په خوند کي غرق وي، او روح به د هغه ذات د قرب څخه سرشار او مست وي، په داسي مستي سره چي جنت به ځني هير سي، نعمتونه به ځني هير سي، حوري او د جنت محلونه به ځني هير سي، او ټول به د بې خودی په حالت کي وي، لکه د روايت الفاظ دي:
.........فرأوا بهاءه ونوره هبوا له سجدا﴾.([1])
چي کله دوی د الله ښائست او نور ووينې، نو دوی به ټول په سجده کي پرېوزي:
..........فيناديهم تبارك وتعالى بصوته﴾.
الله تعالی به په خپل آواز سره پر دوی باندي ږغ وکړي:

([1]) روية الله للدارقطني، حديث نمبر ۶۴

.........ارْفَعُوا رُءُوسَكُمْ، فَإِنَّمَا كَانَتِ الْعِبَادَةُ فِي الدُّنْيَا، وَأَنْتُمُ الْيَوْمَ فِي دَارِ الْجَزَاءِ).
الله تعالى به ورته وايي: تاسو سرونه راپورته کړئ، چي کم لمنځونه او سجدې مي زما لپاره په دنيا کي وکړې، بس هغه کافي دي، دلته به تاسو ته د هغه عباداتو جزا او ثواب درکول کيږي.

## د الله تعالى د جنتيانو سره مذاق:

په بعضو رواياتو کي لاداسي هم راځي: چي په دغه ورځ به الله تعالى د بعضو جنتيانو سره مذاق او مسخرې کوي.
او ورته وايي به:
.........يَا عَبْدِي هَلْ تَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا وَكَذَا).
اى زما بنده هغه ورځ دي ياده ده، الله تعالى به صرف اشاره کوي، چي ده ته به ټولي خبري ياد لره ورسي، او چي کم ګناهونه الله تعالى وريادوي، هغه به ټول له د ده په دماغ کي راوګرځي، خو نور انسانانو ته به هغه د ده عمل ور ښکاره نسي، نو هغه بنده به الله تعالى وايي:
.........أَلَمْ تَغْفِرْ لِي؟).
يا الله! تا هغه ګناهونه ماته نه را بخښلي؟ الله به جواب ورکوي:
.........بِمَغْفِرَتِي صِرْتَ إِلَى هَذَا). (١)
بې شک! ما ټول در معاف کړيدي، چي هغه زما د معافى په خاطر نن تا د جنت په دربار کي زما ديدار کوي، او هم د هغه څخه لذت او خوند اخلې.

## د مشکو او زعفرانو باران:

په دغه دربار کي د نغمې او کلام اورولو څخه وروسته به پر آسمان باندي يو وريځ رابنکاره سي، او جنتيانو ته به داسي محسوسيږي: چي اوس باران کيږي، نو ټول انسانان به د وريځي طرف ته ګوري.

(١) رؤية الله للدار قطني: حديث نمبر ٣١

د جنت د دغه دربار پر ټولو شریکانو به د مشک او زعفران شبنم د وریځې څخه وسي، چي په ټوله دربار کي به ئې خوشبوئي سره خوره سي، او هغه به داسي خوشبوئي وي: چي د دې څخه مخکې به د هیچا پزې نه وي بوی کړې، او نه به ئې د هغه تصور کړی وي.

یا به د الله تعالی په حکم سره تر وریځ لاندي یو هوا راوالوزي، او د هغه هوا د راآتلو په وجه هر انسان ته داسي فرحت او نشاط او خوشحالي ور حاصله سي: چي د هغه په وجه به د دوی حسن دوچنده سي، او د دوی صورتونه او شکلونه به د مخکي څخه زیات حسین او خوبصورت وګرځي.

یا به د الله تعالی د طرفه د جنت مشروبات ټولو حاضرینو ته پیش سي، هغه به داسي مشروبات وي: چي د دنیا د هیڅ مشروب سره نه انسان د هغه تشبیه ور کولای سي، او نه د هغه حقیقت بیانولای سي.

## په جنت کي د حسن او جمال اضافه:

چي کله دغه دربار او محفل ختم سي، نو جنتیان به خپلو ځایو لره واپس راسي، نو د دوی زناني او حوري به و دوی ته وایي: چي نن څه پیښه ده؟ چي ستاسو حسن او جمال د مخکي څخه ډېر زیات ښکاره کیږي؟ نن تاسو په ډېر حسین او جمیل شکل تر موږ پوري راغلاست.

په جواب کي به جنتیان خپلو زنانو ته وایي: موږ چي تاسو په کم حالت کي پرې ایښي واست تاسو هم د هغه حالت څخه موږ ته اوس څو چنده زیات حسین او جمیل او خوبصورته رامعلو میږئ.

پیغمبر ﷺ فرمایي: چي د دوی دواړو په حسن او جمال کي اضافه د هغه خوشګواري هوا په ذریعه پیدا کیږي: چي الله تعالی په جنت کي پر دوی باندي راوستله.

بهر حال دا په جنت کي د جمعې د ورځي د اجتماع او د دربار خداوندي د حاضرېدلو او د هغه د دیدار کولو او د هغه د آواز اورېدلو یو معمولي منظر دی، چي الله تعالی دغه حالات په خپل رحمت سره خپلو نیکو بندګانو ته ور کوي، الله تعالی دي موږ ټولو ته هم په دغه محفل کي د شرکت کولو نصیب راپه برخه کړي. (آمین)

## د جنت د نعمتو تصور نسي کېدلای:

لیکن لکه څنګه چې ما مخکې هم دا خبره عرض کړله: چې هیڅ یو لفظ نه یو تعبیر، یو منظر کشي، د جنت د حالاتو صحیح منظر بیانولای سي، څکه چې یو حدیث قدوسي کې الله تعالی پخپله فرمایي:

......... أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ، وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ، وَلَا خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ﴾.(۱)

یعني ما د خپلو نیکو بندګانو لپاره داسي نعمتونه تیار کړي دي: چې تر ننه پوري سترګي لیدلي نه دي، نه یو غوږ اوریدلي دي، او نه د چا په زړه کي د هغه فکر او تصور تېر سوی دی.

نو څکه علماء کرامو فرمایلي دي: چې د جنت د نعمتو نمونه خو د دنیا د نعمتو غوندي دي، مثلاً هلته به هر رنګه میوې وي، انار به وي، انګور به وي، خورما به وي، لیکن د هغه حقیقت به داسي وي: چې تر ننه موږ په دنیا کي تصور نسو کولای: چې دا به څنګه انار وي؟ او څنګه انګور او خورما وي؟ چې د هغه حقیقت به بل شان وي.

په روایت کي راځي: چې په جنت کي به محلات وي، اوس موږ خو به دا ګمان کوو لکه څنګه چې په دنیا کي محلات وي، دغه شان محلات هلته هم وي، لیکن په حقیقت کي د دې ځای څخه د هغه ځای د محلاتو تصور نسي کېدلای.

داغه رنګه په روایاتو کي راځي: چې د شرابو، او شیدو، او عسلو، نهرونه به وي، اوس موږ به دا ګمان کوو: چې د دنیا د شیدو، او عسلو، غوندي به وي، چې د هغه په وجه د هغو قدر او منزلت زموږ په زړه کي نه پیدا کیږي، حالانکه د هغه ځای د عسلو، شرابو او شیدو د دې ځای څخه تصور نسو کولای او نه ئې حقیقت موږ ته په کامله طریقه سره را معلومیدای سي.

## دآخرت نعمتونه کامل دي:

الله تعالی په قرآن کریم کي فرمایلي دي:

.........وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى﴾.(۲)

---

(۱) جامع معمر بن راشد، حدیث نمبر ۲۰۸۷۴

(۲) سورة الاعلی، آیت نمبر ۱۷

د آخرت زندګي خير او باقي ده.
د خير معنی: کامل، د هغه لذت هم کامل، د هغه رحمت هم کامل، او په هغه کي خوشحالي هم کامله يعني نه ختمېدونکې ده، چي کم نعمت او خوند او لذت انسان ته حاصل سي، هغه به د همېشه لپاره وي.
لکه د يو حديث شريف مضمون دی: دلته په دنيا کي يو سړي ته خوړکه خوند ورکوي، زړه ئې غواړي: چي وئې خوري، نو يو پليټ دوه(۲) پليټه و خوري يوه ډوډۍ يا دوې(۲) ډوډۍ وخوري، آخر يو داسي حد راسي: چي د انسان نس ډک سي، اوس که دي نوره خوړکه خوړل غواړي، نه ئې سي خوړلای.
هغه خوړکه چي د هغه و طرف ته د ده زړه ميلان کاوی، او هم په شوق ده ځان ورساوی، او په څو ګولو او په څو لمحو کي د هغه څخه د ده زړه مات سي، نور ئې د هغه خوړک کولو ته زړه نه ور غواړي، ځکه چي د ده د نس يو حد وو، هغه حد ختم سو، د هغه څخه وروسته په نس کي د نور خوړک ځای کولو ګنجائش نسته.
يعني چي په اوله او دوهمه او دريمه ګوله کولو کي ده ته څومره خوند او لذت حاصل کېدی، بيا په لسمه او شلمه ګوله کي هغه لذت او خوند نسته، بلکه د مړتيا څخه وروسته خو بيا بلکل د هغه خوړک ته د ده زړه نه ور غواړي.
ليکن په جنت کي چي کمه خوړکه راسي، او دی ئې خوري، په هغه کي دا مرحله نه راځي: چي اوس د ده نس ډک سو، نو دی نوره نسي خوړلای، يعني د مړتيا مرحله په جنت کي نسته، په اوله ګوله کي چي څومره خوند وي، په لسمه او شلمه او زرمه ګوله کي هم هغومره خوند دی.
نو چي په جنت کي کم لذت او خوند وي، نو هغه به همېشه وي، يعني نه به ختم کيږي، ليکن د دې په مقابل کي د دنيا هر لذت او خوند دستي پناه کېدونکی وي.
نو د انسان "وطن اصلي" جنت دی، چي په هغه کي به هر قسمه نعمتونه په کامله طريقه سره الله تعالی ده ده لپاره تيار کړي وي، خو شرط ئې دادی: چي انسان به د دنيا زندګي د الله د رضا مطابق تېره کړې وي.

الله تعالی دي موږ او تاسو ته زندګي د الله د رضا مطابق رانصیب کړي، او الله تعالی دي مو په ښه طریقه سره خپل "وطن اصلي" جنت ته ورسوي، او هلته دي مي د جنت کاملو نعمتو څخه نفعه اخیستل رانصیب کړي، الله دي دا څو خبري پخپل دربار عالي کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیہ)

# جنتي اعمال

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

مکتبہ سلطانیہ الهاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقــــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشـــاعـت | اول |
| تــاريـــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ،
وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.
أَمَّا بَعْدُ:
فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ
﴿وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴾.(١)
وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ،﴾.(٢)
آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمُ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمُ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! د تيرو څو جمعو څخه مکرر ستاسو په حضور کي دا خبره پيشوم: چي د انسان زندګي په دنيا کي د سفر زندګي ده، ځکه دنيا د انسان لپاره "وطن اصلي" ندی، بلکه د مسلمان لپاره "وطن اصلي" جنت دی.

نو په دنيا کي مسلمان صرف د سفر يو څو ورځي او شپې تيروي، بلکه حقيقت خو دادی: چي دا د عام سفر ورځي او شپې نه، بلکه در حقيقت د قيدخاني او بندي خاني سفر، او ورځي او شپې دي چي پر انسان باندي تيريږي.

لکه په جيل خانه کي عام طور انسان آزاد نه وي، او نه ئې ضروريات او خواهشات پوره وي، او همېشه د غم او ويري سره مخامخ وي.

بعينه داغه رنګه په دنيا کي هم انسان آزاد ندی، او نه د خپلو خواهشاتو مطابق زندګي تېرولای سي، او همېشه د خپلو تيرو اعمالو فکر او غم او د را روان مستقبل خوف او وېره ور سره وي.

(١) سورة آل عمران: آيت نمبر ۱۳۳
(٢) الزهد والرقائق لابن مبارك: حديث نمبر ۹۲۵

نو دغه انسـان چي کله د قيدخانې څخه آزاد سي، او د خپل "وطن اصلي" پر طرف
باندي روان سي، او خپل اصلي کور ته ځان ورسـوي، نو هلته بيا انسـان ته هر قسم
آزادي او هم د هر قسـم خوف او غم څخه په امان سي.
ځکه چي د دنو تلو سره متصل به الله تعالى دا اعلان ورته کوي:
﴿.........يَا عِبَادِ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ وَلَا أَنتُمْ تَحْزَنُونَ ﴾.(١)
اى زما بندګانو! د نن څخه بعد به پر تاسو باندي هيڅ خوف او غم نه وي، يعني نه به پر
تيرو خبرو تاسـو غمجن کيږئ، او نه به ستاسـو سره د را روان مستقبل څه خوف او ويره
وي.
د جنت په نعمتو کي يو لوى نعمت دا هم دى: چي هلته به انسان د هر قسـم خوف او حزن
څخه په امن وي، دا هغه نعمت دى: چي په دنيا کي د دې هيڅ تصور نسـي کېدلاى، چي
هلته به ويره او غم نه وي، نه به د ماضي څه فکر وي، او نه به د مستقبل څه خطره وي،
دغه نعمت په دنيا کي هيڅکله انسان ته نه سي نصيب کېدلاى.
ځکه الله تعالى د دنيا عالم داسي جوړ کړى دى: چي دلته هيڅ خوشحالي کامله نده،
او نه هيڅ لذت کامل دى، بلکه د هري خوشحالۍ سره څه نه څه د غم ازغى لګېدلى
وي، او د هر لذت سره څه نه څه تلخي ملګري وي.
مثلاً د دنيا په زندګي کي يو سړى خوړک کوي، او هغه خوړکه ډېره د خونده ډکه وي،
ليکن د دې سره د هغه سړي په دماغ کي دا ويره وي: چي هسـي نه خوړکه زياته را څخه
وسي، او زما د بيمارۍ ذريعه او سبب ونه ګرځي، په دې سره زما هاضمه او معده
خرابه نسي.
يا په دنيا کي يو انسان تږى دى، نو په دې وخت کي ده ته بهترين مشروبات په لاس
ورسي، چي هم يخ وي، او هم خواږه وي، نو که يو طرف ته د هغه په څښلو کي ده ته
ډېر لذت او خوند وي، ليکن د دې سره سره دسـتي دا ويره ور سره پيدا سي: چي د دې د
ډېر خوږوالي په خاطر زما صحت ته نقصان ونه رسيږي، او يا د دې د ډېر يخوالي په
وجه زما ستوني او سينه خرابه نسي.

---

(١) سورة الزخرف: آيت نمبر ٦٨

نو په دنيا کي چي انسان هر قسم خوشحالي او لذت پيدا کړي، ليکن د هغه سره ضرور غم او تکليف وېره ورسره وي.
ليکن الله تعالى د جنت عالم د هر قسم غم، او وېري څخه محفوظه جوړ کړېدی، چي هلته نه وېره سته، او نه غم، نه د انسان سره د ماضي پر اعمالو څه افسوس وي، او نه د مستقبل په حواله د ده په زړه کي څه خوف راګرځي، بلکه چي هلته د انسان هر خواهش وي، هغه به الله تعالى په کامله طريقه سره پوره کوي.

## د جنتي ژوندګۍ مثال:

د دې مثال داسي دی: لکه د پيغمبر ﷺ په يو حديث مبارک کي راځي: چي الله تعالى به د جنتيانو هر خواهش په کامله طريقه سره پوره کوي، مثلاً د يو جنتي په زړه کي به دا خواهش پيدا سي: چي زه د انار يو جوس وچښم، اوس په دنيا کي خو د دې طريقه داسي ده: چي يو ځل به هغه "انار" د درختي څخه پرې کېږي، او بيا به د هغه پوستکی او دانې سره بېلېږي، او هغه دانې به د يو مشين په ذريعه اوبه کېږي، او د هغه جوس به ده ته راځي.
ليکن په جنت کي چي څنګه د ده په زړه کي اراده پيدا سوه، نو هغه "انار" به خودبخود په جوس بدلېږي، او ده ته به پېښېږي، او په درخته کي به په داغه ګړۍ کي، د دغه انار پر ځای بل انار پيدا کېږي، الله تعالى د دغه جنت د نعمتو يو لږ نمونه په دنيا کي هم انسانانو ته ورښکاره کړېده.
په تيرو زمانو کي به چي کله د جنت د نعمتو تذکره د انسانانو مخته کېدله، نو خلګو ته به ډېره عجيبه معلومېدله، او ډېر ځله به د هغه د ناولدتيا په وجه د انسانانو په يقين کي تشويش او ګډوډي پيدا کېدله.
ليکن اوس خو د دنيا دغه تيز رفتار دا خبري د انسانانو دماغو ته ډېري نږدې کړلې، چي انسانان د خپل محدود عقل او تجربې پر بنياد داسي کارونه کوي: کچيري د نن څخه سل کاله مخکي د دغه کارو په باره کي انسانانو ته ويل سوي وای، نو هغوی به هغه سړي ته پاګل او ليونی ويلی وای.

چي مثلاً يو داسي آله به ايجاد کيږي: چي په يوه دقيقه کي به د انسان خط د دې ځاى
ځخه د دنيا بلي کونې ته رسوي، نو هغه به د دې تسليمولو ته قطعاً تيار نه واى، ځکه
چي د هغه په ګمان کي به دا راتلل: چي کچيري هر څومره چابک سي، نو دجهاز د
رفتار څخه خو نه چابک کيږي، حالانکه هغه هم د دنيا بلي کونې ته په رسيدلو کي ډېر
وخت اخلي، ليکن چي کله په موجوده دور کي "فيکس" مشين يا "ټيلکس" مشين
ايجاد سول، چي د هغه په ذريعه په يو بټن د انسان خط په يوه دقيقه کي د دنيا هري
کونې ته رسيږي، نو چي کله انسان د خپل محدود عقل په ذريعه او د الله په توفيق پر
داسي اسبابو برابرولو قدرت لري.
نو ايا الله تعالى په خپل قدرت کامله سره او پخپل رحمت کامله سره د خپلو بندګانو
لپاره داسي اسباب نسي برابرولاى؟ چي دلته د ده په زړه کي خواهش پيدا سي: او په
داغه لمحه کي الله تعالى د ده خواهش ور پوره کړي.

## دغه جنت د متقينو لپاره دى:

ليکن چونکه د انسان د يقين راتللو ټوله بنياد پر مشاهده باندي دى، چي کله دى د يو
شي مشاهده و نکړي، نو هغه اشياء چي د ده د دماغ تر استعداد لوړ وي، نو هغه ته دى
د ناقابل يقين په نظر ګوري.
ليکن انبياء کرام عليهم السلام ته الله تعالى هغه علم ور کړى وو: چي د دنيا هيڅ انسان ته نه
وو ور کول سوى، هغو موږ ته د جنت او د هغه د نعمتو په باره کي يقيني حالات او
خبرونه بيان کړيدي، چي د هغه څخه زيات يقيني خبر بل هيڅوک نسي بيانولاى،
زموږ عقيده دا ده: چي دا ټولي خبري د جنتو او د جنت د نعمتو نه صرف رشتوني بلکه
زر(۱۰۰۰) درجې رشتوني دي، او دغه جنتونه بر حق دي، او د هغه نعمتونه بر حق دي،
د هغه په باره کي الله تعالى فرمايلي دي:
........وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴾.(۱)
يعني د خپل رب د مغفرت و طرف او د هغه د جنت و طرف ته ور منډي کړئ، چي د هغه
وسعت او پراخي د مځکي او آسمانو برابر دى، او دغه جنت الله تعالى د متقينو لپاره

(۱)سورة آل عمران: آيت نمبر ۱۳۳

برابر کړیدی، یعني چي کمو انسانانو په دنیا کي د تقوی زندگي اختیار کړې وي، او د الله تعالی د دین په خاطر ئې مشقتونه برداشت کړي وي، او هم ئې د نفس او شیطان په مقابله کي مجاهدې او سختی برداشت کړي وي، نو هغو ته الله تعالی دغه جنتونه او د جنت نعمتونه ور نصیب کوي.

## د جنت شاوخوا اغزن تار:

لکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی: چي ما د خطبې په دوران کي تاسو ته پیش کړی، چي دی مبارک فرمایي:

........حُفَّتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ﴾.([1])

یعني الله تعالی دغه جنت په داسي شیانو کي راگیر کړیدی: چي ظاهري طور د انسان پر نفس باندي ډېر شاق او سخت وي.

لکه انسان یو ډېر عالي شان محل وویني، او د هر قسم نعمتو څخه لبریز او ډک وي، لیکن پر هغه محل باندي شا او خوا اغزن تار راگرځیدلی وي، چي تر څو پوري انسان هغه تار پرې کړی نه وي، تر هغه وخته پوري هغه محل ته ور تللای نسي، او نه د هغه د نعمتو څخه نفع اخیستلای سي.

بعینه داغه رنگه دغه عالي شانه جنت هم الله تعالی په اغزنو تارو کي د انسان لپاره راگیر کړیدی، چي هغه ته ځان رسول ډېر شاق او سخت دي.

مثلاً الله تعالی پر انسان باندي فرائض او واجبات لازم گرځولي دي، چي دغه فرائض به سر ته رسوې، اوس د انسان نفس ته دا خبره ډېره شاقه او سخته وي، چي خپل ټول کارونه به پرېږدي، او مسجد ته به ورځي، او هلته به لمونځ ادا کوي، داغه رنگه ډېر کارونه داسي دي: د انسان زړه ئې غواړي: لیکن الله تعالی هغه انسان ته حرام او گناه گرځولي دي.

مثلاً د انسان د نوجوانی زمانه ده، یو طرف ته د ده جوش او جذبات ډېر په قوت کي دي، او د دې سره د فحاشی او عریانی دور او دوره ده، نو د ده نظر پر غلطو ځایو

([1])الزهد والرقائق لابن مبارک: حدیث نمبر ۹۲۵

باندي او پر نامحرمو انسانانو او تصويرانو باندي لگيږي، او د ده نفس د هغه و طرفته ډېر ميلان کوي، بل طرف ته الله تعالى دا فرمان ورته جاري کوي:

............يَا ابْنَ آدَمَ جَعَلْتُ لَکَ عَيْنَيْنِ﴾.

اى بنده ماتاته دوې سترگي درکړيدي.

..........وَ جَعَلْتُ لَهُمَا الغِطَاءَ﴾.

او ما پر هغه باندي پرده جوړه کړې ده.

..........فَانْظُرْ بِعَيْنَيْکَ مَا اَحْلَلْتُهُ لَکَ﴾.

ته پخپلو سترگو باندي هغه څه ته گوره: چي ما ستا لپاره حلال کړيدي، او د حرامو څخه خپلي سترگي راگرځوه، نو دا راگرځول د سترگو د انسان نفس ته ډېر شاق او سخت وي، دا هغه اغزن تار دى: چي پر جنت باندي راگرځيدلى دى.

يا مثلاً د دوستانو په مجلس کي انسان کښېني، چي کله ديو چا ذکر راسي، نو زړه خو دا غواړي: چي د هغه به غيبت وکړي، او خپل مجلس پر هغه تازه کړي، مگر د حديث قدوسي په ذريعه الله تعالى دا امر کوي:

............يَا ابْنَ آدَمَ جَعَلْتُ لَکَ لِسَاناً وَ جَعَلْتُ عَلَيْهِ بَاباً﴾.

اى د آدم زويه: ما تاته ژبه درکړې ده، ما تاته ژبه د وينا لپاره در کړېده، او هم مي پر هغه باندي دروازه لگولېده.

..........فَانْطِقْ بِلِسَانِکَ مَا اَحْلَلْتُهُ لَکَ﴾.

پخپله ژبه سره هغه وينا کوه: چي ما ئې تاته اجازت کړيدى.

..........وَ اِلَّا فَاغْلِقْ عَلَيْهِ البَابَ﴾.

کچيري هغه وينا چي ستا مخته راغله: جائز نه وه، بيا نو پر دا خپله ژبه باندي دروازه رابنده کړه.

نو د مجلس په دروان کي خپله ژبه د غيبت څخه راگرځول اغزن تار دى، نو که انسان جنت حاصلول غواړي، نو د دغه اغزن تار څخه به ځان ور تېروي، د هغه څخه وروسته به جنت ته رسيږي، د هغه بغير د جنت حصول د انسان لپاره ممکن ندى، دا د الله تعالى د طرفه د جنت حاصلولو طريقه ده.

**خو دغه اغزن تار په ګل باندي بدليږي:**

بهر حال پر جنت باندي د اغزيو تار راګرځيدلی دی، ليکن دغه اغزي هم الله تعالی داسي جوړ کړيدي، که يو څوک همت او عزم وکړي: چي زه به تر دغه اغزن تار ضرور ځان تېروم، الله تعالی د هغه لپاره دغه اغزي په ګلانو هم بدلوي، دغه اغزي تر هغه وخته اغزي وي: چي تر څو پوري انسان د ليري څخه ورته ګوري، او د هغه صرف تصور او فکر کوي، نو د هغه عبور او پارول مشکل معلوميږي.
ليکن چي کله يو ځل انسان کلک و دريږي، او همت او اراده وکړي، چي زه به تر دغه اغزيو ځان تېروم، او هغه باغ ته به ځان رسوم، نو الله تعالی هغه اغزي بيا د ده لپاره ګلزار جوړوي، او هغه اغزي به د ګل پشان ده ته نرميږي.

**د يو صحابي د شهادت شوق:**

يو صحابي په جهاد کي شريک دی، نو که ګوري د دښمن لښکر په ډېر طاقت سره پر مسلمانانو باندي حمله کوي، نو په دغه حالت کي د ده لپاره د مرګ څخه د خلاصون هيڅ لاره نسته، ليکن بيا هم دی بې اختياره پر ژبه باندي دا کلمه راوړي:
﴿غَدًا نَلقَى الْأَحِبَّةَ ... مُحَمَّدًا وَحِزْبَهُ﴾.(١)
يعني هغه وخت راغلي: چي سبا به زما ملاقات د خپلو دوستانو يعني محمد ﷺ او د ده د صحابه وو سره په عالم آخرت کي کيږي.
نو تاسو ګورئ! يو طرف ته د وينو ولې بهيږي، او د تورو چلېدل دي، او خپل ځان قربانول دي، چي ظاهراً خو ډېر مشکل عمل دی، ليکن هغه صحابي دغه مشکل عمل او تکليف په خوشحالي خوشحالي سره پر ځان تيروي، او هم د هغه د برداشت کولو لپاره په خوشحالي سره تياريږي.
ځکه په حديث شريف کي راځي: چي کله په "ميدان معرکه" کي پر انسان باندي زکندن راسي، نو د ده د روح اخستلو لپاره الله تعالی د ده د اعزاز په خاطر پخپله ميدان جنګ ته راځي، او ده ته د زکندن دومره تکليف ور کول کيږي: لکه يو انسان چي په دنيا کي يو ميږی په خپل غابښ وچيچي.

(١) فضائل الصحابة لاحمد بن حنبل: حديث نمبر ١٦٥٥

نو درحقیقت تر جنته پوري د رسیدلو لپاره هغه اغزن تار انسان ته ظاهراً حائل وي، لیکن چي کله انسان عزم وکړي: نو الله تعالی هغه ده ته د ګلانو په نرمي بدلوي.
اوس کچیري هغه انسان لره مرګ پر بستره باندي راسي، نو نه معلوم چي دی به په کمو تکلیفاتو کي واقع سي، لیکن چي کله ده په میدان جنګ کي د خپل عزم او همت پخاطر و خپل شهادت ته وړاندي کیږي، نو الله تعالی بیا هغه تکلیف د زکندن ده ته دومره آسانه کړي: لکه د یو میږي د غابن چیچلو تکلیف چي څومره وي.
فقیه ابو لیث سمر قندي رحمة الله علیه پخپل کتاب کي لیکلي دي: چي کم سړی د جنت نعمتونه حاصلول غواړي، د هغه لپاره د پنځو (۵) اعمالو پابندي کول ضروري ده.

**اول عمل:**

① ...اول دا: چي خپل نفس به د ټولو ګناهونو څخه محفوظه ساتي، او چي کم ګناهونه څني سویدي، پر هغه به الله تعالی ته ندامت او پښېماني کوي، ځکه د الله تعالی فرمان دی:

.........وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى، فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى﴾.(۱)

چي کم چا خپل نفس د خواهشاتو څخه محفوظه کړی، جنت به د هغه د استوګني ځای وي.
یعني د هر قسم ګناهونو څخه خپل ځان محفوظه کول، او دې ته نه کتل: چي دا ګناه صغیره ده، یا کبیره ده، بلکه د خپل وسع او طاقت مطابق د الله د هر قسم نافرمانی څخه پرهیز کول.
چي کله انسان یو ګناه ته د صغیرې او کوچنی ګناه په نظر ګوري، او هغه ګناه سپکه وبولي، نو بیا دا د هغه انسان لپاره ډېره د خطرې خبره وي، بلکه مشایخو خو دا هم لیکلي دي: چي انسان کمه ګناه سپکه او صغیره بولي، هغه د الله تعالی په حضور کي ډېره لویه ګناه وي.

(۱) سورة النازعات: آیت نمبر ۴۰-۴۱

ابن قيم رحمة الله عليه ليکلي دي: اى دوسته: دې ته مه ګوره! چي دا ګناه صغيره ده، يا کبيره ده، بلکه: د هغه ذات عظمت و خپل مخ ته ايږده: چي د کم ذات ته نافرماني کوې، د هغه ذات نافرماني هيڅکله کوچنى نسي کيدالاى.
يو بزرګ ليکلي دي: چي الله رب العزت زما په زړه کي دا خبره راڅولې ده: چي ته زما بندګانو ته ووايه: چي د ګناه کولو په وخت کي د باقي مخلوق څخه پرده کوئ، او ټولي هغي دروازې بندوئ، چي د هغه مخلوق نظر پرتاسو ونه لګيږي، ليکن هغه دروازه نه بندوئ: چي پروردګار مي ويني، ايا دغه بندګان د دوى و طرف ته په کتونکو ټولو کي د کمي درجې ذات ما بولي، چي د نورو مخلوقاتو څخه ځان پټوي، او زما څخه د ځان پټولو هيڅ بندوبست نکوي.
"اکمال الشيم" کي يو عجيبه خبره ليکلې ده: کچيري د انسان سره دَ الله د طرفه د عدل او انصاف معامله وسي، نو بيا خو يوه ګناه هم صغيره نه بلل کيږي، ليکن کچيري انسان د الله د فضل سره مخامخ سي، نو بيا يوه ګناه هم کبيره نه ده، يعني که الله رب العزت فضل وکړي، نو بيا چي دى غواړي، هره ګناه معاف کوي، ليکن کچيري عدل وکړي، بيا خو د انسانانو لپاره معامله ډېره مشکله وي.
نو په دنيا کي د جنت د پيدا کولو يو عمل دا دى: چي پر تيرو ګناهونو باندي توبه کښل، او هم په دغه حالت کي د ګناه څخه ځان ساتل.
څکه الله تعالى د دې امت لپاره توبه کښل او په توبه سره د ګناهونو معاف کول د نورو امتونو په نسبت ډېر آسانه ګرځولي دي.

## د دې امت سره د ګناه معافولو آساني:

د حضرت موسىٰ عليه السلام په باره کي راځي: چي کله ده خپل قوم ته اسلام پيش کړى، او د هغو څخه ئې د اسلام د قبلولو مطالبه وکړه، نو هغو د اسلام د قبلولو په خاطر دا شرط کښېښووى:
......... ﴿لَنْ نُؤْمِنَ لَكَ حَتَّى نَرَى اللَّهَ جَهْرَةً﴾.[1]

(1) سورة البقرة: آيت نمبر ۵۵

موږ هرگز ستا پر رب باندي ايمان راوړلو ته تيار نه يو، چي تر څو پوري دغه رب موږ پخپلو سترگو باندي ليدلی نه وي.
نو بني اسرائيلو د حضرت موسیٰ عليه السلام په دعوت باندي د الله پر ذات ايمان راوړلو د پاره ډېر سخت شرط پيش کړی، چي هغه په دنيا کي د الله رؤيت وو.
چي کله په ميدان "تِه" کي د سامري په ذوکه بني اسرائيل د سخندرکي په عبادت کولو کي راغلل، او د حضرت موسیٰ عليه السلام په دعوت باندي دوی توبه کښلو ته تيار سول، نو الله تعالی د دوی د توبې د قبوليت لپاره هم هغومره سخت ترين شرط پيش کړی، لکه قرآن کريم کي راځي:
......﴿فَتُوبُوا إِلَى بَارِئِكُمْ فَاقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ﴾.(۱)
تاسو که توبه کاږئ، نو د هغه لپاره شرط دا دی: چي خپل ځانونه به قتل کوئ، او د خپل ځان وينه به تويوئ، نو بيا به موږ ستاسو توبه قبلوو.
لکه څنگه چي دوی د ايمان راوړلو لپاره څنگه شرط ولگاوی، بعينه داغه رنگه د دوی د توبې د قبوليت لپاره الله تعالی دغــي شرط پيش کړی.
ليکن د پيغمبر ﷺ امت ته تاسو وگورئ! چي کله د هغو و مخته پيغمبر ﷺ ايمان پيش کړی، نو صحابه کرامو بغير د څه دليل او شرط قبول کړی، او هم ئې د ده تصديق وکړی.
چي کله دې امت د ايمان راوړلو لپاره دليل نه وغوښتی، او نه ئې څه شرط پيش کړی، نو الله تعالی هم ورته وفرمايل: ای زما بندگانو! اوس که تاسو د خپلو گناهونو څخه توبه کښل غواړئ، زه هم ستاسو څخه هيڅ دليل نه غواړم، لکه په حديث شريف کي راځي:
......﴿اَلنَّدَمُ تَوبَةٌ﴾.(۲)
که صرف تاسو په خپل زړه کي پر گناه باندي ندامت او پښېماني ښکاره کړئ، نو ستاسو د زړه په ندامت سره به ستاسو گناهونه معاف کيږي، نو د گناهونو معافي الله تعالی د دې امت لپاره ډېره آسانه کړځولې ده.

---

(۱) سورة البقرة: آيت نمبر ۵۴
(۲) کنز العمال: حديث نمبر ۱۰۲۰۲

## دوهم (۲) عمل:

(۲)...دوهم دا: چي د دنيا په لږ مقدار باندي راضي کېدل، ځکه چي په حديث شريف کي راځي: د جنت قيمت د دنيا پرېښوول دي.
ځکه چي د دنيا معامله داسي ده: لکه يو شاعر چي وايي:

کار دنيا کسی را تمام نه کرد

د دنيا کار او د دنيا خواهشات هيڅچا پای ته ندي رسولي، که يو څوک دا وايي: چي زه په دنيا کي داسي ژوند تېرول غواړم: چي زما کارونه او خواهشات دي ټول پوره وي، نو شايد هغه انسان به د دنيا د حقيقت څخه ناخبره وي.
ځکه الله تعالی دنيا داسي نه ده جوړه کړې: چي په هغه کي د انسان ټوله خواهشات پوره سي، بلکه د خواهشاتو پوره کولو ځای صرف جنت الله گرځوليدی.
نو په دنيا کي ژوند داسي کول: چي په لږ څه باندي قناعت کول، ځکه د قناعت څخه سوا د انسان لپاره په دنيا کي د سکون بغير بله لار نشته، لکه د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دی:

........وَلَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادٍ، لَأَحَبَّ أَنْ يَكُونَ إِلَيْهِ ثَانٍ، وَلَوْ كَانَ لَهُ وَادِيَانِ، لَأَحَبَّ أَنْ يَكُونَ إِلَيْهِمَا ثَالِثٌ، وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ﴾.[1]

کچيري يو بنده ته الله تعالی يو "دره" (شيله) د سرو زرو ورډکه کړي، نو دی به دستي د دوهمي په طلب باندي سي، او که دوهمه هم ورته ډکه سي، نو دی به د دريمي طلبګاره سي، خو د بنده وړې زړه صرف او صرف د قبر په تورو خاورو مړېږي، د هغه څخه مخکي نه مړېږي.
نو که انسان د جنت حاصلول او د هغه نعمتونو ته ځان رسول غواړي، نو دي په دنيا کي داسي ژوند وکړي: چي کم څه ده ته الله تعالی په قسمت او تقدير کي ليکلي وي، بس پر هغه باندي دي صبر وکړي، نو په دنيا کي به ئې ژوند په اطمينان سي، او هم به د دغه عمل په عوض کي الله تعالی جنت ور نصيب کړي.

---

[1] مسند احمد: حديث نمبر ۲۱۹۰۶

**دريم (۳) عمل:**

③....دريم دا: چي دنيک کار کولو خواهش دي کوي، او هيڅ نيک کار دي نـ
پريږدي، او نه دي يو نيک عمل ته په سپک نظر ګوري، ځکه نه معلوم: چي کم نيک
عمل د انسان د ګناهونو د بخښني او د جنت د پيدا کولو سبب او ذريعه ګرځي، الله
تعالی په قرآن کريم کي فرمايي:
.........﴿وَتِلْكَ الْجَنَّةُ الَّتِي أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ﴾.(۱)
دا هغه جنت دی: چي تاسو د خپلو اعمالو په ذريعه د هغه مالکان جوړ سواست، او پـ
يو بل آيت کي الله تعالی داسي هم فرمايي:
.........﴿أُولَئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾.(۲)
دغه خاوندان د جنت دي، خو دغه جنت و دوی ته دخپلو اعمالو په خاطر ور کول
کيږي.
نو د جنت پيدا کولو دريم عمل دا دی: چي انسان به و نيک عمل ته په سپک نظر نه
ګوري، لکه د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دی:
.........﴿لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا﴾.(۳)
و نيک عمل ته به په سپک نظر نه ګوري، ځکه ډېر ځله الله تعالی د يو نيک عمل په
وجه د انسان د ګناهونو مغفرت وکړي، او هم د انسان د جنت د داخلېدلو فيصله
وکړي.
په يو کتاب کي ليکلي دي: چي الله رب العزت حضرت آدم عليه السلام د غنمو د يو څو دانو
خوړلو په وجه د جنت څخه راوايستی، نو د ده د جنت څخه د راوتلو يو څو دانې غنم
خوړل جوړ سو.
الله رب العزت ورته وفرمايل: ای آدمه! ستا د اولاد څخه به يو څه داسي کسان هم
وي: چي يو څو د ور بشو دانې زما په لار کي صدقه کړي، نو د هغه په بدله کي به زه
دوی ته جنت ورکوم، نو دې امت ته کله خو الله تعالی په يو معمولي عمل باندي هم

(۱) سورة الزخرف: آيت نمبر ۷۲
(۲) سورة الاحقاف: آيت نمبر ۱۴
(۳) مسند ابن الجعد: حديث نمبر ۳۱۰۰

جنت ورکوي، نو د اعمالو په باره کي ډېر احتياط کول مناسب وي، او زندګي په نيکو اعمالو کي تېرول.

## پر معمولي عمل باندي جنت، او واقعه:

د حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه په باره کي راځي: چي کله وفات سو، نو يو مريد ئې په خوب کي ويني، او پوښتنه ځني کوي: چي حضرت! الله تعالى څه در سره وکړل؟ نو دی ورته وايي: چي الله تعالى مي مغفرت نصيب کړی، خو ليکن د مغفرت نصيب کېدلو عجيب ترتيب وو:

ځکه چي کله زه د الله تعالى و حضور ته پېش سولم، نو زما په دماغ کي خپل عبادت او اعمال ول، ليکن الله تعالى هغه زما ټول اعمال يو طرف ته کړل، او راته وئې ويل: چي په يو عمل دي بخښم، هغه دا: چي يو شپه ته په "بغداد" کي د شپې د عبادت لپاره را پورته سولې، نو د حجرې څخه د باندي د پشي يو بچی چي هغه د يخ څخه بلک واهی، نو هغه دي پخپله بستره کي پټ کړی، او تا شپه په عبادت کي تېره کړه، او پر هغه باندي ستا په بستره کي شپه په ډېر آرامه سره تيره سوه، بس د دغه يو عمل په خاطر زما د طرف تاته مغفرت دی.

نو ډېر ځله د انسان په دماغ کي يو کوچنی عمل ورسي، ليکن چونکهِ هغه عمل د الله تعالى په دربار کي په ډېره لوړه درجه سره قبوليت پيدا کړي، نو د انسان د مغفرت ذريعه وګرځي، نو د جنت د داخليدلو يو عمل علماؤ دا هم ليکلی دی: چي انسان به زندګي په نيکو اعمالو کي تېروي، او هم به نيک عمل ته که هر څومره معمولي وي، په سپک نظر نه ګوري.

④...څلورم دا: چي د نيکانو خلګو سره محبت کول، او د هغوی صحبت اختيار ول، او د هغوی سره ورور ګلوي جوړول، ځکه چي په قيامت کي هغوی ته د شفاعت اذن وسي، نو دوی بيا د هغه چا شفاعت کوي، چي په دنيا کي ئې د دوی سره تعلق ساتلی وي، او هم ئې د دوی سره ورور ګلوي جوړه کړې وي.

لکه په دا شان یو روایت هم راځي، چي پیغمبر ﷺ به فرمایل: چي پخپل مینځ کي ورور ولي سره پیدا کړئ، ځکه چي په قیامت کي به هر ورور د بل ورور لپاره شفاعت کوي.
نو په دنیا کي د الله تعالی د دوستانو او دنیکو انسانانو او د علماء کرامو او د دیر بزرګانو سره تعلق ساتل، او د هغه اکرام کول، د انسان لپاره د جنت او د هغه د نعمتو حاصلولو لویه ذریعه او سبب ګرځي.

## د عالم د اکرام ثمره:

په یو روایت کي راځي: چي کله پر یو عالم باندي ضعف او کمزوري راسي، ناجوړه وي، یا بوډا سي، یا کمزوری او ستړی سي، او یو انسان د دغه عالم د مدد او کومک لپاره را وړاندي سي، الله رب العزت د هر قدم په بدله کي د یو غلام آزادولو ثواب ورکوي، او په بل ځای کي لا دا روایت هم سته: چي د یو غلام په ازادولو باندي الله تعالی انسان ته جنت ورکوي.
او که یو څوک د محبت او عقیدت په وجه یو بزرګ یا یو عالم پر تندي باندي ښکل کړي، نو الله تعالی به د هر ویښته په بدله کي ده ته نیکي او اجر ورکوي، چي هغه به ده د جنت د داخیدلو ذریعه ګرځي.
⑤... پنځم دا: چي ډېره دعا دي کوي، او د الله تعالی څخه دي د جنت او د بهترین خاتمې غوښتنه کوي، او پخپله زندګي کي دي تر اخیره خاتمې څخه دي بېغمه نه کښېني.
بلکه همېشه دي د الله تعالی څخه د خیر د خاتمې غوښتنه کوي، ځکه د الله تعالی تدبیرات کله داسي وي: چي د انسان ټوله زندګي په نیکو اعمالو کي تېره سي، لیکن آخره خاتمه ئې خرابه سي، او هغه اعمال ده لره هیڅ پکار ور نسي، لکه په حدیث شریف کي راځي:
........إنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ الجَنَّةِ حَتَّى مَا يَكُونُ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلاَّ ذِرَاعٌ لَمْ يَسْبِقُ عَلَيْهِ الكِتَابُ فَيُخْتَمُ لَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ فَيَدْخُلُهَا).

يو سړی ټوله زندګي په جنتي اعمالو کي تيره کړي، او جنت ته دومره ور نږدې وي، چي د ده او د جنت په مابين کي يو "ذراع" فاصله وي، ليکن د الله تعالی فيصله ور باندي را وړاندي سي، او د ده خاتمه د جهنمي سي، او هم جهنم ته ور داخل سي.

.......وَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَيَعْمَلُ بِعَمَلِ أَهْلِ النَّارِ حَتَّى مَا يَكُونَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا إِلاَّ ذِرَاعٌ ثُمَّ يَسْبِقُ عَلَيْهِ الْكِتَابُ فَيُخْتَمُ لَهُ بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَدْخُلُهَا).(١)

او کله بيا داسي وي: چي يو انسان ټوله زندګي په جهنمي اعمالو کي تېره کړي، حتی چي د ده او جهنم په درميان کي يو "ذراع" فاصله وي، ليکن د الله تعالی د خير تدبير ور باندي را وړاندي سي، د ده آخره خاتمه پر جنتي اعمالو راسي، او هم جنت ته ور داخل سي.

نو د جنتي اعمالو يو عمل دا دی: چي انسان به د خپلي خاتمې د صحيح کيدلو لپاره دعا کوي، او هم به خپله زندګي ټوله د بهتريني خاتمې پيدا کولو په فکر کي وي.

## د ايمان څخه محروم کونکي ګناهونه:

زموږ مشايخو ليکلي دي: چي زموږ مشاهده او تجربه ده، چي درې(۳) ګناهونه د انسان څخه د مرګ پر وخت د کلمې طيبې د ويلو توفيق سلب کوي، نو پدې لحاظ دا د ټولو څخه خطرناکه ګناهونه بلل کيږي.

❶ ...اوله ګناه: د شريعت احکام بوج بلل، او هم قابل د عمل نه بلل، دا هغه خطرناکه عمل دی: چي د انسان لپاره د ايمان د سلب کيدلو باعث جوړيږي.

مثلاً نن سبا چي کله د دوو انسانانو په مابين کي دعوه جوړه سي، نو د هغې د فيصلې کولو لپاره د مسلمانانو په مخ کي د الله شريعت او قرآن کريم موجود دی.

ليکن په فريقينو کي چي کله يو په دې پوه سي، چي په شريعت کي هسي نه زه نقصاني سم، نو دستي دا وينا کوي: چي نعوذ بالله زه پر شريعت باندي فيصله نکوم، ځکه پر شريعت باندي په نن دور کي نه فيصلې کيږي، او نه چا ور باندي کړيدي، نو دا هغه

(١) سنن ترمذي: حديث نمبر ۲۱۲۷

خطرناکه جمله ده، چې د ده د خولې څخه راوزي، نو ډېر ځله پر حالت د زکندن دا
لپاره د ایمان د ختم کیدلو ذریعه وګرځي.

یا د مثال په طور: د نن سبا په آزاد ماحول او آزادو کورو کې زنانه پرده کول د
لپاره بوج بولي، او وایي: چې د نن سبا په ماحول کې د شریعت دغه حکم قابل عم
دی، او نه په دې باندې عمل کیدای سي.

یا چې کله د انسانانو لپاره د تجارت ځای راسي، نو د ده و مخ ته د رشوت او سود
ځان ساتل، لوی بوج وي، او د رشوت او سود څخه پاک تجارت دی په نن سبا ما
کې دی قابل د نفعې نه بولي، نو ځکه نن سبا اکثر د انسانانو د خولې څخه دا خ
راوزي: چې یاره! په نن زمانه کې په شریعت باندې عمل کول، ډېر ګران او مش
دي.

حالانکه کچیرې یو انسان په عمل کې کمزوری وي، او کوتاهي ځنې کیږي، نو
ځان خو باید ګناهګار وبولي، لیکن یو طرف ته ګناه کول، او بیا په دلیل سره ځا
جائز ګرځول دا د انسان لویه ناپوهي بلل کیږي.

## د عبرت ډکه واقعه:

د یو سړي د مرګ په وخت کې ده ته د ده د کور د انسانانو د کلمې تلقین کاوی، نو د
جواب کې وویل: چې زه ئې نسم ویلای، او په داغه دوران کې وفات سو.
د ده په قریبانو کې یو عالم وو، چې هغه ته د ده پر دې حالت باندې ډېر افسوس و
نو ئې د ده د کور د زنانې څخه پوښتنه وکړه، د ده د ژوند یو داسې عمل را ته بیان ک
چې د هغه دغه سزا وه، چې ده پر حالت د زکندن کلمه نسوه ویلای.

د کور زنانې ئې هغه عالم ته وویل: چې دی طبعاً سست او کاهل وو، د ده دغه حا
وو: چې کله به د ده د جنابت د غسل ضرورت پیدا سو، نو به ئې ویل: چې په

اسرائيلو کي خو غسل د جنابت نه وو، د اسلام په دين کي دا يو نوی حکم خلګو پيدا کړيدی، ګويا ده غسل د جنابت بوج او تکليف بالی، د هغه ګناه په وجه دی د زکندن پر حالت د کلمې ويلو څخه محرومه سو.

❷ ...دويمه ګناه: چي د انسان په زړه کي د خاتمې فکر نه وي، او نه د انسان سره دا ويره ور سره وي، چي زما خاتمه به پر کمحال راسي، نو د دغه په وجه هم انسان کله پر آخري وخت د کلمې څخه محرومه سي.

انسان چي هر څومره نيک متقي او پرهيزګاره وي، د هغه په زړه کي همېشه بايد داويره وي: چي معلومه نه ده: چي د مرګ څخه مخکي زما سره څه وسي؟ بايد هغه همېشه د دې خبري څخه ويرېږي، او هم ئې زړه بلګيږي، او د ده په دماغ کي د الله تعالی دا قول وي:

......فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللّٰهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ﴾.(¹)

د الله د تدبير څخه په امن کي هيڅوک نه وي، مګر هغه خلک بېغمه وي: چي د هغو په نصيب کي خسران او نقصان ليکلی وي.

نو مؤمن هيڅکله بايد د الله رب العزت د تدبير څخه بېخوفه نه وي، هغه ټول عمر ويرېږي، چي نه معلوم: زما سره به څه وسي؟ لکه د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دی:

..........يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا، وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا، يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا﴾.(²)

سهار به يو سړی مؤمن وي، او ماښام به کافر سي، يا ماښام به مؤمن وي، او سهار به کافر سي، خپل دين به د دنيا د معمولي نفع په مقابل کي پرېږدي.

---

(¹) سورة الاعراف: آيت نمبر ۹۹

(²) سنن ترمذي: حديث نمبر ۲۱۹۵

او دا د فتنو زمانه به پر انسانانو باندي راځي، نو د دغه حالاتو راتللو څخه باید انسان په خوف او ویره کي وي، او همېشه د خپلي خاتمې غم ور سره وي، او د هغه لپاره دعاګاني کوي، ځکه د خاتمې څخه غفلت هغه بد ترین عمل دی: چي انسان د زکندن پر وخت د شهادت د کلمې څخه محروم ګرځوي.

❷ ...درېمه ګناه: د اسلام د نعمت شکر نه ادا کول، کچیري یو انسان د اسلام د نعمت شکر نه ادا کوي، نو د هغه په وجه هم په آخري وخت کي د ده څخه د کلمې ویلو توفیق سلب ګرځي، نو ځکه د اوداسه کولو په ابتداء کي د "بِسْمِ الله" څخه وروسته دا دعا ویل:

......﴿اَلْإِسْلَامَ حَقٌّ وَ الْكُفْرُ بَاطِلٌ﴾.

په حدیث شریف کي هم د سهار او ماښام لپاره پیغمبر ﷺ خپل امت ته دا دعا ور ښوولې ده:

......﴿رَضِيتُ بِاللّٰهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبِيًّا﴾.(¹)

زه د الله په ربوبیت او د اسلام په دین او د پیغمبر ﷺ په نبوت راضي یم، ګویا مونږ به پخپل زړه کي همېشه دا فکر کوو: چي (الحمد لله) مونږ پر دې خبره خوشحاله یو: چي الله رب العزت مونږ ته د اسلام نعمت را نصیب کړی دی.

## د جنتي علامات:

لکه یو حدیث شریف کي راځي: چي د جنتي درې(۳) علامې دي:

۱. ......﴿إِذَا أُنْعِمَ عَلَيْهِ شَكَرَ﴾.

چي کله د الله تعالی د طرف په یو نعمتو نازول سي، یعني نعمت ور کول سي، نو دی د الله تعالی شکر ادا کوي.

۲. ......﴿وَإِذَا ابْتُلِيَ صَبَرَ﴾.

چي کله الله تعالی د ده څخه یو نعمت واخلي، نو دی صبر کوي.

(¹) مصنف عبد الرزاق الصنعاني: حدیث نمبر ۱۰۱۶۴

۳. ......وَإِذَا اَذْنَبَ اِسْتَغْفَرَ».(۱)
چې کله ګناه ځني وسي، نو توبه او استغفار ادا کوي.

پیغمبرﷺ د جنتي کیدلو لپاره دغه معیار ښوولی دی، او هم ئې دا د جنتي نښانې بیان کړیدي، که یو سړی پخپله زندګي کي دا غواړي: چي ځان ته دا خبره معلومه کړي: چي ایا زما قسمت به جنت وي، او که به جهنم وي، نو د خپلي زندګۍ په ترتیباتو کي دي فکر کوي، کچیري دغه ترتیبات چي مخکي ما پنځه(۵) داني بیان کړې:

۱. خپل نفس د ګناهونو څخه راګرځول.
۲. په لږ څه باندي قناعت او صبر کول.
۳. نیک عمل ته په سپک نظر نه کتل.
۴. د نیکو انسانانو سره وروګلوي او محبت کول.
۵. او د خپلي خاتمي څخه نه بېغمه کېدل.

کچیري د غه علامې د ده په زندګي کي وي، نو بیا خو دا ټوله پیغمبرﷺ د جنت د داخلیدلو اعمال بللي دي، او هم دا غه رنګه پخپله زندګي کي دا علامات پیدا کول:

۱. د نعمت راتللو په وخت کي شکر کول.
۲. او د نعمت ختم کیدلو په وخت کي صبر کول.
۳. او پر هر قسم ګناه باندي استغفار غوښتل.

الله تعالی دي زموږ زندګي پر نیکو اعمالو باندي راولي، او هم دي مي په زندګي کي د هر قسم ګناهونو څخه حفاظت وکړي، او که به چیري ګناهونه را څخه سوي وي، پر هغه دي موږ ته د توبې کښلو توفیق راکړي.

(۱) لاتحزن: صفحه نمبر ۵۴۷

او چي کم چا د ګناهونو څخه توبې کښلي وي، الله تعالی دي د هغو توبې په خپل دربا
کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنۡ أَحۡسَنُ قَوۡلًا مِمَّنۡ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیۃ)

# د هر انسان د طبیعت رعایت کول

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

مکتبہ سلطانیہ الهاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبد الودود مرحوم چمن |
| اشـــــاعـت | اول |
| تـاريـــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ﴿عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أَبَا ذَرٍّ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا تَأْمُرُنِي؟ قَالَ: خَالِقُوا النَّاسَ بِأَخْلَاقِهِمْ، وَخَالِفُوهُمْ فِي أَعْمَالِهِمْ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! ستاسو په حضور كي ما د پيغمبر ﷺ يو روايت مبارك پيش كړى، چي د هغه زاوي مشهور صحابي: حضرت ابو ذر غفاري رضي الله عنه دى.

حضرت ابو ذر غفاري د پيغمبر ﷺ په صحابه وو كي مشهور صحابي او زيات بزرگ او صوفي صحابي دى، چي د ده په ذريعه د پيغمبر ﷺ د تعليماتو لويه حصه تر امت پوري را رسيدلې ده، په هغه تعليماتو كي يوه خبره دا ده: چي پيغمبر ﷺ به امت ته دا نصيحت كاوى:

.........خَالِقُوا النَّاسَ بِأَخْلَاقِهِمْ).

تاسو د انسانانو سره د هغو د مزاج او طبيعت او اخلاق او عادت مطابق گزاره كوئ.

(١) سورة البقره: آيت نمبر ٢٠٨

(٢) المعجم الاوسط: حديث نمبر ٤٧٠

دا هم زموږ د دین یو حصه ده، چې د کمو انسانانو سره ژوند دانسان تېرېږي، د هغو
د مزاج او طبیعت رعایت کول، او داسي کار نکول: چې د هغوی د مزاج خلاف وي، ا
هغو ته د هغه کار کولو څخه تکلیف رسیږي.
که څه هم هغه کار في نفسه جائز وي، حرام او ناجائز نه وي، لیکن دا فکر کول: چې
دغه کار د کولو څخه زما د ملګرو پر مزاج باندي بوج راځي، نو په دې نیت باندي هغ
کار پرېښوول: چې د هغو طبیعت ته تکلیف نه ورسیږي.
د انسانانو د مزاج او طبعیت رعایت کول دا د دیني معاشرې د احکامو څخه ډېر عظ
باب دی، الله تعالی دې د حکیم الامت قبر د نور څخه ډک کړي، هغه په خپلو تعلیما
کې دغه باب پوره واضح ګرځولی دی، ځکه چې دا هم د نبي اکرمﷺ د سنتو څخه ی
ډېره لویه حصه ده.

## د صحابه کرامو د مزاج رعایت:

چنانچه په حدیث شریف کې یو واقعه راځي: چې یو ځل پیغمبرﷺ په خپله حج
مبارکه کې په داسي حال کې ناست دی: چې د ده لنګ مبارک د ده پر پښو باندي زیا
راپورته سویدی، حتی چې په بعضو روایاتو کې راځي: چې د ده ځنګونه مبارک ه
ښکاره وه، شاید دا به د داسي وخت واقعه وه: چې په هغه وخت کې ځنګونه د ستر
حصه کې نه وو داخل سوي.
په بعضو نورو روایاتو کې راځي: چې ځنګونه مبارک ئې پټ وړل، صرف پنډ
مبارکي ئې ښکاره وې.
په دې وخت کې د حجرې مبارکي دروازې ته یو چا ږغ وکړی: او اجازت ئې طله
کړی، چې اجازت ورکړل سو، چې راغلی، هغه حضرت ابوبکرؓ وو، او
پیغمبرﷺ سره کښېناستی، پیغمبرﷺ چې په کم انداز کې د حضرت ابوبکرؓ
راتلو څخه مخکې ناست وو، نو د هغه د راتګ څخه وروسته هم په هغه انداز ناس
وو، چې پښې او پنډی مبارکي ئې ښکاره وې.
یو ساعت بعد بیا په دروازه کې د راننوتلو اجازت طلب سو، چې کله ده مبارک اجاز
ورکړی، نو هغه حضرت عمرؓ وو، هغه هم دننه راغلی، د ده مبارک سر

کښیناستی، خو دی مبارک په هغه خپل حالت باندي وو، او پخپل هیئت کي ئې هیڅ تبدیلي رانوستل.

یو څه وخت بعد بیا په دروازه کي د اجازت غوښتلو ږغ وسو، پېغمبرﷺ پوښتنه وکړه: چي دا څوک دی؟ نو ده ته وویل سو: چي حضرت عثمان غنيؓ د راننوتلو اجازت غواړي، ده مبارک ژر خپل لنګ را کښته کړی، او خپل پښې مبارکي ئې پوره پټي کړلې، او بیا ئې خادم ته وویل: اوس ئې راوبوله، نو حضرت عثمان غني هم راغلی کښیناستی، خو د هغه په راتللو سره پېغمبرﷺ د خپلي ناستي شکل بدل کړی، او د احتیاط په طریقه کښېناستی.

یو صحابي چي دا ټوله منظر ویني، نو هغه د پېغمبرﷺ څخه پوښتنه کوي: چي ای د الله رسوله! چي کله حضرت ابوبکر صدیق راغلی، تا خپل لنګ کښته نکړی، بلکه پر هغه خپل شکل باندي ناست وې، بیا چي کله حضرت عمرؓ تشریف راوړی، بیا هم ته هغسي ناست وې، لیکن چي کله حضرت عثمان غنيؓ تشریف راوړی، نو تا خپل هیئت او ناسته بدله کړه، د هغه څه وجه وه؟

پېغمبرﷺ په جواب کي ورته وویل:

.........أَلَا أَسْتَحْيِي مِمَّنْ تَسْتَحْيِي مِنْهُ الْمَلَائِكَةُ؟﴾.(1)

زه به د هغه سړي څخه څنګه حیا نکوم: چي د هغه څخه فرښتې هم حیا کوي.

## کامل الحیاء و الایمان:

د حضرت عثمان غنيؓ خاص وصف "حیا" وه، الله تعالی ده ته د "حیا" ډېر لوړ مقام ورکړی وو، او د ده لقب: "کامل الحیاء و الایمان" وو.

پېغمبرﷺ د خپلو ټولو صحابه وو د مزاجونو څخه واقف وو، د حضرت عثمانؓ په باره کي ده ته دا معلومه وه: چي په هغه کي د "حیا" صفت ډېر زیات دی، که څه هم تر څنګنو پوري پښې لڅول، څه ناجائز خبره نده، نو ځکه د حضرت ابوبکر او عمرؓ د راتګ په وخت کي لڅې وې.

(1) فضائل الصحابة لاحمد بن حنبل: حدیث نمبر ۷۴۸

لیکن د حضرت عثمان ﷛ د راتګ په حالت کې پیغمبر ﷺ دا فکر وکړی: چې د د
په مزاج کې حیا زیاده ته که د ده و مخ ته زه دغسې کښېنم، نو شاید د ده پر طبیع
باندې به بوج راسي، او زما د دغه ناستې څخه به ده ته تکلیف ورسیږي، په دغه وجه
هغه د راتلو څخه مخکې ئې خپلې پنډۍ پټې کړلې، او لنګ ئې راکښته کړی.
حالانکه صحابه کرام هغه خلک وه: چې هغوی خپل ځانونه د پیغمبر ﷺ پر یوه اشار
باندې د پتنګانو غوندې قربانول، لیکن د هغه باوجود پیغمبر ﷺ د هغو د مزاجو د
زیات رعایت کاوی.
تاسو ئې فرض کړئ! کچیرې پیغمبر ﷺ د حضرت عثمان ﷛ د راتګ په وخت کې
هم هغسې کښېني، چې څنګه مخکې ناست وو، نو هغه به د پیغمبر ﷺ څخه څه ګیل
او شکوه وکړي؟
لیکن ده مبارک د دې خبرې تعلیم تولې امت ته ورکړی، چې ستاسو سره تعلق لرونکي
انسانان چې څنګه مزاجونه لري، تاسو د هغه د مزاجو مطابق د هغو سره ګوزار
وکړئ، او دا کوشش وکړئ: چې ستاسو یو عمل پر هغوی باندې بوج ونګرځي، پخپل
پیغمبر ﷺ په ډېره باریکه طریقه سره د خپلو صحابوو د مزاجونو خیال ساتی.

## د حضرت عمر ﷛ د طبیعت رعایت:

یو ځل حضرت عمر ﷛ د پیغمبر ﷺ خدمت ته حاضر سو، نو پیغمبر ﷺ ورته
فرمایي: ای عمره! (رضي الله عنه) ما یو عجیب خوب لیدلی دی، چې په خوب کې مې
جنت ولیدی، او په هغه جنت کې یو ډېر لوی عالی شانه محل جوړ وو، ما پوښتنه
وکړه: چې دا محل د چا دی؟ ما ته وویل سو: چې دا د عمر (رضي الله عنه) محل او قصر
دی، او د هغه لپاره تیار سوید ی.
ما ته هغه محل ډېر خوند را کړی: او زما زړه غوښتل: چې دننه ورسم، او زه ئې
وګورم: چې د عمر لپاره څنګه محل جوړ سوید ی؟ لیکن ما ته ای عمره! ستا غیرت را
یاد سو: چې ستا په طبیعت کې الله تعالی ډېر غیرت ایښی دی، نو دا مې فکر سو:
چې د عمر محل ته د هغه څخه مخکې ور ننوتل، به شاید د ده غیرت برداشت نکړي، نو
په دغه وجه هغه محل ته نه ور ننوتلم.

حضرت عمر رضي الله عنه چې کله دا واوریدل، نو په ژړا سو، او وئې فرمایل:

﴿وَعَلَيْكَ أَغَارُ يَا رَسُولَ اللَّهِ﴾. (١)

اې د الله رسوله! ایا زه به پر تا باندې غیرت کوم؟ زما سره که غیرت دی، هغه د نورو په مقابله کې دی، پر تا به زه څنګه غیرت کوم، چې ته ولې زما څخه مخکې زما محل ته ور ننوتلې.

تاسو د دې څخه اندازه ولګوئ! چې پیغمبر ﷺ پر څنګه ځای باندې د خپلو صحابه وو د مزاج رعایت کړی دی.

دا نه چې زه خو امام یم، او دا زما مقتدیان دي، او زه پیر یم، دا زما مریدان دي، او زه استاد یم، او دا مې شاګردان دي، نو ټوله حقوق زما دي، د دوی هیڅ حق نه ته.

تاسو ګورئ! تر پیغمبر ﷺ به څوک لوی امام وو؟ یا به تر هغه څوک لوی پیر او لوی استاد وو، لیکن هغه د دې خپلې مرتبې سره د یو یو صحابي د مزاج پوره، عایت کړی دی.

نو د نن سبا هر قسم پیشوا لره که امام وي، او که پیر وي، او که استاد وي دا به شاید مناسبه نه وي: چې هغه د خپلو متعلقینو که شاګردان وي، که مقتدیان وي، او که مریدان وي، رعایت نکوي.

## د خپلو زنانو د طبیعت رعایت:

په یو روایت کې راځي: چې یو ځل پیغمبر ﷺ د اعتکاف ادا کولو اراده وکړه، نو حضرت عائشې رضي الله عنها عرض ورته پیش کړی: چې اې د الله رسوله! زما زړه هم غواړي: چې ستاسره په اعتکاف کې کښېنم.

هسې خو د زنانو لپاره په مسجد کې اعتکاف کول، ښه خبره نده، زناني که اعتکاف کوي، نو پخپل کور کې دې ئې وکړي، لیکن د حضرت عائشې رضي الله عنها معامله پدې لحاظ د نورو زنانو څخه مختلفه وه: چې د هغې د حجرې دروازه په مسجد کې راخلاصېدله.

(١) جامع معمر بن راشد: حدیث نمبر ۲۰۳۸۴

اوس که هغه د خپلي حجرې د دروازې سره د مسجد په حصه کي د اعتکاف لپاره ځ
جوړ کړي، او د دې سره متصل د پیغمبرﷺ د اعتکاف ځای وي، نو هیڅ د بې پردګ
احتمال نه پیدا کیږي: چي کله ضرورت وي: نو خپلي حجرې ته ننوزي، او واپس
راځي، په خپل اعتکاف کي دي کښېني، نو د هغې په مسجد کي د اعتکاف په
کولو کي هیڅ خرابي نه راتله، په دې وجه چي دې کله د پیغمبرﷺ څخه اجازت ط
کړی، نو پیغمبرﷺ د اعتکاف کولو اجازت ورکړی.
لیکن چي کله د شلم (۲۰) رمضان المبارک ورځ راغله، نو په دغه ورځ پیغمبرﷺ
دباندي تللی دی، ما ځیګر چي کله واپس راغلی، او "مسجد نبوي" ته ور ننواتی،
که ګوري، په "مسجد نبوي" کي ډېري زیاتي خیمې لګېدلي دي.
ده مبارک پوښتنه وکړه: دا خېمې د چا دي؟ په جواب کي ورته وویل سو: چي دا
"امهات المؤمنین" خیمې دي، چي کله تا حضرت عائشې ﷺ ته د اعتکاف کو
اجازت ورکړی، نو نورو زنانو هم دا غوښتل: چي موږ هم دغه سعادت حاصل کړو،
هغو هم د خپلو اعتکافو لپاره خپلي خېمې ودرولې.
اوس پدې وخت کي پیغمبرﷺ ته دا احساس وو: چي د حضرت عائشې مبارک
معامله خو د نورو زنانو څخه مختلفه ده، ځکه چي د هغې حجره د "مسجد نبوي" سر
بلکل متصله ده، او د نورو زنانو حجرې د "مسجد نبوي" څخه لیري دي، اوس ک
هغه نوري زناني هم په اعتکاف کي کښېني، نو د هغوی به بار بار تلل راتلل وي، نو پ
هغه کي د بې پردګۍ احتمال سته، او د دغه رنګه زنانو لپاره په مسجد کي اعتکاف
کول هم مناسب ندی، نو ځکه پیغمبرﷺ چي هغه خیمې ولیدلې، نو ئې ورت
وفرمایل:
........آلْبِرَّ یُرِدْنَ﴾.(۱)
ایا دا زناني د نیکۍ کولو اراده لري؟ مطلب دا: چي دغه رنګه د زنانو لپاره په مسجد
کي اعتکاف کول څه د نیکۍ خبره نده.

(۱) مسند الحمیدي، حدیث نمبر ۱۹۶

## اعتکاف قضا کول:

لیکن اوس مشکل دا وو: چي حضرت عائشه مبارکه ته خو ده د اعتکاف کولو اجازه ور کړې وه، او هغې ته د اجازت ور کولو وجه واضحه او ښکاره وه، او په نورو زنانو کي هغه وجه موجوده نه وه.
لیکن پیغمبرﷺ دا سوچ وکړی: که زه چیري د حضرت عائشې خیمه پرېږدم، او نوري زناني د اعتکاف کولو څخه منعه کړم، نو د هغوی پر مزاج به ښه نه ولګیږي، چي حضرت عائشه ته اجازه ور کول سوه، او موږ ته نه را کول سوه.
لهذا چي کله ده د نورو زنانو خیمې پورته کړې، نو حضرت عائشه ته ئې وویل: چي ته هم خپله خیمه پورته کړه، لیکن بیا ئې په دماغ کي دا خیال راغلی: چي حضرت عائشې ته خو چونکه اول صراحتاً اجازت ور کول سوی وو، اوس کچیري اچانک دې ته د خیمې پورته کولو خبره وسي، نو د هغې پر طبعیت باندي به ډېر بوج راسي، نو ځکه د هغې د خیال کولو په وجه ده مبارک دا اعلان وکړی: چي سږ کال زه هم اعتکاف نه کوم، چنانچه په دغه کال ده مبارک اعتکاف قضا کړی.

## د اعتکاف قضا راوړل:

نو د "امهات المؤمنین" د مزاجونو د رعایت کولو په نتیجه کي ده د حضرت عائشې﷝ خیمه پورته کړه، او بیا د حضرت عائشې﷝ د مزاج د رعایت کولو په خاطر ئې د ځان سره دا معامله وکړه: چي هغه معمول چي ټول عمر را روان وو، چي هر کال به په روژه مبارکه کي ده مبارک اعتکاف کاوی، محض د حضرت عائشې﷝ د زړه نه ماتولو په خاطر ئې هغه معمول په دغه کال باندي مات کړی.
په ټوله حیات طیبه کي د غه کال داسي وو: چي په هغه کي ده مبارک اعتکاف نه وکړی، لیکن وروسته ئې د هغه قضا په دا شکل راوړه: چي را روان کال ئې د لسو(۱۰) ورځو پر ځای شل(۲۰) ورځي په اعتکاف کي تیري کړې.

## دا هم سنت دی:

د دې څخه تاسو اندازه ولګوئ! چي پیغمبرﷺ د خپلو ماتحت انسانانو سره څنګه څنګه رعایتونه کړیدي؟ او په کم شکل ئې د هغو دد مزاجونو خیال ساتلی دی، او د

یو شرعي حکم د وضاحت په معامله کې ئې هم داسې طریقه اختیار کړېده: چې د
په وجه د بل چا پر طبیعت باندې بوج رانسي.
او د دې سره ئې پخپل عمل سره ټولـه امت ته دا تعلیم هم ورکړیدی: چې کم عمل ف
یا واجب ندی، بلکه مستحب دي، کچیرې انسان د یو چا د زړه ماتولو څخه د حفا
پخاطر هغه مستحب کار و ځنډوي، یا ئې پرېږدي، نو دغه عمل هم د پیغمبر ﷺ
سنت طریقې یو حصه ده.
نو د انسانانو د مزاج رعایت کول، دا د پیغمبر ﷺ سنت عمل دی، تاسو کو
پیغمبر ﷺ د عامې معاشرې د انسانانو متعلق دې امت ته کم قسم هدایت پرې
او دی مبارک وایي:
........﴿لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا وَيُوَقِّرْ كَبِيرَنَا وَيَعْرِفْ لِعَالِمِنَا يَعْنِي حَقَّهُ﴾.(١)
زما د امت څخه ندی، یا زما پر عادت ندی، او زما پر طریقه ندی، هغه څوک:
زموږ پر کشرانو رحم نلري، یعنې د هغو سره د رحم ګوزاره نکوي، او د مشرانو اد
احترام نلري، او د علماؤ د حقوقو خیال نساتي.
نو زموږ په دین کې د انسانانو د مزاج مطابق د هغوی سره زندګي تېرول، که څ
واجب او فرض عمل خو ندی، لیکن دا یو مستحب او د ادب عمل دی، او انسان
پخپله زندګي کې د دغه عمل پر ځای کولو پوره کوشش وکړي، ځکه زموږ دی
حقیقت ټوله ادب دی، لکه پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:
..........﴿اَلدِّيْنُ كُلُّهُ اَدَبٌ﴾.
دین ټوله ادب دی، او دا تر لمر ښکاره خبره ده: چې کم چا ته الله تعالی په معاشر
د ادب توفیق ور نصیب کړی، هغه ته لوی سعادت ور نصیب سو، او چې کم څو
ادب څخه محروم پاته سو، هغه ته شقاوت ور نصیب سو، لکه مشهوره مقوله هم د

باادب بانصیب بې ادب بې نصیب

لکه یو شاعر هم پر دې موضوع باندې خپله لب کشائي کړېده:
﴿أَدِّبُوا نَفْسَ أَيُّهَا الأَصْحَابُ ... طُرُقُ الْعِشْقِ كُلُّهَا آدَابٌ﴾

---

(١) جامع بیان العلم و فضله: حدیث نمبر ۲۶۱

ای دوستانو! خپل نفس ته اداب ور زده کړئ، ځکه چې د عشق تولي طریقې اداب دي.
او یو فارسي شاعر هم د الله تعالی څخه د ادبیاتو غوښتنه په دا شکل کوي:

*از خدا خواهیم توفیق ادب بی ادب محروم گشت از لطف رب*

د الله تعالی څخه به د ادب غوښتنه کوو، ځکه چې کم څوک بې ادبه وي، هغه همېشه د الله د فضل څخه محروم او بې نصیبه پاته وي.
نو د یو چا د مزاج رعایت کول، در حقیقت د هغه د ادب رعایت کول دي، او د ادبیاتو رعایت زموږ په دین کې ډېر زیات اهمیت لري، او هم د الله په حضور کې ډېر لوی قدر لري، کله کله خو د یو معمولي ادب په خاطر الله تعالی انسان د کم ځای څخه و کم ځای ته ورسوي.

## د بزرګانو ادب او احترام کول:

د حضرت بایزید بسطامي رحمة الله علیه په باره کې راځي: چې د ده په دور کې یو سړی وفات سو، یو چا په خوب کې ولیدی، او د هغه څخه ئې پوښتنه وکړه: چې دا راته روایه: الله تعالی څنګه معامله در سره وکړه: هغه ورته وویل: چې الله تعالی زما بخښنه وکړه، هغه سړي پوښتنه ځني وکړه: چې ایا نیک اعمال دي د الله په در کې قبول سول، چې د هغه پر بنیاد ستا مغفرت او بخښنه نصیب سوه؟
هغه سړي په جواب کې ورته وویل: چې زما یو معمولي عمل قبول سو، نو ځکه الله تعالی و بخښلم، چې کله هغه سړي د دغه عمل متعلق پوښتنه ځني وکړه، نو ده په جواب کې ورته وویل:
چې یو ځل حضرت بایزید بسطامي رحمة الله علیه په لاره کې روان وو، ما نه پېژاندی، یو بل چا راته وویل: چې ورته وګوره، هغه د الله یو "ولي" پر لاره باندې روان دی، ما دی د الله "ولي" وبالی، او د هغه د ادب په خاطر ورته ولاړ سوم، نو الله تعالی راته وفرمایل: تا زما یو "ولي" "ولي" وبالی او هغه ته دې د قدر او احترام په خاطر وکتل، او هم دې د هغه د ادب خیال وساتی، د هغه په عوض کې ما پر تا باندې د جهنم اور حرام کړی.

نو ما درته وویل: د انسانانو د مزاجونو رعایت کول، او د هغوی د ادبیاتو خیا
ساتل، زموږ په دین کي ډېر اهم عمل بلل سویدی.

امام رباني حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله علیه فرمایي: چي زه ناست وم، احادیث م
لیکل، او قلم مي نه چلېدی، نو ما د خپل لاس پر ګوته باندي هغه قلم وواهی، او ب
مي صحیح کړی، نو هغه د قلم رنګ زما پر ګوته یو څه حصه پاته سو.

په دې حالت کي ما ته د "بیت الخلا" د تللو تقاضا او حاجت پیدا سو، خو چي کله زا
حاجت په ځای کي کښېنستلم، نو زما نظر پر دې خپله ګوته ولګېدی، او پر هغه
هغه رنګ ولیدی، نو په زړه کي مي دا خیال پیدا سو: کچیري د تقاضا او حاجت څ
فارغه سوې، نو خو لاس مینځم، د هغه په وجه به دغه رنګ چي په هغه سره ما د حدی
لیکل کول، په دغه خرابو اوبو کي ولاړ سي، نو دا زما لپاره لویه بې ادبي ده.

نو خپله تقاضا مي د باړو کړه، او "دبیت الخلا" څخه د باندي را ووتلم، او د لا
څخه مي رنګ پر صفا ځای باندي پرېولی، چي څنګه مي لاس پرېولی، په دې وخ
کي مي په زړه کي د الله د طرفه دا الهام راغلی:

چي ای احمد سرهندي! تا زما د محبوب د احادیثو ادب او احترام وکړی، او د هغه
وجه دي خپل حاجت او تقاضا پرشا کړه، ما پر تا باندي د هغه په عوض کي د جهنم ا
حرام کړی.(۱)

## د حضرت بشر حافي رحمة الله علیه ادب:

د حضرت بشر حافي رحمة الله علیه په حالاتو کي لیکلي دي: چي په ابتدا کي عام آزاد انسـ
وو، او د شرابو عادتي وو، همېشه به ئې ژوند د شرابو په نشه کي مست تېرېدی، او
خپل وخت کي د عسکرو د یو ډلې قو... ...وو.

یوه ورځ پر لاره باندي رو... ...و د عسکرو ډله ور پسې ده، او په دا غه حال کي هم
شرابو کي مست دی... په لاره کي یو کاغذ پروت دی، چي پر هغه باندي (بسم الله
شریفه لیکلې ده، هغه ئې را پورته کړه، او هغه کاغذ ئې صفا کړه، او بیا ئې مچ کړ

(۱) خطبات ذوالفقار: جلد نمبر ۵، صفحه نمبر ۱۱۲

او په ډېر ادب او احترام سره ئې پرېو لوړ ځای باندي کېښوی، د هغه څخه وروسته پخپل مقصد پسي ولاړی.
چي کله ورځ تیره سوله، او شپه راغله، نو ویده سو، نو په خوب کي الله تعالیٰ ویني، او هغه ورته فرمایي:
........﴿يَا بِشْرُ، طَيَّبْتَ اِسْمِيْ لَأُطَيِّبَنَّ اِسْمَكَ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ.﴾.(۱)
ای بشره! تا زما نوم خوشبویه کړی، او هم دي د هغه قدر او احترام وکړی، زه به ستا نوم په دنیا او آخرت کي داسي خوشبویه کوم: چي د هغه په وجه به ټول انسانان د هغه سره محبت کوي.
یعني اوس خو ستا زندګي په شرابو کي مسته تیرېږي، لیکن زما د نامه د ادب په برکت به زه ستا روح و ځان ته راجذب کوم، او هم به دي خپل ولي جوړوم، نو د هغه څخه وروسته حضرت بشر حافي رحمة الله علیه ته الله تعالی د ولایت مقام ور نصیب کړی.
یوه ورځ دي د قرآن کریم د دغه آیت تلاوت کوي:
..........﴿اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ مِهَادًا﴾.(۲)
ایا ما ستاسو دپاره دغه مځکه فرش او ځانګو نده جوړه کړې، ده چي کله په دې خبر سو: چي مځکه زموږ لپاره ځانګو او فرش الله جوړه کړېده، نو دستي ئې چوټي د پښو څخه وکښلې، او ویل ئې: چي زما لپاره دا بې ادبي ده: چي زه د چوټو سره د الله تعالی پر فرش باندي ګرځم.
نو بیا ئې ټوله عمر په لڅو پښو باندي تیر کړی، او د ده لقب "حافي" دی، د حافي معنی په عربي لغت کي یبلي او لڅي پښې، چونکه ده هم زندګي په لڅو پښو باندي تیره کړه، نو ځکه ده ته به "بشر حافي" ویل کیدل.
الله تعالی دده د دغه ادب دومره قدر وکړی: چي مځکي ته ئې حکم وکړی: ای مځکي! د بشر حافي د تېرېدلو د ځای څخه نجاست جذب کوه، چي زما د بشر پښې په نجاست ونه لړل سي.

(۱) الرسالة القشیریه: باب ماني ذکر مشایخ هذه الطریقه و ما یدل، صفحه نمبر ۴۸
(۲) سورة النبأ: آیت نمبر ۶

چنانچه چي پر کمه لار به تېرېدی، که به چیري پر هغه لار باندي نجاست پروت وو، نو بیا به مخکه سره چاودله، او هغه نجاست به ئې جذب کاوی، دا الله تعالی د هغو ادبیاتو په عوض کي انعام وو، چي و ده ته ئې د عزت او کرامت پخاطر ور نصیب کړی وو.

## د احمد بن حنبل رحمه‌الله‌علیه د بزرګانو ادب کول:

امام احمد بن حنبل رحمه‌الله‌علیه به خپلو شاګردانو ته حدیث ویل، مسند امام احمد بن حنبل د هغه مشهوره د حدیثو کتاب دی.
د حدیثو د درس په دوران کي به ئې چي کله حضرت بشر حافي پر لاره باندي تېرېدونکی ولیدی، نو حضرت امام احمد بن حنبل رحمه‌الله‌علیه به د هغه د ادب په خاطر د درس د درمیان څخه ورته ولاړېدی.
حالانکه حضرت بشر حافي رحمه‌الله‌علیه د کتابو عالم نه وو، مګر د الله په ذات او صفاتو باندي ډېر خبر انسان وو، یو ځل چي کله د هغه د عزت لپاره امام احمد بن حنبل رحمه‌الله‌علیه ولاړ سو، نو شاګردانو پوښتنه ځني وکړه: چي حضرت! ته خو محدث ئې، او دا صاحب عالم لا ندی، بیا ته څنګه د هغه د ادب په خاطر د درس د درمیان څخه ورته ولاړېږې.
حضرت امام احمد بن حنبل رحمه‌الله‌علیه په جواب کي ورته وویل: چي زه خو د کتاب عالم یم، او زه د کتاب په یو څو لیکو باندي پوهېږم، او دغه صاحب د الله د ذات عالم دی، چي د الله د ذات او د صفاتو علم چي د ده سره دی، زما د علم مطابق په دې اوس عصر کي به د ډېرو کمو انسانانو سره وي، نو شاګردانو ته وایي: بچیانو! تاسو ته څه معلومه ده: چي د الله په دربار کي د دغه صاحب کم مقام دی.
نو حضرت بشر حافي ته چي د ولایت کم مقام ور نصیب سو، هغه ټوله د ادبیاتو د رعایت کولو پخاطر وو.
حکیم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمه‌الله‌علیه فرمایلي دي: چي زما د خدای په ذات قسم: چي صرف د نبوت دروازه بنده ده، لیکن د ولایت چي کمي دروازې دي، هغه ټولي اوس هم خلاصي دي، او د ولایت چي کم منصبونه دي، هغه ټوله ډک دي،

چي کله یو ولي د دنیا څخه رخصت سي، الله د هغه پر ځای د بل ولي انتخاب کوي، ده مبارک به همېشه دا شعر وایي:

*هنوز آن ابر رحمت در فشانست  خم و خمخانه با مهر و نشان است*

اوس هم د الله د رحمت وریځ را وورېږي، او د الله د رحمت خزانې اوس هم خلاصي دي، او هغه د رحمت وریځ ملغلري را اوروي، او د الله د معرفت او د محبت د شرابو خمخانې او میخانې اوس هم بېشماره دي.

## د جنید بغدادي رحمة الله علیه ادب کول:

د حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه په حالاتو کي لیکلي دي: چي د خپل وخت شاهي پهلوان وو، او د وخت بادشاه دا اعلان وکړی: چي کم سړی زما پهلوان غوځار کړي، هغه ته به زه ډېر لوی انعام ورکوم.

د سید خاندان یو بوډا چي ډېر زیات کمزوری او غریب وو، او بچیان ئې وړي وه، او د هغوی لپاره د ده سره هیڅ نفقه نه وه، هغه دا واورېدل: چي د بادشاه د طرفه خو اعلان وسو، چي کم څوک زما پهلوان غوځار کړي، زه به هغه ته دومره انعام ورکوم.

نو د خپل ځان سره ئې فکر او سوچ وکړی، چي "جنید" ته خو د زمانې رستم ویل کېږي، او زه هغه غوځارولای نسم، مګر زما په کور کي غربت او مسکنت ډېر زیات دی، او زه پرېشانه یم، او د بچیانو لپاره مي نفقه نسته، او زه د پیغمبر ﷺ په اولاد کي یم، نو زه د هغه د عزت پخاطر و چا ته خپل لاس نسم زغولای، او نه و چا ته خپل حال ښکاره کولای سم.

نو په دماغ کي ئې دا جوړه کړه: چي د "جنید" سره چي شاهي پهلوان دی، د مقابلې کوشش وکړم، او هغه ته به خپله مجبوري پېش کړم، چنانچه ده د جنید سره د مقابلې کولو اعلان وکړی.

د وخت بادشاه ډېر حیران سو، چي د دومره لوی پهلوان په مقابله کي یو کمزوري او بوډا انسان اعلان وکړی، نو بادشاه هغه سړی را طلب کړی، او ورته وایي: چي سړیه! د مقابلې څخه لاس واخله، ته د "جنید" په مقابل کي ضرور د ماتي خوړلو سره

مخامخ کيږي، هغه په جواب کي ورته وويل: چي هيڅکله نه، زه به انشاء الله د ده په مقابل کي ضرور کاميابي ته رسېږم.

چنانچه د مقابلې لپاره ورځ معلومه سوه، چي کله هغه ورځ را ورسيده، نو د مقابلې کتلو لپاره ډېر زيات انسانان راغلل، او د وخت بادشاه هم د مقابلې ليدلو لپاره ميدان ته راغلی، چي کله دواړو پهلوانانو يو د بل پر ملا لاسونه ونيول، نو په دې وخت کي هغه بوډا سيد جنيد بغدادي ته په غوږ کي پټ وويل:

ای جنيده! ته خو د زمانې رستم پهلوان يې، او په انسانانو کي ستا ډېر لوی عزت دی، او د بادشاه د دربار څخه ته ډېر نازول کيږې، او هم ډېره لويه وظيفه درته را روانه ده، گوره! زه د پيغمبرﷺ آل يم، زما بچيان وږي دي، پر ما او زما پر بچيانو زيات د پرېشانۍ او تنگۍ وخت دی، نن که ته ځان ما ته غوڅار کړې، نو ستا په عزت کي به وقتي طور لږ کمی راسي، ليکن د هغه سره به زما پرېشاني او تنگي ليري سي، او ستا د طرفه به د آل رسول سره دا لوی کومک او نصرت وي، او ته به د پيغمبرﷺ په محبوبو امتيانو کي شمار سې، چي کله ده د هغه په غوږ کي دا خبره وکړه، نو د هغه څخه وروسته د دوی مقابله شروع سوه.

حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه حيران دی، که وغواړي: پخپل معمولي وسع او طاقت سره هغه پر مځکه را پرځولای سي، مگر چونکه هغه د نبي اکرمﷺ د قرابت واسطه ورته پيش کړه، او دا د پيغمبرﷺ نسبت وو، چي د هغه څخه د حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه زړه نرم سو، او په دې زړه کي يې دا فيصله وکړه: چي ای جنيده! په دې وخت کي د خپل عزت خيال پرېږده، د دې په بدله کي به تاته د حضورﷺ په حضور کي عزت درکول سي، بس ستا لپاره هغه کافي دی.

چنانچه د لږ مقابلې کولو څخه وروسته حضرت جنيد بغدادي رحمة الله عليه د مځکي پر طرف غوڅار سو، او هغه کمزوري سړي د ده پر سينه باندي ورکښېناستی، او لاس يې د کټونکي په شکل باندي پورته کړی، او ټوله د ميدان انسانان ورته حيران پاته سو.

بادشاه چي کله دا منظر وليدی، نو يې وويل: چي دې ځل خو "جنيد" ته خامخا يو څه وړ پېښه ده، نو يې دوهم ځل د مقابلې کولو ترتيب جوړ کړی، چي تاسو به دوباره يو ځل لا مقابله سره کوئ.

چي کله دوباره مقابله وسوه، نو هغه ځل هم "جنید" غوځار سو، او هغه سړی ئې پر سینه کښېنستی، بادشاه ډېر ناراضه سو، او هغه "جنید" ته ډېر زیات پوچ او رد وویل، حتی چي دا ئې ورته وویل: چي زړه مي دا غواړي: چي د ذلت لپاره چوتې په غاړه در وځړوم، او په ټوله ښار کي دي وګرځوم، چي تا د دومره کمزوري انسان مقابله لاهم نه وکړه.

ده وقتي ذلت برداشت کړی، کورته چي کله راغلی، نو زنانه او د کور انسانان ټوله پرېشانه، او قریبان، دوستان هم پرېشانه، او ورته وایي: چي هغه دومره لوی عزت چي دي درلودی، هغه دي نن ټوله د خاورو سره خاوري کړی.

مګر حضرت جنید بغدادي رحمة الله علیه په زړه کي ډېر زیات مطمئن وو، چي کله د شپې ویده سو، نو په خوب کي د الله د محبوب ﷺ زیارت ورنصیب سو.

پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: ای جنیده! تا زما په خاطر دغه ذلت برداشت کړی، خو ګوره! موږ بیا ستا ذلت په عزت در بدل کړی، چي الله تعالی به زما د یو قریب سره احسان کولو په خاطر په ټوله دنیا کي تاته زیات عزت او شهرت در کړي.

چنانچه هغه "جنید بغدادي" چي ظاهري پهلوان وو، الله رب العزت هغه د روحاني دنیا پهلوان جوړ کړی، نن چي په هر ځای کي یو څوک د تصوفو وینا کوي، نو د "جنید بغدادي" تذکره به ضرور کي راځي، او هم به غالباً د ده د تذکرې بغیر کامله نه بلل کیږي. (۱)

نو د پیغمبر ﷺ یو تعلیم دې امت ته دا دی: چي د هر چا سره د هغه د مزاج او طبعیت مطابق ژوند کول او داسي عمل کول: چي په هغه سره د انسانانو زړه خوشحاله سي، او انسانانو ته د تکلیف رسولو څخه ځان کتل.

او بیا خاص په معاشره د ادیباتو زیات خیال ساتل، لکه څنګه چي ما مخکي درته وویل: زموږ دین ټوله د ادبیاتو څخه عبارت دی، چي کم چا په معاشره کي د ادبیاتو په کامله طریقه سره رعایت وکړی، هغه یقیناً زموږ د معاشرې کامل دیندار انسان بلل کیږي.

---

(۱) خطبات ذوالفقار: جلد نمبر: ۴، صفحه نمبر: ۲۸

بلکه دغه دمزاج او طبیعت رعایت کول، او د ادبیاتو لحاظ کول، دا په حقیقت کي د پیغمبرﷺ سنت طریقه ده، ځکه د مزاج رعایت پیغمبرﷺ پخپله زندګي کي د صحابه کرامو کړیدی.

لیکن په موجوده معاشره کي د پیغمبرﷺ په دغه سنت د انسانانو څخه عمل پاتي سویدی، او د پیغمبرﷺ حدیث مبارک دی:

﴿.........مَنْ تَمَسَّكَ بِسُنَّتِي عِنْدَ فَسَادِ أُمَّتِي فَلَهُ اجر مائة شهيد﴾.(¹)

چي کله په امت کي فساد راسي، او هغه زما د سنت طریقي خیال نساتي، او یو سړی په دې وخت کي زما په سنت طریقه عمل کوي، او پر هغه باندي همیشه استقامت کوي، الله تعالی به ده ته د سلو (۱۰۰) شهیدانو اجر او ثواب ورکوي.

الله تعالی دي موږ او تاسو ټولو ته د پیغمبرﷺ پر سنت طریقو باندي د عمل کولو توفیق راکړي، او الله تعالی دي دغه زموږ مجلسونه پخپل دربار عالي کي قبول او مقبول وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

---

(¹) مشکاة المصابیح: حدیث نمبر ۱۷۶

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیہ)

# دروغ ویل د نفاق علامه ده

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقــــــریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتــي جـافـظ کلیم الله صاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشــــاعــت | اول |
| تــاریــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تــعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! ستاسو په حضور کي ما د پيغمبر ﷺ يو حديث مبارک پيش کړی، چي د هغه راوي مشهور صحابي حضرت ابو هريره ﷺ دی.

حضرت ابو هريره ﷺ د پيغمبر ﷺ د هغه صحابه وو څخه دی: چي د ډېره زندګي ئې د پيغمبر ﷺ په قربت کي تېره کړې ده، نو ځکه د د ه روايات د اکثرو صحابه وو څخه زيات دي.

دی مبارک د پيغمبر ﷺ دا حديث رانقل کوي: چي هغه به فرمايل: درې(٣) خصلتونه داسي دي: چي د منافق نښانې او علامې دي، يعني هغه د يو مسلمان د شانه سره مناسب اعمال نه بلل کيږي.

کچيري په معاشره کي په يو انسان کي هغه خصلتونه پيدا سي، نو پوه سه! چي هغه منافق دی، هغه درې(٣) خصلتونه دا دي:

(١)سورة الحج: آيت نمبر ٣٠

(٢)صحيح البخاري: حديث نمبر ٣٣

۱. چي کله خبري کوي، نو درواغ وايي.
۲. او چي کله د يو چا سره وعده وکړي، نو د هغه مخالفت کوي.
۳. او چي کله ده ته امانت کښېښول سي، نو خيانت پکي کوي.
په بعضو رواياتو کي لا داهم اضافه ور سره راغليدي:
.........وَإِنْ صَلَّى وَصَامَ وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ). (۱)
کڅه هم هغه سړی لمونځ هم کوي، او روژې هم نيسي، او د مسلمانۍ دعوه هم کوي، ليکن په حقيقت کي هغه د مسلمان ويلو لائق او مستحق ندی، ځکه چي د مسلمان کيدلو کم بنيادي صفات دي، هغه د ده څخه پاته سويدي.

## د دين حقيقت:

نه معلوم: زموږ په ذهنو کي دا خبره د کمه ځای څخه راغلېده؟ چي زموږ د معاشرې انسانانو په دماغ کي ځای ور کړيدی: چي دين بس د لمانځه او روژې نوم دی، لمونځ دي وکړی، او روژه دي و نيوله، بس ته مسلمان سوې، نور ستا څخه د هيڅ عمل مطالبه نسته.

نور نو چي کله په مجلس کي کښېنستلې، ژبه آزاده ده، که درواغ وايي، او که رښتيا، او چي کله دي د دوکانداری او د تجارت ځای راسي، نو بيا دوکه او خيانت ته کوې، او که د مسلمان امانت درته کښېښول سي، د هغه هيڅ لحاظ نلرې، او نه د وعدې پوره کولو فکر در سره سته، نو د اسلام په باره کي دغه تصور کول: چي بس د لمانځه او روژې نوم دی، دا ډېر خطرناکه او غلط تصور دی.
پېغمبر ﷺ فرمايلي دي: چي دغه سړی، که څه هم د لمانځه او روژې اهتمام ولري، ليکن بيا هم د مسلمان ويلو لائق ندی، اوس پر ده باندي د کفر فتویٰ څو نلګيږي، ځکه چي د کفر فتویٰ د اعمالو د خرابۍ په وجه پر يو چا لګول، ډېره درنه او سنګينه خبره ده.
ليکن چونکه د ده عمل د کافرانو او منافقانو غونديدی، نو ځکه پېغمبر ﷺ هغه د ده د مؤمن او مسلمان نوم په منافق ور بدل کړيدی.

(۱) جامع معمر بن راشد: حديث نمبر ۲۰۱۹۱

نو دغه دري(۳) اعمال د منافق علامه ده:

- درواغ ویل.
- وعده خلافي کول.
- او په امانت کي خیانت کول.

چونکه زموږ په ذهنو کي د دغه درو(۳) سره وو تصور ډېر محدود دی، حالانکه په حقیقت کي د دوی مفهوم ډېر وسیع او فراخ دی، نو ځکه زما په زړه کي دا راځي: چي زه ستاسو حضور کي لږ د دې وضاحت وکړم.

الله تعالی دي ماته د صحیح وضاحت کولو توفیق رانصیب کړي، او هم دي موږ او تاسو ټولو ته پر دې باندي د عمل کولو توفیق راکړي.

## نور ملتونه او درواغ:

چونکه په هغه علامو کي اوله علامه: د خبرو په دوران کي درواغ ویل دي، او درواغ ویل حرام دي، خو داسي حرام دي: چي هیڅ یو ملت او هیڅ یو قوم داسي ندی تېر سوی: چي په هغه کي دي درواغ ویل حرام نه وو.

تر دې حده پوري چي د جاهلیت په زمانه کي هم انسانانو درواغ ویل، ناجائز عمل بالی، چي کله پیغمبر ﷺ د "روم" د بادشاه طرف ته د اسلام د دعوت لپاره خط ور واستاوی، نو د خط ویلو ځخه وروسته هغه د "روم" بادشاه خپلو درباریانو ته وویل: زموږ په ملک کي که یو داسي څوک موجو د وي: چي دی د(حضور اکرم ﷺ) دحالاتو ځخه باخبر وي، تاسو ئې ماته راولئ، چي د هغه ځخه زه د ده د حالاتو یو څه معلومات وکړم.

اتفاقاً په دې وخت کي حضرت ابوسفیان رضی الله عنه چي تر دې وخته پوري لا مسلمان سوی نه وو، د قریشو د یو تجارتي قافلې سره هغه ملک ته ورغلی وو، چنانچه خلکو دی د "روم" بادشاه ته راوستی، دی چي کله بادشاه ته حاضر سو، نو بادشاه د ده ځخه یو څو سوالونه وکړل.

❶ ........اول سوال دا: چي دارته ووایه: چي دی(محمد ﷺ) د کم خاندان سره تعلق لري؟ هغه څنګه خاندان دی، او په کم صفت سره شهرت لري؟

ده په جواب کي ورته وويل: چي هغه خاندان ډېر د لوړي درجې والا دی، او دی په ډېر لوړ خاندان کي پيدا سويدی، چي ټوله عرب د هغه خاندان د شرافت قائل دي، بادشا د ده تصديق وکړی، چي دا خبره دي بلکل صحيح وکړه، چي کم څوک د الله نبي وي هغه به د لوړ خاندان سره تعلق لري.

❷.........دوهم سوال بادشاه دا وکړی: چي د ده متابعت کونکي د معمولي درجې خلک دي، يا لوی لوی سرداران دي؟

ده په جواب کي ورته وويل: چي د هغه متبعين اکثريت معمولي خلک دي، بادشاه تصديق وکړی: چي د نبي متبعين په ابتداء کي ضعيف او کمزوري انسانان وي.

❸.........بيا هغه سوال وکړی: چي ايا ستاسو چي يو وخت د ده سره معرکه او جنګ راسي: نو کاميابي ستاسو وي، او که دی کاميابه کيږي؟ تر دې وخته پوري چونکه صرف دوه(۲) جنګونه سوي ول:

- يو جنګ بدر.
- او يو احد.

په غزوه احد کي چونکه ظاهراً مسلمانانو يو څه ماتې خوړلې وه، نو ځکه ده پر دغه موقع باندي په جواب کي ورته وويل: کله غلبه زموږ وي، او کله بيا دی غالبه کيږي.

## درواغ نسم ويلای:

حضرت ابو سفيانﷺ د مسلمان کېدلو څخه وروسته به فرمايل: په هغه وخت کي چونکه زه کافر وم، نو ځکه پدې فکر کي وم: چي زه هغه بادشاه ته يو داسي جمله ادا کړم: چي د هغه څخه د ده په زړه کي د پيغمبرﷺ د مخالفت فکر پيدا سي.

ليکن هغه بادشاه چي څو مره پوښتني زما څخه وکړې، د هغه په جواب کي ما ته د دغه خبري موقع په لاس نراغله، ځکه چي ده به کم سوال کاوی، ما به د هغه جواب صحيح ورکاوی، او درواغ مي نسو ويلای، نو ما چي به څومره جوابات ور کړل، هغه به ټوله د پيغمبرﷺ په حق کي روان ول.(١)

(١) صحيح البخاري: کتاب بدء الوحي: حديث نمبر ٧

حال د جاهلیت هغه خلګو چي تر او سه ئې لا اسلام نه وو راوړی، نو هغه هم درواغ ویلو ته هیڅکله نه تیارېدل، نو چي کله ئې اسلام راوړی، نو د هغه څخه وروسته ئې خو بیا یېخي درواغ پر ژبه نه راوړل.

## په درواغو کي هلاکت دی:

نو پیغمبر ﷺ به همېشه خپلو صحابه وو ته دا وینا کوله: چي پر انسان باندي په زندګي کي مختلفي مرحلې راځي، او د مختلفو حالاتو سره انسان مخامخ کیږي، چي هر قسم حالات درباندي راسي نو:

.........عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ، فَإِنَّ الصِّدْقَ يُنْجِيْ وَالْكَذِبَ يُهْلِكُ﴾.(¹)

نو تاسو به همېشه رشتیا ویل پر ځان لازم ګرځوئ، چي د هغه په ذریعه به الله تاسو ته نجات درکوي، او د درواغو ویلو څخه به ځان ګورئ، ځکه چي په هغه کي ستاسو هلاکت دی.

په اسلامي تاریخ کي په "غزوه تبوک" کي بغیر د څه عذره شرکت نکونکي مخلص صحابه کرام:

- حضرت کعب بن مالک ﷺ.
- حضرت مراره بن ربیع ﷺ.
- حضرت بلال ابن امیه ﷺ.

نمونه په زرینو حروفو نقش دي، چي هغو رشتیا وینا وکړه، او صحیح صحیح معامله ئې پیغمبر ﷺ ته بیان کړه، چي د هغه په وجه که څه هم پر دوی باندي د پنځوسو (۵۰) ورځو بائکاټ تکلیفونه تېر سول، لیکن آخر د دوی د توبې د قبولیت په سلسله کي د ﴿وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا﴾.(²) قرآن کریم آیاتونه راغلل، او د دوی د رشتیا ویلو پر بنیاد د الله تعالی د طرفه د رحمت او مغفرت د غه تمغه او انعام ورکول سو.

(¹) روضة العقلاء و نزهة الفضلاء، باب ذکر الحث علی لزوم الصدق و مجانبة الکذب، صفحه نمبر ۵۲

(²) سورة التوبه: آیت نمبر ۱۱۸

د دې بر خلاف چې کمو منافقینو د درواغو عذرونه پېش کړل، په ظاهر خو ئې خپل ځانونه خلاص کړل، لیکن بالآخر الله تعالی په قرآن کریم کې د هغوی د جهنمي کېدلو اعلان وکړی.(¹)

دا خبره په تجربه سره ثابته ده: چې د درواغجن انسان اعتماد په انسانانو کي مجروح وي، او عام انسانان ده ته په ښه نظر نګوري، داغه وجه ده: چې صحابو وحضرات ﷺ به ویل: چې د پیغمبر ﷺ درواغ ویل د ټولو څخه زیات ناخوښه صفت وو.(²)

او د پیغمبر ﷺ به داوینا هم وه: چې په مؤمن کي هر صفت کیدای سي، لیکن درواغ ویل نسي کیدای، یعني (کچیري درواغ ویونکی وو، نو د هغه په ایمان کي به نقص وي).(³)

او حضرت عمر ﷺ به د پیغمبر ﷺ دا حدیث رانقل کاوی: چې هیڅ یو سړی د ایمان کمال ته تر هغه وخته نسي رسیدلای: چې تر څو پوري په مسخرو کې د درواغ ویلو څخه رامنع نسي، او هم د انسانانو سره د جنګ کولو څخه رامنع نسي، که څه هم دی پر حق وي.(⁴)

او په بل ځای کي پیغمبر ﷺ ورته فرمایي:

أَلَا وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ، وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ﴾.

خبردار! درواغ ویل، انسان فجور او فسق ته رسوي، او فسق کول، د انسان لپاره د جهنم د داخلیدلو ذریعه ګرځي.

..........وَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ﴾.

او رښتیا ویل، انسان نیکۍ ته رسوي، او نیکي د انسان د جنت د داخلیدلو ذریعه ګرځي.

..........وَإِنَّهُ يُقَالُ لِلصَّادِقِ: صَدَقَ وَبَرَّ، وَيُقَالُ لِلْكَاذِبِ: كَذَبَ وَفَجَرَ﴾.

---

(¹) صحیح البخاري، جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۶۳۶
(²) الترغیب و الترهیب، جلد نمبر ۳، صفحه نمبر ۳۶۷
(³) الترغیب و الترهیب: جلد نمبر ۳، صفحه نمبر ۳۶۸
(⁴) الترغیب و الترهیب: جلد نمبر ۳، صفحه نمبر ۳۶۷

او رښتيا ويونکي ته به د صداقت او نيکۍ القاب ور کول کيږي، او درواغ ويونکي به د کاذب او فاجر په القابو يادېږي.

.........﴿إِنَّ الْعَبْدَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ كَذَّابًا، وَيَصْدُقُ حَتَّى يُكْتَبَ صِدِّيقًا﴾.(1)

او بنده پخپله زندګي کي کله درواغ دځان عادت جوړ کړي، نو الله تعالی ئې هم په درواغجنو کي وليکي.

او کچيري بنده پر ځان باندي رښتيا ويل لازم کړي، نو بيا خو به ئې په آسماني ليسټ کي نوم په رښتيا ويونکو کي وليکل سي.

## د پيغمبرﷺ وينا:

يو صحابي صفوان ابن سليم وايي: زما په مخ کي د پيغمبرﷺ څخه يو صحابي پوښتنه وکړه: چي اې د الله رسوله!

.........﴿أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ جَبَانًا؟﴾.

ايا مؤمن بزدل کېداى سي؟

.........﴿فَقَالَ: نَعَمْ. ﴾.

ده مبارک جواب ورکړی: چي هو، مؤمن بزدل کېداى سي.

هغه بيا پوښتنه وکړه:

.........﴿أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ بَخِيلًا؟﴾.

ايا مؤمن بخيل کېداى سي؟

.........﴿فَقَالَ: نَعَمْ﴾.

ده جواب ورکړی: هو، مؤمن بخيل کېداى سي.

هغه بيا پوښتنه وکړه:

.........﴿أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ كَذَّابًا؟﴾.

ايا مؤمن درواغ ويونکی کېداى سي؟

.........﴿فَقَالَ: لاَ. ﴾.

(1) جامع معمر بن راشد: حديث نمبر ۲۰۰۶۷

لیکن په دې ځل پیغمبر ﷺ جواب په نفي ورکړی: چي مؤمن هیڅکله درواغ ویونکی نسي کیدای.(¹)

وروسته پیغمبر ﷺ صحابه وو ته خبره په ډېر واضح انداز ښکاره کړه: نو ئې ورته وفرمایل:

.........الْمُؤْمِنُ يُطْبَعُ عَلَى الْخِلَالِ كُلِّهَا غَيْرِ الْخِيَانَةِ، وَالْكَذِبِ﴾.(²)

په مؤ من کي هر قسم خصلت او خوی پیدا کیدای سي، خو یو خیانت، او بل درواغ ویل دا په مؤمن کي نسي راتلای، ځکه چي د دې په راتللو سره بیا مؤمن ویلو مستحق نه پاته کیږي، بلکه د مؤمن څخه د ده نوم په منافق باندي بدلیږي، ځکه چي د غه خصلتونه بیا د منافق علامې دي.

## پر شپږو (۶) اعمالو د جنت ضمانت:

پیغمبر ﷺ به همېشه صحابه وو ته دا ویل: که څوک ماته د شپږو اعمالو څخه د حفاظت ضمانت راکړي، نو زه به هغه ته د جنت د داخلیدلو ضمانت ورکړم:

۱. ......اصْدُقُوا إِذَا حَدَّثْتُمْ﴾ د خبرو په دروان کي رشتیا ویل.
۲. ......وَأَوْفُوا إِذَا وَعَدْتُمْ﴾ د وعدې وفا کول.
۳. ......وَأَدُّوا إِذَا اؤْتُمِنْتُمْ﴾ د امانت ادا کول.
۴. ......وَاحْفَظُوا فُرُوجَكُمْ﴾ د خپل فرج او شرمګاه حفاظت کول.
۵. ......وَغُضُّوا أَبْصَارَكُمْ﴾ او خپل نظر د حرامو څخه محفوظه کول.
٦. ......وَكُفُّوا أَيْدِيَكُمْ﴾.(³) او لاسونه پر چا باندي د تجاوز کولو څخه راګرځول. راګرځول.

که څوک ماته پخپل ژوند کي د دغه اعمالو ضمانت راکړي، نو ﴿أَضْمَنْ لَكُمُ الْجَنَّةَ﴾زه به تاسو ته د جنت ضمانت درکړم.

---

(¹) موطا امام مالک: حدیث نمبر ۳۶۳۰
(²) مصنف ابن ابي شیبه: حدیث نمبر ۲۵۶۰۴
(³) حدیث اسماعیل بن جعفر: حدیث نمبر ۲۵۹

او رشتیا ویل، زموږ په دیني اعمالو کي لوی عمل دی، چي په دنیا کي هم انسان د هلاکت څخه خلاصوي، او په آخرت کي هم الله تعالی انسان ته نجات ور کوي.
او د دې برعکس دروغ ویل، په دنیا کي هم د انسان د ذلت او رسوائي ذریعه ګرځي، او په آخرت کي هم د انسان د جهنم ته د داخلېدلو لویه ذریعه جوړېږي.
نو د مؤمن د شانه سره مناسب دا وي: چي همېشه پخپله زندګي کي رشتیا ویل، خپل کړي، او چي څومره ئې وسع او طاقت وي، د دروغو ویلو څخه خپل ځان محفوظه وساتي.

## په مسخرو کي دروغ نه ویل:

نن خو زموږ عادت خراب سویدی، موږ او تاسو محض د مذاق او تفریح لپاره او هم د مجلس تازه کولو لپاره دېر ځله د خولې څخه دروغ خبري راباسو.
حالانکه نبي اکرمﷺ په مسخرو کي هم د دروغ خبرو څخه انسانان منع کړیدي، چنانچه یو حدیث مبارک داسي راغلی دی:
.........وَيْلٌ لِلَّذِي يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ، وَيْلٌ لَهُ وَيْلٌ لَهُ).(¹)
افسوس دې وي پر هغه سړي باندي! یا هلاکت دې وي د هغه چا لپاره، یا دردناکه عذاب دې وي د هغه سړي دپاره: چي محض د خلګو د خندا لپاره دروغ وایي.
نو د انسان لپاره د مذاق او تفریح په خاطر هم دروغ ویل، په هیڅ صورت کي جائز ندي.

## د پېغمبرﷺ مذاق او مسخرې:

د خوش طبعي او مذاق خبري پېغمبرﷺ هم کولې، لیکن هغه هیڅکله داسي مذاق او مسخره نکوله: چي په هغه کي به خبره غلطه وه، او یا به د واقعې خلاف وه، لکه د دهٔ د مذاق یو شکل په حدیث شریف کي رانقل سویدی:
چي یو ځل یو بوډۍ زنانه پېغمبرﷺ ته راغله، او عرض ئې وکړی: ای د الله رسوله! ماته دعا وکړه: چي الله تعالی ما ته جنت راکړي، پېغمبرﷺ په جواب کي ورته و

(¹) سنن ابي داؤد: حدیث نمبر ۴۹۹۰

فرمایل: چي بوډۍ خو جنت ته نځي، نو زه څه لپاره دعا درته وکړم، نو هغه بوډۍ په ژړا سوه، چي دا خو ډېره سخته خبره سوه، چي بوډۍ زنانې جنت ته نځي.
بیا پیغمبر ﷺ د خپلې خبرې وضاحت ورته وکړی: چي زما د خبرې مطلب دا دی: چي هیڅ یو زنانه په داسې حال کې جنت ته نه ځي: چي دا بوډۍ وي، بلکه الله تعالی به دې ته ځواني ورکړي، او د ځوانۍ په حالت کې به دا جنت ته ننوزي، نو پیغمبر ﷺ په داسې لطیفه طریقه سره د انسانانو سره مذاق او مسخرې کولې، چي په هغه کې به هیڅ خبره د نفس الامر خلاف او درواغ نه وه.(۱)

## د اوښ بچی به در کړم:

په روایاتو کي راځي: یو اعرابي سړی د پیغمبر ﷺ خدمت ته راغلی، او دا عرض ئې پیش کړی: ای د الله رسوله! ما ته یو اوښ راکړه، چي زه تر خپل منزله پوري ځان ور باندي ورسوم.
پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته وویل: زه به تاته د اوښ بچی درکړم، نو هغه اعرابي ورته وایي: زه به د اوښ په بچي څه وکړم، زما خو د سوارلۍ لپاره د اوښ ضرورت دی، او هغه ضرورت مي د اوښ پر بچي نه پوره کېږي.
پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: زه چي تاته کم اوښ درکوم، هغه به خامخاه د یو اوښې بچی وي، دا د پیغمبر ﷺ د هغه سره مذاق او مسخره وه، او دا داسې مذاق وو: چي په هغه کي خلاف حقیقت او غلطه خبره نه وه.
نو په مذاق کي هم د دې خبرې لحاظ کول: چي ژبه په ډېر احتیاط سره استعمال سي، او د ژبې څخه غلط او خلاف واقع لفظ صادر نسي.
نن سبا زموږ په معاشره کي درواغ قیصې عامې سوي دي، او پخپلو ګفو او مجلسو کي موږ هغه بطور مذاق او مسخره بیانوو، حالانکه دا ټولي د درواغو په حکم کي داخلیدي، او هم درواغ بلل کیږي، الله تعالی دې زموږ حفاظت ځني وکړي.(۲)

(۱) الشمائل للترمذي: باب ما جاء في صفت مزاح رسول الله ﷺ
(۲) الشمائل للترمذي: باب ما جاء في صفت مزاح رسول الله ﷺ

نن سبا زموږ په معاشره کې دروغ قیصې عامې سوي دي، او پخپلو ګفو او مجلسو کې موږ هغه بطور مذاق او مسخره بیانوو، حالانکه دا ټولي د دروغو په حکم کې داخلیدي، او هم دروغ بلل کیږي، الله تعالی دي زموږ حفاظت څني وکړي.(۱)

## د کوچنیانو سره دروغ نه ویل؛

د بعضو انسانانو عادت داسي وي: چي هغه دخپلو بچیانو سره چي ماشومان وي، یا د خپلو بچیانو څخه علاوه د نورو بچیانو سره دېر ځله د دروغو وینا او وعدې کوي، حالانکه دا هم د دروغو په حکم کې بلل کیږي، باید د دې څخه هم انسان خپل ځان محفوظه کړي.

لکه یو روایت دی: چي یو ځل د پیغمبرﷺ و مخ ته یوې زناني یو بچی ځانته راوبالی، چي په غیږ کي ئې ونیسي، لیکن هغه بچی نژدې نه ور ته راتلی، نو دې د هغه بچي د خطا ایستلو لپاره ورته وویل: بچیه! راسه، چي زه تا ته یو شی درکړم.

پیغمبرﷺ چي د هغه زناني خبره واورېدله، نو د هغې څخه ئې پوښتنه وکړه: ایا ستا و دغه بچي ته د یو شي ور کولو اراده وه، یادي هسي دی په دغه خبره باندي خپل ځان ته رانژدې کاوی؟

هغه زناني ورته وویل: چي ای د الله رسوله! زما دغه کوچني ته د خورما ور کولو اراده وه، چي کله دی ماله راغلی وای، نو ما به ده ته خورما ور کړې وای.

پیغمبرﷺ ورته وفرمایل: کچیري ستا و ده ته د خورما ور کولو اراده نه وای، بلکه صرف دي د ده د خطا کولو، او ځان ته د رابللو لپاره دي ورته ویلي وای، چي زه خورما درکوم، نو ستا په عملنامه کي به یو دروغ لیکل سوی وای.(۲)

نو دروغ زموږ په دین کي ډېر مذموم عمل دی، د مسلمان لپاره مناسب دا دی: چي د دروغو د هر شکل څخه خپل ځان وګوري، کوشش دا وکړي: چي نه په سنجیده مجلس کي او نه د مذاق او مسخرو په دوران کي دروغ ووایي، او هم داغه رنګه نه د لویانو سره او نه د ماشومانو سره د دروغو وینا وکړي.

---

(۱) الشمائل للترمذي، باب ما جاء في صفت مزاح رسول اللهﷺ

(۲) ابو داؤد، کتاب الادب، باب في التشديد في الكذب، حديث نمبر ۴۹۹۱

او پخپله هم د هغه و مخ ته درواغ نه ووايي، او نه بچيان و درواغ ويلو ته پريږدي، چي د هغوی په زړو کي د درواغو څخه نفرت پيدا سي، او د رشتيا ويلو سره ئې محبت راسي.
ځکه چي کله بچي و ګوري: چي پلار خو درواغ وايي، او مور هم درواغ وايي، نو بيا دبچي په زړه کي د درواغ ويلو څخه نفرت ختم کيږي، او هغه په دماغ کي دا راګرځوي: چي دغه درواغ ويل، خو د انسانانو روزانه معمول دی.
نو د ماشوموالی څخه په بچيانو کي دا عادت پيدا کول: چي د ژبي څخه کمه خبره راووزي، هغه به د دبري ليکه وي، په هغه کي به غلطي نه وي، او نه به د "نفس الامر" مخالفت وي، تاسو ګورئ! د نبوت څخه وروسته د ټولو څخه لوړ مقام د "صديق" مقام دی، او د صديق معنٰی ده: "ډېر رشتونی"، چي د هغه په قول کي د خلاف واقعه خبري شبهه هم نه وي.

## د درواغ ويلو د اجازت ځايونه:

ليکن موږ ته الله تعالی داسي جامع دين راکړيدی: چي هغه په هره مسئله کي د انسان د ضروریاتو پوره خيال ساتي، لکه ڼر انسان باندي په زندګي کي بعض سخت حالات راځي، چي زموږ دين او شريعت انسان ته په هغه ځايو کي د درواغو ويلو اجازت ور کړيدی.
لکه مثلاً په يو ځای کي انسان د خپل نفس د حفاظت کولو لپاره و دوراغ ويلو ته مجبوره سي، او د خپل ځان د حفاظت لپاره د دې څخه علاوه هيڅ بله لار نه وي، يا د يو ناقابل برداشت ظلم او تکليف خطره وي، کچيري دی درواغ نه ووايي، نو داسي ظلم به ور سره وسي، چي د ده لپاره به قابل دبرداشت نه وي، نو په دغه صورت کي شريعت و ده ته د درواغو ويلو اجازت ور کړيدی.
البته په دغه ځای کي هم دا حکم دی: چي اول به انسان ډېر کرښش دا کوي: چي صريح درواغ نه وويل سي، بلکه داسي ذو معنٰی لفظ به استعمالوي: چي د هغه په ادا کولو سره دی د دغه وقتي مصيبت څخه خلاص سي، چي هغه ته د شريعت په اصطلاح کي: "تعريض او توريه" ويل کيږي.

چي د هغه مطلب دا دی: چي يو داسي لفظ ادا کول: چي د هغه ظاهري معنٰی يو رنګه د انسان په دماغ کي راځي، او په حقيقت کي په زړه کي دننه ده يو بل مطلب او مراد ځني اخيستی وي، چي صراحتاً درواغ کي رانسي.

**د حضرت ابوبکر ﷛ واقعه:**

د هجرت پر موقع چي کله حضرت ابوبکر صديق ﷛ د پيغمبر ﷺ سره د مديني پر طرف د هجرت په سفر کي روان وو، نو پدې وخت کي د مکې قريشو د پيغمبر ﷺ د نيولو لپاره څلور(۴) طرفه خپل کسان سره واستول، او دا ئې اعلان وکړی: چي کم سړی د پيغمبر ﷺ معلومات تر موږ پوري راوړي، نو هغه ته به سل(۱۰۰) اوښان بطور انعام ور کولو کيږي، اوس پدې وخت کي دمکې ټول خلک د ده په تلاش کي سرګردانه دي، او ټولي لاري ګوري، چي پر دې به پيغمبر ﷺ ووينې، او معلومات به ئې قريشو ته راورسوي، او انعام به تر لاسه کړي.
چي کله پيغمبر ﷺ او ابوبکر ﷛ په لاره کي روان دي، او مديني ته ځي، نو په لاره کي د حضرت ابوبکر ﷛ يو شناخته سړی دوی لره په مخه ورغلی، چي هغه حضرت ابوبکر ﷛ پيژندی، او پيغمبر ﷺ ئې نه پيژندی، هغه سړي د حضرت ابوبکر ﷛ څخه پوښتنه وکړه: چي دا ستا سره ملګری څوک دی؟
اوس حضرت ابوبکر ﷛ دا غوښتل: چي د ده معلومات هيچا ته نه وسي، هسي نه چي د دښمنانو پوري د ده اطلاع ونه رسيږي، اوس کچيري د هغه سړي په جواب کي رښتيا خبره ورته کوي، نو د پيغمبر ﷺ د جان خطره ده، او که رښتيا خبره نکوي، نو بيا خو درواغ په خبرو کي ويل کيږي.
نو پر داسي موقع باندي الله تعالی اکثر د خپلو بندګانو رهنمائي کوي، چنانچه حضرت ابوبکر ﷛ هغه سړي په جواب کي وويل:
........هَذَا الرَّجُلُ يَهْدِينِي السَّبِيلَ،).
دا زما لار ښوونکی دی، چي ماته لار راښيي، اوس ده داسي لفظ هغه سوال کونکي ته ادا کړی: چي د هغه په اوريدلو سره د هغه سړي په زړه کي دا خيال راغلی: لکه د

عام سفر په دروان کي د لار ښوولو لپاره د انسان سره يو لار ښوونکی وي، نو دغه سړی همدغه رنګه لار ښوونکی د ابوبکر سره روان دی.
ليکن حضرت ابوبکر ﷺ په زړه کي دامراد څنې واخيستی: چي دی زما لپاره د دين لار ښوونکی دی، چي ما ته دجنت لار راښيي، او د الله تعالی د قرب او نزدېکت پر لار مي برابروي.
اوس تاسو ګورئ! پر دغه موقع هم هغه د صريح درواغ ويلو څخه ځان وساتی، بلکه داسي لفظ ئې ادا کړی: چي د هغه څخه وقتي طور کار وچلېدی، او درواغ ئې هم نه وويل.(۱)
چي کم چا ته الله تعالی دا فکر په دماغ کي ورکړی وي: چي زما د ژبي څخه به خلاف واقعه او درواغ خبره نه راوزي، نو بيا چي کله داسي مشکل مواقع پر هغه راسي، نو بيا ئې الله د خپل طرفه مدد کوي.

## زموږ د اکابرو د درواغو څخه ځان ساتل:

حضرت مولانا رشيد احمد ګنګوهي قدس الله سره، چي کله په اتلس سوه اوه پنځوس(۱۸۵۷ء) کي د انګريزانو خلاف په جهاد کي لويه حصه درلوده، د ده څخه علاوه حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي، حضرت امداد الله مهاجر مکي، او نورو علماؤ په هغه جهاد کي ډېري لوی کارنامې سرته ورسولې.
اوس چي کمڅوک په دغه جهاد کي شريک ول، آخر انګريزانو د هغوی نيول شروع کړل، او پر هر چوک ئې پانسی او دارونه د دوی لپاره ولګول.
او په هر کلي او محله کي ئې مصنوعي عدالتونه جوړ کړل. چي هسي به ئې پر يو چا شبهه راغله، نو هغه به ئې دستي په عدالت کي پيش کړی، او عدالت به دستي د هغه د راځړولو حکم جاري کړی، نو دستي به ئې په دار را ځړاوی.
په دغه دوران کي يوه مقدمه په "ميرټ" ښار کي د ده خلاف هم قائمه سوه، او دی ئې د قاضي و مخته پيش کړی، چي کله هلته پيش سو، نو هغه پوښتنه څني وکړه: چي ايا

(۱) صحيح البخاري: کتاب مناقب الانصار، باب هجرة النبي ﷺ، حديث نمبر ۳۹۱۱

ستا سره اسلحه سته؟ ځکه هغوی ته دا اطلاع وله: چي د حضرت رشید احمد گنگوهي سره اسلحه ده، او په حقیقت کي هم د حضرت سره اسلحه وه.
چي کم وخت هغه قاضي دا سوال وکړی: نو په دې وخت کي د ده په لاس کي تسبیح ولې، ده هغه تسبیح هغه قاضي ته ور ښکاره کړې، ورته وئې فرمایل: زموږ اسلحه خو دغه ده، دا ئې نه وویل: چي زما سره اسلحه نسته، ځکه چي بیا درواغ کي راتلل، او د ده حلیه او شکل هم داسي وو: چي بلکل یو درویش صفته انسان معلومیدی.
الله تعالی د خپلو بندگانو مدد کوي، چي کله دده او د قاضي په درمیان کي سوال او جواب شروع وو، په دې دوران کي د کلي څخه یو د صحراء سړی هلته راغلی، هغه چي کله ولیدل، چي د حضرت څخه دا رنگه سوال او جواب شروع دی، نو هغه چیغه کړه: چي دا مو څنگه راوستلی دی، دا خو زموږ د محلې موځن (موذن) دی، قاضي و هغه ته وویل: بس دا موذن در سره بوزه، په دغه شکل الله تعالی ده ته خلاصون ورکړی.

## زموږ د اکابرو یوه بله واقعه:

حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمة الله علیه خلاف د نیولو امر جاري سو، څلور(۴) طرفه عسکر د ده په تلاش کي دي، دی په "چته" مسجد کي وو، عسکر هلته ورغلل، په مسجد کي دی یوازي وو.
دوی چي د مولانا صاحب نوم اوریدلی وو، نو په ذهنو کي ئې دا تصور قائم وو، چي دی خو ډېر لوی عالم دی، نو به ئې شانداره لباس او جبه اغوستې وي، حالانکه حضرت په دا شان نه وو.
بلکه هر وخت به ئې معمولي لنگ تړلی وو، او یو معمولي قمیص به ئې اغوستی وو، او همېشه به ئې جارو په لاس کي د مسجد صفائي کوله، نو په دغه ورځ هم ده قمیص کښلی دی، صرف لنگ ئې تړلیدی، او جارو ئې په لاس کي د مسجد په صفائې اخته دی.
چي کله عسکر ورغلل، نو د هغو دا خیال سو: چي دا د مسجد یو خادم دی، چنانچه عسکرو پوښتنه ځني وکړه: چي مولانا محمد قاسم نانوتوي چیری دی؟ دی فوراً چي پر کم ځای ولاړ وو، د هغه ځخه یو قدم پر شا سو، نو ورته وایي: "او س لږ گړی مخکي

خو دلته وو، او د دې خبرې په ذريعه ئې هغوته داتأثر ورکړی: چې دی اوس دلته موجود نسته، ليکن د ژبې څخه ئې د درواغو کلمه نه راوايسته، چې دلته نسته، چنانچه هغه عسکر دغسې ولاړل.

د الله تعالی بندګان په داسې وخت کې کڅه هم د دوی دجان خطره وي، نو هم دا خيال ور سره وي: چې زما د ژبې څخه غلط لفظ صادر نسي، کچيرې پر دوی يو مشکل وخت راسي، نو په هغه وخت کې هم د توريه او تعريض په شکل کې خبره کوي.

البته! کچيرې د انسان د جان د تللو خطره وه، يا د يو شديد او ناقابل برداشت ظلم خطره وه، او په توريه او تعريض سره هم خبره نه برابرېدله، نو په دې وخت کې شريعت انسان ته د درواغ وينا کولو اجازت هم ورکړېدی.

ليکن هغه اجازت په دومره کثرت سره استعمالول لکه نن، سبا، چې زموږ په معاشره کې استعمالېږي، نو دا ټوله حرام دي، او په هغه کې لويه ګناه ده، الله تعالی دې زموږ د ټولو حفاظت وکړي.

## د بعضو لويو ګناهونو سزاء:

حضرت سمره بن جندب ﷛ روايت کوي: چې دپيغمبر ﷺ به عادت مبارک وو: چې کله به د سهار د لمانځه څخه فارغه سو، نو د صحابه کرامو څخه به ئې پوښتنه کوله: چې په تاسو کې به په شپه کې چا خوب ليدلی نه وي؟ نو چې کم چا به په شپه کې خوب ليدلی وو، نو هغه به ئې پيغمبر ﷺ ته پېښوی، او کله کله به پيغمبر ﷺ په شپه کې ليدلی خپل خوب هم صحابه کرامو ته بيان کاوی.

همدا رنګه يو سهار ئې وفرمايل:

.........هَلْ رَأَى أَحَدٌ مِنكُمُ اللَّيْلَةَ رُؤْيَا؟).

ای صحابه وو! نن شپه چا خوب ليدلی دی؟ صحابه وو جواب ورکړی: چې موږ خو نن شپه خوب ندی ليدلی، نو ده مبارک و فرمايل: چې ما نن شپه داخوب ليدلی دی: چې ما ته دوه(۲) کسان راغلل، او زما لاس ونه ئې ونيول، او راته وئې ويل: راځه.

زه د هغوی سره روان سولم، هغوی زه يو هوارې مځکې ته ور وستم، نو هلته مې يو څو عجائبات وليدل:

❶ ........چي يو سړی پروت دی، او دوهم سړی د هغه سر ته يو لوی کاڼی په لاس کي ولاړ دی، او په هغه کاڼي د هغه سړي سر وهي، او سر ئې مات سي، او هغه کاڼی ګيلېږي، او ليري ولاړ سي، هغه ولاړ سړی بيا کاڼی راواخلي، واپس چي راسي، د هغه پروت سړي سر بيرته د مخکي په شکل جوړ او برابر ګرځيدلی وي، او بيا ئې په هغه کاڼي ورماتوي، او مسلسل دا عمل جاري وو، ما پوښتنه وکړه: چي سبحان الله! دا څه قيصه ده؟ دوی راته وويل: چي ته لږ مخته درځه.

❷ ........چيکله دهغه ځای څخه را تېر سو، نو دوهم نمبر که ګورم: نو يو سړی وينم، چي پر مخي پروت او دوهم سړی د هغه و سر ته ناست دی، او د اوسپني غچي ئې په لاس کي ده، هغه د ده خوله د مخ يو طرف ته څيري، او تر غوږو پوري ئې څيري کړي، بيا دوهم طرف ته متوجه سي، چي هغه هم څيري، په دغه وخت کي اول طرف بيرته صحيح او جوړ سي، نو دی بيا اول طرف ته متوجه سي، چي په هغه باندي دا عمل شروع کړي، نو هغه دوهم طرف ورته برابر سي، او دا عمل ئې هم مسلسل جاري وي، ما وويل: سبحان الله! دا څه قيصه ده؟ هغو راته وويل: چي ته لږ زموږ سره مخته راځه.

❸ ........چيکله مخته راغلم، نو دريم نمبر که وينم: يو کور او بلډينګ دی، چي سر ئې د تنور په شان تنګ دی، او لاندي حصه ئې پراخه ده، ما په هغه کي وکتل، نو لڅ نارينه او زناني راته ښکاره سول، د هغوی لاندي به د اور شغله وه، چيکله به هغه تېزه سوه، نو دا خلک به پورته راغلل، تر دې حده چي راوتلو ته به نژدې سول، بيا به د اور شغله کمه سوه، نو بيرته به لاندي طرف ته ورسيدل، او چيکله به بيا شغله په زور کي راتله، يعني تيزيدله به نو دوی به چيغي وهلې، ما وويل: سبحان الله! دا کم خلک دی؟ هغه دوو (۲) ملګرو راته وويل: چي ته لږ مخکي درځه.

❹ ........چي کله مخته راغلو، نو يو وياله ته را ورسېدو، چي د هغې اوبه د وينو په شان سرې وې، او په هغه کي يو سړی لمبېدی، او د نهر پر غاړه يو بل سړی ورته ولاړ وو، چي ډېر کاڼي او ډبري ئې را جمع کړېوې، هغه لمبيدونکی سړی به ده لره د ويالې غاړي ته رانژدې سو، او خوله به ئې وازه که، او ده به د ګولې په شان يو کاڼی او ډبره د

هغه په خوله کي ور واچول، ما وويل: سبحان الله! دا څه قيصه ده؟ دوى راته وويل: ته لږ مخکي درځه.

❺ .........د يو څه مخته راتللو وروسته که گورو: يو ځاى يو ډېر غټ اور بل دى، او د هغه پر شا او خوا يو سړى را گرځي، او منډي وهي، ما وويل: سبحان الله ده څه دي؟ هغو راته وويل: چي ته لږ وړاندي راځه.

❻ .......وړاندي که گورم: نو يو باغ مخته راغلى، چي په هغه کي د پسرلي د موسم ټول گلونه ولاړ دي، د باغ بلکل په مينځ کي يو طويل قد والا انسان ناست دى، او پر هغه باندي شا او خوا ډېر ماشومان را گرځيدلي دي، ما وويل: سبحان الله! دا څوک دى؟ هغو راته وويل: چي ته مخته راځه.

❼ .......مخته چي کله ولاړم، نو يو ډېر لوى باغ ته ورسيدم، چي د هغې څخه لوى او ښائسته باغ مي هيڅکله نه وو ليدلى، موږ په هغه باغ کي روان وو، نو يو داسي ښار ته ورسيدو، چي د هغه يو خښته د سرو زرو او دوهمه د سپينو زرو وه، موږ د هغه ښار دروازه و ټکوله، او دروازه راته خلاصه سوه، زه هغه ته ور ننوتم.

❽ ......هغو ملگرو د هغه ځاى څخه ويستلم، او داسي کور ته ئې دننه کړم: چي د مخکيني ښار څخه ډېر ښائسته وو ما شا او خوا کتل، چي يو سپين محل په نظر راغلى، چي د هغه ښائست تر هر څه زيات وو، هغوى راته وويل: دا ستاسو منزل دى، ما په جواب کي ورته وويل: ايا زه دې ته داخليداى سم؟ دوى راته وويل: اوس نه تاسو به دې خپل محل ته څه زمانه بعد تشريف راوړى.

ما د هغه خپلو ملگرو څخه پوښتنه وکړه: چي تاسو خو نن په ما باندي ډېر عجائبات وليدل، لږ خو مي د هغه د حقيقت څخه اگاه کړئ.

دوى راته وويل:

...........أَمَّا الْأَوَّلُ الَّذِي رَأَيْتَهُ يُثْلَغُ رَأْسُهُ بِالْحَجَرِ، فَإِنَّهُ رَجُلٌ يَأْخُذُ الْقُرآنَ ثُمَّ يَرْفُضُهُ، وَيَنَامُ عَنِ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ.)

هغه اول سړى چي سر ئې په ډبره کوټل کيدى، دا هغه سړى دى: چي قرآن ياد کړي، او بيا ئې پرېږدي، او د فرض لمانځه څخه هم ويده سي، او د هغه د ادا کولو فکر نلري.

......اَمَّا الْاَوَّلُ الَّذِي رَأَيْتَهُ يُشْلَغُ رَأْسُهُ بِالْحَجَرِ، فَإِنَّهُ رَجُلٌ يَأْخُذُ الْقُرْآنَ ثُمَّ يَرْفُضُهُ، وَيَنَامُ عَنِ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ.﴾

هغه اول سړی چي سـ ئې په ډبره کوټل کیدی، دا هغه سړی دی: چي قرآن یاد کړي، او بیا ئې پرېږدي، او د فرض لمانځه څخه هم ویده سي، او د هغه د ادا کولو فکر نلري.

......وَاَمَّا الَّذِي يَشُقُّ شِدْقَهُ إِلَى قَفَاهُ فَإِنَّهُ رَجُلٌ يَخْرُجُ مِنْ بَيْتِهِ فَيَكْذِبُ الْكِذْبَةَ، فَتَبْلُغُ الْآفَاقَ﴾.

او هغه څوک چي خوله ئې په غچي باندي تر څټ پوري پرې کیدله، هغه هغه څوک وو: چي دروا غ به ئې ویل، او خپل دروا غ به ئې اطرافو ته سره رسول.

......وَاَمَّا الَّذِي رَأَيْتَهُ مِثْلَ التَّنُّورِ فَإِنَّهُمُ الزُّنَاةُ وَالزَّوَانِي ﴾.

او هغه د تنور نارینه او زنانه انسان زناکاران ول، چي هغو ته دغه سزا ور کول کیدله.

......وَاَمَّا الَّذِي يَسْعَى فِي الْبَحْرِ فَهُوَ آكِلُ الرِّبَا. ﴾.

او چي کم سړي د وینو په درياب کي غوټې وهلې، هغه سود خور وو.

......وَاَمَّا الَّذِي يَسْعَى حَوْلَ النَّارِ فَإِنَّهُ مَالِكٌ خَازِنُ النَّارِ أَيْ جَهَنَّمَ ﴾.

او چي کم څوک پر اور باندي شا او خوا راګرځیدی: هغه د جهنم خازن مالک فرښته وه.

او په باغ کي چي دي کم د اوږد قد والا سړی ولیدی، هغه ابراهیم علیه السلام وو، او چي کم ماشومان ور باندي راګرځیدلي وو، دا هغه بچیان دي: چي د اسلام پر فطرت پیدا سوي او د ماشوموالي په وخت کي وفات سوي وي.

او هغه اول کور: چي ته ور داخل سوې: هغه د عامو مؤمنانو جنت وو، او دوهم د شهیدانو کور وو، او یوه ملګري راته وویل: چي زه جبرائیل یم، او دا میکائیل دی.

نو په دغه ګناهونو او سزاګانو کي هم د دروا غجن د عمل ډېره سخته سزاء پیغمبر ﷺ پخپلو سترګو لیدلې، او بیا ئې امت ته بیان کړېده، او د پیغمبر ﷺ خوب مبارک دا هم په حقیقت کي یو قسم وحي وې، چي د الله د طرفه به پر ده باندي په حالت د خوب کي راتلې.

(۱) تنبیه الغافلین باحادیث سید الانبیاء: باب الزجر عن الکذب: صفحه نمبر ۱۵۸

- بعض اوقات د مجلس تازه کولو پخاطر.
- بعض اوقات د څه فائده حاصلولو پخاطر،
- بعض اوقات خپل ځان د لوی سړي ثابتولو پخاطر.

خپله ژبه په درواغو کې استعمالوو، او په خپله زندګي کې مې دومره زيات رواج ور کړيدی: چې بلکل ئې ګناه او ناجائز نه بولو، او نه مې په دماغ کې دا خبره راځي: چې د دې څخه به زمونږ پر نيکو اعمالو څه اثر راځي.

نو د پيغمبر ﷺ د حديث په طبق د منافق اوله علامه دا وه: چې د مجلس په دوران کې درواغ ويل.

ما ستاسو په حضور کې د درواغو متعلق څه تفصيل کښېښوی، الله تعالی دې مونږ او تاسو ته پر دې باندې د عمل کولو توفيق رانصيب کړي، او هم دې الله تعالی زمونږ او ستاسو دغه مجلسونه پخپل دربار کې قبول او مقبول وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د وعدې مخالفت د نفاق علامه ده

(بیان)

مولوی **اطیع الله** صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ٹاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ **کلیم الله** صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ٹاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتـي حـافـظ کلیم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاریـــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: «آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ».(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! په تيره جمعه کې ستاسو په حضور کې ما د پېغمبر ﷺ يو حديث مبارک پېش کړی و: چې په هغه کې پېغمبر ﷺ د نفاق درې(٣) علامې بيان کړې وې، په هغه علامو کې اوله علامه د خبرو کولو په دوران کې دروغ ويل، الحمد لله پر هغه باندې يو څه قدر تفصيلي بيان وسو، الله تعالى دې موږ او تاسو ټولو ته پر هغه باندې د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.

د نفاق دوهمه علامه: چې پېغمبر ﷺ په هغه حديث کې بيان کړې وه، هغه دا وه:

........وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ».

چې کله وعده وکړي، نو د هغه مخالفت کوي، د مؤمن کار دا دی: چې کله هغه وعده وکړي، نو د شريعت غوښتنه هم د ده څخه دا وي: چې دی به خپله وعده پوره کوي، ليکن که يو سړي وعده وکړه، او وروسته د هغه په پوره کولو کې يو شديد عذر مخته

(١)سورة المؤمنون: آيت نمبر ٨

(٢)صحيح البخاري: حديث نمبر ٣٣

راغلی، یا یو څه مانع پیش سو، چې د هغه په وجه د ده لپاره د هغه وعدې پوره کول ممکن پاته نسو.
نو په دغه صورت کې بیا د ده لپاره د شریعت حکم دا دی: چې دی به هغه سړي ته وایي: چې سړیه! ما خو ستاسره وعده کړې وه، لیکن اوس د یو عذر په وجه هغه وعده پوره کول، زما لپاره ممکن ندي، نو زه د هغه وعدې پوره کولو څخه معذور یم، امید دی: چې ته به زما عذر قبول کړې.
مثلاً یو سړي د بلچا سره وعده وکړه، چې زه به تاته پر فلان تاریخ دومره پیسې درکوم، وروسته د هغه وعده کونکي سره پیسې ختم سوې، او دی د دې قابل پاته نه سو: چې د هغه سړي مدد وکړي، او هغه ته هغه پیسې او مال ور کړي.
نو په دغه صورت کې به دی هغه سړي ته وایي: چې ما خو د پیسو در کولو وعده کړې وه، لیکن اوس ما ته هغه وعده پوره کول، ممکن ندي، او زه د یو عذر په وجه د هغه وعدې د پوره کولو څخه معذور یم.
لیکن چې تر څو پورې د ده سره د هغه وعدې د پوره کولو قدرت وي، او هم د ده په مخ کې څه شرعي عذر نه وي، نو بیا خو د وعدې پوره کول، د ده لپاره ضروري عمل بلل کیږي.
یا مثلاً یو سړي د بلچا سره د دوستۍ وعده وکړه، چې زما د زوی لپاره به ستاسو سره دوستي کوم، یا به زه خپله لور ستا و زوی ته در کوم، نو دا هم یو وعده ده، حتی الامکان باید د دغه وعدې د پوره کولو انسان کوشش وکړي.
لیکن کچیرې یو عذر مخته راغلی، مثلاً د دوستۍ د وعدې کولو څخه وروسته ده ته دا ور معلومه سوه: چې د ده د خاندان او د هغه خاندان په مزاجونو کې ډېر فرق او هم په عاداتو او رواجونو کې ډېر فرق دی، او یو څه داسې حالات مخته راغلل: چې د وعدې کولو څخه مخکې ده ته ور معلوم نه وو.
نو په دغه صورت کې دې هغه خلکو ته ښکاره ووایي: چې ما خو ستاسره د دوستۍ وعده کړې وه، لیکن اوس زما مخ لره یو عذر راغلی، د هغه عذر په وجه زه د هغه وعدې پوره کول، نسم کولای، او زه د وعدې د پوره کولو څخه معذور یم.

لیکن چې تر څو پورې عذر نه وي، تر هغه وخته پورې وعده پوره کول شرعاً واجب عمل بلل کیږي، کچیرې یو څوک د عذر بغیر د وعدې پوره کول نکوي، نو بیا خو د پیغمبرﷺ د دغه حدیث مصداق ګرځي.

## د پیغمبرﷺ د وعدې خیال ساتل:

د دې امت لپاره د حضور اقدسﷺ زندګي د کامیابۍ بهترینه نمونه ده، چې تر کمه وخته پورې د دې امت د انسانانو زندګي د پیغمبرﷺ پر نقشه روانه وي، نو همېشه به کامیابي او خوشحالي د دوی مقدر وي.

پیغمبرﷺ پخپله زندګي کې د داسې وعدو وفا کړېده، او هم ئې د هغه د پوره کولو خیال کړېدی، چې په ټولو ملتونو او د نیولو کې د هغه نظیر او مثال پیدا کول مشکل عمل دی.

حضرت حذیفه بن یمانؓ د پیغمبرﷺ مشهور صحابي دی، او هم د ده د ټولو رازونو خوندي کونکی صحابي دی، چې د پیغمبرﷺ څومره پټ رازونه وو، هغه به عام طور په "مدینه منوره" کې یوازې حضرت حذیفه ته ور معلوم وو.

چې کله دی او د ده پلار یمانؓ په اسلام مشرف سول، نو د اسلام راوړلو څخه وروسته د پیغمبرﷺ ملاقات او زیارت ته "مدینې منورې" ته را روان سول.

په لاره کې د دوی ملاقات د ابوجهل او د هغه د لښکر سره وسو، پدې وخت کې ابوجهل د خپل لښکر سره د پیغمبرﷺ د مقابلې لپاره د "بدر" پر طرف روان وو.

چې کله د دوی د ابوجهل سره ملاقات وسو، نو هغه ونیول، او پوښتنه ئې څني وکړه: چې تاسو چیرې ځئ؟ نو دوی په جواب کې راته وویل: چې موږ د پیغمبرﷺ ملاقات او زیارت لره "مدینې منورې" ته روان یو.

نو ابوجهل ورته وویل: چې موږ تاسو نه پرېږدو، ځکه چې تاسو "مدینې" ته ولاړ سئ، بیا خو زموږ بر خلاف د پیغمبرﷺ د لښکر سره دریږئ، او زموږ مقابله کوئ، نو پدې وجه تاسو مدینې ته نسي تلای.

دوی ورته وویل: چې زموږ مقصد صرف د پیغمبرﷺ ملاقات او زیارت دی، موږ په جنګ کې برخه نه اخلو، او نه د جنګ لپاره ورځو، ابوجهل ورته وویل: چې تاسو به

زموږ سره وعده کوئ، چې هلته د تللو څخه وروسته به ستاسو مقصد صرف ملاقات کول وي، په جنګ کې به په یو قسم هم حصه نه اخلئ.
چې کله دوی د غه وعده ور سره وکړه: نو ابو جهل دوی پرېښول، او دوی "مدینې" ته روان سول.
پدې وخت کې پیغمبر ﷺ د خپلو صحابوو سره د "غزوه بدر" په نیت د "مدینې منورې" څخه را روان سوی وو، او د دوی د هغه سره هم په لاره کې ملاقات وسو.

## د غزوه بدر فضیلت:

حالانکه "غزوه بدر" د اسلام اوله د حق او باطل معرکه وه، او دا داسې معرکه وه: چې قرآن کریم هغه په "یوم الفرقان" سره تعبیر کړې وه، یعنې د حق او باطل په درمیان کې فیصله کونکې معرکه.
او دا هغه معرکه وه: چې کم سړي په دې کې شرکت وکړی، هغه ته "بدري" ویل کیدل، او په صحابه کرامو کې د "بدري" صحابه وو ډېر لوړ مقام وو او د "بدرینو" نمونه به بطور وظیفه ویل کیدل، او د دوی د نمو ویلو په برکت به الله تعالی د انسان دعاګانې قبلولې.
او هغه "بدرین" چې د هغه په باره کې پیغمبر ﷺ دا پیش ګوئي کړېوه: چې الله تعالی د ټوله "اهل بدر" یعنې چې کم چا د بدر په معرکه کې شرکت کړی وو، بخښنه کړېده، دا داسې معرکه وه.
بهر حال چې کله د پیغمبر ﷺ سره د دوی ملاقات وسو، نو حضرت حذیفه ؓ د لارې ټوله قصه ورته بیان کړه، چې په لاره کې ابوجهل موږ ونیولو او بیا مو وعده ور سره وکړه، چې موږ ستا په مقابل کې د جنګ حصه نه جوړېږو، او په ډېر مشکل مې ځان ځني را خلاص کړی.
د دې څخه وروسته حضرت حذیفه ؓ د پیغمبر ﷺ څخه غوښتنه کوي: چې ای د الله رسوله! دا د "بدر" معرکه ده، او ته پدې کې پخپله شرکت لرې، زموږ هم ډېر لوی خواهش دی: چې موږ هم ستا سره په دې غزوه کې شرکت وکړو.

کمه وعده د ابوجهل سره کړې وه، هغه خو زموږ پر غاړه باندې توره را او موږ چې ایښې وه، او په زور ئې زموږ څخه په جنګ کې د شرکت نه کولو وعده اخیستې وه، کچیرې موږ د هغه سره هغه وعده نوا ی کړې، نو موږ ئې نه را پرېښوولو، نو هغه وعده صرف د ژبې پر سر د یو مجبورۍ په خاطر موږ ور سره وکړه، لیکن ته اوس موږ ته اجازت راکړه: چې موږ په دغه جنګ کې حصه واخلو، او د دې غزوې د شرکت سعادت او فضیلت حاصل کړو.(۱)

## ته خپله وعده وفا کړه:

لیکن پیغمبر ﷺ په جواب کې ورته وفرمایل: چې نه، تاسو خو وعده کړېده، او بیا په وعده سره تر دې ځایه پوري راغلي یاست، او تاسو ته ئې په دې شرط لاره در کړېده: چې تاسو به هلته صرف د پیغمبر ﷺ زیارت او ملاقات کوئ، لیکن د هغه سره به په جنګ کې حصه نه اخلئ، نو ځکه تاسو ته پدې جنګ کې اوس د حصې اخیستلو اجازت نسته.

## دامتحان ځایونه:

دا هغه ځایونه وي: چې په کم ځای کې الله تعالی د انسان امتحان اخلي، چې دی څومره د خپلې وعدې وفا کوي، او څومره د وعدې لحاظ ساتي.
کچیرې موږ غوندې انسان وای: نو په زرو تأویلونه به مو کولای، مثلاً دا تأویل: چې د هغه سره چې موږ کمه وعده کړې ده: هغه په صداقت او رښتوني زړه سره نه ده، هغو خو زموږ څخه دغه وعده په زور باندې اخیستې ده، او نه معلوم: چې کم قسم تأویلونه به زموږ په ذهنو کې راتلای.
یا به مو دا تأویل کاوی: چې دا خو حالت د عذر دی، ځکه چې د پیغمبر ﷺ سره په جهاد کې شاملېدل دي: او د کفر مقابله کول دي.
حالانکه هلته د یو یو سړي څومره لوی قدر وو، ځکه چې هغه ته ډېر زیات ضرورت وو، ځکه چې د مسلمانانو لښکر صرف درې سوه دیارلس(۳۱۳) کسان دي، چې د

(۱) الاصابة: جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۲۶۱

هغو سره اویا(۷۰) اوښان، او دوه(۲) آسان، او اته(۸) توري دي، نورو کسانو چا
صرف لرګي را اخيستي دي، او د چا سره په لاس کي کاڼي او ډبري دي.
او د دوی په مقابله کي د ابوجهل لښکر زر(۱۰۰۰) کسان، چي هغه هم اکثر مسلح دي
د هغو سره اوه سوه(۷۰۰) توري، او دري سوه(۳۰۰) آسان ور سره دي.
چونکه د مسلمانانو عدد ډېر کم دي، نو ځکه هلته د يوه سړي شرکت هم ډېر قيمتي
دی، ليکن پيغمبرﷺ دوی ته وفرمايل: چي کمه خبره مو کړېده، پر هغه به اوسر
درېږئ، او چي کمه وعده مو کړې ده، د هغه به خلاف ورزي نکوئ.

## هلته جهاد د کم مقصد لپاره وو؟

هلته جهاد کول وطن نيولو لپاره نه وو، او نه د قدرت پيدا کولو لپاره وو، بلکه هغه
جهاد د حق د حاکمولو لپاره وو، هلته دا نه وو: چي حق دي در پښو لاندي کړي، ولي
دی خو جهاد کوي، د ګناه ارتکاب دي وکړي، ولي دی د الله د دين سر بلندي دي
راولي، دا ترتيبونه نه د هغوی په ذهنو کي راتلل، او نه هغوی دغه خبرو ته په دماغ
کي ځای ور کاوی.
نن خو زموږ ټوله کوششونه ډېر ځله بې نتيجه پاته سي، او د هغه هيڅ اثر معلوم نسي
د هغې وجه دا ده: چي ډېر ځله موږ دا غواړو: چي ګناه کوو، او د هغه څخه ځان نه
ګورو، ولي! چي موږ د دين تبليغ کوو، او يا اسلام پر مځکه نافذ ګرځوو.
زموږ پر زړه او دماغ باندي هر وخت په زرو تأويلونه راځي، کله دا وايو: چي پدې
وخت کي د مصلحت تقاضا دا ده: چي د شريعت دغه حکم دي پاته سي، او مصلحت
په دې وخت کي د شريعت په دغه حکم پرېښوولو کي دی، نو په دې شکل زموږ
جهادونو او محنتونو ډېر ځله اثر او نتيجه په معاشره کي نه ښکاره کيږي.
ليکن هلته يو مقصد وو: يعني د الله رضا پيدا کول، نه مال مقصود وو، نه فتح
مقصود وه، نه د وطنونو نيول مقصود وو، بلکه مقصود دا وو: چي الله تعالى راضي
سي، او په دغه وخت کي د الله تعالى رضا په دې کي وه: چي کمه وعده دي کړې ده،
هغه و سر ته ورسوه.

چنانچه حضرت حذیفه، او د هغه پلار حضرت یمانﷺ دواړه د "غزوه بدر" غوندې فضیلت څخه محروم پاته سول، او دا دواړه د ابوجهل سره د وعدې کولو پوجه په دغه جنګ کې شریکان نسول، او نه پیغمبرﷺ و دوی ته د شرکت اجازت ور کړی.

## حضرت معاویهؓ د وحي کاتب وو:

چې پیغمبرﷺ د وعدې په کم شکل وفا کوله، نن که د هغې مثالونه انسان تلاش کړي، د ده د غلامانو د زندګۍ څخه سوا په بل قوم کي نه پیدا کیږي، صرف د ده غلامانو یعني صحابه کرامو زندګي د ده پر نقشه تېروله، او هم ئې د ده پښان د وعدې د وفا کولو لحاظ ساتی.

حضرت معاویهؓ د پیغمبرﷺ د وحي کاتب وو، دی په هغه صحابه کرامو کې وو: چې د هغه په باره کي نه معلوم. څنګه کم قسم غلطي آوازې کولې، الله تعالی دی زموږ حفاظت څنې وکړي، ډېر ځله به خلګو ذ ده په شان کي ډېر سپکاوی کاوی.

د حضرت عمرؓ په دور کي چونکه ذ ده په امارت کي د "روم" سره د مسلمانانو ډېر لوی لوی جنګونه راغلل، او د "روم" ډېري حصې د ده په امارت کي فتحه سوې.

د روم سلطنت چونکه پخپله وخت کي ډېر لوی قدرت بلل کیدی، او د هغه سره ډېر عظیم الشان عالمي طاقت وو، حضرت معاویهؓ چونکه په شام کي اوسېدی، نو همېشه به ئې د رومیانو سره پر سرحدونو معرکې او جنګونه راتلل.

یو ځل حضرت معاویهؓ د رومیانو سره د جنګ بندۍ معاهده وکړه، او یو تاریخ ئې متعین کړی، چي تر دغه تاریخه پوري به موږ یو پر بل تعرض نه کوو، او زموږ په درمیان کي به جنګ بندي وي.

چي کم وخت د جنګ بندۍ د معاهدې وخت لا ختم سوی نه وو، نو په دې وخت کي د حضرت معاویهؓ په زړه کي دا خیال راغلی: چي د جنګ بندۍ معاهده خو صحیح ده، لیکن په دې مدت کې به زه خپل عسکر د رومیانو سرحد ته ورسوم، چي څنګه د جنګ بندۍ مده ختم سي، نو به فوراً حمله شروع کړم، ځکه چي د دښمن په ذهن کي به دا وي: چي کله د جنګ بندۍ مده ختم سي، نو د مسلمانانو لښکر به د "شام" د یو حصې څخه را روانیږي، او تر دلته راتللو پوري به ډېر وخت کي تیر سي، نو ځکه د

معاهدې د ختم کیدو سره فوراً د مسلمانانو د لښکر حمله د چا په دماغ کې نه راتله، او هغه خلک د دغه حملې د مقابلې لپاره تیار هم نه وو.
نو د حضرت معاویه د دغه خیال په وجه ده سرحد ته عسکر را ورسول، او د وخت د ختم کیدو څخه وروسته ئې فوراً د حملې کولو اراده درلوده، چې دوی ته ژر فتحه او کامیابي په لاس ورسي.

## د معاهدې خلاف ورزي کول:

چنانچه حضرت معاویه ﷺ خپل عسکر د روم پر سرحد تیار ودرول، او د عسکرو یو څه حصه ئې په سرحد کې دننه د رومیانو په علاقه کې و دوی ته نږدې واچول، او د حملې لپاره ئې تیار کړل.
چې څنګه د جنګبندۍ د معاهدې د آخري تاریخ لمر ولویدی، حضرت معاویه ﷺ خپل لښکر ته د حملې کولو حکم ور کړی، چنانچه لښکر د حملې سره پیش قدمي وکړه، او د حضرت معاویه ﷺ دغه ترتیب ډیر کامیابه ثابت سو، ځکه چې هغه خلک حملې مقابلې ته په دې وخت کې تیار نه وو.
نو د حضرت معاویه ﷺ عسکر ښارونه او کلي فتحه کوي، پر مخ روان دي، او س د فتحې په نشه کې په ډیر جذبه سره هغه لښکر پر مخ روان دی د ماځیګر په وخت کې یو ښار ته ور ننوزي، که ګوري د لښکر تر شا یو سړی پر آس سپور په منډه را روان دی، او دوړې ئې ولا ړیږي.
چې کله لښکر والا هغه سړی ولیدی، نو حضرت معاویه ﷺ د هغه سړي په انتظار کې ودریدی، چې شاید دې سړي به د امیر المؤمنین یو نوی پیغام را اخیستی وي، او تر موږ پوري به ئې را رسوي، چې کله هغه د آس سپور نږدې راغلی، نو هغه نارې او چیغې شروع کړې، او وایي:
............اللّٰهُ أَكْبَرُ، اَللّٰهُ اكْبَرُ، قِفُوْا عِبَادَ اللهِ، قِفُوْا عِبَادَ اللهِ).
ای د الله بندګانو! ودریږئ، ای د الله بندګانو! و دریږئ، چې کله نږدې راغلی، نو حضرت معاویه ﷺ چې ورته ګوري، نو هغه حضرت عمرو بن عبسه ﷺ دی، حضرت معاویه ﷺ ورته وایي: څه پیښه ده؟ ده ورته وویل:

..........وَفَاءٌ لَا غَدْرٌ، وَفَاءٌ لَا غَدْرٌ﴾.

د مؤمن شیوه او عادت وفا ده، غدر او دوکه نده، او نه د وعدې مخالفت دی، حضرت معاویه رضي الله عنه ورته وفرمایل: چي ما خو هیڅ دوکه نده کړې، او نه مي د وعدې مخالفت کړېدی، ما په هغه وخت کي پر دوی باندي حمله شروع کړېده، چي د جنګ بندۍ د معاهدې وخت ختم سو.

حضرت عمروبن عبسه رضي الله عنه ورته وفرمایل: چي که څه هم د جنګبندۍ مدت خو ختم سوی وو، لیکن تاخو خپل فوجونه دجنګ بندۍ په مدت کي د دوی و سرحد ته رسولي وو، او د لښکر یو څه حصه دي د دوی و وطن ته هم ور داخله کړې وه، او دا دجنګبندۍ د معاهدې مخالفت وو، او ما پخپلو دغه غوږو د پېغمبر ﷺ څخه دا اورېدلي دي:

..........مَنْ كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قَوْمٍ عَهْدٌ فَلَا يَحُلَّنَّ عَهْدًا، وَلَا يَشُدَّنَّهُ حَتَّى يَمْضِيَ أَمَدُهُ أَوْ يَنْبِذَ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ﴾.

یعني چي کله ستاسو د یو قوم سره معاهده وي، نو: تر هغه وخته پوري به نه هغه ختم کوئ، او نه به ئې بیرته تړئ: چي تر څو پوري د هغه وخت تېر سوی نه وي، یا مو د هغه وخته ښکاره اعلان کړی نه وي، چي مو د هغه معاهده ختم کړه.

لهذا د وخت تیرېدلو څخه مخکي یا د معاهدې د ختم کولو د اعلان کولو بغیر د هغو علاقې ته ور تلل، او هلته لښکر اچول، د پېغمبر ﷺ د دغه فرمان پوجه ستاسو لپاره جائز نه وو.

تاسو د دې اندازه وکړئ! چي یو فاتح لښکر دی، چي د دښمن علاقه ئې فتحه کړېده، او پر مخ روان دی، او ډېره لو علاقه د دوی تر تسلط لاندي راغلې ده.

لیکن چي کله د پېغمبر ﷺ دغه حدیث د دوی غوږ ته راورسېدی: چي د وعدې پابندي کول، د مسلمان پر ذمه لازم دي:

..........فَرَجَعَ مُعَاوِيَةُ بِالنَّاسِ﴾.

نو حضرت معاويه ﷺ خپل لښکر ته حکم وکړ: چې څومره علاقه مو فتحه کړېده، هغه ټوله واپس کړئ، چنانچه ټوله لښکر د ده په حکم دوباره سرحد ته راغلل، او هغه مفتوحه علاقه ئې و دښمن ته ور پرېښووله.(۱)

د ټولې دنيا په تاريخ کې هيڅ يو قوم د هغه نظير نسي پېش کولای: چې هغو صرف د وعدې د لحاظ ساتلو په خاطر خپله ټوله مفتوحه علاقه دښمن ته ور پرېښووله.

چونکه ما مخکې درته وويل: چې هلته اقتدار او تسلط او سلطنت راوستل مقصود نه وو، بلکه مقصود الله تعالی راضي کول وو، چې کله دوی ته د الله حکم ور معلوم سو: چې د وعدې مخالفت کول جائز ندي، او زموږ پدې عمل کې د وعدې د مخالفت يو څه شائبه پيدا کېږي، نو ځکه واپس راغلل، او ټوله مفتوحه ځمکه ئې د دښمن په قبضه کې ور کړل، او دا ئې ويل: چې زموږ لپاره د وعدې مخالفت کول ښه عمل ندی.

## د حضرت عمر ﷺ د معاهدې خيال ساتل:

حضرت عمر ﷺ چې کله بيت المقدس فتحه کړی، هلته چې کم عيسايان او يهود اوسېدل، د هغو سره دا معاهده وسوه: چې موږ به ستاسو حفاظت کوو، او هم به ستاسو د جان او مال حفاظت کوو، او د هغه په عوض کې به تاسو موږ ته "جزيه" راکوئ، "جزيه" يو ټيکس دی: چې د غير مسلم قومونو څخه به اخيستل کېدی، چنانچه چې کله معاهده وسوله، نو هغو به هر کال دوی ته خپله "جزيه" ادا کوله.

يو ځل داسې وسول: چې د مسلمانانو د نورو دښمنانو سره معرکه او جنګ پېښ سو، چې د هغه په نتيجه کې هغه لښکر چې په "بيت المقدس" کې متعين وو، هغه ته ضرورت پيدا سو:

يو چا حضرت عمر ﷺ ته دا مشوره ورکړه: که د لښکر کمي ده، نو په "بيت المقدس" کې لښکر ډېر زيات دی، نو د هغه ځای څخه يو څه لښکر محاذ جنګ ته واستوه، حضرت عمر ﷺ وفرمايل: دغه مشوره او تجويز خو ډېر ښه دی، نو لښکر د هغه ځای څخه محاذ جنګ ته واستوئ.

(۱) سنن ترمذي: کتاب الجهاد: باب في الغدر: حديث نمبر ۱۵۸۰

لیکن د دې سره یو بل کار هم وکړئ، هغه دا: چې د "بیت المقدس" چې څومره عیسائي او یهودي قومونه دي، هغه ټول یو ځای سره راجمع کړئ، او هغو ته ووایاست: چې موږ خو ستاسو د جان او مال د حفاظت ذمه اخیستې وه، او ستاسو سره مې معاهده کړې وه، چې ستاسو د جان او مال حفاظت به کوو، او د هغه لپاره موږ ستاسو په وطن کې لښکر ځای پر ځای کړی وو.

لیکن اوس یو بل ځای زموږ لښکر ته ضرورت پیش سو، نو ځکه موږ اوس ستاسو حفاظت نسو کولای، لهذا پدې کال چې تاسو موږ ته کمه "جزیه" بطور ټیکس راکړېده، هغه موږ تاسو ته واپس در کوو، او د دې ځای څخه خپل لښکر هلته استوو، او اوس به تاسو د خپل ځان د حفاظت انتظام پخپله کوئ.

دا هغه مثالونه دي: چې انسان بلکل بغیر د څه خوف او تردیده ویلای سي: چې د دنیا هیڅ قوم داسې مثال نسی پیش کولای: چې هغو دې د خپل مخالفت مذهب والاؤو سره داسې معاهده کړې وي.

## دوعده خلافۍ مروج صورتونه:

بهر حال د منافق د وهمه علامه چې په دې حدیث کې پیغمبر ﷺ بیان کړې وه، هغه دا: چې د وعدې خلاف ورزي به کوي، نو د وعدې خلاف ورزي د نفاق علامه ده، باید هر مسلمان خپل ځان ځني وساتي.

لیکن لکه څنګه د درواغو په باره کې په تېره جمعه کې ما دا خبره عرض کړې وه: چې د دروغو یو څو صورته داسې هم دي: چې هغه موږ بلکل ځان ته جائز ګرځولي دي، او هم مې د دروغو د لیسټ څخه ایستلي دي، او بلکل ئې دروغ نه بولو، او نه د دروغو په نظر ورته ګورو.

داغه رنګه د وعده خلافۍ هم بعض داسې صورتونه سته: چې هغه موږ د وعده خلافۍ د لیسټ څخه ایستلي دي، چنانچه که د یو چا څخه پوښتنه وکړې: چې وعده خلافي څنګه عمل دي؟ نو دی به جواب درکړي: چې دا خو ډېر بد عمل او ګناه ده، لیکن په عملي ژوندګي کې چې کله موقع په لاس ورسي، نو په هغه صورتو او اشکالو

باندي دی پخپله وعده خلافي کوي، او بلکل ئې وعده خلافي نه بولي، او نه دې ته د
وعده خلافۍ په نظر ګوري.

## د ملکي قانون پابندي کول ضروري عمل دی:

مثلاً زه ستاسو حضور کي يوه خبره عرض کوم: چي د هغه و طرف ته د عامو انسانانو
توجه نسته، او نه ئې د دين معامله بولي: حضرت مفتي محمد شفيع (قدس الله سره) الله
تعالی دي د ده قبر د نوره ډک کړي، هغه فرمايلي دي: چي "وعده" صرف زباني نه
وي، بلکه عملي وعده هم د وعدې يو شکل دی، او د هغې پوره کول ضروري عمل
دی.

مثلاً يو سړی د يو ملک استوګن وي، او په هغه ملک کي خپل ژوند تېروي، نو هغه
سړی ګويا عملاً د هغه ملک د حکومت سره وعده کوي: چي زه به ستاسو د ملک د
قوانينو پابندي کوم، نو اوس پر هغه سړي د دغه وعدې پابندي کول ضروري عمل
دی.

خو ترڅو پورې چي د هغه ملک قانون دی د ګناه پر کولو مجبوره نکړي، دا ځکه
کچيري هغه قانون دی پر ګناه کولو مجبوره کاوی، نو بيا د هغه ملک پر قانون باندي
عمل کول د ده لپاره جائز نه دی، ځکه چي په دې باره کي د پيغمبر ﷺ ښکاره حديث
دی:

.........لَا طَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ﴾.(۱)

يعني د خالق په نافرماني کي د هيڅ مخلوق طاعت نسته.

لهذا د داسي قوانينو چي ګناه وي، پابندي نه صرف دا : چي ضروري نده، بلکه جائز
او روا هم نده.

ليکن کچيري يو قانون داسي وي: چي هغه تا پر ګناه او معصيت نه مجبوره کوي، نو
د هغه قانون بيا پابندي کول ضروري عمل بلل کيږي، ځکه چي تا عملاً د دې خبري
وعده کړېده: چي زه به د دغه ملک د قوانينو پابندي کوم.

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة: جلد نمبر ۱۲، صفحه نمبر ۵۴۶

## د حضرت موسى عليه السلام په عمل سره دليل نيول:

د دې په مثال کې حضرت مفتي شفيع رحمة الله عليه د حضرت موسى عليه السلام قصه بيان کړېده: چې حضرت موسى عليه السلام د فرعون په ملک کې اوسېدى، او د نبوت څخه مخکې ئې يو "قبطي" په سوک وواهى، او هغه قتل سو، چې د هغه واقعه مشهوره ده، او قرآن کريم هم هغه واقعه ذکر کړېده، او حضرت موسى عليه السلام به د هغه پر قتل باندې استغفار کاوى، او هم به ئې بخښنه د الله څخه غوښتله، او دا به ئې ويله:

.........وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْبٌ﴾.(¹)

يعني زما پر ذمه د دوى يو ګناه ده، او ما د دوى يو جرم کړيدى، حضرت موسى عليه السلام هغه عمل جرم او ګناه بولي، او پر هغه باندې استغفار هم وايي.

او س سوال دا پيدا کيږي: هغه قبطي کم چې موسى عليه السلام قتل کړى، هغه کافر وو، او کافر هم حربي کافر وو، لهذا د حربي کافر په قتل کولو کې به څه ګناه وه.

حضرت مفتي شفيع رحمة الله عليه فرمايلي دي: دغه دده عمل ځکه ګناه سو: چې کله حضرت موسى عليه السلام د فرعون په ښار کي اوسېدى، نو ده عملاً ګويا: د هغو سره دا وعده کړې وه: چې زه به ستاسو د ملک د قوانينو پابندي کوم، او د هغو قانون دا وو: چې د هيڅچا قتل ئې جائز نه بالى، نو ځکه حضرت موسى عليه السلام چې کم قتل وکړى، نو ده د هغه قانون خلاف ورزي وکړه.

نو د حکومت هر شهري حکومت که د مسلمانانو وي، يا د کافرانو وي، عملاً د دې خبرې وعده کوي: چې دى به د هغه ملک د قانون پابندي کوي، خو زه بار بار تکراراً دا خبره را ګرځوم: په دې شرط چې هغه قانون به دى د ګناه پر عمل نه مجبوره کوي.

## د يو ملک "ويزا" اخيستل، هم عملي وعده ده:

داغه رنګه چې کله يو انسان د يو ملک ويزا واخلي، او هغه ملک ته سفر وکړي، بيا شه ملک د مسلمانانو وي، لکه "سعودي عرب"، يا "ترکيه"، او يا د کافرانو ملک وي، لکه "هندوستان" "امريکه" يا د "يورپ" يو بل ملک.

---

(¹) سورة الشعراء: آيت نمبر ۱۴

دغه ویزا اخیستل هم عملاً یو وعده بلل کیږي، چي موږ به حتی الامکان د هغه ملک د قوانینو پابندي کوو، چي تر څو پوري مي هغه قانون پر یو گناه کولو مجبوره نکړي.
لیکن کچیري هغه قانون موږ د گناه پر عمل مجبوره کول یا په هغه کي زموږ د دین یا دالله د امر مخالفت راتلی، نو بیا خو د هغه قانون پابندي کول د انسان لپاره ضروري عمل نه بلل کیږي.
لهذا چي کم قوانین داسي وي: چي انسان دگناه پر عمل نه مجبوره کوي، یا د یو ناقابل برداشت ظلم سبب نه جوړیږي، د هغه قوانینو پابندي هم د وعدې په پابندي کولو کي داخله ده.

## د ترافیکو قوانین هم عملي وعدې دي:

یا مثلاً د هر ملک د ترافیک خپل قانون دی، چي انسان به خپل سفر د لاري پر چپه طرف او یا پر راسته طرف کوي، یا دا قانون دی: چي کله سور رنگ والا بتۍ ولگیږي، نو دی به دریږي، او چي کله زرغون رنگ والا بتۍ ولگیږي، نو به روانیږي.
نو اوس د یو ښهري کیدلو په حیثیت سره تا د حکومت سره د دې خبري وعده وکړه: چي زه به د دغه قوانینو پابندي کوم، لهذا که یو څوک د دغه قوانینو پابندي نه وکړي، نو دا هم وعده خلافي ده، او هم گناه ده.
د خلگو دا گمان وي: کچیري د ترافک د قوانینو انسان خلاف ورزي وکړي، نو په دې کي بیا د گناه څه خبره ده، داخو ډېره ښه خبره ده: چي انسان د خپلي چالاکۍ او هوښیارۍ په وجه خلاف ورزي هم کوي، او د قانون په منگولو کي هم نه راځي، نو دوی دغه سړي ته ډېر چالاکه او هوښیار وایي.
گورئ! دا یاد وساتئ! دا په څو اعتباره سره گناه ده، یو خو په دې حیثیت گناه ده: چي دا د وعدې خلاف ورزي ده، چي تا عملاً د هغه حکومت سره کړېده، او د وعدې خلاف ورزي د منافقت علامه ده.
دوهم په دې حیثیت سره هم گناه ده: چي حکومت خو دا قوانین د دې لپاره جوړ کړیدي: چي د انسانانو په زندگي کي نظم او ضبط پیدا سي، او د هغه په ذریعه سره د یو و بل ته د نقصان او تکلیف رسولو لار بنده سي.

لهذا کچیرې ته د قانون خلاف ورزي وکړې، او ستا د دغه عمل څخه یو انسان ته نقصان او تکلیف ور ورسیږي، نو د دغه نقصان او تکلیف د دنیا او آخرت ذمداري به ستا پر غاړه وي.

## دا ټولې د دین خبرې دي:

زه دا ټولې خبرې ستاسو حضور ته ځکه پیشوم: چې د بعض خلګو دا ګمان او فکر وي: چې ددې خبرو د دین سره څه تعلق دی؟ دا خو ټولې د دنیا خبرې دي، او د دې د پابندۍ کولو څه ضرورت دی؟
پدې خبره سر خلاصول: چې الله تعالیٰ موږ او تاسو ته یو عجیبه جامع دین را نصیب کړیدی، چې هغه زموږ د زندګۍ په هره شعبه کې خپل احکام لري، چې موږ او تاسو د هغه احکامو پابند یو، او دغه دین تر یوې شعبې پورې هرګز محدود ندی.
زما د خبرو خلاصه دا ده: چې کم قانون انسان پرګناه مجبوره کوي، نو د هغه خو په هیڅ حال کې د انسان دپاره اطاعت کول جائز ندي، یا چې کم قانون د انسان لپاره د ناقابل برداشت ظلم سبب جوړیږي، د هغه هم پابندي کول ضروري ندي.
لیکن د دې څخه علاوه چې څومره قوانین دي، د هغه پابندي شرعاً هم زموږ پر ذمه باندې ضروري عمل دی، که د هغه پابندي انسان نه وکړي، نو د وعده خلافۍ ګناه د ده په عملنامه کې لیکل کیږي.

## خلاصه:

لهذا ډېر داسې شیان دي: چې هغه ته موږ د وعده خلافۍ په نظر ګورو، او ډېر بیا داسې شیان هم دي: چې هغه موږ وعده خلافي نه بولو، مګر هغه هم په حقیقت کې په وعده خلافي او ګناه کې داخل وي، او د انسان لپاره د هغه څخه د پرهیز کولو ضرورت وي.
نو دین زموږ د زندګۍ په هره شعبه کې داخل دی، او هم موږ ته د زندګۍ په هره شعبه کې خپل احکام لري، چې د هغه د رعایت کولو موږ پابنده یو، کچیرې زموږ څخه د هغه په رعایت کولو کې قصور او کمی وسي، نو دغه قصور او کمی کول بیا زموږ د دین خلاف عمل بلل کیږي.

د منافق د دوو (۲) علامو بيان خو وسو، دريمه علامه ئې ده: په "امانت کې خيانت" د هغه معامله هم داسې ده: چې د هغه اهميت او فضيلت خو پر خپل ځای دي، مګر بېشماره کارونه داسې دي، چې په خيانت کې شامل دي، ليکن موږ هغه خيانت نه بولو کچيرې زندګې وه، نو د هغې متعلق به ستاسو په حضور کې په را روانه جمعه کې انشاء الله تفصيل پيش کړو.

چې کومې خبرې مې ستاسو حضور ته پيش کړې، او تاسو واورېدې، الله تعالى دې اول و ماته بيا تاسو ټولو ته پر هغه باندې د عمل کولو توفيق را نصيب کړي، او هم دې دغه ټول مجالس زموږ او ستاسو د ټولو لپاره د نجات ذريعه وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# خیانت کول د نفاق علامه ده

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کاسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــریـر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتـي حـافـظ کلیم الله صاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشـــاعــت | اول |
| تـاریـــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تــعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرینو! د تېرو جمعو څخه مسلسل ستاسو په حضور کي زه د پیغمبر ﷺ یو حدیث مبارک پېشوم: چي په هغه کي پیغمبر ﷺ د نفاق او منافقت خصلتونه او خویونه بیان کړیدي، چي په هغه کي:

- اول خصلت: په خبرو کي درواغ ویل.
- او دوهم خصلت: د وعدې مخالفت کول.

د دې دواړو خصلتو متعلق په تیرو جمعو کي په تفصیل سره خبره وسوه، الله تعالی دې موږ او تاسو ټولو ته پر هغه باندې د عمل کولو توفیق را کړي.

(١) سورة الأحزاب: آیت نمبر ۷۲

(٢) صحيح البخاري، حدیث نمبر ۳۳

## د امانت تاکید:

د منافق دريم خصلت او علامه پيغمبر ﷺ دا بيان کړېده: چې "په "امانت" کې خيانت کول" د قرآن کريم په ټولو آياتو کې او د پيغمبر ﷺ په ډېرو احاديثو کې د امانت د رعايت کولو بيان راغلی دی، او د امانت د تقاضاؤو پوره کولو تاکيد سويدی، لکه الله تعالى قرانکريم کې انسانانو ته دا هدايت پيش کړيدی:

..........﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا﴾.(١)

يعني الله تعالى تاسو په دې امر کوي: چې امانتونه تر خپل اهل پورې او هم تر خپلو مستحقينو پورې ورسوئ، او پيغمبر ﷺ خو بيا د امانت په هکله ډېر تاکيد کړيدی، چنانچه په يو حديث کې پيغمبر ﷺ تر دې حده پورې فرمايلي دي:

..........﴿لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ﴾.(٢)

يعني چې په کم چا کې د امانت رعايت نه وي، نو په هغه کې ايمان هم نسته، ګويا د ايمان لازمي تقاضا دا ده: چې انسان به امانتدار وي، او د خيانت کولو څخه به ځان ګوري، لکه په يو بل حديث مبارک کې پيغمبر ﷺ هم د امانت په هکله دا بيان کړيدی:

..........﴿يُطْبَعُ الْمُؤْمِنُ عَلَى الْخِلَالِ كُلِّهَا إِلَّا الْخِيَانَةَ وَالْكَذِبَ﴾.(٣)

په مؤمن کې هر خصلت راتلای سي، او مؤمن پر هر فطرت او طبعيت پيدا کيدای سي، خو مګر خيانت او درواغ دا په مؤمن کې نسي راتلای، يعني مؤمن به خيانت نکوي، او نه به درواغ وايي، چې کم څوک په امانت کې خيانت کوي، او يا په خبرو کې درواغ وايي، نو هغه په کامله طريقه سره صاحب ايمان او مؤمن ندی.

او د دې امت خير او فلاح هم پيغمبر ﷺ د امانت په رعايت کولو کې او د خيانت څخه په ځان ساتلو کې بللې ده، لکه يو حديث مبارک کې راغلي دي، چې پيغمبر ﷺ فرمايي:

---

(١) سورة النساء: آيت نمبر ۵۸

(٢) مسند احمد، جلد نمبر ۳، صفحه نمبر ۱۳۵، حديث نمبر ۱۲۵۶۷

(٣) رواه احمد و البيهقي في شعب الايمان عن سعد بن ابي وقاص ﷺ، حديث نمبر ۲۲۱۷۰

زما په امت کي به همېشه خير، فلاح او کاميابي وي، چي تر څو پوري دوی امانت ته د غنيمت په نظر نه ګوري، او زکوة ته د نقصان په نظر نه ګوري، يعني په امانت کي خيانت نه کوي، او هم زکوة په ښه طريقه ادا کوي.
خو بالفرض که يو څوک د انسان سره خيانت کوي، لا هم د هغه په مقابل کي د انسان لپاره خيانت کول جائز نه بلل کيږي، لکه پيغمبر ﷺ فرمايي:
......... أَدِّ الْأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ﴾.(٢)
چي کم چا امانت درته ايښی وي، هغه ته خپل امانت ورسوه، او کچيري يو چا خيانت درسره کړی وي، نو ته د هغه سره خيانت مکوه.
نو زموږ په دين کي د امانت رعايت کول او هم په هغه کي د خيانت څخه ځان ساتل اهم عمل دی، چي د قرآن په ډېرو آياتو کي او د پيغمبر ﷺ په ډېرو احاديثو کي د هغه ډېر تاکيد راغلی دی.

## جنازه نه کول:

ام المؤمنين حضرت ام سلمه رضي الله عنها يو روايت رانقل کوي: چي يو ځل موږ د پيغمبر ﷺ په خدمت کي حاضر ولو، چي يو جنازه د ده حضور ته راوړل سوه، او ده ته دا عرض پيش سو: چي د دغه جنازې لمونځ ور کړه.
ده مبارک د هغه "ميت" د قريبانو څخه پوښتنه وکړه: چي ايا د ده پر ذمه خو به يو قرضه يا امانت پاته نه وو؟ نو هغو په جواب کي ورته وويل: چي نه، نو ده مبارک د هغه جنازې لمونځ ورکړی.
بيا يوه ورځ يوه بله جنازه راوړل سوه، بيائې د ده څخه د لمانځه کولو غوښتنه وکړه، نو ده هم د هغه د قريبانو څخه پوښتنه وکړه: چي ايا د ده پر ذمه خو به يو قرض يا امانت نه وو، هغو جواب ورکړی: چي هو، د ده پر ذمه قرض او امانت وو، نو ده بيا پوښتنه وکړه: چي ايا ده په ترکه او ميراث کي يو شی پرې ايښی دی؟ هغو جواب ورکړی:

---

(١) ادب الدنيا و الدين، الفصل السابع في بيان المروة: صفحه نمبر ٣٢٥
(٢) ادب الدنيا و الدين، الفصل السابع في بيان المروة: صفحه نمبر ٣٢٥

چي هو، ده پخپله ترکه کي درې(۳) دیناره پرې ایښیدي، نو په دې ځل بیا پیغمبرﷺ د هغه د جنازې لمونځ ور کړی.
دریم ځل بیا د ده حضور ته یو جنازه راوړل سوه، نو ده مبارک بیا د هغه د قریبانو څخه د ده پر ذمه د پاته قرضې او امانت پوښتنه وکړه، نو هغو جواب ورکړی: چي هو پر ده قرضه او امانت پاته دی، نو ده بیا دوی ته وویل: چي ایا په ترکه کي ئې یو شی پرې ایښی دی، هغو ورته وویل: چي نه، هیڅ ئې نه دي پاته سوي.
نو ده د هغه جنازې خلکو ته وویل: تاسو پر خپل ملګري د جنازې لمونځ وکړئ، زه د دغه جنازې د لمانځه ور کولو څخه عذر غواړم.(۱)

## په شهادت قرضه اوامانت نه معافیږي:

او حضرت قتاده ﷺ هم یو روایت رانقل کوي: چي د پیغمبرﷺ حضور ته یو سړی راغلی، او عرض ئې پېش کړی: ای د الله رسوله: ته په دې باره کي څه راته فرمائي: کچیري زه د الله په لاره کي پداسي حال کي شهید سم: چي د ښمن را باندي ډېر سي، او ملګري مي را څخه ولاړ سي، او زه خپله سینه و دوی ته سپر کړم، او بغیر د شاګرځولو د شهادت تر وخته پوري د دوی مقابله وکړم، ایا زما ګناهونه به الله را معاف کړي.
پیغمبرﷺ په جواب کي ورته و فرمایل:
.........إنْ قُتِلْتَ فِي سَبِيلِ اللهِ مُحْتَسِبًا مُقْبِلًا غَيْرَ مُدْبِرٍ كَفَّرَ اللهُ خَطَايَاكَ﴾.
کچیري ته پداسي شان سره معرکه وکړې: چي د ښمن ته خپله شا نه وګرځوې، نو الله تعالی به ستا ټول ګناهونه در معاف کړي، چي کله هغه سړی روان سو، یو څه ولاړی، نو پیغمبرﷺ آواز ورپسي وکړی:
.........إِلَّا الدَّيْنَ﴾. خو ماسوا د قرضې څخه یعني قرضه او امانت الله په شهادت سره هم نه در معاف کوي.
.........كَذَا قَالَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ﴾.
دغه شان ماته د الله څخه دغه خبره جبرائیل امین را رسولې ده.(۲)

(۱) مکاشفة القلوب اردو، صفحه نمبر ۸۰
(۲) فضائل اعمال للمقدسي: حدیث نمبر ۴۵۰

نو شهادت په اسلام كي ډېره لويه مرتبه ده، او الله تعالى د شهيدانو هر قسم گناهونه معاف كوي، خو په امانت كي خيانت كول داسي سنگين عمل دى: چي په شهادت سره هم انسان ته نه معاف كيږي.

**د امانت تصور:**

خو نن زه ستاسو توجه د امانت په باره كي يو خاص خبري ته راگرځوم: هغه دا: چي موږ خو د ټولو شيانو مطلب او مفهوم ډېر محدود بللى وي، لكه زموږ په ذهنو كي د امانت تصور صرف دومره راغلى دى: چي يو سړى يو چا ته پيسي كښېږدي، او ورته ووايي: چي دا امانت در سره كښېږده، زه ئې د ضرورت پر وخت بيرته ستا څخه اخلم، نو دغه امانت دى.

كه هغه سړى په دغه امانت كي خيانت وكړي، او دغه پيسي پخپله وخوري، يا چي كله هغه مالك راغلى، او د ده څخه ئې د پيسو طلب وكړى، نو ده هغه ته د وركولو څخه انكار وكړى، نو دا خيانت دى.

زموږ په ذهنو كي د امانت او خيانت تصور بس دومره دى، د دې څخه مخته نور هيڅ نسته، زه دا منم: چي بيشكه دا هم د امانت يو حصه ده، ليكن د قرآن او حديث په اصطلاح كي امانت تر دغه حده پوري محدود ندى.

بلكه د امانت مفهوم ډېر وسيع او فراخ دى، چي په هغه كي ډېر زيات شيان په امانت كي داخل بلل كيږي، چي د هغه په باره كي ډېر ځله زموږ په ذهنو كي بلكل دا خيال نه راځي: چي دا امانت دى، نو د امانت دغه حقيقت چي انسان و خپل مخته كښېږدي، نو بېشماره شيان په امانت كي داخل بلل كيږي.

**د امانت معنى:**

امانت عربي لفظ دى، او د هغه معنى دا ده: چي په يو معامله كي پر يو چا باندي بروسه او اعتماد كول، نو هر هغه شى چي يو څوک ئې بل چا ته وسپاري، او بيا پر هغه اعتماد او بروسه وكړي، چي دغه سړى د دغه شي حق ادا كوي، دا د امانت حقيقت دى.

لهذا یو کار یا یو شی یا یو خبره چا ته سپارل، او بیا پر هغه باندي اعتماد کول، چي دغه سړی پدغه سلسله کي خپله فریضه په صحیح طریقه ادا کوي، او په هغه کي کوتاهي نکوي، دا امانت بلل کیږي.
نو که اوس د امانت دغه حقیقت انسان و خپل مخته کښېږدي، نو بېشماره شیان پ امانت کي داخلیږي.

## د ټولو څخه لوی امانت:

الله تعالی چي کله په عالم ارواح کي انسانان پیدا کړل، او د هغه انسانانو څخه ئې د: .........﴿أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ﴾. وعده واخیسته، چي ایا زه ستاسو خدای نه یم، او تاسو به زما اطاعت کوئ، او که نه؟ نو ټولو انسانانو هلته د "بَلَی" په لفظ اقرار وکړی، چي هو، ت زموږ رب ئې، او موږ به ستا اطاعت کوو، دغه عهد قرآن کریم د سورة الآحزاب پ آخري رکوع کي د امانت په لفظ ذکر کړی دی، لکه الله تعالی فرمایلي دي:
........﴿إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَ وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا﴾.(۱)
یعني موږ امانت د ټولو څخه مخکي و مځکي ته پیش کړی، او هغه ته مي وویل: چي زه ستا پر ذمه یو امانت ایږدم، که دي ځیري په ښه طریقه د هغه حق ادا کړی، نو جنت او د جنت نعمتونه درکوم.
او که دي په هغه کي قصور او کمی وکړی، او د هغه ذمه واري دي په ښه طریقه نکړ ادا، نو پر تا به زما لعنت وي، او هم به زما تر غضب لاندي راځې، او زندګي به دي پ جهنم کي تیریږي، مځکي چي کله دغضب او لعنت الفاظ واوریدل، نو د هغه امانت د ذمه داری پورته کولو څخه ئې انکار وکړی.
بیا مي دا غه امانت په داغه شکل پر اسمانونو پیش کړی، نو هغه هم انکار وکړی، او بیا مي غرونو ته پیش کړی، نو هغه هم د هغه امانت د قبلولو څخه ځان وکښی، او هم ئې انکار وکړی، ټوله د امانت د بوج پورته کولو څخه وویریدل.

---

(۱) سورة الآحزاب: آیت نمبر ۷۲

ليكن چي كله مي هغه امانت انسان ته پيش كړي، نو هغه په ډېره بهادري سره راوړاندي سو، او دا اقرار ئې وكړي: چي دغه امانت پورته كوم، او د امانت ذمه داري ئې واخيستله.
چنانچه الله تعالى فرمايي: چي دغه انسان ډېر ظالم وو، چي د خپل نفس سره ئې د دومره لوی امانت پورته كولو په ذريعه ظلم وكړی، او هم ډېر جاهل وو: چي د دغه امانت په انجام خبر نه وو، او دا سوچ او فكر ئې نه وكړی: چي په دغه امانت كي پر ما باندي څومره ډيري ذمه داری دي، او كه مي هغه ذمه داری ادا نكړې، نو د څنګه انجام سره به مخامخ كيږم، لكه يو شاعر وايي:

چوں ے گویم مسلمانم بلرزم

کہ میدانم مشکلات لاالہ الااللہ را

چي كله د مسلمانی نوم اخلم، او د امانت ذمه وار ځان بولم، نو زړه مي ريږدي، ځكه د هغه امانت څومره مشكلات دي، د هغه پوره كول ما ته ډېر ګران كار معلوميږي.

## هغه امانت زندګي ده:

بهر حال هغه بوج الله تعالى د امانت په لفظ سره ذكر كړيدی، او دغه امانت څشی وو؟ چي الله تعالى پر انسان د هغه ذمه داري ايښې وه.
چنانچه مفسرينو ليكلي دي: چي دلته د امانت معنى دا ده: چي انسان ته د الله د طرفه دا وويل سو: چي تا ته به يو زندګي دركول كيږي، او په هغه كي به تا ته د ښه كار كولو هم اختيار وي، او د بد كار كولو به هم اختيار وي، چي كله ته ښه كار وكړې، نو زما رضا به دي نصيب وي، او د جنت ابدي او دائمي نعمتو كي به ژوند تيروې.
او كه بد كار وكړې، نو د هغه په وجه به زما د طرفه پر تا باندي غضب وي، او د جهنم په عذابو كي به دي ژوند تيريږي، نو اوس ته راته ووايه: اى انسانه! ايا دغه امانت زندګي درته منظوره ده او كه نه؟
چنانچه ټول مخلوقاتو د دغه امانت د ذمه داری څخه انكار وكړی، ليكن انسان د هغه دپاره تيار سو، لكه حافظ شيرازي رحمۃ اللہ علیہ دغه خبره بيان كړيده:

آسمان بار امانت نتواند کشید قرعہ فال بنام من دیوانہ زد

یعني آسمان دغه بوج نکړی پورته، او انکار ئې وکړی، چي دا زما د وسع خبره نده، لیکن انسان چي شپږ(۶) پوټه بدن ئې دی، هغه د دغه بوج پورته کولو ته سینه وډبوله، او د فال قرعه زما پر نامه ولیکل سوه،بهر حال قرآن کریم دغه زندګي په امانت سره یاد کړېده.

نو د ټولو څخه لوی امانت زموږ سره هغه زموږ زندګي ده، او د دغه امانت تقاضا دا ده: چي دغه زندګي د الله او د هغه د رسولﷺ د احکامو مطابق تیره کړو، او د دغه امانت څخه هیڅوک هم مستثنا نه دی.

او داغه رنګه د انسان ټول اندامونه او اد اندامو ټول قوتونه او د انسان د زندګی ټوله اوقات امانت دي، ایا یو څوک دا ویلای سي: چي زه د دغه خپل لاس مالک یم، یا دغه سترګه چي ماته راکول سوېده، زه د هغه مالک یم، هیڅکله داسي نده.

بلکه دا ټوله اندامونه او قوتونه زموږ سره امانت دي، موږ د هغه مالکان نه یو، چي څنګه مي زړه غواړي: هغسي ئې استعمال کړو، بلکه د دغه اندامو نعمت الله تعالی و موږ ته صرف د یو څو ورځي استعمالولو لپاره راکړیدی.

لهذا د دغه امانت تقاضا دا ده: چي د غه اندامونه او د خپل وجود ټول صلاحیتونه او وقتونه په هغه کار کي صرف کړو، چي د کم کار لپاره الله راکړي دي، که ئې د دې څخه علاوه په نورو کارو کي صرف کړو، نو بیا خو په امانت کي خیانت کونکي بلل کیږو.

## د سترګي نعمت هم امانت دی:

مثلاً سترګه د الله تعالی یو نعمت دی، چي هغه موږ ته راکړیدی، او دا داسي نعمت دی: که یو انسان د ټولي دنیا مال او دولت خرڅ کړي، او دغه سترګه حاصلول وغواړي، هم ئې نسي په حاصلولای.

لیکن زموږ سره د دغه نعمت قدر پدې وجه نسته، چي د پیدائش څخه ونیسې، بیا تر مرګه پوري دغه د لیدلو مشین زموږ په وجود کي الله تعالی لګولی دی، او کار کوي، د هغه په حاصلولو کي نه موږ څه مال او دولت خرڅ کړیدی، او نه څه محنت او تکلیف راباندي تېر سویدی.

لیکن الله دي نکوي! که یو ورځ داسي راسي: او انسان ته دا خطره ورپیښه سي: چي هسي نه زما د سترګي بینائي ختمه نسي، نو په هغه وخت کي بیا د دغه سترګي قدر او قیمت ښکاره کیږي.
اوس دغه د لیدلو مشین الله تعالی بطور امانت موږ ته راکړیدی، او هم ئې دا راته ویلي دي: چي دغه مشین به استعمالوئ، د دې په ذریعه دنیا ووینئ، اود دنیا مناظر و ګورئ، او د هغه څخه خوند واخلئ، او هم دغه مشین په خپلو ضروریاتو کي استعمال کړئ.
لیکن صرف د یو څو شیانو کتلو څخه ئې را منعه کړي یو، چي زما دغه امانت مشین به په دغه شیانو کي نه استعمالوئ: مثلاً دا ئې حکم راته کړیدی: چي د دې په ذریعه به پرنا محرمه ځای باندي نظر نه اچوئ.
اوس که موږ د دغه امانت سترګي په ذریعه د حرام ځای و طرفته نظر وکړو، نو دغه د الله تعالی په امانت کي خیانت جوړیږي، ځکه قرآن کریم د حرام ځای و طرفته نظر کول په خیانت سره ذکر کړیدی، ځکه چي فرمایلي ئې دي:
.........يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ﴾.(۱)
یعني د سترګو خیانت هم الله تعالی ته ور معلومیږي، چي تا دغه سترګه داسي ځای استعمال کړه: چي په هغه ځای کي د استعمال کولو څخه الله تعالی ته منعه کړی وې.
دا داسي ده: لکه یو سړی چي بل چا ته خپل مال بطور امانت کښیږدي، اوس هغه سړی په غلا سره د هغه سړي مال استعمالول غواړي، بعینه داغه معامله ډېر انسانان د الله تعالی د ور کول سوي نعمت سره هم کوي، حالانکه هغه کم نصیبه ته دا نه ور معلومیږي: چي د الله تعالی څخه هیڅ عمل نه سي پټ کیدلای.

## خپل نظر د الله و طرفته اړول:

زه منم! چي د انسان سره شیطان ملګری دی، او د هغه په دوکه انسان په بدنظري کولو کي ډېره ځله انسان راځي، خو زه دا وایم: چي باید انسان خپل نظر په دې سوچ او فکر

(۱) سورة غافر، آیت نمبر ۱۹

را وګرځوي: چي کچیري زه نن بد نظري وکړم، نو د یو عارضي حسن کتلو په وجه به زه د الله تعالی د هغه همیشه حسن او دیدار کولو څخه محرومه پاته سم.
ځکه چي الله تعالی په دنیا کي یو بنده ته حسن ور کړیوي، نو د هغه په مقابل کي به د الله خپله څومره زیات حسن وي، نو د الله تعالی د حسن د دیدار په جذبه خپل نظر د حرام نظر څخه را اګرځول.

## د عبرته ډکه واقعه:

په یو کتاب کي لیکلي دي: چي د مصر په بازار کي چي کله حضرت یوسف علیه السلام خرڅیدی، نو ډېر خلک راتلل، د هغه د حسن تماشا به ئې کوله، او د ده د حسن په وجه به ئې د ده په خریداري کولو کي رغبت ښکاره کاوی.
په هغه خریدارانو کي یو داسي سړی هم راغلی: هغه چي کله د یو سف علیه السلام حسن او جمال ته وکتل، نو دستي ئې د ځان سره ووېل: چي کم ذات ده ته دغه حسن ور کړیدی: د هغه به څومره لوړ شان حسن وي، نو د ده پر ځای باید زه د هغه ذات خریدار ځان جوړ کړم، او ددې لړ ښائسته پر ځای باید هغه ډېر ښائسته ته ځان ورسوم.
نو د خپل کور څخه سیده ځنګله ته ولاړی، او هلته ئې کودل جوړه کړه، او په هغه کي ئې ټوله ژوند د عبادت په شکل تېر کړی، او تر الله تعالی پوري ئې ځان ورساوی.
نو باید انسان د الله تعالی د وصال او دیدار په جذبه او طمعه خپل نظر د حرامو څخه راوګرځوي.

## د یو غله ولایت ته رسېدل:

نو هره ګناه په دې جذبه پرېښول، چي د دې په بدله کي به الله تعالی ما ته د الله تعالی د حقیقي نعمتونو استحقاق راکړي.
موږ او تاسو خو تر اوسه په رشتوني زړه د الله تعالی دیدار ندی کړی، چي کمچا پر رشتوني زړه د الله تعالی دیدار وکړی، زما د خدای په ذات قسم! د هغه و مخته د ټولي دنیا قدر او قیمت د وړدن د دانې سره هم برابر ندی.
مولانا روم رحمة الله علیه د یو غله واقعه رانقل کړېده: چي هغه په غلا کي ډېر ماهر وو، او د خپلي زمانې تر ټولو لوی غل وو، چي هغه به په ډېر مهارت سره د خلکو کورو ته ور

اوبنتي، نه به ئې لاس ماتېدى، او نه به ئې پښه ماتېدله، او د غلا كولو څخه وروسته به صحيح سلامت خپل منزل ته ځان رساوى.

يوه ورځ د بادشاه شاهي محل ته پر يو ديوار ور واوښتى، او د شاهي محل په يو كنج كي كښېناستى، كه گوري بادشاه په نيمه شپه كي د خپلي زناني سره د خپلي لور د رشتې او نكاح كولو خبره كوي.

او ورته وايي: چي زه او ته خو د دغه لور څخه بغير بل اولاد نه لرو، بايد د خپلي لور د نكاح لپاره د يو داسي چا انتخاب وكړو: چي هغه نيک انسان او ذ الله يو "ولي" وي، او هم د دنيا څخه بې زاره انسان وي، نو په دنيا كي به هم زموږ د حكومت "وليعهد" وگرځي، او زموږ څخه وروسته به دغه حكومت په ښه طريقه وچلوي، او د مرگ څخه وروسته به هم زموږ لپاره د نجات ذريعه وگرځي.

مولانا روم رحمة الله عليه ليكلي دي: چي هغه غله په تياره كي هغه ټولي خبري واوريدلې، او په پټه سره بغير د غلا كولو د بادشاه د دربار څخه راواوښتى، دستي ځنگله ته ولاړى، كوډل ئې جوړه كړله، او د دنيا څخه د يو بې زاره عابد په شكل ئې عبادت شروع كړى، او طمعه ئې داده: چي د بادشاه پر معيار به برابر سم، نو گوندي د لور نكاح به زما سره وكړي، او هم به د ده څخه وروسته دغه بادشاهت مالره په لاس راسي.

لږزمانه بعد په خلگو كي مشهوره سوه، چي دلته يو عابد اوسيږي، او د دنيا څخه ډېر بې زاره دي، او د الله تعالى ډېر لوى "ولي" معلوميږي، او دغه خبره د بادشاه تر غوږه پوري هم ورسيدله.

بادشاه يوه ورځ د خپلي زناني سره د هغه كوډلي ته راغلى، كه ورته گوري، چي دى د نوجوانى په زمانه كي د الله په عبادت كي ډېر زيات مشغوله دى، او د آخرت په فكر كي مبتلا دى، او د دنيا و طرفته ئې هيڅ توجه نه راگرځي.

بادشاه او د هغه د كور زناني چي كله دى وليدى، نو دى د هغه پر معيار پوره برابر وو، نو دستي ئې دا فيصله سره وكړه: چي د خپلي لور نكاح به د دغه عابد سره كوو، او د خپلي بادشاهي به ئې "وليعهد" جوړه وو.

دوهمه ورځ بادشاه د خپلي زناني سره د هغه کوډلي لره راغلی، چي ډېر زيات نعمتون
او ښائسته لباسونه هم ور سره دي، او ده ته ئې دا پيشکش وکړی: چي موږ د خپلې
لور نکاح ستاسره کوو، او ته به زموږ د بادشاهی "وليعهد" جوړېږې.

ده چي کله د بادشاه خبره واوريدله، نو په سترګو کي ئې اوښکي راغلې، او بادشاه ته
ئې د خپل حال حقيقت بيان کړی، چي کمه شپه تاسو دواړو مشوره کوله، په هغه وخت
کي زه ستاسو محل ته د غلا کولو لپاره در اوښتی وم، او ستاسو ټولي خبري مي
واوريدې، او ستا د لور سره د نکاح په لالچ ما غلا پرېښووله، او دلته راغلم، او پدې
طمعه مي دلته عبادت شروع کړی: چي ستا د لور سره به مي نکاح ګوندي نصيب سي
او ستا د بادشاهت مالک به جوړ سم.

ليکن ما چي کله عبادت شروع کړی، نو په هغه عبادت کي ما ته د الله تعالی الوهيت
او خدائي راښکاره سوه، اوس زه ستا د لور د نکاح او د بادشاهت هيڅ ضرورت نلرم
نو صفا جواب ئې ورکړی، چي زما اوس و هيڅته ضرورت پاته ندی، د خدای په خاطر
تاسو زما څخه ولاړ سئ، زما او زما د رب په درميان کي حائل مه جوړېږئ، لکه حافظ
شيرازي رحمۃ اللہ علیہ هم دا حقيقت بيان کړيدی:

زانکه که یافتم خبر از ملک نیم شب
من ملک نیم روز بیک جو نمی خرم

چي کله الله تعالی زه د نيمي شپې د دولت سره اشنا کړم، نو اوس د نيم روز ټوله
حکومت په يوه وربشه هم نه اخلم.

نو الله تعالی د سترګو خيانت ډېر لوی جرم او ګناه ګرځولې ده، او پيغمبر صلی اللہ علیہ وسلم پر هغه
باندي ډېر وعيدونه بيان کړيدي.

کچيري انسان د دغه امانت سترګي استعمال په صحيح ځای کي وکړي، نو بيا خو به
پر ده باندي د الله تعالی رحمتونه رانازليږي.

لکه په حديث شريف کي راځي: کچيري يو سړی د بهار څخه خپل کور ته راسي، او په
کور کي خپلي زناني ته د محبت په نظر وګوري، او زنانه ده ته د محبت په نظر وګوري،
نو پدې وخت کي الله تعالی دوی دواړو ته د رحمت په نظر ګوري.

ځکه ده د دغه امانت حق ادا کړی، او هم ئې په صحيح محل کي استعمال کړی، که څه هم د ده ذاتي لذت او فائده هم پکي وله، مګر چونکه د الله تعالی د حکم سره مطابق د استعمالولو پخاطر پر ده د الله تعالی رحمت راغلی.

## غوږ هم امانت دی:

الله تعالی انسان ته اماناً غوږونه د اوریدلو لپاره ور کړیدي، کچیری انسان په دنیا کي دغه امانت صحيح طریقه استعمال کړي، یعني د الله تعالی د امر مطابق په دوی باندي اوازونه واوري، نو ددې په عوض کي به الله تعالی په دوی باندي په جنت کي د حورو آوازونه د داوُد علیه السلام، د پیغمبر ﷺ، او هم به الله خپل آواز په دوی باندي اوروي.

لیکن کچیري غوږونه غلط استعمال سي، یعني انسان پدغه امانت کي خیانت وکړي، په هغه باندي موسقي، سروزونه، او غلط آوازونه، او د غیبت او درواغو خبری واوري، نو بیا خو به په دغه امانت کي د خیانت کولو سزا په جهنم کي پدې شکل وي: چي په دغه غوږو کي به د جهنم ویلي سوې "سرف" (تانبه) تویول کیږي.

## ژبه هم امانت دی:

ژبه هم د الله تعالی یو داسي نعمت دی: چي انسان ته ئې امانت ور کړیدی، او هم ئې انسان ته دا امر کړیدی.

......یَابْنَ آدَمَ جَعَلْتُ لَکَ لِسَاناً وَ جَعَلْتُ عَلَیْهِ بَاباً﴾.

ای انسانه! ما تاته ژبه اماناً در کړیده، او پر هغه باندې مي دروازه جوړه کړیده.

......فَانْطِقْ بِلِسَانِکَ مَا اَحْلَلْتُهُ لَکَ، وَ اِلَّا فَاغْلِقْ عَلَیْهِ الْبَابَ﴾.

ته دغه امانت صحيح استعمال کړه، یعني چي کمي خبري تاته روا دي، هغه په ژبه کوه.

کچیري د نا جائزو خبرو ځای راغلی، نو دا په دغه امانت کي د خیانت ځای دی، نو بیا د خیانت څخه ځان و ګوره، او پر خپله ژبه هغه دروازه چي د شونډانو په شکل ده، رابنده کړه، که دي چیري د ناجائزو خبرو په وخت کي ژبه محفوظه نکړه، نو بیا خو په امانت کي خیانت دی، چي د هغه سزا به الله تعالی درکوي.

دا خو صرف د اندامو خبره سوه، حالانکه په حقیقت کي زموږ ټوله وجود او ټوله جسد د الله تعالی امانت دي، د بعض خلکو دا خيال وي: چي دا جسد زموږ خپل دی، نو چي څه کوو باید هغه په وکړو.
حالانکه داسي نده، بلکه دغه جسم ټوله د الله امانت دی، چي یو څو ورځي ما او تاته راکول سویدی، نو ځکه زموږ په شریعت کي خود کشي(ځان وژنه) کول حرام دي، کچیري دغه بدن زموږ خپل وای، نو بیا به خود کشي ولي حرامه وای.

## په منصب او عهده کي خیانت:

داغه رنګه په معاشره کي چي د انسان پر ذمه باندي کمي ذمه واري راسي، هغه که د حکومت وي، یا د یو بلي اداري وي، یا د یو جامعې او مدرسې وي، دا هم ټوله په امانت کي بلل کیږي، کچیري انسان پدي کي قصور او کوتاهي وکړي، نو دی به د خیانت مرتکب ګرځي.
نن خو پر موږ باندي یو بلا مسلطه ده، کچیري د یو چا په یو حکومتي اداره کي کار پیدا سي، نو بیا خو پر ده باندي قیامت جوړ وي، او هغه د ده کار په آساني سره نه کیږي، بار بار به دی پر دفترو ګرځي، کله خو هغه "صاحب منصب" پر ځای نه وي، کله و ده ته دا ویل کیږي: چي هغه مصروفه دی، ستا کار نن نسي کیدای، نو صبا به راځې، او چي کله صبا راسي، نو بل صبا ته ئې اړوي.
د هغه وجه داوي: چي د هغه انسانانو په ذهنو کي دخپلي ذمه واری احساس او د امانت احساس ختم سویوي.

## زموږ د اکابرو د امانت احساس:

حالانکه که یو چا ته منصب او عهده ور کول سي، نو هیڅ د منفعت او ګټي خبره نده، او نه د ده لپاره د ګلانو ګیدۍ ده، چي په غاړه ئې سي، بلکه دا د ذمه داریو رسۍ ده، چي دده په غاړه کي ولویږي، او هم به د قیامت په میدان کي د دې متعلق د ده څخه پوښتنه کیږي.

## د حضرت عمر ﷺ د امانت احساس:

چنانچه حضرت عمر ﷺ چي د عشرو مبشرو یو فرد دی، او د پیغمبر ﷺ څخه ئې د جنت زیري اوریدلي دي، بیا به هم دومره احساس ور سره وو، او همېشه به ئې داویل: کچیري د "دریاب فرات" پر کناره باندي یو سپی هم د لوږي او تندي څخه مړ سي، نو زما سره دا ېره وي: چي د قیامت په ورځ به زما څخه دهغه سوال کیږي، چي ای عمره! ستا د خلافت په زمانه کي فلان سپی ولي د لوږي او تندي څخه مړ سو؟

په روایاتو کي راځي: چي کله پر حضرت عمر ﷺ باندي د قتل حمله وسوه، او دی سخت زخمي سو، نو یو څه صحابه کرام د ده خدمت ته راغلل، او عرض ئې ورته پیش کړ: چي حضرت! ته خو د دنیا څخه رخصت اخلې، نو د خپل ځان لپاره یو خلیفه او جانشین مقرر کړه، چي ستا څخه وروسته هغه د حکومت چاري پر مخ بوزي.

بعضو حضراتو دا تجویز پیش کړ: چي ته خپل صاحب زاده حضرت عبدالله بن عمر د خپل ځان څخه وروسته د حکومت لپاره خلیفه مقرر کړه، چي ستا دوفات څخه وروسته هغه خلیفه جوړ سي، حضرت عمر ﷺ په جواب کي ورته وفرمایل: چي زه به داسي سړی څنگه د دې دومره حکومت لپاره خلیفه جوړ کړم: چي هغه خپلي زناني ته په صحیح طریقه په طلاق ور کولو باندي نه پوهیږي.(١)

واقعه داسي وه: چي د پیغمبر ﷺ په زمانه کي یو ځل حضرت عبدالله بن عمر ﷺ وخپلي زناني ته د حیض په حالت کي طلاق ور کړی وو، او مسئله دا وه: چي کله زنانه د حیض په حالت کي وي، نو په دغه وخت کي دې ته طلاق ور کول شرعاً جائز نه دي، حضرت عبدالله بن عمر ﷺ ته دا مسئله معلومه نه وه.

چي کله پیغمبر ﷺ پدې خبر سو، نو ده ته ئې وویل: چي دا دي غلط عمل کړیدی، نو اوس واپس رجوع ورته وکړه، او بیا که دي طلاق ور کاوی، نو د پاکۍ په حالت کي طلاق ور کړه.(٢)

حضرت عمر ﷺ د دغه واقعې و طرفته اشاره وکړه، چي تاسو داسي سړی خلیفه کول غواړئ: چي هغه ته د خپلي زناني طلاق ور کول په صحیح طریقه نه ور معلومیږي.

---

(١) تاریخ الخلفاء للسیوطي، صفحه نمبر ١١٣
(٢) تاریخ الخلفاء للسیوطي: صفحه نمبر ١١٣، و تاریخ الطبري: جلد نمبر ٣، صفحه نمبر ٢٩٢

د هغه څخه وروسته حضرت عمر ﷺ هغه حضراتو ته دوهم جواب دا ورکوي: چي خبره په حقيقت کي دا ده، چي د خلافت د بوج ذمه او رسۍ د "خطاب"(چي د عمر ﷺ د پلار نوم وو) په اولاد کي د يوه سړي و غاړه ته ولويدله، نو هم کافي ده، چي مراد ئې خپل ځان وو، چي يعني تر دوولس(۱۲)کالو پوري دغه رسۍ زما په غاړه کي وه، هغه کافي ده، اوس زه د دغه خاندان د بل فرد په غاړه کي دغه رسۍ او ذمه داري اچول نه غوارم، ځکه چي هيڅ معلومه نده، چي کله د الله تعالی و مخ ته زما څخه د دغه ذمه دارۍ د پوره کولو حساب اخيستل کيږي، په هغه وخت کي به زما څه حال وي.(۱)

حالانکه حضرت عمر ﷺ د پيغمبر ﷺ د ژبي څخه ډيري خوشخبرۍ اوريدلي وې، کله به ئې ويل: چي عمر زما په صحابه وو کي داسي څوک دی:

.........﴿لَوْكَانَ مِنْ بَعْدِيْ نَبِيٌّ لَكَانَ عُمَرُ﴾.(۲)

کچيري زما څخه وروسته نبي راتلای، نو عمر به وای، او کله به ئې ويل: چي پر کمه لار باندي عمر تيريږي، نو شيطان هغه لار پريږدي، او چي په کمه فيصله کي به عمر رايه پيش کړه، نو پيغمبر ﷺ به ويل:

..........﴿كَانَ رَأْيُهُ مُوَافِقاً بِالْوَحْيِ وَالْكِتَابِ﴾.

د ده رأيه به همېشه د وحي او کتاب سره موافقه وه، ليکن د داغه باوجود الله تعالی و مخته د حساب او کتاب پيشولو، او د امانت صحيح استعمالولو دومره زيات احساس ور سره وو.

کله به ئې ويل: چي د قيامت په ورځ د دې امانت د حساب په نتيجه کي کچيري سر په سر هم خلاص سم، چي زما پر ذمه ګناه نه وي، او نه ثواب وي، او زه "اعراف"(چي جنت او د جهنم په درميان کي يو علاقه ده، او په هغه کي هغه کسان وي: چي ګناه او ثواب ئې سره برابر وي) ته واستول سم، هم زما لپاره کافي ده.

---

(۱) تاريخ الطبري، جلد نمبر ۳، صفحه نمبر ۲۹۲

(۲) مسند احمد: حديث نمبر ۱۶۷۶۴

نو دا په حقیقت کي د هغه امانت او ذمه داري احساس وو: چي الله تعالی د هغو په زړو کي پیدا کړیوو، کچیري د دغه احساس یو کوچنی ذره الله تعالی زموږ په زړو کي پیدا کړي، نو بیا خو به زموږ ټولي مسئلې حل سي.

## د حضرت عمر ﷺ او د یوې بوډۍ عجیبه واقعه:

حضرت عمر ﷺ یو ځل د یو څو ورځو لپاره شام ته راغلی، د یو څه زمانه تیرولو څخه وروسته واپس "مدینې منورې" ته راورسیدی.
په "مدینه منوره" کي چي کله د سفر څخه وروسته اوله شپه وه، نو د ځان سره ئې فکر وکړی: چي زه به یو ځل د "مدینې" په کوڅو کي ګشت وکړم، چي د خلګو حال ځان ته معلوم کړم، چي پر هغو باندي په کم حال کيَ ژوند تیریږي.
نو حضرت عمر ﷺ په ګشت باندي یوازي په شپه کي راوواتی، نه یو غلام ور سره دی، او نه یو د سفر رفیق او ملګری ور سره سته، که ګوري د "مدینې منورې" په یو طرف کي خیمه ولاړه ده، چي کله نزدې ورغلی، نو د هغه خیمې په دروازه کي یو بوډۍ زنانه ناسته ده، نو ده سلام ور ته ووایي، او د هغه څخه وروسته ئې پوښتنه ځني وکړه:
موري! څنګه حال دی؟ هغې جواب ورکړی: چي ښه حال دی.
هغه بوډۍ د ده څخه پوښتنه وکړه: چي سړیه! د عمر(امیر المؤمنین) خو یو څه حال راکړه: چي هغه څنګه سو؟ ده په جواب کي ورته وویل: چي هغه پخیریت سره د سفر څخه واپس "مدینې منورې" ته راورسیدی.
بوډۍ ورته وویل: چي زما د طرفه خو دي الله تعالی ده ته هیڅ د خیر بدله نه ور کوي،
حضرت عمر ﷺ چي کله دا واوریدل، نو ډیر و ویریدی، پوښتنه ئې ځني وکړه: چي موري! څه سویدي؟ او څه پیښه ده؟ چي ته دومره ځني ناراضه ئې؟
هغه بوډۍ په جواب کي ورته وویل: چي د کم وخت څخه دی پر سفر تللی دی، و ماته د بیت المال څخه یو دراهم او دینار ندی راکول سوی، نو دی زموږ رعیت هیڅ خیال نه ساتي.
دی ورته وایي: موري! عمر ته څه معلومه ده: چي ته په کم حال کي ئې، هغې جواب ورکړی: چي امیر المؤمنین دی، او هغه ته دا معلومات نسته: چي زما په رعیت کي د

انسانانو ژوند څنګه تیریږي؟ ده چي کله دا واوریدل: نو په زړه کي ئې د ځان سره وویل:

..........وَا عُمَرَاهُ! كُلُّ وَاحِدٍ اَفْقَهُ مِنْکَ يَا عُمَرُ).

ای عمره! نن څو هر ښځه تر تا زیات سمجدار او هوښیار دی.

نو هغه بوډۍ داسي خبره ورته وکړه: چي دا څنګه کیدای سي: چي یو طرفته د امير المؤمنين پر منصب ناست دي، او بيا دا وايي: چي ما ته معلومات نسته، بايد ده ته خو هر څه معلوم سي.

اوس حضرت عمر ﷺ هلته ور سره کښيناستی، او د بوډۍ سره ئې د يو طرفه او بل طرفه خبري شروع کړې، او ورته وايي: بوډۍ موري! زما خو پر عمر زړه وسوزي، چي هغه ته هيڅ معلومه نده، او ته د هغه څخه دومره زياته ناراضه او د حق مطالبه کوئکي ئې، دې وويل: چي زه د حق د مطالبې کولو بغير نه سم پاته کيدای.

حضرت عمر ﷺ هغه بوډۍ ته په ډېر منت او عاجزي کي وايي: چي موري! تر ننه پوري چي تا ته کم تکليف رسيدلی دی، او ستا حق تلف سويدی، دغه حق تلفي که زه دعمر د طرفه ستا څخه رانيول وغواړم، نو ته ئې پر ما خرڅولا سې؟ بوډۍ جواب ورکړی: چي ايا حق تلفي هم يو داسي شی دی: چي خرڅيږي؟

دی ورته وايي: چي خرڅيدل او نه خرڅيدل، خو جلا خبره ده، ته ماته دا ووايه: ته دغه خپله حق تلفي او مظلوميت پر ماباندي خرڅوې؟ هغې ورته وويل: هيڅ کله نه.

په کتابو کي ليکلي دي: چي د ډېري زياتي عاجزۍ او منتو پيشولو څخه وروسته هغه بوډۍ ئې دې ته تياره کړه: چي هغې وويل: چي هو، زه خپل مظلوميت پر تا خرڅوم، اوس په څومره ئې خرڅوې، د پنځويشت(۲۵) دينارونو په بدله کي يعني زه به تاته پنځويشت ديناره درکړم، ته به هغه خپل مظلوميت او حق تلفي پر ما خرڅه کړې، چي ته ئې د عمر په مقابله کي حقداره ئې، هغې هم دا خبره ور سره قبوله کړه.

چنانچه حضرت عمر ﷺ د هغه بوډۍ سره د دغه خبري پر فيصله کولو شروع دی، پدې دوران کي حضرت علي ﷺ او حضرت عبدالله بن مسعود د ده په تلاش کي را وتلي دي، او په ده پسي ګرځي.

چي کله هلته راورسیدل: نو د لیري څخه ئې دی ولیدی، نو د هغه ځای څخه ئې ورته وویل:

.........اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ یَا اَمِیْرَ الْمُؤْمِنِیْنَ﴾.

حضرت عمر ﷺ په "وعلیکم السلام" جواب ورکړی، بوډۍ چي کله د امیر المؤمنین نوم واوریدی، نو ډیره په وهم او ویره کي سوه، دځانه سره په زړه کي وایي:

.........وَا خَسْرَتَا! شَتَمْتُ الْاَمِیْرَ فِيْ وَجْهِهٖ﴾.

ای زما کم قسمتی! ما خو امیر المؤمنین ته مخامخ شکنځل وکړل، نه معلوم چي اوس به زما سره څه کیږي.

حضرت عمر ﷺ هغه زناني ته وویل: چي زما او ستا خو سودا سوې ده، اوس به ته پر خپله خبره دریږې، او تا خپله حق تلفي او مظلومیت پر ما خرڅ کړیدی، زناني ورته وویل: صحیح دی.

حضرت عمر ﷺ قلم راواخستی، او د کاغذ تلاش ئې وکړی، لیکن کاغذ په لاس نه ورغلی، په کتابو کي لیکلي دي: چي حضرت عمر ﷺ د خپلي لمن یو حصه پرېکړه، او پر هغه باندي ئې دا عبارت ولیکی:

چي "عمر" د یو زناني څخه د هغې چي کمه حق تلفي سوېده، د هغه وخت څخه چي "عمر" "امیر المؤمنین" جوړ سویدی، یا د شام په سفر تللی دی، تر اوسه پوري هغه ټوله حق تلفي او مظلومیت په پنځویشت(۲۵) دیناره رانیوی.

او دغه زنانه د قیامت په ورځ د الله تعالی په مخ کي پر حضرت عمر ﷺ باندي د حق تلفي او مظلومیت دعوه نسي دائره کولای، او عمر د هغه دعوې څخه بري او خلاص دی.

.........وَ شَهِدَ عَلَی ذَالِکَ عَلِيِ اِبْنُ اَبِي طَالِبِ وَ عَبْدُاللهِ اِبْنُ مَسْعُوْدِ﴾.

او پر هغه باندي ئې ګواهان حضرت علي ﷺ او حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ دواړه جوړ کړل، نو عبارت حضرت عمر ﷺ ولیکی، او ګواهان ئې هم دوه صحابه ور باندي جوړ کړل، او پنځویشت(۲۵) دیناره ئې هغه زناني ته حواله کړل، کورته راغلی.

لیکن د هغه باوجود د حضرت عمر ﷺ زړه بلګیږي، او ډیر د خوف په حالت کیدی، ځکه چي په ابتداء کي هغه زناني ده ته ویلي وو: چي زه به د قیامت په ورځ د عمر څخه خپل حق طلب کوم.

نو د ویري او خوف په حالت کي ئې خپل بچی حضرت عبدالله بن عمر ﷺ راطلب کړی، ورته وایي: ای بچیه!

.........إِذَا مَاتَتْ عَيْنَايَ فَاجْعَلْهَا لِيْ كَفَنِ أَلْقَى بِهَا رَبِّيْ﴾.[1]

چي کله زه وفات سولم، نو دغه د لمني ټکړه به چي پر هغه دغه معاهده لیکلې ده، زما په کفن کي دننه په قبر کي راسره کښېږدي، چي زه ئې صبا بطور حجت د رب د ملاقات په وخت کي هغه ته پیش کړم.

نو چي کم چا ته پخپل امانت کي د خیانت کولو احساس وو، نو هغو به خپله ذمه داري په دغه شکل پوره کوله، او که به په ذمه واري کي د کوتاهۍ احساس ورته وسو، نو بیا به په دغه شان ویریدل، او هم به ئې د خپلي ذمې د فراغت هر ممکن کوشش کاوی.

الله تعالی دي زموږ په دماغو کي د امانت سر ته رسولو احساس پیدا کړي، او چي کم امانتونه زموږ پر ذمه دي همدي د هغه په ښه طریقو سر ته رسولو توفیق را نصیب کړي، او الله تعالی دي دغه مذاکره زموږ د قیامت د ورځي د نجات او خلاصون ذریعه وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

(1) اعلام الناس، جلد نمبر۱، صفحه نمبر۱

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیه)

# د امانت صورتونه

(بیان)

مولوی **اطیع الله** صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ **کلیم الله** صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــــرير | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كـليم الله صاحب |
| مـقـــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشـــاعــت | اول |
| تـاريـــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: «آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ».(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْمِ وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! په تيرو جمعو کي ما ستاسو په حضور کي د پيغمبر ﷺ يو حديث مبارک پيش کړی وو: چي په هغه کي ده مبارک د نفاق دري (۳) علامات او خصلتونه بيان کړي وو، چي په هغه کي اول خصلت دا وو:

- د مجلس کولو په دوران کي درواغ ويل.
- دوهم خصلت: د وعدي مخالفت کول.
- او دريم خصلت: په امانت کي خيانت کول.

د دې دريم خصلت چي په امانت کي خيانت کول دي، په تير وعظ کي ما په تفصيل سره خبره وکړه، نن زه صرف د هغه خبري تکميل کوم، الله تعالی دي زموږ د غه مجلسونه په خپل دربار کي قبول وګرځوي.

---

(۱) سورة الآخزاب، آيت نمبر ۷۲

(۲) صحيح البخاري: حديث نمبر ۳۳

ما ستاسو وحضور ته دا تذکره کړې وه: چې د امانت مفهوم زموږ او ستاسو په ذهنو کي ډېر محدود دی، چې بس یو چا تاته پیسې اماتاً کښېښوولې، چې کله ئې د ضرورت پر وخت د خپلو پیسو غوښتنه وکړه، تا هغه ته ورکړې، نو دا امانت ادا کول دي، او که دي ورنه کړې، نو دا په امانت کي خیانت کول دي.

لیکن د شریعت په اصطلاح کي د امانت مفهوم او معنی ډېره وسیعه او فراخه ده، چې په هغه کي داسې اعمال داخلیږي، چې زموږ او ستاسو په ذهنو کي هیڅ کله د هغه شکل امانت نه وي.

## لوی امانت:

ما په تیر وعظ کي دا خبره ښکاره کړې وه: چې د ټولو څخه لوی امانت: د انسان زندګي او ژوند دی، چې د دغه امانت پوره کولو وعده انسانانو په "عالم الارواح" کي د الله تعالی د "اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ" په جواب کي د "بَلٰی" په ویلو سره کړې وه.

او داغه رنګه چې د انسان د بدن څومره اندامونه دي، که لاسونه دي، که پښې دي، که سترګي دي، که غوږونه دي، که ژبه ده، که نور اندامونه دي، دا هم ټول د الله تعالی امانت بلل کیږي.

داغه رنګه د انسان د بدن چې څومره قوتونه دي، هغه که د لیدلو قوت دی، او که اوریدلو قوت دی، او که د ویلو قوت دی، که شهواني قوت دی، او که جسماني قوت دی، دا هم ټول د الله تعالی امانت دي.

او هم د انسان د زندګی چې څومره دورونه دي، که د ځوانی زمانه ده، او که بوداوالي وخت دی، که د پاخه عمر زندګي ده، او که د کچه عمر ژوند دی، او چې څومره د الله د طرفه انسان ته مال او دولت ور کول سوی دی، او که علم او پوهنه ده، هم ټول د الله تعالی په امانت کي شمارل کیږي.

که چیري دغه زندګي او اندامونه او قوتونه د الله تعالی د امر سره مطابق استعمال سي، یعني د شریعت او دین د احکامو په پرځای کولو کي استعمال سي، نو بیا خو د امانت په ښه طریقه ادا کول بلل کیږي.

او خدای ناخسته که د انسان څخه په زندګي کي یا د اندامو او قوتونو په استعمال کي تجاوز او سرکشي وسي، یعني د شریعت او د دین مطابق دغه زندګي تیره نه سي، او نه اندامونه او قوتونه د شریعت مطابق استعمال سي، نو بیا خو دا د انسان په امانت کي خیانت بلل کیږي، او هم به د انسان څخه د الله په حضور کي د دې پوښتنه کیږي، لکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

﴿.........لَا تَزُولُ قَدَمَا الْعَبْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ أَرْبَعِ خِصَالٍ: ﴾.

یو بنده به د قیامت په میدان کي د یو قدم پورته کولو اجازت نه ولري، چي تر څو پوري ئې د الله تعالی د څلورو (۴) پوښتنو جواب پیش کړی نه وي.

- ﴿.........وَعَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ﴾. ماخو تاته عمر او زندګي درکړې وه، یا لږ یا ډېره، هغه زندګي په څه کي درباني تیره سوه، یعني چي په هغه زندګي کي ماته د شریعت په څومره احکامو باندي مکلف ګرځولی وې، هغه دي څومره پر ځای کړل، او چي د کمو کارو څخه مي منعه کړی وې، د هغه څخه دي څومره درجه پرهیز وکړی.
- ﴿.........عَنْ شَبَابِهِ فِيمَا أَبْلَاهُ﴾. او په عمر کي بیا ما تاته هغه د قوت زمانه در کړې وه، چي هغه ستا د زندګی بهار بلل کیدی، چي ستا د بدن ټوله قوتونه ډېر په شباب کي وو، او وخت دي څنګه تیر کړی.
- ﴿.........وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَا أَنْفَقَهُ﴾. او ما تاته مال او دولت در کړی وو، چي ستاسره یو څو ورځي امانت وو، ایا تا هغه امانت په کم شکل استعمال کړی، او ترکمه حده پوري دي په هغه کي د خیانت څخه پرهیز وکړی.
- ﴿.........وَعَنْ عِلْمِهِ كَيْفَ عَمِلَ فِيهِ﴾.(١) او هم مي تاته علم در کړی وو، چي د هغه په ذریعه باندي تاته حلال او حرام در معلومیدل، او هم دي جائز او ناجائز سره پیژندل، تر کمه حده دي حلال استعمال کړل، او تر کمه حده پوري دي د حرامو څخه پرهیز وکړی.

(١) مصنف ابن ابي شیبة، حدیث نمبر ۳۴۶۹۴

نو دا ټول د الله تعالی د طرفه امانتونه دي، چي انسان ته ور کول سویدي، نو چي
څو پوري د قیامت په میدان کي انسان د دغه امانتونو جواب د الله په حضور کي پیا
کړی نه وي، نو تر هغه وخته پوري انسان ته د قدم اخستلو او د الله تعالی د حض
څخه د تیریدلو اجازت نه وي.

## منصبونه ټول امانت دي:

داغه رنګه چي کله یو سړي ته یو منصب ور کول سي، لوی منصب وي، او که کوچ
منصب وي، حکومتي منصب وي، او که شخصي منصب وي، د یو دیني ادار
منصب وي، او که د عصري اداري منصب وي، نو دا ټوله امانت دي.
مثلاً یو سړی یو ځای د یو اداري ملازمت او نوکري ونیسي، په هغه کي د ده د ه
اداري د مسئولینو سره د اتو(۸) ساعتو وخت ورکولو معاهده وسي، او د هغه
عوض کي ده ته یو خاص مقدار اجرت او تنخواه مقرره سي.
نو اوس دغه اته(۸) ساعته وخت ده پر هغه اداره باندي خرڅ کړی، او دغه وخت د
سره د هغه اداري امانت دی، چي د کمي اداري ده ملازمت نیولیدی، نو اوس که ده
دغه اتو(۸) ساعتو کي یوه د قیقه په یو داسي کار کي صرف کړی؛ چي په هغه کي
هغه اداري د مسئولینو د طرفه ده ته اجازت نه وو، نو دا په امانت کي خیانت سو.
مثلاً د ده د کار وخت روان وي، په دې دوران کي ده ته دوستان او ملګري راسي،
دی د هغه سره په مجلس کي کښیني، خبري وي، مجلس وي، او دغه وخت په هغه ک
پر ده باندي تیریږي، حالانکه دغه وخت خو ده خرڅ کړی وو، او د ده سره امانت وو، ا
ده ټوله په خبرو او مجلسو کي تېر کړی، نو دا په امانت کي خیانت سو.
تاسو په دې کي لږ غور او فکر وکړئ! چي موږ انسانان څومره غافله یو، چي یو طر
مو اوقات اداروته د ملازمت په شکل کي ور کړیدي، او د هغه عوض هم اخلو، د هغ
باوجود هغه وختونه په نورو کارو کي صرف کوو، نو دا په امانت کي خیانت وي، او
هغه نتیجه دا وي: چي د میاشتي په آخر کي چي کمه معاوضه او تنخواه موږ ته راکو
کیږي، او په هغه زما او زما د بچیانو نفقه برابریږي، او هغه په حقیقت کي حلاله ن
وي.

او د خپل ځان او بچیانو نفقه حرامول ډېره خطرناکه عمل بلل کیږي، ځکه د پیغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:

......... مَنْ اَكَلَ لُقْمَةً مِنَ الْحَرَامِ لَمْ يُقْبَلِ اللهُ تَعَالَى مِنْهُ صَلَاةَ اَرْبَعِيْنَ يَوْمًا﴾.(۱)

چي کم چا د حرامو یوه گوله و خوړله، الله تعالی څلويښت(۴۰) ورځي د هغه لمونځ نه قبلوي.

او په یو بل حدیث کي پیغمبر ﷺ داسي هم فرمايي:

......... مَنِ اكْتَسَبَ مَالًا حَرَامًا، لَمْ يَقْبَلِ اللهُ مِنْهُ صَدَقَةً، وَلَا عِتْقًا، وَلَا حَجًّا، وَلَا عُمْرَةً، وَكَانَتْ لَهُ بِقَدْرِهِ اَوْزَارًا، وَمَا بَقِيَ مِنْهُ بَعْدَ مَوْتِهِ كَانَ زَادُهُ إِلَى النَّارِ﴾.(۲)

چي کم چا حرام مال راجمع کړی، الله تعالی نه دده صدقه قبلوي، او نه غلام آزادول او نه ئې حج او عمره قبلوي، او چي څومره مال ئې جمعه کړی وي، د هغه مقدار گناهگاره دی، او چي څومره مال د ده د مرگ څخه وروسته پاته سي، نو هغه به دده د جهنم توښه وي.

## زموږ د سلفو معمول:

زموږ په دې نږدې سلفو کي د "دارالعلوم دیوبند" استاذان داسي انسانان تیر سول: چي د هغو په ذریعه به په حقیقت کي الله تعالی انسانانو ته د صحابه کرامو یاد ورتازه کاوی.

د هغو تنخواه به لس(۱۰) روپۍ یا پنځلس(۱۵) روپۍ ماهانه وله، چي کله به د دوی تنخواه مقرره سوه، او دوی به خپل اوقات پر مدرسه باندي خرڅ کړل، بیا خو به د دوی دا معمول وو: کچیري د مدرسې په اوقاتو کي میلمه یا دوست د ملاقات لپاره راغلی، نو چي کم وخت به میلمه دوی ته راغلی، نو فوراً به ئې ساعت ته کتل، او هغه وخت به ئې لیکی.

(۱) مسند الفردوس دیلمي از حضرت ابن مسعود، اتحاف السادة: ۸۱۶ بحواله بحر الدموع، صفحه نمبر ۲۵۳
(۲) بحر الدموع، الفصل الثاني و الثلاثون، صفحه نمبر ۱۴۴

او بیا به ئې ژر ژر هغه میلمه رخصت کاوی، چي کم وخت به میلمه روان سو، نو د ساعت هغه وخت به ئې هم لیکی، نو ټوله میاشته به ئې د میلمه په راتللو کي دغه معمول وو.

چي کله به میاشته پوره سوه، نو بیا به ئې دفتر ته باقاعده درخواست ور کاوی، چي په دې میاشته کي دومره وخت زموږ د مدرسې څخه علاوه په نورو کارو کي صرف سوی دی، لهذا زموږ د تنخواه څخه به دومره پیسې کاټ کول کیږي، نو هغو به دا ځکه کول: چي که چیري موږ د دغه وخت تنخواه واخیستله، نو بیا خو زموږ دپاره حرامیږي.

نن زموږ په معاشره کي انسانان د تنخواه اخیستلو لپاره خو درخواستونه ورکوي، لیکن د تنخواه څخه د پیسو کاټولو لپاره د درخواست ور کولو تصور ډېر زیات مشکل دی.

## د حضرت شیخ الهند رحمة الله علیه ملازمت:

حضرت شیخ الهند مولانا محمود الحسن قدس الله سرّه، چي د "دارالعلوم دیوبند" اولنی طالب العلم وو، چي د هغه په ذریعه د "دیوبند"(مدرسې) آغاز وسو، الله تعالی هغه ته علم او تقولی کي ډېر لوړ مقام ور کړی وو.

چي په کم وخت کي دی د "دارالعلوم دیوبند" شیخ الحدیث وو، نو په هغه وخت کي د ده تنخواه د میاشتي لس(۱۰) روپۍ وه، بیا چي کله د ده عمر زیات سو، او تجربه ئې هم زیاته سوه، نو په دې وخت کي د "دارالعلوم دیوبند" شورلی دا فیصله وکړه: چي د حضرت تنخواه ډېره کمه ده، حالانکه اوس د ده عمر زیات سو، او ضروریات ئې هم زیات سو، مشاغل ئې هم زیات سو، نو ځکه باید دده تنخواه زیاته سي، چنانچه مجلس شوری دا فیصله وکړه: چي اوس به د ده تنخواه د لسو(۱۰) روپو پر ځای پنځلس(۱۵) روپۍ د میاشتي وي.

چي کله تنخواه تقسیم سوه، نو حضرت لره د لسو(۱۰) روپو بجای پنځلس(۱۵) روپۍ راغلې، نو ده پوښتنه وکړه: چي زما تنخواه ولي پنځلس(۱۵) روپۍ راغله؟ نو ملګرو

ورته وویل: چي مجلس شوری فیصله کړېده: چې ستا تنخواه به د لسو(۱۰) پر ځای پنځلس(۱۵) روپۍ وي.
ده چي کله دا واورېدل، نو دهغه تنخواه اخیستلو څخه ئې انکار وکړی، او د "دارالعلوم دیوبند" دمهتمم پر نامه ئې درخواست ولیکی: چي حضرت! تا خو زما تنخواه د لسو(۱۰) پر ځای پنځلس(۱۵) روپۍ کړېده.
حالانکه زه اوس بوډا سولم، مخکي خو ما په ډېر ښه شکل دوه(۲) او درې(۳) سبقه ویلای سو، اوس خو زه ډېر کم سبق وایم، وخت هم کم ورکوم، لهذا زما د تنخواه اضافه کولو هیڅ جواز نسته، کمه تنخواه چي تاسو اضافه کړېده، هغه به واپس کړئ، او زما تنخواه به پر هغه زاړه شکل لس(۱۰) روپۍ مقرره پرېږدئ.
د مدرسې عامو استاذانو حضرت ته منتونه او زارۍ شروع کړې، چي حضرت! ته خو د خپلي تقوی په وجه اضافه واپس کوې، لیکن د نورو انسانانو دپاره به دا مشکل جوړېږي: چي بیا به د هغو ترقي او پر مخ تګ ودرېږي، لهذا ته دغه په تنخواه کي اضافه منظوره او قبوله کړه، مګر ده په هیڅ صورت کي قبوله نه کړه.
ځکه چي هلته د ده سره دا فکر وو: چي دنیا خو یو څو ورځې ده، نه ده معلومه: چي کله به ختم سي، نن به وي، او که سبا، لیکن چي کمي پیسې زما لاس ته راځي، هسي نه د الله تعالی په حضور کي زما لپاره د شرمندګۍ سبب او ذریعه جوړ سي.

## د حقوقو مطالبه:

نن خو د انسانانو ټوله زور د حقوقو پر غوښتنه دی، د حقوقو د حاصلولو او غوښتلو دپاره عام طور دغه نوکري والا انسانان جلسې او جلسونه کوي، او همېشه د دوی احتجاج او هړتالونه وي، چي: تاسو زموږ حق راکړی، نو د حق غوښتنه د هر سړي مطالبه وي، لیکن د هیڅا سره دا فکر نه وي: چي زما پر ذمه د انسانانو کم حقوق دي، ایا زه هغه ادا کوم، او که نه؟
نن خو هر سړی دا مطالبه لري: چي زما دي تنخواه زیاته سي، ماته دي په نوکري کي ترقي راکول سي، او زما دي دومره مراعات وي، لیکن چي کم فرائض ماته راسپارل سویدي، ایا زه هغه ادا کوم، او که نه، د دې هیڅ فکر نسته.

## د حقوقو ادا کولو آسانه لار:

حالانکه دا ښکاره خبره ده: چي تر څو پوري زموږ دغه ذهنيت برقرار پاته وي، چي زه به د نورو څخه د حقوقو مطالبه کوم، او زما څخه به څوک د حق مطالبه نکوي، زه به د خپلو فرائضو څخه غافل يم، او نور به زما حقوق ادا کوي، په دغه ذهنيت په دنيا کي د هيڅ چا حق نه ادا کيږي.

د حقوقو ادا کولو صرف يوه لار ده: چي الله او د الله رسول ﷺ موږ ته راښوولې ده، هغه دا: چي هر سړی به د خپلو فرائضو نګراني کوي، چي زما پر ذمه کمه فريضه او ذمه واري ده، زه هغه ادا کوم او که نه؟ چي کله په زړه کي د دغه خبري احساس راغلی بيا به انشاء الله د معاشرې د ټولو انسانانو حقوق ادا وي.

کچيري د خاوند په زړه کي دا احساس راسي: چي زما پر ذمه د زناني کم حقوق دي هغه ما ادا کړي دي، او د زناني سره د خپل خاوند د حقوقو ادا کولو احساس راسي، مزدور په زړه کي د مالک د حقوقو ادا کولو فکر پيدا سي، او د مالک سره د مزدور حقوقو ادا کولو خيال پيدا سي، نو بيا خو د دغه احساس په برکت د معاشرې د ټولو انسانانو د حقوقو ادا کولو ترتيب پيدا کيدلای سي.

او چي تر څو پوري دغه احساس پيدا سوی نه وي، تر هغه وخته پوري د حقوقو مطالبې به صرف نعرې لګيږي، او هم به انجمنونه جوړيږي، او هم به جلسې او جلسونه برابريږي، ليکن بيا به هم په معاشره کي د انسانانو حقوق نه پر ځای کيږي.

ليکن چي کله د انسان په زړه کي دا لله تعالی و حضور ته د جواب ورکولو احساس پيدا سي، چي زه به يوه ورځ مرم، او د دنيا څخه به رخصتيږم، او د دنيا د ټولو حقوقو جواب به د الله په حضور کي پيشوم، د دغه احساس په وجه به بيا د انسان په زړه کي د حقوقو ادا کولو ترتيب پيدا کيږي.

## خيانت نن د حکومتونو لويه مسئله ده:

نن چي څومره اسلامي ملکونه دي، په هغو کي اکثريت د اداري فساد ترتيبونه روان دي، ورځ په ورځ د هغو معيشت د تباهۍ پر لور روان دی، او د هغه عام انسانان د ګرانۍ سره مخامخ دي، او په دغه ملکو کي يو مشکل صورت حال روان دی.

ډېر خلګ د دې پر وجوهاتو باندې مجلسونه کوي، او هر سړی د خپل ذهن مطابق د هغې اسباب بیانوي، او بیا ئې د خپل ذهن د استعداد مطابق د هغې د حل پیشولو کوشش کوي.
لیکن زما په اندازه د هغو ټولو څخه لوی سبب نن د دغه حالاتو جوړېدلو په معاشره کې د خیانت عاموالی دی، چې نن د امانت تصور د انسانانو د ذهنو څخه وتلی دی، او د خپلو فرائضو او ذمه داریو ادا کولو احساس د زړو څخه لیرې سویدی، او د الله تعالی په حضور کې د جواب ورکولو فکر او تصور د انسانانو د خیالاتو څخه وتلی دی.
بس زندګي او ژوند په تیزي سره روان دی، چې په هغه کې د پیسو ډېرولو منډه ده، د خورک او عزت پیدا کولو مسابقه ده، او د اقتدار او قدرت حاصلولو دور دی، په دغه مسابقه کې یو د بل څخه د مخ وړلو فکر دی.
او د الله تعالی و حضور ته د پیشیدلو فکر د دماغ څخه لیرې تللی دی، دغه نن د ټولو څخه لویه مسئله ده، او دا د ټولو خرابیو جړاو بنیاد دی، بس الله تعالی دې زموږ په زړو کې دغه احساس پیدا کړي، نو بیا به ټولې مسئلې حل سي.

## د دفتر سامان او حکومتي اشیاء امانت دي:

چې په کم دفتر کې انسان کار کوي، حکومتي دفتر وي، یا شخصي دفتر وي، یا د یو عصري یا دیني اداري دفتر وي، چې په هغه کې څومره سامان وي، هغه ټول ستاسره امانت بلل کیږي، ځکه چې هغه سامان تاته د دې لپاره در کول سویدی: چې هغه په دفتري کارو کې استعمال کړه، هغه به ته په ذاتي کارو کې نه استعمالوې، که دې په ذاتي کارو کې استعمال کړی، نو بیا خو دې په امانت کې خیانت وکړی.
د خلګو دا ګمان وي: کچیرې د دفتر یو معمولي شی په خپل ذاتي کار کې استعمال سي، نو په هغه کې به څه مشکل وي، لیکن باید انسان په دې سر خلاص کړي: خیانت د کوچني شي وي، او که د لوی شي، دواړه حرام دي، او ګناه کبیره ده، او په دواړو کې دالله تعالی نافرماني ده، نو باید د دواړو څخه باید انسان ځان محفوظه کړي.

**د امانت صحیح معنی:**

نو مخکي ما درته وویل، چي د امانت صحیح معنی دا ده: چي یو سړي پر تا باندي اعتماد وکړی، او خپل کار ئې و تاته در وسپاري، او تا هغه کار د ده د اعتماد سره برابر سرته نه ورساوی، نو دا خیانت دی.

چي پر کمو سړکانو انسان سفر کوي، یا حکومتي او د ادارو بسونه د انسان د سفر لپاره وي، یا ریل ګاډی وي، چي انسان یو ځای ته ځان کي رسوي، دا ټوله امانت دي، یعني هغه په جائز طریقه سره استعمال کول او که ئې انسان د جائز طریقې څخه علاوه استعمال کړي، نو دا په خیانت کي داخل بلل کیږي، مثلاً د استعمال په وخت کي ګنده کول، یا خراب ول.

نن سبا خو خلګو سړکونه خپل ذاتي ملکیت بللي دي، یو چا پر هغه باندي د اوبو د پیپ تیرولو دپاره نالي جوړي کړي وي، او هغه ئې ټول مات کړي وي، یو چا بیا سړک او لار قبضه کړې وي، پر هغه ئې د خپل دوکان کوډل او جګې رایستلې وي.

حالانکه فقهاء کرامو تر دې حده پوري یو مسئله لیکلې ده: که یو څوک د خپل کور ناوه د سړک پر طرف راوباسي، نو هغه سړي یو داسي فضا استعمال کړه: چي د هغه په ملکیت کي نه ده، نو ځکه د هغه سړي لپاره ددغه سړک پر طرف ناوه رایستل جائز نه دي.

حالانکه هغه ناوه پر مځکه هیڅ ځای نه نسي، بلکه د فضا پر یو حصه باندي رایستل کیږي، لا هم فقهاؤ پر دې باندي تفصیلي بحث کړی دی، چي پر کم ځای د ناوې را ایستل جائز دي، او څومره ناوه به رایستل کیږي، او پر کم ځای ئې رایستل حرام دي، ځکه چي هغه ځای امانت وي، د ده د ملکیت حصه نه وي.

**دحضرت عباس رضی الله عنه د کور "ناوه":**

حضرت عباس رضی الله عنه چي د پیغمبر ﷺ اکا دی، د هغه د "ترناوې" قصه مشهوره ده، د ده کور د مسجد نبوي ﷺ سره بلکل متصل وو، د ده د کور یوه "ترناوه" د مسجد نبوي ﷺ په صحن کي راتویدله، یو ځل حضرت عمر رضی الله عنه دې "ترناوې" ته وکتل،

چي هغه د مسجد پر فضا را وتلبده، نو د خلکو څخه ئې پوښتنه وکړه: چي دا "ترناوه" دچا ده: چي د مسجد په غولي کي راتوييږي؟
نو خلکو ورته وويل: د اد پيغمبرﷺ د اکا حضرت عباسؓ د کور "ترناوه" ده، نو ده حکم وکړی: چي دا ليري کړئ، د مسجد پر طرف د هيڅا "ترناوه" رايستل جائز نه دي.
چي کله حضرت عباسؓ ته معلومه سوه، نو دی د ملاقات لپاره حضرت عمرؓ ته راغلی، او ورته وئې ويل: ای عمره! دا دي ولي ليري کړه، هغه جواب ورکړی: چي د دې "ترناوې" اوبه په مسجد نبوي کي را تويدلې، نو ځکه مي بنده کړه.
حضرت عباسؓ ورته وفرمايل: چي دغه "ترناوه" خو ما د نبي کريمﷺ په اجازت باندي لګولې وه، چي کله حضرت عمرؓ دا واوريدل: چي دا د پيغمبرﷺ په اجازت لګيدلې ده، نو فوراً ئې وفرمايل: ته زما سره راځه.
چنانچه مسجد نبوي ته راغلل، حضرت عمرؓ پخپله د رکوع په حالت کي ورته ودريدی، او حضرت عباسؓ ته ئې وفرمايل: ای عباسه! د خدای په خاطر زما پر ملا ور پورته سه، او هغه ناوه پر خپل ځای باندي دوباره ولګوه، ځکه چي د خطاب د زوی څه مجال دی؟ چي هغه د رسول اللهﷺ اجازت ور کول سوې "ترناوه"، ماته کړي.
حضرت عباسؓ چي کله د ده عاجزي وليدله، نو ئې ورته وويل: چي ای عمره! زما دطرفه دغه ټوله کور مسجد نبوي ته وقف دی، نو بيا ئې خپل ټوله کور وقف کړی، چي هغه بيا د مسجد نبوي يوه حصه جوړه سوه.
د شريعت اصل مسئله خو دا ده: چي د حاکم د اجازت نه بغير هغه ناوه لګول جائز نه وو، ليکن چونکه حضرت عباسؓ ته پيغمبرﷺ د هغه د لګولو اجازت ور کړی وو، نو ځکه د هغه لپاره ئې لګول جائز سو.(1)
نن زموږ دا حال دی: چي د کم سړي پر څومره مځکه لاړ وي، او که عامه مځکه وي، قبضه کول زړه وغوښتل، بيا دی قبضه ور باندي کوي، او د ده سره دا هيڅ فکر نه پيدا کيږي، چي زه د ګناه کار کوم، او په ګناه اخته يم.

(1) طبقات ابن سعد، جلد نمبر۴، صفحه نمبر۲۰

حالانکه لمونځ به هم دی کوي، او عبادت به هم کوي، او صدقات او خیرات به هم کوي، د هغه سره د خیانت څخه ځان نه ګوري، او دا ټول کارونه په خیانت کي داخل بلل کیږي، او د دې څخه پرهیز کول ضروري دي.

## د مجلس وینا آمانت ده:

یو حدیث شریف کي پیغمبرﷺ فرمایلي دي:

........اَلْمَجَالِسُ بِالاَمَانَةِ﴾.(۱)

یعني په مجلسو کي چي کمي خبري کیږي، هغه هم د اوریدونکو سره امانت وي، مثلاً دوه(۲) او دری(۳) کسان چي کله پخپل درمیان کي خبري سره کوي، نو په بې تکلفي کي او یو پر بل باندي د اعتماد په خاطر کله کله دوی د راز پټې خبري هم سره وکړي، اوس دغه خبري د دوی د اجازت څخه بغیر تر نورو پوري رسول هم په خیانت کي داخلي دي، او ناروا عمل دي.

لکه د بعضي خلګو دا عادت وي: چي د یو ځای خبره تر بل ځایه رسوي، او د هغه بل ځای خبره تر دې ځایه پوري را رسوي، دا ټوله فتنه او فساد د دغه څخه جوړیږي، البته کچیري په مجلس کي یو داسي خبره سوې وي، چي د هغه څخه نورو خلګو ته د نقصان رسېدلو خطره وي، مثلاً دوه(۲) او دري(۳) کسان پخپل درمیان کي دا سازش سره جوړ کړي: چي په فلان وخت به د فلانکي سړي پر کور حمله کوو، اوس دا ښکاره خبره ده: چي دا خبره داسي نده: چي ته به ئې د هغه سړي څخه پټوې، بلکه هغه سړي ته به دا وایي: چي ستا خلاف دغه سازش جوړ سویدی.

لیکن چي په کم ځای کي دغه قسم خبره نه وي، نو هلته د راز خبره تر نورو پوري رسول په امانت کي خیانت هم دی، او دا دچغلی عمل هم بلل کیږي، او د پیغمبرﷺ په احادیثو کي پر دې سخت وعیدونه هم راغلي دي، لکه په یو حدیث مبارک کي راغلي دي:

.............وَشِرَارُ عِبَادِ اللهِ الْمَشَّاءُونَ بِالنَّمِيمَةِ، الْمُفَرِّقُونَ بَيْنَ الأَحِبَّةِ﴾.(۲)

---

(۱) جامع الاصول: حدیث نمبر ۴۷۶۷

(۲) مسند احمد: حدیث نمبر ۱۷۹۹۸

د الله په بندګانو کي بد ترین خلک چغلي کونکي دي، چي د دوستانو په مابین کي تفریق او جدائي راولي.

او داغه رنګه پیغمبر ﷺ دا هم فرمایلي دي:

............مَنْ أَلْقَى بَيْنَ اثْنَيْنِ عَدَاوَةً، فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ، وَمَنْ أَصْلَحَ بَيْنَهُمَا، فَقَدْ وَجَبَتْ لَهُ عَلَى اللهِ الْجَنَّةُ﴾.(۱)

چي کم څوک د دوو انسانانو په مابین کي دښمني راولي، هغه دي د دوزخ ځای خپل ځان لره انتخاب کړي، او که څوک د مسلمانانو په مابین کي صلح راولي، الله تعالی به یقیني جنت ور کړي.

او دا هم د پیغمبر ﷺ وینا ده:

............مَنْ مَشَى بِالنَّمِيمَةِ بَيْنَ الْعِبَادِ قَطَعَ اللهُ لَهُ نَعْلَيْنِ مِنْ نَارٍ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ﴾.(۲)

چي کم څوک د انسانانو په درمیان کي د چغل خوری لپاره ګرځي، الله تعالی به د ده دپاره د دوزخ په اور کي ذوړ چوتي تیاري کړي، چي د هغه د په پښو کولو څخه به د ده دماغ ایشسیږي.

کله کله خو داسي هم وي: چي هغه د راز خبري په مجلس کي یو سړی واوري، نو بل چا لره ورسي، نو دا تاکید ورته وکړي: چي زه تاته د راز خبره کوم، ماخو تاته وکړه، لیکن ته به دا خبره و هیچا ته نه کوې، اوس د ده سوچ او فکر دا دی: چي د دغه تاکید په کولو سره ما د راز خبره محفوظه کړه، چي دی به ئې نو بل چا ته نکوي.

اوس کم چا چي واوریدله، نو هغه دریم سړي ته هم داغه د راز خبره په داغه تاکید سره وکړي، چي دا د راز خبره ده، ته به ئې هیڅ چا ته نه کوې، نو دغه سلسله دغسي روانه وي، او د دوی دا فکر وي: چي موږ د امانت خیال وساتی، حالانکه چي کله هغه د راز خبره وه، او نورو ته ئې ته د کولو څخه منعه کړی وه، نو بیا د داغه تاکید سره سره هم د امانت مخالفت دی، او خیانت او ناجائز عمل دی.

(۱) بحر الدموع: الفصل التاسع والعشرون: صفحه نمبر ۱۳۰

(۲) تنزیه الشریعه المرفوعه عن الاخبار، الفصل الثالث: صفحه نمبر ۲۱۲

دا هغه خبري دي: چي ددې په وجه زموږ په معاشره کي فساد جوړ دی، که تاسو خپل نظر لږ باريک زموږ پر حالاتو وکړی، نو دستي به دا در ښکاره سي: چي فساد دغه رنګه جوړيږي، چي يو چا ته ووايي: چي فلانکي سړي خو ستا په باره کي دا خبره وکړه، اوس د هغه په زړه کي د هغه سړي خلاف غصه، بغض او عناد پيدا سي، او هغه بغض او عناد اکثريت د فساد ذريعه جوړه سي، نو ځکه پيغمبرﷺ د دې خبرو پر نه کولو ډېر تاکيد کړيدی.

لکه په يو حديث شريف کي ئې فرمايلي دي:

﴿........لَا يَدْخُلُ الجَنَّةَ قَتَّاتٌ﴾.(١)

جنت لره چغلي کونکی نه ځي، يعني چي کم څوک د چغلۍ په ذريعه د انسانانو په مابين کي دښمني راولي، نو هغه په جنت کي د استوګنې حصه نلري،

﴿........مَنْ مَشَى بَيْنَ اِثْنَيْنِ بِالنَّمِيْمَةِ، سَلَّطَ اللهُ عَلَيْهِ نَارًا فِي قَبْرِهِ تَحْرُقُهُ إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ. وَحَيَّةً تَنْهَشُهُ حَتَّى يَدْخُلَ النَّارَ﴾.(٢)

چي کم څوک د دوو (۲) کسانو په مابين کي چغل خوري کوي، الله تعالی به د ده په قبر کي پر ده باندي يو اُور مسلط کړي، چي دی به تر قيامته پوري سوځي، او هم به پر ده باندي يو "اژدها مار" مسلط کړي، چي دی به ښېښ وهي، چي تر څو پوري ئې جهنم ته رسوي.

## پر ټيليفون باندي د نورو خبري اورېدل:

بعض وخت دوه (۲) کسان جلا پر ټيليفون باندي په خپل درميان کي خبري سره کوي، او ته په پټه سره دهغو د خبرو اورېدلو په فکر کي ئې، چي زه به د دوی خبري اورم، چي دوی کمي خبري سره کوي، دا هم په امانت کي يو خيانت بلل کيږي.

(١) صحيح البخاري: حديث نمبر ۶۰۵۶

(٢) بحر الدموع: الفصل التاسع والعشرون، صفحه نمبر ۱۳۰

یا د ټیلیفون کولو په وخت کي د یو چا ټیلیفون ستا سره وصل سي، نو ته د هغه انسانانو خبري اوریدل شروع کړې، او تر ډېره پوري دي غوږ ورته نیولی وي، نو دغه خبري اوریدل او غوږ ورته نیول هم د خیانت یو شکل دی، او ناجائز عمل دی.

حالانکه نن سبا په دې باندي انسانان ډېر فخر کوي، چي ماته خو د فلانکي سرې راز را معلوم سو، نو دا یو ډېر لوی هنر او فن انسانان بولي، لیکن پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: چي دا په خیانت کي داخل عمل دی، او حرام او ناجائز کار دی.

## په امانت کي د خیانت کولو سزا:

د یو مسلمان لپاره پکار دا دی: چي دی کوشش وکړي: چي مرګ ده لره په داسي حال کي راسي: چي د ده پر ذمه باندي د چا امانت او حق پاته نه وي.

کچیري یو څوک د امانت سره د دنیا څخه ولاړ سي، یا د طاقت په ذریعه یا د منصب په ذریعه د یو چا حق غصب کړي، او د امانت په شکل ئې د ده په ذمه پاته سي، نو چي کله د قیامت ورځ سي، نو هغه څوک چي ده ئې حق غصب کړی دی، او هغه د امانت په شکل د ده پر ذمه پاته دی، د الله دربار ته به راسي، او دا عرض به پیش کړي: چي یا الله! زما امانت د ده څخه را واخله، او ماته ئې راکړه.

نو په روایاتو کي راځي:

............فَقَالَ لَهُ: اَدِّ الْاَمَانَةَ﴾.

ای سړیه! دغه حقدار ته خپل امانت ورکړه، نو دی به وایي:

............أَيْ رَبِّ، كَيْفَ وَقَدْ ذَهَبَتِ الدُّنْيَا؟﴾.

ای الله! امانت خو په دنیا کي وو، او د دنیا زندګي او س زما څخه تېره سوې ده، او د لته زما سره امانت نسته.

الله تعالی به ملائکو ته ووایي:

............قَالَ: فَيُقَالُ: انْطَلِقُوا بِهِ إِلَى الْهَاوِيَةِ﴾.

تاسو دی "هاویه" جهنم ته ور ولېږئ، ما هلته امانت ایښی دی، دی دې هغه امانت د هغه ځای څخه را واخلي، نو ملائکې به دی تر لاس ونیسي، او جهنم به ته ئې راولي، او بیا به ده ته د که ور کړي، دی به په جهنم کې لاندې ولوېږي.

جهنمونه الله تعالی یو پر بل سر بیره داسې جوړ کړي دي: چې اوه (۷) جهنمه دي، او د هغو ترتیب په دا شان دی:

۱. جهنم: چې په دې کې به مسلمانان ګنهګاران لوېږي، چې بغیر د توبې مرګ ور باندې راغلی وي.
۲. حطمه: په دې کې به عیسائي قوم وي.
۳. لظی: په دغه جهنم کې به یهود وي.
۴. سعیر: په دې کې به مجوس او آتش پرسته وي.
۵. سقر: چې دې کې به صابئین او بېدینه قومونه وي.
۶. جحیم: په دې کې به د عربو مشرکین وي.
۷. هاویه: په دې کې به د هر امت منافقین سوځل کېږي.

د ټولو څخه سپک عذاب په جهنم کې دی، او د ټولو څخه زیات عذاب په "هاویه" کې دی، منافقین چونکه یو طرف ته ایمان نلري، او د هغه سره انسانانو ته د خپل منافقت په ذریعه ځان مؤمن ښکاره کوي، نو د دوکې عمل هم کوي، ځکه الله تعالی دوی ته دغه شان سخت عذاب ور کوي.

اوس منافق څوک دی؟ چې رنګ او شکل ئې د مسلمان وي، او نوم او ژوند ئې د مسلمان وي، او په کور کې هم د مسلمان پیدا سوی وي.

لیکن په زړه کې ئې پر کافر تر مسلمان ډېر وسیله وي، او هم ئې په خوله کې تر مسلمان د کافر صفت زیات وي، او کچیري موقع په لاس ورسي، نو هم کومک او نصرت د کافر د مسلمان په مقابله کې کوي، نو دغه منافق بلل کېږي.

نو چي کله دغه سړي چي امانت ئې ضائع کړی دی، په جهنم کي ولوېږي، نو په زرو کلونه دی په جهنمو کي روان وي، چي تر څو دی آخري جهنم هاویه ته رسیږي.
چي کله "هاویه" ته ورسیدی، نو هلته هغه امانت چي په هر شکل وي، را وائې خلي، په حدیث شریف کي راځي:
........هِيَ أَثْقَلُ عَلَيْهِ مِنْ جِبَالِ الدُّنْيَا﴾.
نو هغه امانت ده د دنیا تر غرونو هم زیات وزني او درند وي، چي کله په ټول جهنمو کي را تیر سي، او د آخري جهنم خولي ته را رسیږي، نو په روایاتو کي راځي:
........حَتَّى إِذَا ظَنَّ أَنَّهُ خَارِجٌ زَلَّتْ عَنْ مَنْكِبَيْهِ، فَهُوَ يَهْوِي فِي أَثَرِهَا أَبَدَ الْآبِدِينَ﴾.
چي کله د ده ګمان سي: چي زه خو اوس د امانت سره د جهنم څخه راوتلو ته نژدې سوم، نو هغه امانت د ده د سر څخه لاندي ولوېږي، او د جهنم آخري کندي "هاویه" ته ورسیږي، او دی هم ورسره ولوېږي، چي بیا "هاویه" جهنم ته ځان ور پسي ورسوي.

بیا به دی هغه امانت راپورته کوي، چي کله د جهنم خولي ته را رسیږي، نو بیا به امانت ځني لوېږي، دی به ور پسي لوېږي، چي الله تعالی څو مره وخت ئې اراده لري، دی به تر هغه وخته په دغه عذاب کي مبتلا وي.

اوس دغه امانتداره که څه هم په دنیا کي ژوند په جهاد ونو او عبادتونو کي تیر کړی وي، او مرګ ئې هم د شهادت وي، لا به هم د ده سره دغه عمل کیږي.

نو چي هغه په جهاد او په نیکو اعمالو او په شهادت سره په امانت کي د خیانت کولو د عذاب څخه نسي خلاصیدلای، نو زما او ستا دي الله تعالی پرده کوي، نو زموږ د اکابرو به عام طور په امانت کي د خیانت کولو ډېر د حفاظت فکر وو.

او همېشه به ئې زيات دا خيال او فکر کاوی: چې هسې نه زموږ څخه په امانت کې خيانت و نسي، الله تعالی دې موږ او تاسو ته د هغو پر نقشه باندې ژوند او زندګي رانصيب کړي، او الله تعالی دې دا څو خبرې قبولې او مقبولې وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیہ)

# د نفس او شيطان دښمني

(بيان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحديث جامعه اسلاميه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج!

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانيه الهاشميه

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقـــــريـر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتيب وتخريج | مفتـي حـافـظ كليم الله صـاحب |
| مـقــــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاريـــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿ إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنَ الْإِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ».(۲)

وَ أَيْضًا قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: «أَعْدَى أَعْدَائِكَ نَفْسُكَ الَّتِي بَيْنَ جَنْبَيْكَ».(۳)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! الله تعالى انسان ته په دنيا كي زندگي ور كړېده، خو د انسان زندگي په دنيا كي د مشكلاتو او پرېشانيو د که زندگي ده.

بلكه در حقيقت د انسان زندگي په دنيا كي يو امتحان دی، چي پر هغه باندي وروسته جنتي او جهنمي نتيجه مرتبه كرځي، د انسان په زندگي كي د ده امتحان اخيستلو لپاره الله تعالى د انسان سره نفس او شيطان ملګري كړيدی.

نفس او شيطان يو طرف ته د انسان لوی دښمنان دي، انسان ته چي كم عظيم دولت د ايمان او دين په شكل الله تعالى ور كړی، نو دوی پر هغه باندي حمله كوي، او هغه د انسان د كوټو څخه كاږي.

(۱) سورة فاطر: آيت نمبر ۶
(۲) مصنف ابن ابي شيبه: حديث نمبر ۸۰۰۲
(۳) ادب الدنيا و الدين: الباب الخامس ادب النفس: صفحه نمبر ۲۳۴

او بل طرف ته دوی انسان ته الله تعالی د ډېر نژدې مخلوق ګرځولی دی، لکه پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:

.........اعْدَى اعْدَائِكَ نَفْسُكَ الَّتِي بَيْنَ جَنْبَيْكَ». (١)

د انسان د ټولو دښمنانو څخه لوی دښمن د ده خپل نفس دی، چې د ده د اړخونو په مابین کي اوسیږي.

او شیطان هم د انسان سره ډېر نژدې تعلق لري، لکه پیغمبر ﷺ فرمايي:

..........إِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنَ الْإِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ». (٢)

شیطان د انسان په بدن کي د وینو پر ځای یعني په رګو کي اوسیږي، نو نفس او شیطان یو طرف ته د انسان لوی دښمنان دي، او بل طرف ته ئې زندګي د انسان سره ډېره نژدې ده.

ځکه ما درته وویل: چې د انسان اصل سرمايه ایمان دی، او د دغه دښمنانو خواهش دا دی: چې آخرت ته دغه مسلمان ایمان په سلامتي سره نه ورسوي، لکه دوی چې پخپله جهنمي او دوزخي دي، داغه رنګه د انسان زندګي هم په جهنم او دوزخ کي تېره سي.

ما زموږ په معاشره کي قانون دی: چې د انسان دښمنان و انسان ته څومره ور نژدې وي، نو په هغه درجه کي باید انسان د هغه سره هوښیار او په احتیاط کي ژوند تېر کړي، او د هغو څخه د خپلي قیمتي سرمايې د حفاظت اهتمام وکړي.

لیکن زموږ د کم قسمتی په خاطر دښمنان مو ډېر لوی دي، او هم مي هغه اصلي سرمايه ته غلي دي، لیکن د هغه باوجود موږ د احتیاط ژوند نه تیروو، بلکه د هغه سره د لاپرواهی زندګي اختیاروو، او نه د هغه څخه د خپل دین او ایمان د حفاظت ته خاص اهتمام کوو.

نن زه ستاسو په حضور کي دا خبره پېشوم: چې نفس او شیطان په کم شکل مسلمان دوکه کوي، او مسلمان په سرکښي کي واقع کوي، او د هغو څخه د حفاظت به څه

---

(١) ادب الدنيا و الدين، الباب الخامس ادب النفس: صفحه نمبر ۲۳۴

(٢) مصنف ابن ابي شيبه، حديث نمبر ۸۰۰۲

طریقه وي؟ د دې په خاطر چې موږ د هغه د شر څخه خپل ځان محفوظه کړو، او خپل
دین او ایمان په حفاظت سره تر خپل آخرت پورې ورسوو.
الله تعالی دې ما ته د صحیح بیانولو توفیق راکړي، او هم دې موږ او تاسو ټولو ته پر
هغه باندې د عمل کولو توفیق رانصیب کړي.

## نفس امّاره، لوّامه، مطمئنه:

علماؤ لیکلي دي: چې د انسان نفس د اصلي فطرت په لحاظ سره ابتداءً (امّاره) وي، چې انسان په سرکښي کې واقع کوي، چې کله انسان تربیتي مجاهدې او ریاضتونه وکړي، نو دی په قابو کې راسي، نو بیا دی (لوّامه) جوړ سي، او کله خو د ډېر تربیت څخه وروسته دی مطمئن سي.

د نفس تصرف د انسان په زندګي کې د وسوسو او د خواهشاتو تر حده پورې دی، زموږ په زړو کې د خواهشاتو او وسوسو څپې راځي، او روزانه نوي نوي خواهشات او وسوسې زموږ په زړو کې پیدا کیږي، دا د نفس د طرفه وي.

چې په هغه کې بعض جائز او نیک خواهشات وي، او هم د عباداتو او د نیکو اعمالو نکرونه وي، نو دا په حقیقت کې د "نفس لوّامه" د طرفه زموږ په زړه کې پیدا کیږي، او هم ئې زموږ په دماغ کې نفس لوامه را اچوي.

او کله خو هغه خواهشات ناجائز او د ګناهونو خواهشات او تقاضې او جذبات وي، نو دا بیا زموږ په زړونو کې د "نفس امّاره" د طرفه پیدا کیږي.

## د نفس د دوکه کولو شکل:

خو دغه نفس (اماره) زموږ دښمن دی، چې هر وخت زموږ سره ملګری وي، او د ده کار دا دی: چې زموږ په زړو کې دی د بدو کارو او د ناجائزو اعمالو خواهشات پیدا کوي.

لیکن دغه خواهشاتو ته عملي جامه ور اغوستل د انسان کار وي، د هیچا نفس هیڅکله یو څوک په زبردستي سره پر یو کار نسي مجبوره کولای، بس دی یو خواهش او وسوسه پیدا کوي، نور هغه مخته عملي کول د انسان کار وي.

اوس کچیري هغه خواهش او وسوسه د نیکو اعمالو وي، نو صرف پر دغه وسوسه او
خواهش باندي الله تعالی مونږ ته یوه نیکي را کوي، او کچیري مونږ هغه عملي
کړو، نو بیا الله تعالی هغه عمل یو په لس (۱۰) چنده را شماري.
او کچیري هغه وسوسه او خواهش د ګناه وي، نو بیا خو چي تر څو پوري وسوسه وي
نو پر هغه باندي هیڅ ګناه نسته، او کچیري ئې مونږ عملي کړو، نو بیا الله تعالی هغه
ګناه عمل یو په یو را شماري.
مثلاً د یو سړي په زړه کي د ده نفس دا خواهش ور پیدا کړي: چي و نامحرمه زنانې ته
هغه که زنانه وي، یا د هغې تصویر وي، او هغه که ستا مخ ته را سي، او که ستا
ټیلیفون کي وي.
یا د یو زناني په زړه کي دا خیال ور واچوي: چي دا یو نامحرم نارینه ته په غلطه اراده
سره وګوري، اوس کچیري دوی پر دغه خیال او خواهش باندي عمل نه وکړي، او
محرم ته نه وګوري، نو پر دوی باندي هیڅ ګناه نسته.
لیکن کچیري دوی پر دې خپل خواهش باندي عمل وکړي، او پخپل اختیار سره
نامحرم ته نظر وکړي؛ نو د دوی په عملنامه کي به ګناه لیکل کیږي، چي هغه ته
سترګو زنا ویل کیږي.
داغه رنګه دغه نفس زمونږ په زړو کي نوي نوي خواهشات پیدا کوي، او د خواهشاتو
او وسوسو یو نه ختم کیدونکې سلسله جاري وي.
او دا خواهشات نفس د هر چا په زړه کي ور اچوي:

- ځوان وي، که بوډا.
- نارینه وي، که زنانه.
- امیر وي، که فقیر.

نو د هر سړي په زړه کي د خواهشاتو یو لا متناهي سلسله جاري وي، امام
غزالي رحمة الله علیه لیکلي دي: چي د انسان نفس د ماشوم غوندي د انسان سره د ګناه
مبتلا کولو کي ضد کوي، لکه یو ماشوم چي کله د مور او پلار څخه د یو شي غوښتنه
شروع کړي، نو که په هر قسم وي: په ژړا سره، او په هره طریقه چي د ده وسع وي، نو

هغه غوښتنه پوره کوي، چې تر څو پورې ئې هغه غوښتنه پوره کړې نه وي، تر هغه وخته پورې آرام نلري.
داغه رنګه د انسان نفس هم چې د انسان څخه دګناه تقاضا شروع کړي، چې تر څوپورې ئې انسان په يو طريقه د طريقو سره په ګناه کې واقع کړی نه وي، نو تر هغه وخته پورې ئې نه پرېږدي.
لهذا نفس په انسان کې خواهشات او جذبات پيدا کوي، او د هغه په ذريعه د ګناه دعوت ورکوي، او د نفس د طرفه دانسان په ګناه کې د اخته کولو دغه طريقه وي.

## د شيطان د دښمنۍ طريقه:

د شيطان د انسان په ګناه کې د مبتلا کولو طريقه دا وي: چې هغه ګناهونه او د ګناهونو خبرې انسان ته ښائسته او آسانه کړي، او د انسان په ذهن کې د ګناه لذت او خوند ور واچوي، او ډېر ځله د انسان و مخته حکمتونه او مصلحتونه پيشوي، چې د هغه په ذريعه انسان په ګناه کې واقع کوي.
ډېر ځله د دروغو ځای راسي، چې هغه ګناه کبيره ده، او پيغمبرﷺ د نفاق علامه بلليده، ليکن شيطان د انسان مخته ډېر مصلحتونه پېشوي، چې د هغه مصحلتو پخاطر انسان په دروغو ويلو کې واقع کړي.
کله کله خو د تجارت کولو پر موقع باندې د رشوت ور کول د انسان مخته راسي، حالانکه رشوت ور کول ګناه کبيره ده، او بدترين عمل دی، او پيغمبرﷺ پر رشوت ورکونکي باندې لعنت ويلی دی، ليکن شيطان ئې انسان ته سپک کړي، او په دماغ کې دا ور واچوي: چې په دغه عمل خو اوس ټوله دنيا اخته ده، او د دې څخه بغير نه تجارت کيږي، او نه کاروبار کيږي، که دغه نه ورکوې، نو بيا خو کورته ولاړ سه، تجارت پرېږده.
کله کله د انسان په نورو طريقو سره په ګناه کې واقع کوي: مثلاً لوی ټيليفون دی، نو انسان ته شيطان اول دا مصلحت پيش کړي: چې په دې سره به تاته په کاروبار کې آساني وي، او هم به د دې په ذريعه د دنيا د حالاتو څخه خبر ئې.

لیکن انسان د شیطان د هغه مصلحت او فائدې په خاطر د شیطان په دوکه کې راسي، نو بیا به ګوري: ټوله ورځ غلط تصویرونه او فحش ډرامې په ټیلیفونو کې دی ګوري، ډېر ځله دیندار ه خلک هم د شیطان د دغه مکر په خاطر په ګناه کې مبتلا وګرځي.
نو د نفس کار د انسان په زړه کې وسوسې او خواهشات پیدا کول او د هغه په ذریعه انسان ته د ګناه دعوت ور کول، او د شیطان کار انسان ته ګناه خوبصورته او ښائسته جوړول او هم ډه ته ګناه سپکه او آسانه کول او یا د حکمتونو او مصلحتونو په خاطر و انسان ته د ګناه دعوت ور کول.

## د نفس او شیطان د حملو څخه د حفاظت طریقه:

حضرت مفتي محمد شفیع رحمة الله علیه د نفس او شیطان د حملو څخه د حفاظت یو بهترینه طریقه لیکلې ده: هغه دا: چې کله د انسان په دماغ کې د یو ګناه او د یو بد عمل وسوسه پیدا سي، نو فوراً باید هغه وسوسه د خپل دماغ څخه وباسي، او نفس او شیطان ته جواب ور کړي: چې د غه کار زه هیڅکله نکوم، دغه وسوسه چې تر څو پوري د وسوسې تر حده پوري وي، نو د غیر اختیاري کېدلو په وجه نه ګناه ده، او نه انسان ته ضرر رسوي.
بعض خلک د دې خبرې څخه زیات پرېشانه وي، او ډېر ځله ما ته د هغه تذکره هم کوي: چې مولوي صاحب! زموږ په زړو کې ډېر غلط خیالات او وسوسې راځي، کله هغه وسوسې د الله تعالی په شان کې وي، او کله د الله د رسول پشان کې وي، کله د آخرت یعني د جنت او جهنم او د حساب او کتاب په باره کې وي، او ډېر ځله خو د قرآن کریم د حقانیت په باره کې زموږ په زړو کې غلط خیالات راځي.
او دی د هغه خیالاتو څخه دومره زیات پرېشانه وي: چې ډېر ځله چې کله دی هغه خپلې وسوسې او خیالات بیانوي، نو د ډېرې پرېشانۍ په وجه ئې تر سترګو اوښکې راځي، او ور سره ژاړي.
نو زه همېشه دا وایم: چې باید انسان په دې خبره ښه سر خلاص کړي: چې د وسوسو او خیالاتو د انسان دماغ ته راتلل غیر اختیاري عمل دی، او انسان د غیر اختیاري اعمالو مکلف ندی، او چې کله مکلف ندی، نو ګنهګاره هم ندی.

نو وسوسې او خيالات چي هر څومره بد وي، نو د هغه په وجه انسان نه ګنهګاره کيږي، نو چي کله ګنهګاره ندی، نو د هغه وسوسو د ډېر غم نخوړل، او نه پر هغه باندي زيات پرېشانه کيدل.
ځکه چي کله انسان هر څومره د هغه زيات فکر کوي، نو شيطان دی نور پرېشانه کوي، او نوري زياتی وسوسې او غلط خيالات د ده په ذهن کي ور اچوي، چي ډېر ځله به دی د جنون او ليونتوب حد ته رسوي.
نو د هغه فوراً او ژر علاج دا دی: چي انسان په ذهن کي دا خبره راوړي: چي دغه راتلونکي وسوسې غير اختياري دي، دا و ماته هيڅ ضرر نه رسوي، او نه زما سره د دې د بنديدلو څه علاج او طريقه سته.

## د ګناه وسوسه فوراً د زړه څخه ايستل:

نو د ګناه خيال چي په زړه کي څنګه راسي، نو فوراً بايد انسان هغه د دماغ څخه وباسي، خپل سوچ او فکر د هغه څخه راوګرځوي.
ليکن هغه وسوسه ته په ذهن کي ځای ورکول، او په ذهن کي پر لره ګرځول، او پر هغه باندي سوچ او فکر کول، دا اوس د انسان اختياري عمل دی، او په دې باندي انسان ګنهګاره کيږي، او د دې څخه د ګناه بنياد ايښوول کيږي، بيا کچيري هغه ګناه انسان پخپل عمل کي راولي، نو د هغې جړ او بنياد هغه اختياري عمل او وسوسه بلل کيږي.
نو چيکله د انسان په دماغ کي د ګناه وسوسه راسي، نو هغه فوراً د دماغ څخه ليري کول، او د هغه آسانه طريقه دا ده: چي خپله توجه د هغه ګناه څخه بل طرف ته اړول، او د الله تعالی په ذکر کي شروع کيدل، او د الله تعالی د کمالاتو او صفاتو فکر شروع کول.
مثلاً دا: چي الله تعالی څنګه مهربانه ذات دی، او څومره قادر مطلق ذات دی، چي هغه څومره لوی لوی آسمانونه او مځکي پيدا کړيدي.
ځکه د پيغمبر ﷺ حديث مبارک دی:
......وَتَفَكُّرُ سَاعَةٍ فِي عِظَمَةِ اللهِ وَقُدْرَتِهِ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ سِتِّيْنَ يَوْمًا وَ قِيَامِ سِتِّيْنَ لَيْلَةً).(۱)

(۱) بحر الدموع، الفصل الآول، صفحه نمبر ۱۵، کنز العمال، حديث نمبر ۸۴۹۲

د الله تعالی په عظمت کي یو ګړی فکر کول، د شپېتو (۶۰) ورځو د روژو نیولو څخه او هم د شپېتو (۶۰) شپو عبادت کولو څخه بهتر دی.
نو یو خو به په دغه فکر کولو څخه انسان د شیطان د غلطي وسوسې څخه محفوظه سي، او هم به ئې په عملنامه کي ډېر لوی مقدار عبادت ولیکل سي.

## د انسان د ذهن خاصیت:

د انسان د ذهن ساخت او جوړښت داسي دی: چي هغه به همېشه یو سوچ او فکر کوي، چي کله انسان د یو شي سوچ او فکر شروع کړي، نو د بل شي سوچ او فکر د ده د ذهن څخه لیري کېږي، نو چیکله د ګناه د وسوسې څخه ذهن راوګرځول سي، او د الله تعالی د کمالاتو او صفاتو په فکر کي مشغوله سي، نو هغه وسوسه او خیال د انسان د دماغ څخه پخپله لیري کېږي.
نو په دغه شکل به انسان خپل ځان د نفس او شیطان د وسوسو څخه محفوظه کوي، او هم به بیا پر ده باندي نفس او شیطان ته د حملې کولو موقع په لاس نه ورځي.
ګوری! انسان یو دم په ګناه کي نه مبتلا کېږي، بلکه په ګناه کي د مبتلا کېدلو څخه وروسته کچیري انسان پر هغه باندي غور وکړي، نو دا به ور معلومه سي: چي د ګناه کولو څخه مخکي د ده په زړه کي ابتداءً د ګناه وسوسه راځي.
چي کله دی هغه وسوسه د دماغ څخه لیري نکړي، او هغه ته په دماغ کي ځای ورکړي، او پر هغه سوچ او فکر روان کړي، نو هغه وسوسه زیاتېږي زیاتېږي، بالآخر په ګناه کي د مبتلا کېدلو ذریعه وګرځي، ځکه یو دم په ګناه کي مبتلا کېدل ډېر شاذ او نادر وي.

## د یو عابد عبرتناکه واقعه:

د حضرت مولانا قاري محمد طیب رحمة الله علیه په مواعظو کي د ده د ژبي څخه د "بني اسرائیلو" د یو عابد عبرتناکه واقعه رانقل سوېده.
چي: شیطان په کم شکل د انسان په دماغ کي د ګناه وسوسه وراچوي، او کرار کرار په کم شکل انسان په ګناه کي مبتلا کوي، او څنګه څنګه ګناهونه په انسان باندي کوي، واقعه ډېره عبرتناکه ده، باید موږ د هغه څخه پوره سبق واخلو، چي د نفس او شیطان د

خفیه حملو څخه ځان وساتو، او هم د ګناه څخه د خپل ځان د حفاظت کولو تدبیر اختیار کړو.

چنانچه په "بني اسرائیلو" کي يو ډېر زيات عابد او زاهد انسان وو، چي شپه او ورځ به ئې عبادت کاوی، او په ټولو "بني اسرائیلو" کي د ده عبادت مشهور او معروف وو، او دلیري ځايو څخه به ده لره خلګ راتلو، او په ده به ئې پر خپل ځان باندي د مونه کول، او هم به ئې د ده څخه د دعاګانو غوښتنه کوله، په دغه شکل ده ته په عوامو کي ډېر زيات مقبولیت حاصل وو.

په بني اسرائیلو کي يو دوه وروڼه وو، چي په ټولو قریبانو کي دوی ته يوه خور غیر شادي شده ور پاته وه، نو هغه دوه وروڼه به هم د ده په تعلق لرونکو کي وو، او همیشه به ده ته راتلل، او پر ده به ئې د ده د عبادت په وجه زيات اعتماد وو، او هم به ئې د ده ډېر زيات قدر کاوی.

يو ځل هغه دواړه وروڼه يو ډېر اوږده سفر کولو ته مجبوره سول، اوس د دوی سره دهغه خپلي خور فکر پیدا سو، چي موږ کله سفر باندي ځو، نو هغه به د چا سره پرېږدو، ځکه دوی په ټولو قریبانو کي يو څوک د اعتماد وړ قریب نه درلودی، چي هغه ته ئې دغه خپله خور ورپرې ایښې وای.

په دغه فکر او مشوره کي ول، چي په ذهنو کي ئې دا خیال راغلی: چي دغه عابد خو ډېر بزرګ انسان دی، او د دې څخه به نو زيات قابل اعتماد زموږ لپاره بل څوک وي؟ بس ده ته به دغه خپله خور ورپرېږدو، او موږ به خپل سفر شروع کوو.

چنانچه هغه دواړه وروڼه هغه بزرګ ته راغلل، او هغه ته ئې دغه خپله مشوره بیان کړه، چي موږ خو دغه سفر کولو ته مجبوره یو، او دا مي مشوره کړېده: چي زموږ دغه يوه خور ده، هغه به زموږ تر راتلو پوري ستا په حفاظت کي وي، او هم ئې تاته در پرېږدو.

اول خو هغه بزرګ صاف انکار وکړی، لیکن چي کله د هغه دوو وروڼو اصرار زيات سو، نو هغه بزرګ پدې راضي سو: او دوی ته ئې وویل: چي د "خانقاه" په فلانکی حجره کي ئې پرېږدی، زه به د دې د ضروریاتو انتظام وکړم، نو هغه دوو(۲) وروڼو

هغه ښيله نوجوانه خور د ده د خانقاه په حجره کي پرېښووله، او دوی په سفر باندې
زوان سول.
اوس هغه زنانه د خانقاه په يو حجره کي اوسيږي، او دغه عابد دې ته همېشه خورکه
ور استوي، او بيا هغه خالي لوښی واپس را غواړي.
ابتداءً شيطان د هغه عابد په زړه کي دا خيال او وسوسه ور واچوله: چي دغه دوه (۲)
ورونه خو زما مخلص مريدان ول، او دا زنانه د دوی خور ده، اوس چي زه دې لره د
په لاس همېشه خورکه ور استوم، نو مناسب خبره نده، بايد کله خو زه پخپل لاس
خورکه تر دې پوري ور ورم.
چنانچه اوس کله ناکله هغه عابد د حجرې تر دروازې پوري خورکه ور ورسوي، ليکن
د خورکې ور کولو هغه طريقه ده، چي د حجرې دروازې ته ئې دباندي کښيږدي، او
هغه زنانه د حجرې څخه لاس را وباسي، او هغه خورکه واخلي، او د خورک کولو څخه
وروسته هغه لوښی دباندي کښيږدي، او دی ئې راپورته کړي.
تاسو ګورئ! شيطان د ګناه کولو لپاره اول ځل دعابد په زړه کي خيال او وسوسه و
واچوله، کچيري هغه عابد پر دغه موقع باندي د ځان حفاظت کړی وای، نو په را روا
مراحلو کي به هم د ده لپاره د خپل ځان حفاظت آسانه وای، ليکن هغه عابد پر هغه او
مرحله ځان محفوظه نکړی.
اوس شيطان د ده په زړه کي دوهمه دا وسوسه ور واچوله: چي ايا تا خو دغه زنا
غريبه قيدي کړېده، ګويا: ددې ژوند په جيل کي تيريږي، بس ته خورکه ور
کښېږدې، او ځني راسې، او بيا خالي لوښی را طلب کړې، دا خو هيڅ طريقه نده.
آخر دا هم ژوندی انسان دی، او دلته ئې هيڅ قريب نسته، چي پر دې باندي پوښت
وکړي، نو ښه خبره دا ده: چي کله ناکله خو د خورکې ور ورلو په وخت کي دې ته سلا
ويل، او مختصره پوښتنه ور باندي کول.
اوس دغه دوهمه مرحله راغله، نو هغه عابد هغه زناني ته د خورکې ور ورلو په وخ
کي سلام ويل، او مختصره پوښتنه ور باندي کول شروع کړل.
يو څو ورځي بعد شيطان په دماغ کي دريمه وسوسه ور واچوله: چي د دباندي څخ
صرف پوښتنه ور باندي کول به څه فائده ولري، بايد کله ناکله د دې حجرې ته دننه

د بچي د قتل کولو څخه وروسته د عابد سره دا فکر پیدا سو: چي د دغه زناني بچي خو ما ور قتل کړی، نو اوس به د بچي د قتل په خاطر دا ما د خپلو وروڼو په مخ کي رسوا کوي، او هیڅکله به مي معاف نکړي.

نو شیطان په دماغ کي بیا دا وسوسه ور پیدا کړه: چي د بچي سره سره دغه زنانه هم قتل کړه، چي نه بچی پاته سي، او نه ئې مور پاته سي، چي کله ئې وروڼه واپس راسي، نو ته به ورته ووایي: چي ستاسو خور وفات سوه، او پدې شکل به ستا د عزت حفاظت وسي، نو ده د بچي د قتل څخه وروسته هغه مور هم ور پسي قتل کړه، او دواړه ئې د خانقاه په یو ګنج کي په قبر کي سره ښخ کړل.

لیکن شیطان پر دې باندي اکتفا نه وکړه، او شیطان دا فکر وکړی: چي دغه عابد خو هر څه وکړل، لیکن تر اوسه د ده هغه دنیاوي عزت لا پاته دی.

لهذا چي کله د هغه زناني دواړه وروڼه د سفر څخه واپس راغلل، نو هغه دواړه د هغه عابد او د خور د لیدلو لپاره "خانقاه" ته ورغلل، چي کله ئې د عابد څخه د ملاقات په وخت کي د خپلي خور پوښتنه وکړه، نو هغه عابد ورته وویل: چي هغه خو وفات سوه، نو هغه عابد د دوی مخ ته درواغ هم وویل، نو په دې شکل شیطان په ده باندي یوه بله ګناه کبیره وکړله.

چونکه هغه دواړه وروڼه پر عابد باندي کامل اعتماد لري، هم په داغه وجه ئې خپله خور د ده په حفاظت کي پرې ایښې وه، نو دواړو د هغه پر خبره یقین وکړی، او دا ئې تسلیم کړه، ځکه چي د ژوند او مرګ هیڅ بروسه نسته.

لیکن شیطان هغه عابد کله پرېښوی، نو ئې دا فکر وکړی: چي ما خو په عابد باندي د هر ګناهونه او قتلونه وکړل، او د ده آخرت مي ور برباد کړی، مګر تر اوسه پوري د ده هغه دنیاوي عزت او احترام پاته دی، نو شیطان د هغه د خرابولو په فکر کي سو.

نو بالآخر شیطان هغه دواړو وروڼو ته په خوب کي راغلی، چي ستاسو خور څه سوه؟ هغو ورته وویل: چي هغه خو وفات سوېده، شیطان جواب ورکړی: چي د هغې وفات څنګه وسو، د هغې په حقیقت کي وفات نه وو، بلکه دغه عابد هغه قتل کړه.

تاسو ګورئ! خوبونه بعض شیطاني وي، او بعض رحماني، او بعض بیا نفساني خوبونه وي، نو دغه شیطاني خوب وو، چي په هغه کي شیطان دواړو وروڼو ته وویل:

چې تاسو تحقیق وکړئ، عابد په حقیقت کې ستاسو خور قتل کړله، او ستاسو څخه ئې په دروا غو ځان خلاص کړی،
د دغه خوب په وجه هغه وروڼو ته یو څه شبه ور پیدا سوه، نو هغو مشوره سره وکړه: چې موږ به هغه قبر سره وشنو، او خپل تحقیق به وکړو، کیدای سي: په دې سره زموږ هغه شبه لیري سي، چې کله دوی قبر راوشانی، نو معلومات ورته وسو: چې هغه زنانه هم قتل سوېده، او د دې بچې هم قتل سویدی، او دغه بچې د دې سره د بدکارۍ په تیجه کې پیدا سویدی.
نو هغه دواړه وروڼه ورغلل، عابد ئې ونیوی، په حقیقت کې دی قاتل هم وو، او هغه د خپل جرم اقرار وکړی، چې هو زما څخه دا غلطي سوېده، نو هغه دواړو وروڼو ته غصه ورغله، نو د هغه عابد لاسونه ئې ترشا ور وتړل، او مخ ئې ورتور کړی، او د ټوله ښار پر لارو ئې وګرځاوی، چې ټول خلګ دغه منظر وويني، نو په دغه شکل ئې هغه ذلیل کړی.
چې تر ننه پوري په ښار کې د کم چا د عبادت شهرت وو، نن هغه په ټوله ښار کې تور مخ د ذلت او رسوائي په شکل وګرځول سو، د هغه عبادت هم برباد سو، او عزت ئې ختم سو، او ذلت او رسوائي ئې ټوله دنیا ته ښکاره سوه.(۱)
دا هغه د شیطان دښمني وه: چې په دې شکل ئې د عابد سره سر ته ورسوله، خو تاسو ګورئ! شیطان اول هغه عابد ته دا نه وویل: چې ته دا ګناه وکړه: او نه، شیطان یو چا ته وایي: چې ته لمونځ مکوه، یا رشوت واخله، یا سود وخوره.
بلکه هغه شیطان اول ځل د انسان په زړه کې د مختلفو ګناهونو وسوسې او خیالات ور اچوي، او بیا کرار کرار انسان هغه وسوسو او خیالاتو ته په دماغ کې ځای ورکړي، پر هغه غور او سوچ روان کړي، چې بالآخر پر هغه د عمل کولو په شکل انسان په بد ترینو ګناهونو کې مبتلا سي.

(۱)اصلاحي بیانات ورسائل، جلد نمبر۲: صفحه نمبر ۴۴\۴۵\۴۶

## د شیطان کمزوری تدبیر:

نو ما درته وویل: چي شیطان هیڅکله سړي ته دا نه وایي: چي ته لمانځه لره مه ځه، او نه شیطان دومره قوت لري: چي څوک د لمانځه څخه په زور او قوت سره راوګرځوي، بلکه همیشه د انسان په زړه کي وسوسې وراچوي، او غلط خیالات پیدا کوي، چي د هغه په ذریعه انسان په ګناه کي مبتلا کړي.

نو د شیطان طاقت او توان صرف د وسوسو تر حده وي، او دا د ده کمزوری مکر وي، لکه الله تعالی فرمایي:

﴿......إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطَانِ كَانَ ضَعِيفًا﴾.(¹)

د شیطان مکر او فریب بلکل کمزوری وي، ځکه چي هغه صرف د وسوسې او د غفلت تر حده پوري وي، نو چي کم سړی د وسوسو څخه خپل ځان محفوظه کړي، نو هغه دشیطان د حملې څخه محفوظه سو، او چي کم چا وسوسو ته په دماغ کي ځای ورکړی، نو هغه په حقیقت کي په ګناه کي مبتلا سو.

د شیطان د وسوسو د اچولو ډېري زیاتي طریقې دي، او د هغه څخه د حفاظت هم ډېري طریقې دي، نو باید موږ د شیطان د وسوسو څخه د حفاظت طریقه ځانته معلومه کړو، چي د شیطان د ګناهو نو څخه محفوظ پاته سو.

## د نفس او شیطان د وسوسو څخه د حفاظت اوله طریقه:

د نفس او شیطان د حملو څخه د حفاظت د ټولو څخه اول د الله تعالی د فضل ضرورت دی، چي پر کم چا د الله فضل وسو، بس هغه سړی د نفس او شیطان د حملو او مکرونو څخه محفوظ سو.

نو د ټولو څخه مخکي د الله تعالی دربار ته رجوع کول، او د نفس د حملو څخه د حفاظت پخاطر دا دعا ډېره ویل:

﴿......يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ، فَلَا تَكِلْنِي إِلَى نَفْسِي طَرْفَةَ عَيْنٍ وَأَصْلِحْ لِي شَأْنِي كُلَّهُ﴾.(²)

---

(¹) سورة النساء، آیت نمبر ۷۶

(²) مسند ابي داود الطیالسي: حدیث نمبر ۹۱۰، و ترمذي شریف: حدیث نمبر ۳۵۲۴

اې حي او قیوم ذاته! زه ستا د رحمت غوښتنه کوم، زما د هر حال اصلاح وکړې، او د سترګو د رپ مقدار ما د خپل نفس مه حواله کوې.
دغه دعا باید موږ او تاسو ټوله یاده کړو، کچیرې په عربي کې ئې نسو یادولای، نو پخپله ژبه باید دغه دعا وغواړو.
چې یا الله! ته پخپل رحمت سره موږ ته د نفس او شیطان د شر څخه کامله پناه راکړې.
او ته موږ یو ګړی هم د نفس او شیطان مه حواله کوې.
نو انسان هیڅکله د الله تعالی د فضل څخه بغیر د نفس او شیطان د شر څخه نسي محفوظه کېدلای، نو که د الله تعالی فضل وو، موږ به محفوظه یو، که نه وو، بیا به د شیطان په هر مکر کې راځو.

## د حفاظت دوهمه طریقه:

د شیطان د حملو څخه د حفاظت دوهمه طریقه دا ده: چې الله تعالی قرآن کریم کې د شیطان مردوده کېدل دېر ځایونه ذکر کړیدي، چې کله الله تعالی شیطان و آدم علیه السلام ته په سجده کولو امر وکړی، نو ده د هغه څخه انکار وکړی، نو الله تعالی دی د خپل دربار څخه وایستی، چې:

........﴿فَاخْرُجْ مِنْهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٌ، وَإِنَّ عَلَيْكَ اللَّعْنَةَ إِلَى يَوْمِ الدِّينِ﴾.

ته زما د دربار څخه ووزه! او هم د ملائکو د ډلې څخه لیرې سه! ځکه چې ته اوس سرکښه ئې، او پر تا به تر قیامته پورې زما لعنت وي.
شیطان چې کله پدې پوه سو، چې الله تعالی خو زه ملعون کړم، نو ده ته دا معلومه وه: چې الله تعالی مغلوب الغضب نګرځي، نو ئې په داغه حالت کې د الله څخه دا غوښتنه وکړه:

........﴿رَبِّ فَأَنْظِرْنِي إِلَى يَوْمِ يُبْعَثُونَ﴾.

یا الله! ماته تر قیامته پورې ژوندګي راکړه..
الله تعالی جواب ورکوې:

........﴿فَإِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِينَ، إِلَى يَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُومِ﴾.

ته به تر قیامته پوري ژوندی ئې چیکله ده ته ژوند ورکول سو، نو دی دستي خپله دښمني ښکاره کوي.

.........﴿قَالَ رَبِّ بِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأُزَيِّنَنَّ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَلَأُغْوِيَنَّهُمْ أَجْمَعِينَ﴾.

نو وايي: یا الله! زه خو دي د خپل دربار څخه وشړلم، ستا په عزت دي مي قسم وي: چي ستا بندګانو ټولو ته به ګناه ښائسته کوم، او هم به دوی په ګناه کي واقع کوم.

.........﴿إِلَّا عِبَادَكَ مِنْهُمُ الْمُخْلَصِينَ﴾.

ها! خو صرف ستا هغه بندګان چي مخلصین دي، او برګزیده بندګان دي، هغه به راڅخه پاته وي، او پر دوی به زما مکر او فرېب نه چلیږي، نو دا خبره شیطان پخپله وکړه، چي مخلصین بندګان زما د مکر او حملو څخه محفوظه دي.

مخلصین بندګان هغه دي: چي اعمال صالحه کوي، او خپل ځانونه د ګناهونو څخه محفوظه ګرځوي، او خپل ژوند د الله تعالی په عبادت کي تېروي.

نو زموږ لپاره د شیطان د حملو څخه د حفاظت یوه لار دغه هم ده: چي موږ د نیکو او صالحو بندګانو سره صحبت پر ځان لازم کړو، ځکه دوی خو نیکبخته انسانان دي، نو چي کم څوک د دوی سره کښېني، هغه به هم نیکبخته وي، لکه د حدیث شریف الفاظ دي:

.........﴿هُمُ الْقَوْمُ لَا يَشْقَى بِهِمْ جَلِيسُهُمْ﴾.(¹)

دا نیک بخته قوم دی، بدبخته څوک د دوی سره نسي کښېنستلای.

## نیک صحبت فرض عین دی:

چنانچه حکیم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله علیه فرمایلي دي: چي نن سبا د مسلمانانو لپاره د اهل الله صحبت اختیار کول فرض عین بولم.

د هغه دلیل دا دی: چي د ایمان حفاظت فرض عین دی، او چي په کمه ذریعه سره د ایمان حفاظت راځي، هغه ذریعه هم فرض عین ده، نو په نن زمانه کي د ایمان د حفاظت ذریعه الله تعالی د نیکو بندګانو په صحبت کي ایښېده، چي انسان به د هغو سره په

(¹) صحیح مسلم، حدیث نمبر ۲۶۸۹

اخلاص او رشتوني طلب سره رابطه قائم کوي، او خپله زندگي به د هغو د هداياتو ماتحت تېروي، او پخپله زندگي کي به هیڅکله د هغو سره تعلق نه ختم کوي.

**د امام رازي رحمة الله عليه عجيبه واقعه:**

په آخرکي زه ستاسو په حضور کي د حضرت امام رازي رحمة الله عليه يو قصه پېشوم، چي الله تعالى د يو نيک او بزرگ شخصيت د تعلق په وجه څنگه د امام رازي رحمة الله عليه د ايمان حفاظت وکړی.

حضرت امام رازي رحمة الله عليه پخپل وخت کي ډېر لوی مفسر، محدث، محقق، د علومو عقليه وو، او نقليه وو ماهر وو.

چي کله د ظاهري علومو د تحصيل څخه فارغ سو، نو د خپل نفس د اصلاح او تربيت لپاره د الله تعالى د يو نيک بنده په تلاش کي سو.

او د هغه په تلاش کي ئې ډېر سفرونه وکړل، او د ډېرو بزرگانو سره ئې ملاقاتونه وسول، خو د هيچا سره ئې د زړه مناسبت نه پيدا کيدی، او نه ئې زړه اطمينان کاوی.

آخر د ډېر تلاش کولو څخه وروسته يو بزرگ ته راغلی، د هغه حالات چي ئې وليدل، نو زړه ئې يو څه مناسبت ور سره پيدا کړی، د هغه څخه ئې وغوښتل: چي ته ماته بيعت راکړه، زه به ستا په خدمت کي څه ژوند تېر کړم، چي په هغه سره به د خپل باطن تربيت او صفائي پيدا کړم.

اول خو هغه بزرگ انکار ځني وکړی، ليکن چي کله د هغه اصرار زيات سو، نو هغه بزرگ ده ته يو وخت ور وښووی، چي په فلان وخت به ته زما خانقاه ته راسې، زه به تا ته بيعت درکړم.

چي کله هغه وخت راورسيدی، نو امام رازي رحمة الله عليه د هغه خانقاه ته د بيعت کولو لپاره راورسيدی، نو هغه بزرگ اولاً د خانقاه دروازه د دننه طرف څخه بنده کړه، او امام رازي رحمة الله عليه ئې خپل مخته کښېناوی.

او ورته په مراقبه سو، د ده د زړه چي کم خيالات وو، د هغه دليري کولو لپاره ئې د ده پر زړه توجه وکړه، توجه د يو قوت خياليه څخه د کار اخيستلو نوم دی، او دا د صوفيانو يو خاص ترتيب دی، چي په بعض وخت کي ئې دوی د خپلو مريدانو پر زړه باندي کوي.

د هغه توجه کولو څخه امام رازي رحمة الله عليه ته داسي محسوسه سوه: لکه يو شی چي د ده د زړه څخه وزي، يا لکه په يو تيزه هوا سره چي د کتاب ورقي پخپله اوړي، نو د غسي يو کيفيت امام رازي رحمة الله عليه پخپل زړه کي محسوس کړی.
امام رازي رحمة الله عليه د هغه بزرګ څخه پوښتنه وکړه: چي حضرت! دا زما په زړه کي څه کيږي، او دا د څشي آواز دی؟ هغه بزرګ په جواب کي ورته وويل: دا تا چي څه ويلي دي، هغه وزي، او چي کله دغه ظاهري علوم ووتل، نو بيا به باطني علوم، ستا په زړه کي قرار نيسي.

امام رازي رحمة الله عليه فوراً ورته وويل: چي حضرت! يو دم صبر وکړه، ما خو دا ظاهري علوم د ډېرو مشکلاتو څخه وروسته او په ډېر محنت سره حاصل کړيدي، او پر دې ما ډېري شپې روڼي کړيدي، او اوږده اوږده سفرونه مي ور پسي کړيدي، او ته اوس په دې يو ګړي کي هغه ټول زما د زړه څخه باسې، نو پر دې باندي صبر کول زما د طاقت خبره نده، زه ستاسره بيعت نکوم، بس ما او خپل ظاهري علوم پر داغه حالت باندي سره پرېږده.

هغه بزرګ ورته وويل: چي ته مه پرېشانه کيږه، ظاهري طور خو دا علوم وزي، د دې پر ځای چي کم باطني علوم ستا په زړه کي ځای ونيسي، هغه به د دې څخه ډېر لوړ علوم وي، نو ته خامخاه بيعت وکړه، او صبر سه.

لیکن امام رازي رحمة الله علیه د بیعت کولو څخه انکار وکړی، آخر هغه بزرګ ورته وویل: ځه! چي کله بیعت نکوې، هغه خو ستا خوښه ده، او په زبردستي سره به زه په تا څه بیعت وکړم.
نو ئې ورته وویل: چي بیعت خو دي نه وکړی، لیکن زما سره چي ستا کم تعلق پیدا سو، هغه تعلق باقي وساته، کله ناکله ملاقات لره راځه، هغه تعلق مه ختم کوه، دغه تعلق به پر ډېرو سختو ځایو تالره په ښه درسي.

چنانچه امام رازي رحمة الله علیه د هغه ځای څخه د رخصت کېدلو وروسته هم هغه تعلق قائم وساتی، او ولاړی، پخپل ځای کي د علومو شرعیه وو، عقلیه وو په درس او تدریس کي مشغوله سو.
د امام رازي رحمة الله علیه په زمانه کي د "دهري" فرقې ډېر زور وو، د الله تعالی د وجود څخه انکار کونکو ته "دهریه" ویل کیږي، او دوی دا غواړي: چي د الله وجود دي د عقل په ذریعه سره موږ ته ثابت سي.

د امام رازي رحمة الله علیه سره د الله پر وجود باندي عقلاً سل(۱۰۰) دلائل موجود ول، چي کله به ئې د دهریانو سره مناظره وه، نو بس په لس(۱۰) یا پنځلس(۱۵) دلائلو به ئې هغوی ته ماته ورکوله.
اتفاقاً د هغه بزرګ په ژوندګي کي د امام رازي رحمة الله علیه د وفات وخت رانژدې سو، د زکندن پر وخت شیطان د ده و سر ته کښېناستی، او ورته وئې ویل: چي ای رازي! دا راته ووایه: چي الله موجود دی، او کنه، ده ورته وویل: چي د الله په وجود کي هیڅ شک نسته، شیطان د الله پر وجود باندي د ده څخه دلیل وغوښتی.

امام رازي رحمة الله علیه د الله پر وجود باندي هغه ته عقلي دلیل پیش کړی، شیطان د ستي د هغه دلیل جواب وکړی، او هغه دلیل ئې مات کړی، امام رازي رحمة الله علیه دوهم دلیل پیش کړی، شیطان د هغه هم جواب وکړی، او بیا ئې دریم دلیل پیش کړی، شیطان هغه

دلیل هم مات کړی، نو دغه رنګه ده لس(۱۰) دلائل پیش کړل، شیطان د ټولو جواب وکړی.

اوس امام رازي رحمة الله علیه د الله پر وجود هغه ته دلائل پر دلائلو پیشوي، او هغه ئې جوابونه کوي، چي کله ئې شپیته(۶۰)، اویا(۷۰) دلائل پیش کړل، او شیطان د ټولو جواب وکړی، نو امام رازي رحمة الله علیه ډېر په تشویش کي سو، چي دا څوک دی، زما هر دلیل راماتوي، او د هر دلیل داسي جواب پیشوي: چي ما هر ځل لاجوابه کوي.

کچیري خدانخواسته په دغه رفتار سره دی ماته جوابونه پیشوي، نو په لږ ګړي کي به زما د دلائلو ټوله ذخیره ختم سي، او چي کله ختم سوه، نو د دې مطلب خو دا: چي د الله په وجود کي زما هم عقلاً شبهه پاته سوه، او دا زما آخرنی وخت دی، که پدې وخت کې زما په ذهن کي د الله په وجود کي شبهه پاته سي، نو زما خاتمه به خرابه سي، نو په دغه سوچ او فکر کي د ډېري غټي پرېشانۍ سره مخامخ دی.

تر دې حده چي ده آخر د هغه و مخته د الله پر وجود نه نوي(۹۹) دلائل عقلاً پیش کړل او هغه د ټولو جواب وکړی، اوس د ده ټوله بدن به خولو کي غرق سو، او ډېر د خوف په حالت کي دی، چي یا الله! دا څه قصه ده؟ او اوس زه څه وکړم؟
نو په دې حالت کي چي څه وخت مخکي ده د هغه بزرګ سره تعلق جوړ کړی وو، نو هغه تعلق اوس ده لره په ښه ورغلی، الله تعالی پر هغه بزرګ باندي د امام رازي رحمة الله علیه د پرېشانۍ کیفیت کشف کړی.

او په دې وخت کي هغه بزرګ او شیخ اودس کوي، او په لاس کي ئې د اوداسه لوټه ده، نو په داغه حالت کي هغه هغه لوټه پر مخکه وویشتله، او وئې ویل: ای رازي! ولې داسي نه ورته وایې: چي زه د الله تعالی وجود بغیر د څه عقلي دلیل منم.

الله تعالی د هغه بزرګ دغه الفاظ د امام رازي رحمة الله علیه غوږ ته راورسول، چي کله د بزرګ آواز راورسیدی، نو امام رازي رحمة الله علیه فوراً دغه الفاظ پخپل ژبه ادا کړل، او وئې ویل: چي زه د الله وجود بغیر د عقلي دلائلو منم، او زما لپاره پر هغه باندي د هیڅ عقلي دلیل د پیشولو ضرورت نسته.

د دغه وینا سره فوراً شیطان د هغه ځای څخه وغورځېدی، او په تیښته ولاړی، ځکه چي د دې دلیل هیڅ جواب نسته، نه دا دلیل څوک ماتولای سي، چي زه دالله وجود بغیر د عقلي دلیل څخه منم، آخرت منم، حساب او کتاب او جنت او دوزخ منم.

چي څنګه ئې دغه الفاظ په خوله ادا کړل، او شیطان ځني وغورځیدی، د هغه څخه وروسته امام رازي رحمة الله علیه وفات سو، او د یو نیک او بزرګ شخصیت د تعلق په برکت د الله تعالی فضل ور باندي راغلی، او د ده خاتمه پر ایمان باندي وسوه. (۱)

**خلاصه:**

نو همېشه د الله تعالی څخه غوښتنه کول: چي الله تعالی انسان د نفس او شیطان د شر څخه محفوظه کړي، او د الله د یو نیک بنده لمن نیول، او د هغه په خدمت او صحبت کي ژوند تیرول، چي د هغه په ذریعه انسان د خپلو اخلاقو او اعمالو اصلاح وکړي، او هم د خپل ایمان حفاظت وکړي.

د الله د نیکو بندګانو په خدمت کي د اُسېدونکو خلکو د هغه نیکو بندګانو په برکت سره الله تعالی خاتمه پر ایمان باندي تیروي، الله تعالی دي زموږ د ټولو خاتمه پر ایمان باندي راولي.

(۱) اصلاحي بیانات ورسائل، جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۵۲\۵۳\۵۴\۵۵

او هم دي زموږ د دين او د اسلام او د ايمان حفاظت په هر حالت کي وکړي، او هم دي ژوند د نيکو بندګانو په تعلق کي رانصيب کړي، او الله تعالی دي دغه مذاکره پخپل دربار عالي کي قبوله او مقبوله وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

بسم الله الرحمن الرحیم

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د میراث تقسیمولو اهمیت

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دارالعلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقـــــریر | الحاج مولوي اطیع اللہ صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتـي حـافـظ کلیم اللہ صـاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاریـــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ﴿مَنْ فَرَّ مِنْ مِيرَاثِ وَارِثِهِ، قَطَعَ اللّٰهُ مِيرَاثَهُ مِنَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمِ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهید:**

محترمو حاضرينو! د جمعې مباركه ورځ ده، زموږ او ستاسو اصلاحي مجلس دی، پدې وخت کې زه ستاسو توجه زموږ په معاشره کې د يو سنګيني کوتاهۍ طرفته راګرځوم، چې د هغه څخه زموږ ټوله معاشره غافله ده، او د پر خوانده او ديندار ه خلک هم په هغه کوتاهۍ کې مبتلا دي.

هغه کوتاهي ده: د يو انسان د مرګ څخه وروسته د هغه ميراث نه تقسيمول، په حيلو او بهانو د هغه ميراث راګرځول، او په خپله قبضه کې ساتل، تر حقداره نه رسول.

يو طرفته دومره سنګين عمل دی، چې په رواياتو دا د انسان لپاره د جنت څخه د محرومۍ لوی سبب بلل سويدی، يو حديث مبارک دی:

........مَنْ فَرَّ مِنْ مِيرَاثِ وَارِثِهِ، قَطَعَ اللّٰهُ مِيرَاثَهُ مِنَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾.(٣)

---

(١) سورة النساء: آيت نمبر ١٠

(٢) سنن ابن ماجه: حديث نمبر ٢٧٠٣

(٣) سنن ابن ماجه: حديث نمبر ٢٧٠٣

چې کمځوک د یو وارث د میراث د حق ورکولو څخه تیښته کوي، او په حیلو او بهانو سره ئې پر ځان راګرځوي، الله تعالی به د ده میراث د جنت څخه ور ختم کړي، نو الله تعالی دې موږ او تاسو ته د دغه عمل څخه حفاظت رانصیب کړي.
عام طور په شریعت کې چې کله یو سړی وفات سي، نو د وفات څخه وروسته فوراً د دین او شریعت په تقاضا سره د ده په مال پوري څلور(۴) حقونه ترتیب واره تعلق نیسي.

## اول(۱) حق:

اول حق دا دی: چې د ده په مال او جائیداد کې د هغه د کفن او دفن انتظام کول، خو دا انتظام به په درمیانه طریقه سره وي، نه به د هغه په کفن او دفن کې ډېر اسراف کول کیږي، او نه به قصور او کمی کې کوي، بلکه د درمیانوالي خیال به زیات ساتي.
کچیري یو بل څوک د ده په قریبانو کې یا همسایګانو کې یا په عامو انسانانو کې د خپل طرفه د ده د کفن او دفن انتظام وکړي، نو هغه هم جائز دی.

## دوهم(۲) حق:

دوهم حق چې د دغه میت د مال سره تعلق پیدا کوي: هغه دي د ده قرضونه ادا کول، کچیري د ده پر ذمه باندي واجب قرضونه پاته وي، یا د ده د مال څخه د دغه قرضو ادا کول د ده پر وارثانو باندي واجب دي.
کچیري په دغه قرضو ادا کولو کې د ده ټوله مال او جائیداد ختم کیږي، لا به هم د ده وارثان پدغه کې د یوې ذرې مقدار کوتاهي نه کوي، ځکه چې تر څو پوري د ده پر ذمه قرضونه پاته وي، نو د ده روح الله تعالی د جنت څخه راګرځوي، ولې! چې قرضې د بندګانو حق دي، چې تر څو پوري د ده پر ذمه وي، نو دی مخته نه سي تللای.
نو پر خپل میت باندي رحم کول، او د هغه سره احسان کول، او تر څومره پوري چې ممکنه وي، نو د هغه د قرضو ادا کولو پوره پوره اهتمام کول.
د بعضو خلکو عادت داسي وي: چې هغه د خپلو قرضو دپاره یو مخصوصه کتابچه لري، چې په هغه کې څومره قرضې پر ده وي، یا د ده پر بل چا وي، هغه ټولي لیکلي

وي، نو که دغه میت دغه شان سړی وي، نو باید دستي د ده د قرضونو کتابچه وکتل سي، او د ده قرضونه ادا سي.
او که ئې د لیکلو عادت نه وو، نو پدې صورت کي بیا د ده د دوستانو او دناستي او ولاړي د انسانانو څخه چي د کمچا سره دده معاملات وي، معلومات کول، او چي کمي قرضې د معلوماتو څخه د ده پر ذمه ښکاره سي، نو د هغو هم د ادا کولو اهتمام کول.

## دریم(۳) حق:

دریم حق چي د مړي د مال سره تعلق پیدا کوي: هغه وصیت دی، نو دا معلومات کول: چي دغه مړي خو به یو وصیت نه وي کړی، کچیري هغه وصیت کړی وو، نو دده د مال په دریمه حصه کي د وصیت ادا کولو اهتمام کول.
خو په وصیت کي یوه خبره دا ضروري ده: چي هغه وصیت به جائز وصیت وي، کچیري ناجائز وصیت وو، نو د هغه پوره کول ضروري ندي، او نه د وارثانو لپاره د هغه پوره کول جائز دي.
لیکن کچیري جائز وصیت وو، لکه مثلاً: ده دا وصیت کړی وو: چي زما پر ذمه قضائي لمنځونه پاته دي، یا پر ما باندي قضائي روژې پاته دي، چي ما پخپل ژوند کي د هغه قضا نه ده راګرځولې، نو د هغه فدیه به زما د مال څخه ور کړئ.
یا پر ما باندي حج پاته دی، زما په مال کي په ما پسي حج بدل ادا کړئ، یا مثلاً ده دا وصیت کړی وو: چي زما د مرګه بعد د مسجد په تعمیر کي یا دیو مدرسې سره د کومک په شکل دومره پیسې ور کړئ، یا ئې د یو خاص سړي په هکله وصیت کړی وو، چي زما په مال کي د هغه سره دومره مرسته وکړئ، دا ټول له جائز وصیتونه دي، که یو وصیت وي، او که ډېر وي، نو د ده د مال په دریمه حصه کي د هغه پوره کول واجب دي، که وارثان پدي کي کمزوري وکړي، نو ګنهګاره دي.
او دوهمه دا ضروري ده: چي د وصیت پوره کول به د مال تر دریمي(۳) حصې پوري وي، کچیري دده وصیتونه ډېر وو، او د مال په دریمه(۳) حصه کي نه ادا کېدل، نو د

هغه څخه زیات مال د وصیت د نفاذ لپاره خرڅول، دا د وارثانو اختیار دی، ځکه چې په هغه دوو (۲) حصو کې اوس شرعاً د وارثانو حق ثابت کړځیدلی دی.

## څلورم (۴) حق:

څلورم حق دا دی: چې د وصیت نافذ کولو څخه وروسته چې کمې دوې (۲) حصې د مال پاتې سوې، هغه د شریعت د اصولو مطابق د وارثانو په مابین کې تقسیمول.
نن سبا زموږ په معاشره کې په دغه څلورم (۴) حق کې انسانان ډېر زیات غفلت کوي، ډېر انسانان داسې دي: چې هغه پدې نه پوهیږي: چې د مړي مال په وارثانو تقسیمیږي.
او چې کم څوک په پوهیږي، چې دا هم یو ضروري عمل دی، لیکن د هغه باوجود بیا ډېر خلک داسې دي: چې پر هغه باندې عمل نکوي، بلکه د کوم وارث په قبضه کې چې کم مال وي، دی پر هغه باندې قابض وګرځي، د نورو حقدارانو و حق ور کولو ته تیار نه وي.
د دې غفلت اندازه د دې څخه معلومیږي: چې نن سبا د آبادۍ د کثرت په وجه سهار او ماښام انسانان وفات کیږي، او د دنیا څخه رخصت اخلي، نارینه هم وفات کیږي، او زنانې هم، کشران هم، مشران هم، د دې زیاتو انسانانو د وفات کیدلو نتیجه خو باید دا وای: چې په ښار کې څو مره علماؤ ته د مسائلو لپاره خلک رجوع کوي، نو هغو ته د میراث د تقسیم مسئلې ډېرې راتلای، ځکه چې د هر وفات سوي انسان میراث تقسیمول فرض دی، او د هغه صحیح طریقه معلومول هم فرض دي، لیکن د هغه باوجود علماؤ ته د میراث د تقسیم مسائل ډېر کم راځي.

## د مړي مال استعمالول:

د شریعت مسئله دا ده: چې څنګه یو سړی وفات سو، نو د ده مال د ده د ملکیت څخه نقل سو، او د وارثانو په ملکیت کې راغلی، او ټول وارثان د هغه مشترکه مالکان جوړ سول، حتی چې په هر څو مره معمولي شی کې لا هم ټول وارثان سره شریک وګرځیدل.
اوس کچیرې ټوله وارثان عاقلان او بالغان وي، او ټوله په خوشحالي سره یو سړي ته د دغه مال د استعمال اجازت ورکړي، نو هغه ته ئې استعمال جائز دی.

لیکن کچیري یو وراث د استعمال اجازت نه ورکوي، یا یو وارث موجود نه وي، بلکه غائب وي، چي د هغه د رضا معلومات نکیږي، یا یو وارث نابالغه وي، چي د هغه د رضا مندی هیڅ اعتبار نسته، نو په دې ټولو صورتو کي د دغه مال استعمال و هیچا ته که وارث وي، او که د مړي قریب وي، او که بل څوک وي، جائز ندی.

**د امام ابو حنیفه** رحمة الله علیه **احتیاط:**

حضرت امام ابو حنیفه رحمة الله علیه یو ځل د یو بیمار پوښتني ته د هغه کور ته راغلی، چي کله د هغه و سر ته کښېناستی، نو د هغه سا په غوټو باندي راځي، یعني پر هغه د زکندن حالت دی.

نو ده مبارک دا فکر وکړ: چي دا سړی اوس په دنیا کي د لږ وخت میلمه دی، او د آخرت پر سفر روانېدونکی دی، نو ځکه ئې "سورة یس" ور باندي شروع کړه.

لږ ګړی بعد هغه سړی وفات سو، چي څنګه دی وفات سو، نو حضرت امام ابو حنیفه رحمة الله علیه د ده و سر ته بل څراغ دستي مړ کړی.

نو هغه خلکو ور ته وویل: چي حضرت! تاسو څراغ مړ کړی، حالانکه پدې وخت کي خو رڼا لا ډېر ضرورت دی، ده مبارک په جواب کي ورته وویل: چي دغه وخت د څراغ د مړ کولو دی، ځکه چي تر څو پوري دغه سړی ژوندی وو، نو دا څراغ د ده په ملکیت کي وو، اوس د ده د وفات څخه وروسته دا څراغ د ده د وارثانو ملکیت ته راغلی، او د هغو د اجازت بغیر د دې څراغ استعمال زموږ لپاره جائز نه دی، نو ځکه ما څراغ مړ کړی.

نو یو طرفته زموږ سلفو د مړي په مال کي دومره تقولی او احتیاط کاوی، او بل طرفته زموږ دومره بې احتیاطي ده، چي د یو سړي د وفات څخه وروسته موږ په کم شکل د هغه پر مال باندي قبضه لګوو، او بې ځایه په هغه کي تصروفات کوو، او تر ورثوو پوري ئې نه رسوو، او نه د هغه حق ور کوو، بلکه چي چا لره څه په لاس ورغلو، هغه ئې مالک وګرځي، او چي په کم شکل ئې زړه غواړي، نو هغسي ئې استعمالوي.

نو دغه عمل بلکل ناجائز او حرام دی، او وارثانو ته خپل حق نه ور رسول، لوی ظلم دی، کچیري دغه حق یو سړی په دنیا کي ور نکړي، نو په آخرت کي به ئې ضرور ورکوي.

## میراث نه تقسیمول:

حضرت مفتي محمد شفیع رحمة الله علیه یو ځای لیکلي دي: چي د میراث نه تقسیم کولو په وجه انسان د ډېرو لویو ګناهونو مرتکب ګرځي.
اوله ګناه دا: چي د میراث مال د الله لطرفه د بنده لپاره یو انعام وي، چي الله تعالی ئې دغه وارثانو ته د مشقت او محنت بغیر ورکوي، نو دا مال د الله د طرفه یو شاهي تحفه ده، او دا یو امانت دی، چي انسان به ئې تر خپلو حقدارانو پوري رسوي.
اوس که یو څوک دا غصب کړي، او په هغه کي تصرف شروع کړي، نو ده په دغه امانت کي خیانت وکړی، او خیانت کول، د منافقت علامه ده، نو د قیامت په میدان کي به دی د منافقینو په قطار کي راپورته کیږي.
دوهمه ګناه دا ده: چي دا مال د وارثانو حق دی، چي کله ئې پلار وفات سو، نو ټول ورونه او خوندي او هم د دغه میت زنانه پدي کي حصه پیدا کوي، او هم پدې مال کي شریکان دي، کچیري یو سړی د خپل زور او قوت په خاطر د هغو مال راوګرځوي، نو دا ظالم دی، او ظالم د قیامت په میدان کي به په سختو تیارو کي وي، ځکه حدیث شریف دی:
.........الظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ﴾.(¹)
ظلم د قیامت په میدان کي تاریکی دي.
په یو کتاب کي لیکلي دي: چي الله تعالی فرمایي: زما پر هغه سړي سخته ناراضګي وي: چي هغه د یو داسي چا سره ظلم وکړي: چي د هغه زما څخه ماسوا بل مددګار نه وي، نو زه به د دغه مظلوم د طرفه د قیامت په میدان کي پخپله د ظالم په مقابل کي د مدعي په شکل پیشیږم.
لکه یو شاعر وایي:

---

(¹) مسند ابي داؤد الطیالسي: حدیث نمبر ۲۰۰۲

لا تَظلِمَنَّ إذا ما كُنتَ مُقتدِراً ... فالظُّلمُ مَرتَعُهُ يُفضي إلى النَّدَمِ
تَنامُ عَيْنُكَ وَالمَظلومُ مُنتَبِهٌ ... يَدعو عَلَيكَ وَعَينُ اللّهِ لَم تَنَمِ.(۱)

چي کله ته قادر سې، نو پر هيڅ چا باندي هيڅ کله ظلم مکوه، ځکه د ظلم انجام شرمندګي ده.
ته ظلم وکړې، په آرام سره ويده سې، ليکن مظلوم ويښ وي، او تاته ښرا کوي، او د الله تعالی سترګي هيڅکله نه ويديږي.
او دريم ګناه و وارثانو ته په حق نه ور کولو کي دا ده: چي بيا به دغه ظلم تر ډېرو نسلونو پوري رسيږي، ځکه چي کله د خاندان مشر دغه طريقه رواج کړه، او د پلار د مرګ څخه وروسته ئې وارثانو ته حق ور نه کړی، نو بيا به د ده زوی هم داسي کوي، او بيا به د هغه زوی هم پر داغه طريقه چليږي، او تر ډېرو نسلونو پوري به دغه ظلم او غصب روان وي.
او د دې ګناه عذاب او وبال به پر هغه چا باندي وي، چي هغه اول داغه طريقه کښېښوله، او د خپل پلار د مرګ څخه وروسته ئې د شريعت مطابق ميراث تقسيم نه کړی، لکه د پيغمبر ﷺ حديث هم داسي دی:

......... وَمَنْ سَنَّ سُنَّةً سَيِّئَةً جَرَى عَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا بَعْدَهُ﴾.(۲)

چي کم چا د ظلم او د ګناه طريقه وضعه کړه، نو د هغې به ګناه پر ده باندي وي، او د ده څخه وروسته چي څومره انسانان په هغه عمل کوي، نو د هغو په ګناه کي هم دی ور سره شريک ګرځي.

## ميراث ژر تقسيمول:

نو چي د کم چا په زړو کي الله تعالی د آخرت فکر پيدا کړی وي، نو د هغه لپاره ښه طريقه دا ده: چي د ميت د وفات څخه وروسته دستي د هغه غسل او د کفن او دفن انتظام وکړي، او هم د هغه قرضونه ادا کړي، د هغه څخه وروسته د هغه وصيتونه د مال د دريمي (۳) حصې پوري ور پوره کړي.

(۱) المستطرف في كل فن مستظرف: الفصل الثالث في ذكر القصاص والمتصوفة: صفحه نمبر ۱۱۷
(۲) جامع معمر بن راشد: حديث نمبر ۲۱۰۲۴

د دې ټولو څخه وروسته اهمترین فرض باید دی دا وکړي، چې د هغه میراث تقسیم کړي، ځکه د میت د وفات څخه وروسته چې څومره ژر د هغه میراث تقسیم سي، نو هغومره پکښې عافیت وي، او د میراث په تقسیم کي چې څومره ځنډ کیږي، هغومره په هغه کي پرېشاني او تکلیفونه زیاتیږي، او په خاندانو کي اختلاف او نفرت پیدا کیږي.

د هغه وجه دا ده: چې د قریب د وفات څخه وروسته د ټولو وارثانو زړونه نرم وي، او په زړه کي ئې د هغه د مرګ صدمه او غم وي، او د زړه څخه ئې د دنیا محبت کافي درجه لیري وي، نو پدې وخت کي د میراث د تقسیم معامله آسانه وي.

چې څنګه د مړي د مرګ صدمه او غم کمیږي، هغه درجه د دنیا محبت په زړه کي زیاتیږي، چې د هغه په نتیجه کي د میراث د تقسیم مسئله ډېره مشکله ګرځي، او هم د هغه څخه د خاندان انسانان بیا د تقسم پر وخت د پرېشانی سره مخامخ کیږي.

## د مال پر غصب کولو باندې وعید:

الله تعالی قرآن کریم کي د بل مال په ناجائزه طریقه سره پر غصب کولو باندي ډېر سخت وعید بیان کړی دی، لکه د قرآن کریم آیت دی:

.......إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا﴾.(۱)

بلا شبه چې کم خلک د یتیمانو مال په ظلم سره خوري، نو هغه صرف او صرف خپل نس د اُور د سکروټو ډکوي، نو ظاهراً خو ده ته دا یو څو ګولې معلومیږي، چې د ی خپل نس او د بچیانو نس په ډکوي، لیکن په حقیقت کي دا د جهنم د اور سکروټي دي، چې د ده او د بچیانو په نسونو کي لوېږي، او ډېر ژر به الله تعالی د دې په ذریعه دی د جهنم هغه شدید او سوځونکي اور ته ور داخل کړي.

خدانخواسته! کچیري انسان په ذهن کي دا فیصله کړې وي: چې زه به میراث نه تقسیم کوم، نو دا ډېره د ظلم فیصله بلل کیږي، چې دده په دماغ کي ئې ځای نیولی دی، لکه په یو حدیث کي پېغمبر ﷺ فرمایي:

.............لَا يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلَّا بِطِيبِ نَفْسٍ مِنْهُ﴾.(۱)

---

(۱) سورة النساء، آیت نمبر ۱۰.

خبردار! تاسو به ظلم نه کوئ، د یو مسلمان مال د هغه د خوشحالۍ او رضا بغیر استعمالول حلال نه دي.
یعني ناحقه د یو مسلمان مال مه خورئ، او د هغه چي څومره ورثاء دي، هغه ټول په دغه مال کي شریکان دي، د هغو د رضا بغیر دغه مال د ځان سره ایښوول، یا استعمالول حلال نه دي.
په یو بل حدیث کي پیغمبرﷺ د دې نور وضاحت کړیدی، او ده مبارک فرمایلي دي:
......مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلَمَةٌ لِأَخِيهِ مِنْ عِرْضِهِ أَوْ شَيْءٍ، فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ الْيَوْمَ، قَبْلَ أَنْ لاَ يَكُونَ دِينَارٌ وَلاَ دِرْهَمٌ، إِنْ كَانَ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلَمَتِهِ، وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَحُمِلَ عَلَيْهِ). ([2])
کچیري تاسو پر یو خپل ورور باندي ظلم کړی وي، یا مو د هغه مال خوړلی وي، نو نن لا هغه معاف کړی، د هغه ورځي د راتلو څخه مخکي چي په هغه ورځ نه پیسې وي، نه دراهم وي، او نه دنانیر.
بلکه په هغه ورځ به دا وي: کچیري د ظالم سره نیک عمل وي، نو هغه به مظلوم ته ور کول کیږي، او کچیري د ظالم سره نیکعمل نوي، نو بیا به د مظلوم گناه د ده د ظلم برابره پر ظالم باندي اچول کیږي.
نو د یو چا د وفات څخه وروسته د هغه د یو "ستني" مقدار په مال کي ټول شریکان حصه داره او شریک بلل کیږي، نو د هغو د رضا بغیر به د میراث د مال استعمال څنگه جائز سي، خصوصاً په ورثوو کي نابالغ هم وي، نو بیا خو معامله نوره سنگینه او درنه سي.
نو یو طرفته د میراث پر نه تقسیم کولو دومره لوی وبال او عذاب دی، لیکن د هغه باوجود زموږ په معاشره کي د میراث د تقسیم کولو رواج نسته، چي کله پلار وفات سي، نو زامن د ټول مال ځان مالکان بولي، یو وروړ هم خپلو خویندو ته د میراث حصه نه ورکوي، او نه زناني ته، او هم نابالغه بچیانو ته میراث نرسیږي.

---

([1])السنن الکبری للبیهقي، حدیث نمبر ۱۱۵۴۵
([2])صحیح البخاري، حدیث نمبر ۲۴۴۹

بس چې مال د چا په لاس کې وي، نو هغه پر ټوله باندې قبضه وکړي، او عام طور نور ورونه او وارثان د میراث څخه محرومه کړي، او په ناجائزه طریقه سره د نورو وارثانو حق غصب کړي، او خپل مالک ته د رسولو هیڅ فکر نلري، او نه ئې هغه ته ور کوي.

**عبرتناکه واقعه:**

په اصلاحي بیانانو ته کې حضرت مولانا عبدالرؤف سکهروي مدظله العالی د یو عالم واقعه لیکلې ده: چې کله هغه وفات سو، نو د وفات څخه وروسته ئې خپل شاګرد په خوب کې ویني، چې هغه عالم لغړ بدن په یو دښت کې د غرمې په سخته ګرمي کې د سختې پریشانۍ په حالت کې یو طرف او بل طرفته پر لره ګرځي.
شاګرد پوښتنه ځني وکړه: چې حضرت! تاخو ټوله زندګي په اطاعت او عباداتو او د دین په خدمت کې تیره کړه، ایا د هغو څخه هیڅ هم ندي قبول سوي؟
ده په جواب کې ورته وفرمایل: چې الله تعالی ماته په دنیا کې د څومره نیکو اعمالو توفیق راکړی وو، هغه ټوله قبول دي، لیکن په کم عذاب کې چې اوس ته ما مبتلا وینې، هغه د یو ستني په وجه، چې د وفات څخه څو ورځې مخکې ما د جامو ګنډولو دپاره د همسایه د کور څخه راوړې وه، او بیا مې واپس نکړه، او زه وفات سوم، هغه امانت ماتر مالکه نه ورساوی، نو ځکه زه اوس د هغه په وجه د عذاب زندګي تیروم.
چې کله ته سهار را کښېنې، نو زما قربانو ته هغه ستن زما د کور په الماری کې پرته ور وښیه، چې زما همسایه ته ئې ورسوي، او زه د عذاب څخه خلاص سم.
هغه شاګرد چې سهار را پورته سو، نو سیده د هغه استاد کور ته راغلی، او هغو ته ئې د هغه الماری او ستني نشاندهي وکړه، او ورته وئې ویل: چې ما ماښام په خوب کې دی ولیدی، چې د دغه ستني په وجه په ډېر عذاب کې مبتلا وو، او ما ته ئې دا فریاد وکړی: چې دغه امانت زما د کور څخه خپل مالک ته ضرور ورسوه.
نو هغه شاګرد ئې هغه ستن همسایه ته راوړه، او هغه ته ئې وویل: چې د دغه ستني په وجه حضرت ته ډېر سخت عذاب ور کول کیدی، نو هغه همسایه چې دا واوریدل، نو په ژړا سو، چې د دومره معمولي شي په وجه ده ته عذاب ور کول کیدی، نو لاس ئې

پورته کړل: چي ما خو دی د الله لپاره معاف کړیدی، یا الله! ته هم دی پخپل رحمت سره معاف کړه، او د ده عذاب څني لیري کړه.
هغه شاګرد وایي: چي کله را روانه شپه ویده سوم، نو بیا مي هغه استاد په خوب کي ولیدی، لیکن پدې ځل هغه منظر ډېر بدل وو، اوس خو دی په یو ښائسته او سرسبز باغ کي پر یو کټ باندي په آرامه ناست وو، او څلور طرفه خادمان ورته ولاړ وو، او د میوو درختي ورباندي راګرځېدلي وې، او یخي یخي هواوي ورته چلیدلې.
زه نژدې ورغلم، سلام مي ورته ووایي، او پوښتنه مي څني وکړه: چي حضرت! څنګه حال دی؟ ده په جواب کي راته وویل: چي کله تا هغه "ستن" همسایه ته ورسوله، او هغه زه معاف کړم، بس په داغه لمحه کي عذاب را څخه لیري سو، دغه نعمتونه چي ته اوس وینې، دا دالله تعالی د خپل کرم او فضل په خاطر د دین د خدمت کولو عوض او بدله راکړله.

## د دوو صحابه کرامو عجیبه معاهده:

خو پدې خبره سر خلاصول: چي کله یو سړی د دنیا څخه په داسي حال کي رخصت سي، چي د ده پر ذمه د بل حقونه پاته وي، نو د تولو څخه مخکي به ده ته دهغه سزا ور کولو کیږي.
پدې باره کي د صحابه وو یو قصه په احادیثو کي موجود ده، چي دوه صحابه کرامو یو حضرت عوف بن مالک ﷺ او بل صعب بن حثامه ﷺ په خپل درمیان کي ډېر قریب دوستان ول.
یو ځل حضرت صعب ﷺ خپل دوست حضرت عوف بن مالک ﷺ ته وویل: ته زما سره یوه معاهده وکړه، هغه ورته وویل: چي څنګه معاهده؟ ده ورته وویل: چي دا معاهده: چي په ما او تا کي هر یو د مخه وفات سو، نو هغه به هغه بل ته په خوب کي راځي، او څه حالات به د ده سره شریک کوي،
حضرت عوف بن مالک ﷺ ورته وویل: چي ایا داسي هم ممکنه ده؟ هغه ورته وویل: چي هو ممکنه ده، نو ده ورته وویل: چي ممکنه ده، نو بس بیا خو زما او ستا په مابین کي دا ئمه معاهده ده.

د الله تعالی فیصله وه، اول حضرت صعب ﷺ وفات سو، د وفات څخه وروسته په اوله شپه په خوب کي حضرت عوف ﷺ د ملاقات لپاره راغلی.
حضرت عوف بن مالک ﷺ پوښتنه ځني وکړه: چي دا راته ووایه: څنګه حالات درباندي راغله؟ او د الله تعالی وحضور ته په کم شکل کي پېښ سوې؟ او هلته څه در سره وسوه؟
حضرت صعب ﷺ په جواب کي ورته وایي: چي د ډېرو مشکلاتو او پرېشانیو په حالت کي وم، خو اوس مي نجات پیدا کړی.
په خبرو خبرو کي چي کله حضرت عوف بن مالک ﷺ ورته وکتل: نو د ده پر غاړه د سوځلو داغونه وو، ده د حضرت صعب ﷺ څخه پوښتنه وکړه: چي دا څنګه د سوځولو داغونه دي؟ حضرت صعب ﷺ ورته وویل: چي په اصل کي ما د یو ضرورت لپاره د یو یهودي څخه لس(۱۰) دیناره په قرض اخیستي وه، او هغه قرض مي ادا کړی لا نه وو، چي زه وفات سوم، د هغه لسو(۱۰) دینارو د نه ادا کولو په وجه زما پر غاړه هغه دینارونه د جهنم د سکروټو په شان اېښوول کیږي، او دغه تور داغونه د هغه نښانونه دي، چي ته ئې وینې.
او هغه لس(۱۰) دیناره تر اوسه پوري هم زما د کور په توښه دان کي پراته دي، ته به سهار ورسې، او زما د کور د انسانانو څخه به د هغه توښه دان معلومات وکړې، او هغه لس(۱۰) دینارونه به تر خپل مالکه پوري ورسوې، چي زما دغه تکلیف ختم سي.
داغه رنګه حضرت عوف بن مالک ﷺ دا هم ولیدل: چي د هغه صعب ﷺ د لاسو پر ګوتو کپړې پیچل سوي وې، او داسي معلومیدلې: چي دغه ګوتي د ننه زیاتي زخمي دي، ده د هغه پوښتنه وکړه، حضرت صعب ﷺ په جواب کي ورته وویل: چي په کم تکلیف کي زه وفات سوم، هغه دومره شدید وو، چي د هغه د شدت په وجه ما دا خپلي ګوتي وژوولې.
او چیکله د الله حضور ته پېش سوم، نو الله تعالی راته وویل: چي کم شی تا پخپل لاس خراب کړیدی، مونږ هغه ته جوړښت او تندرستي نه ور کوو، نو ما ځکه ستا څخه پوټي کړي وې، چي که چیري ته هغه ووینې، نو تاته به د هغه د لیدلو په وجه تکلیف در ورسیږي.

حضرت عوف بن مالک ﷺ فرمایي: چي زه سهار د ټولو څخه مخکي د ده کور ته ورغلم، او هغه توبنه دان مي راطلب کړی، او د هغه څخه مي هغه لس(۱۰) دیناره خپل مالک یهودي ته ور ورسول، او د ده قرض مي ادا کړی.
د هغه څخه وروسته پیغمبر ﷺ ته ورغلم، او د خوب ټوله واقعه مي ورته بیان کړه، او دا مي ورته وویل: چي د هغه قرض خو ما ادا کړی، لیکن د هغه د ګوتو تکلیف دومره سخت وو، چي ما نسو ورته کتلای، ته د هغه لپاره دعا وکړه، چي الله صحت ور کړي، او دی معاف کړي.
چنانچه پیغمبر ﷺ خپل لاسونه مبارک پورته کړل، او د هغه لپاره ئې دعا وکړه، چي یا الله! حضرت صعب ته معافي وکړه، او د ده د ګوتو او د غاړي د داغونو تکلیفونه ځني لیري کړه.
دوهمه شپه چي کله زه ویده سوم، نو حضرت صعب ﷺ مي بیا په خوب کي ولیدی، بدي ځل د ده د غاړي داغونه لیري سویوه، او د لاسو ګوتي ئې هم د صحت په حالت کي وې.([1])
تاسو دواړه واقعات واوریدل، اوله واقعه، د یو ډېر لوی بزرګ وه، دوهمه واقعه د یو صحابي وه، هغه بزرګ ته د یوې ستني په وجه عذاب ورکولو کیدی، او هغه صحابي ته صرف د لس(۱۰) دیناره په وجه عذاب ورکول کیدی، نو که موږ او تاسو میراث تقسیم نه کړو، نو په څومره شدید عذاب کي د مبتلا کیدلو خطره ده.

## وروڼ غواړي! که مال؟

بعض وخت چي کله خویندي د وروڼو څخه د خپل میراث د حصې طلب وکړي، نو دوی هغه ته دغه د عناد ډک جواب ور کوي: چي وروڼه غواړئ که میراث؟ د دې مطلب دا وي: کچیري تاسو د میراث حصه غواړئ، نو د همېشه لپاره زموږ او ستاسو رشته او قرابت سره ختم دی، بیا به نه تاسو موږ ته د وروڼو په نظر ګورئ، او نه موږ تاسو د ځان خویندي بولو.

([1]) المنامات لابن ابي الدنيا: باب اينا مات فليتراءى لصاحبه؛ صفحه نمبر ۲۷، حديث نمبر ۲۵

او کچیري د میراث حصه پرېږدي، نو موږ ستاسو ورونه یو، هر وخت پر تاسو پوښتنه کوو، او هر وخت به مو راولو، او ستاسو په غم او خوشحالي کي به درسره شریکان یو، نو په دغه شکل پر خویندو او لوڼو باندي دېر لوی ظلم انسانان کوي.

بعض خلګ چي دینداره وي، نو هغه بیا خویندي د هغو د حصې څخه د خپل ځان په حق کي دست برداره کوي، او هغو ته وایي: چي دغه د میراث حصه پرېږدئ، ځکه زموږ په قوم کي بده خبره ده، چي تاسو میراث غواړئ، او زموږ لپاره یو پیغور دی، نو دا خبري هغو ته ور مخته کوي، او پدي شکل د هغو د خولې څخه دا خبره باسي: چي موږ میراث نه غواړو، او د هغه څخه دست برداره یو.

د هغه څخه وروسته هغه ورونه میراث پوازي د ځان حق بولي، او هغه خویندي غریباني ټولي ځني محرومه کړي.

ګورئ! په دغه شکل او د صرف زباني دست برداری په شریعت کي هیڅ اعتبار نسته، او نه په دغه شکل دست برداري سره د خویندو حصه د ورونو به ملکیت کني راځي، او نه د خویندو حصه ورونو ته حلالیږي، چي هغه ئې په خپل حق کي استعمال کړي.

## د هندوانو ذهنیت:

او دا تصور چي موږ خویندو او لوڼو ته ولي میراث ور کړو؟ دا دهندوانو د زندګۍ تهذیب او تصور دی، چي پلار په ژوند کي لور ته څه ورکړل، خو ورئې کړل، د پلار د مرګه بعد لور د ده په مال کي هیڅ حصه نه لري، هغه ټوله د پلار د زامنو ملکیت بلل کیږي.

د هغه تهذیب اثرات نن زموږ په معاشره کي هم راغلي دي، او د هغه تصور او تهذیب په وجه دغه خبري نن زموږ د معاشرې د زندګۍ یو حصه جوړه سوې ده، چي لوڼو او خویندو ته په میراث کي خپل حق نه ور کول کیږي.

## د خویندو حصه هغو ته په قبضه کي ور کول:

لهذا پدې حالاتو کي اول د خور او د لور حصه هغو ته په خپل لاس ورکول، او هم پوره اختیار ورکول، چي دا ستاسو حصه ده، چي کم ځای ئې خرڅ کوئ، هلته ئې خرڅ کړئ او مروتاً دا هم ورته ښکاره کول: چي زموږ ستاسو د مال یوه ذره ته ضرورت نه...

نو دا د خوېندو د میراث د حصې څخه د خپلې ذمې فارغه کولو بنه شکل دی، ځکه یو طرفته خو په معاشره کې هغو ته د حصې نه ور کولو دستور را روان دی، او بل طرف ته د وروڼو په زړو کې و خویندو ته د نه ور کولو مختلفې حیلې او بهانې پیدا کیږي، او د هغو دا کوشش وي: چې څومره جائیداد دی، هغه ټول و موږ ته راپاته سي، او د خویندو حصه کې جوړه نسي.

نو وروڼه باید په ډېر خوشدلي سره د الله تعالی و حضور ته جواب پیشول و مخته کنېږدي، او د آخرت د ویرې د هر وارث پوره پوره حصه جلا کړي، او هغه ته ئې په قبضه کي ورکړي، او هغو ته دا ووایي: چې دغه-خپل مال محفوظه کړئ، چې موږ عندالله بلکل بری الذمه (یعني چي ذمه مو ځني فارغه شي) سو، بیا ستاسو خوښه ده: چي څنګه ئې خرڅ کوئ، د خیرات په شکل یا په دې سره مسجد جوړوئ، یا ئې پخپل استعمال کي راولئ.

## اول فتوی ځان ته معلومول:

لهذا د قریب د وفات څخه وروسته د ټولو څخه مخکي کار دا دی: چي یو سوال جوړ سي، او یو عالم ته پیش سي، چي والد صاحب وفات کړیدی، او فلان او فلان وارثین لري، دغه میراث په وارثینو کي موږ څنګه تقسیم کړو.

چي کله جواب راغلی، نو بیا پر ټولو ذمه دارانو دا فریضه عائد ګرځي: چي د ټولو څخه مخکي د دغه جواب مطابق د میراث د تقیسیم اهتمام وکړي، ور نه خدانخواسته: کچیري د یوه سره یوه لوېشت ځمکه د نورو وارثانو پاته سوه، نو پر دې باندي به ډېر شدیدترین عذاب او وبال وي.

## خولناکه عذاب او وعید:

په یو حدیث شریف کي راځي:

.........مَنْ ظَلَمَ لِيدَ شِبْرٍ طُوِّلَهُ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ). (۱)

(۱) صحیح البخاري: حدیث نمبر ۳۱۹۵

چي کم سړي د بل چا يوه لويشت مځکه ناحقه غصب کړه، نو د قيامت په ورځ به دغه يوه لويشت مځکي تر اوو (۷) مځکو پوري ټوله خاوره ورکولی شي او د دغه غصب کونکي په غاړه به ئې ور ځوړي.

په يو بل روايت کي داسي هم راځي: چي کم چا يوه لويشته مځکه غصب کړه، چي کله دی د قيامت په ورځ د قبر ځخه راپورته سي، نو د الله د طرفه به حکم ورته وسي: چي تر اوو (۷) مځکو پوري دغه يوه لويشت مځکه راپورته کړه، د ده د غاړي طوق به ځني جوړ کړي، چي تر څو پوري حساب او کتاب ختم سوی نه وي، دی به دغه په غاړه کي ګرځوي، او په دغه عذاب کي به مبتلا وي.(¹)

په يو بل روايت کي داسي هم راځي: که يو سړي د بل مځکه غصب کړه، نو تر اوو (۷) مځکو پوري به الله تعالی دغه سړی په مځکه ننه باسي.(²)

نو د مځکي پر غصب کولو چي څومره سخت وعيدونه راغلي دي، نو ميراث نه تقسيمول او د وارثانو حق غصب کول هم په دغه وعيد کي داخل دي، نو بايد مورږ د ميراث د تقسيم په ښه شکل اهتمام وکړو، او خپله ذمه د هغه ځخه فارغه کړو.

بيا خاص چي کله په وارثانو کي نابالغه او يتيمان وي، بيا خو خبره نوره هم سخته سي، ځکه چي يو خو د مال غصب کيدل دي، او بيا خاص د يتيم مال غصب کول ډېره درنه وي.

ډېر ځله زمونږ په معاشره کي عموماً په وارثانو کي يتيمان بچيان وي، او د هغوی مشران وروڼو د دې خبري فکر او خيال نه کوي: چي د دغه يتيمانو خو په يو يو پائي کي حصه ده، مونږ د هغه حصه څنګه استعمال کړو، او د هغه استعمال به مونږ ته څنګه جائز وګرځي.

نو مشران وروڼه بايد د کشرانو د ميراث حصه معلومه کړي، بيا چي کم بالغ ورثاء دي، که هغه غواړي او پخپله حصه کي دي ئې مشترکه طور په رضامندي سره استعمال کړي، او که رضامندي نه وي، نو هر يو دي خپله خپله حصه استعمال کړي.

---

(¹) مسند احمد: بحواله اصلاحي بيانات ورسائل، جد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۷۹

(²) صحيح البخاري: بحواله اصلاحي بيانات ورسائل، جلد نمبر ۱، صفحه نمبر ۱۷۹

## د هر بنده درې (۳) عملنامې:

حضرت عائشه مبارکه روايت کوي: چې پيغمبرﷺ به فرمايل: چې د هر بنده درې (۳) عملنامې وي.

- د يوې عملنامې په باره کې الله تعالی هيڅ پرواه نه کوي.
- او په دوهمه عملنامه کې چې څه ليکلي وي، الله تعالی هغه هيڅکله نه معاف کوي.
- او د دريمې عملنامې د ليکلو اعمالو الله تعالی پوره پوره بدله ور کوي.

د هغه څخه وروسته پيغمبرﷺ به د هغه وضاحت کاوی، او ده به فرمايل: چې اوله هغه عملنامه چې الله تعالی ئې هيڅ پرواه نه کوي، هغه هغه عملنامه ده: چې په هغه کې د "حقوق الله" ضائع کول ليکلي وي، لکه لمونځ، روژه، زکات، او داغه رنګه د الله په حقوقو کې نوري کوتاهی کول، اوس دغه که الله تعالی وغواړي، نو په خپل رحمت سره به ئې معاف کړي، او که وغواړي: نو پر دې باندي به د بنده مؤاخذه وکړي.

دوهمه هغه عملنامه، چې په هغه کې کفر او شرک ليکلی وي، الله تعالی د بنده کفر او شرک نه معافوي، لهذا د کافر او مشرک بخښنه نه وي، بلکه هغه همېشه په جهنم کې سوځل کيږي.

دريمه عمل نامه: چې په هغه کې د بندګانو د حقوقو کوتاهی ليکلي وي، يو انسان چې د بل انسان کمه حق تلفي وکړي، هغه ټولي په دغه کې ليکلي وي، د دې په باره کې الله تعالی يوه ذره هم رعايت نکوي، بلکه پوره پوره بدله ځني وَر اخلي، او صاحب حق ته ئې رسوي.

## د بندګانو د حقوقو ادا کولو اهتمام کول:

نو ځکه زه همېشه دا وايم: بايد انسان زندګي داسي تيره کړي، چې د ژوند څخه د رخصتېدلو په وخت کې دده پر ذمه د هيڅ چا حق پاته نه وي.

نه دده د ژبي څخه چاته تکليف رسيدلی وي، او نه ئې د لاس او پښو څخه څوک پرېشانه سوی وي، او نه ئې پر ذمه د چا مالي حق پاته وي.

ځکه د امام قرطبي یو قول دی: چي د قیامت په میدان کي کچیري د چا پر ذمه یوه چوني هم (یعني یو ډېر معمولي شی ته ئې په دنیا کي د هغه مقدار یوه پیسه وبوله) پاته وي، نو د هغه په بدله کي اوه سوه(۷۰۰) قبول سوي لمنځونه ور کول کیږي.
نو چي کم کم نصیبه په زرو روپیې دچا خوړلي وي، او مځکي ئې غصب کړي وي، او پر جائیدادونو ئې قبضه کړي وي، او عمل نامه ئې د بل د حقوقو څخه ډکه وي، نو د هغه به څه حال وي؟
انسان باید پر خپل ځان باندي رحم وکړي، ځکه یو طرفته زموږ او ستاسو لمنځونه دي، چي هغه موږ په کم شکل وله رسوو، او په کمو اوبو باندي مي اودس دی، چي په هغه کي د برق غلا، د ګیس غلا، او خود د اوبو غلا کوو، او چي په کم لباس باندي زما او ستا بدن پټ دی، هغه په کم مال او دولت رانیسو، چي د هغه په ګټلو کي نه د درواغو څخه او نه د دوکې او خیانت څخه ځان ګورو، حلانکه پیغمبرﷺ خو فرمایلي دي:
.........وَ لَوْ أَنَّ رَجُلًا اِشْتَرَى ثَوْبًا بِعَشَرَةَ دَرَاهِمَ، وَكَانَ فِيْهِمْ دِرْهَمٌ حَرَامٌ، لَمْ يَقْبَلِ اللهُ تَعَالَى مِنْهُ عَمَلًا حَتَّى يُؤَدِّيَهِ إِلَى أَهْلِهِ). (۱)
کچیري یو سړي یو جامه په لس(۱۰) دراهمه رانیول، او په هغه کي یو دراهم حرام وو، الله تعالی د ده هیڅ نیک کار تر هغه وخته نه قبول کوي، چي تر څو پوري هغه درهم خپل مالک ته نه ورسوي، نو زه دا وایم: چي د قیامت ورځ پر حق ده، او په هغه کي حساب او کتاب هم برحق دی، او د حقوق العباد د حق تلفیو عمل نامه هم برحق ده، نو زموږ د پاره مناسب دا دی: چي د میراث په تقسیم د کوتاهۍ کولو څخه ځان وګورو، او تولو وارثانو د شریعت مطابق د هغو حصې ور رسولو اهتمام وکړو.
الله تعالی دي موږ او تاسو ته د دغه کوتاهۍ څخه د راګرځیدلو توفیق راکړي، او هم دي د میراث د تقسیمولو د اهتمام همت رانصیب کړي، او الله تعالی دا څو خبري قبولي او مقبولي وګرځوي. (آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

(۱) بحر الدموع، الفصل الثاني و الثلاثون، صفحه نمبر ۱۴۴

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیہ)

# په ژوندکي کي اعتدال کول

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰہ صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کلیم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشاعت | اول |
| تاریخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾.(١)

﴿عَنْ عَبْدِاللهِ بْنَ عَمْرٍو رضي الله عنهما قَالَ إِنَّ النَّبِيَّ ﷺ ذُكِرَ لَهُ صَوْمِي، فَدَخَلَ عَلَيَّ، فَأَلْقَيْتُ لَهُ وِسَادَةً مِنْ أَدَمٍ حَشْوُهَا لِيفٌ، فَجَلَسَ عَلَى الأَرْضِ وَصَارَتِ الوِسَادَةُ بَيْنِي وَبَيْنَهُ، فَقَالَ لِي: أَمَا يَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ، قَالَ: خَمْسًا قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، قَالَ: «سَبْعًا» قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، قَالَ: إِحْدَى عَشْرَةَ...الخ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! ستاسو په حضور کې ما د پېغمبر ﷺ يو روايت مبارک پېش کړی، چې د هغه راوي: حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما دی.

دی مبارک د حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه بچی دی، چې د پېغمبر ﷺ په صحابه کرامو کې "جليل القدر" صحابي دی، په دغه حديث مبارک کې دی د خپل ځان يو واقعه بيانوي.

امام بخاري رحمة الله عليه چې دا دغه روايت رانقل کړيدی، نو په هغه کې اختصار دی، او د حديثو په نورو کتابو کې دا روايت يو څه په تفصيل سره رانقل سويدی.

(١) سورة الانعام، آيت نمبر ١٦١
(٢) صحيح البخاري: حديث نمبر ٦٢٧٧

هغه تفصيل دا دی: چي د ده پلار حضرت عمروبن العاصﷺ په "مدينه منوره" کي د ده نکاح د يوې شريفي زناني سره وکړه، چي د هغه شرافت مشهور او معروف وو، او هم هغه زناني د ډېر لوړ خاندان سره تعلق درلودی.
چي کله نکاح او رخصتي وسوه، د هغه څخه يو څو ورځي بعد حضرت عمروبن العاصﷺ دا فکر وکړی: چي زه به د خپل زوی پر زنانه يو پوښتنه وکړه، چي زما په کور کي د دې څنګه حال دی، او دا د خپل خاوند څخه خوشحاله ده، او کنه، او ځان ته دا معلومه کړم: چي د دې ژوند د خاوند سره څنګه تيرېږي.
يوه ورځ ده د خپلي نږور يعني د بچي د زنانې څخه پوښتنه وکړه: چي ته خو زما کور ته د يو ميلمه په حيث راغلی ئې، او دلته دي اوس دومره ورځي تيري سوې، او زما د زوی سره اوسېږې، ايا ستا سره زما د زوی ګوزاره څنګه ده؟ او ستا او د هغه خپل درمياني تعلقات څنګه دي؟
هغه زنانه چونکه ډېره شريفه وه، نو هغې په جواب کي ورته وويل: چي ستا بچی: عبدالله خو ډېر بهترين انسان دی، او ډېر نيک او عبادت ګوزاره انسان دی، چي کله زه د ده کور ته راغلې يم، نو که ګورم: دی ټوله ورځ په روژه باندي وي، او چي کله د شپې کور ته راسي، نو بيا پر مسئله ودرېږي، او ټوله شپه عبادت کي په دې درجه مشغوله وي: چي زما بسترې ته د راتللو فرصت او وخت ورسره نه وي.
په دغه شکل هغه زناني د ده د عبادت او تقوی تعريف وکړی، ليکن د هغه سره سره ئې ضمناً حقيقت حال هم ښکاره کړی، چي هغه دومره زيات عبادت کوي: چي زما و طرف ته د توجه کولو وخت ورسره نه وي.

## عبداللهﷺ ته نصيحت:

حضرت عمروبن العاصﷺ ته چي کله معلومات وسو، نو يو څه پرېشانه سو؛ دستي ئې خپل بچی عبدالله راطلب کړی، او ورته وئې ويل: چي بچيه! داشان زندګي مناسب نده، چي کله ستا په کور کي ستا په سر زنانه ناسته ده، د هغې هم پر تا دا حق دی، چي يو څه وخت د هغې سره تېر کړې، ستا دغه طرز عمل چي ټوله ورځ په روژه ئې

او د شپې بيا عبادت کوي، د اعتدال څخه وتلی دی، ته پر دا خپل ژوند يو څه نظر وکړه، او د هغه د صحيح کولو فکر وکړه.

## د صحابه کرامو مزاج:

ليکن پر حضرت عبدالله رضي الله عنه باندي د يو غلبه حال کيفيت وو، ځکه چي دا د صحابو رضي الله عنهم زمانه وه، او په دغه زمانه کي صحابه کرامو اکثرو دغه شان حال وو، چي دوی به په کثرت سره عبادت کاوی، ځکه د پيغمبر ﷺ د مجلس مبارک به دا نتيجه وه: چي د دوی په زړو کي به د دنيا څخه بې رغبتي پيدا کېدله، او همېشه به دا فکر ور سره وو، چي څنګه به يو داسي عمل وکړم: چي په هغه سره زما د آخرت معامله آسانه سي.

او د دنيا څخه د داسي اعمالو کولو وروسته رخصت سم: چي دالله تعالی دربار ته ورسم، او هلته د الله تعالی رضا مندي پيدا کړم، نو هلته د هر سړي دا فکر وو.

نو ډېرو صحابه کرامو به بار بار د پيغمبر ﷺ د ازواج مطهراتو طرف ته رجوع کوله، او د هغوی څخه به ئې دا معلومول: چي پيغمبر ﷺ چي کله کور ته راسي: نو هغه کم اعمال کوي؟ د دوی به دا خيال وو: چي پيغمبر ﷺ به په کور کي ډېر زيات عبادات کوي، او ټوله شپه به په عبادت کي مشغوله وي، کچيري د هغه عبادت تفصيل معلوم سي، نو موږ به هم هغه شان عبادت شروع کړو.

ازواج مطهراتو به صحابه کرامو ته ويل: چي کله پيغمبر ﷺ کور ته راسي، نو په کور کي زموږ سره داسي ژوند کوي: لکه تاسو چي ئې د خپلو بچيانو او زنانو سره کوئ، دی په کور کي زموږ سره د کور په کارو کي کومک کوي، او زموږ د خوشحاله کولو لپاره د خوش طبعۍ خبري را سره کوي، او خپل عبادت هم کوي.

## د صحابه کرامو ګمان:

چي کمو صحابه کرامو دغه معلومات غوښتي وو، نو هغوی به پخپل مابين کي مشوره سره وکړه: چي په اصل کي د پيغمبر ﷺ معامله زموږ څخه ډېره جلا ده، اول خو دی د ګناه څخه معصوم دی، چي هيڅکله د ده څخه ګناه نه کيږي، بيا هم که په هيره باندي يا په خطا سره څه سوي وي، نو الله تعالی د ده په حق کي اعلان کړيدی:

............﴿لِّيَغْفِرَ لَكَ اللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ﴾.(١)

چې ستا مخکيني او وروستني ګناهونه ټوله الله تعالی در بخښلي دي، نو که دی زيات عبادت نه وکړي، هيڅ پرواه نلري.

ليکن موږ خو د ده سره هيڅکله نسو برابرېدلای، نه موږ د ګناه څخه معصوم يو، او نه الله تعالی زموږ د مغفرت وعده کړېده، نو زموږ لپاره مناسب دا دی: چې زيات عبادت وکړو، چې په هغه سره د الله تعالی قرب او نزديکت ته ځان ورسوو.

چنانچه په دوی کې به يوه د ځان سره دا فيصله وکړه: چې زه به ټوله شپه په عبادت کې تيروم، او بل به بيا ويل: چې زه به ټول عمر د ورځې روژې نيسم، او دريم به بيا دا فکر کاوی: چې زه به هيڅکله نکاح نکوم، او خپل ژوند به بغير د نکاح څخه تيروم، چې وعبادت کولو ته ښه ور فارغه سم.

## د عبدالله کيفيت:

بحر حال: حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه به هم همېشه په دغه فکر کې وو: چې دغه دنيا به څنګه د آخرت يو ذريعه جوړه کړم، او په دنيا کې چې الله تعالی کمه زندګي راکړېده، نو هغه به غنيمت بولم، او د الله په عبادت کې به ئې خرڅ کوم، نو همېشه به د دغه حال کيفيت پر ده باندې غالب وو.

د ده پلاز حضرت عمروبن العاص به ده ته ډېر نصيحت کاوی: چې داسې مکوه، نو لږ او ډېر خو به ئې پر ده اثر وکړی، ليکن چې کله به ورځ او شپه تيره سوه، نو بيا به د ده هغه حالت شروع سو، چې ورځ به ئې په روژه وه، او ټوله شپه به د عبادت لپاره ولاړ وو.

## د پيغمبر صلی الله عليه وسلم پخپله راتلل:

چې کله حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه د خپل پلاز حضرت عمروبن العاص رضي الله عنه په قابو کې نه راتلی، نو هغه ورغلی، پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته ئې دغه ټوله معامله بيان کړه، چې زما زوی داسې زندګي تېروي، چې ټوله ورځ ئې روژه وي، او شپه په عبادت کې تېروي، د

(١) سورة الفتح: آيت نمبر ٢

ده زنانه که څه هم د خپل شرافت په وجه د ده شکایت نه کوي، لیکن ما ته معلومه سوه: چې دی د هغه حقوق نه ادا کوي.
پیغمبرﷺ ته چې کله دا خبره پیش سوه، نو دی پخپله د حضرت عبدالله بن عمرو بن العاصؓ کور ته راغلی، اوس یو صورت خو دا هم کېدای سو: چې ده هغه ځان ته رابللی وای، لیکن دا دپیغمبرﷺ زیات شفقت او محبت وو: چې د رابللو پر ځای پخپله د هغه کور ته ورغلی.
چې کله حضرت عبدالله بن عمروؓ ولیدی، چې پیغمبرﷺ راغلی، نو دغه واقعه دی پخپله بیانوي، او فرمايي: چې ما و هغه ته د کښېنستلو لپاره بالښت کښېښوی، چې د څرمې څخه جوړ وو، او د هغه نس د کجورو د پاڼو څخه ډک وو، چې دی و هغه ته څنګ ولګوي، او کښېني.
لیکن پیغمبرﷺ د هغه پر ځای دغسي پر مځکه کښېناستی، او هغه بالښت ئې په درمیان کې کښېښوی، نو هغه بالښت زما او د پیغمبرﷺ په درمیان کې راغلی، یعني پیغمبرﷺ هغه بالښت واپس خو نکړی، شاید په دغه وخت کې د هغه استعمال کولو ته هم ده ضرورت نه درلودی، نو ځکه ئې په درمیان کې کښېښوی، او خبره ئې شروع کړه.

## د میلمه اکرام کول:

امام بخاري رحمة الله علیه د مجلس دآدابو په بیان کې هم دغه روایت پیش کړی دی: او په دې روایت سره ئې د دې خبرې تائید پیش کړی دی: چې کله تاسو لره یو میلمه راسي، نو د هغه د اعزاز او اکرام کولو یوه حصه دا هم ده: چې د هغه لپاره د ناستې ښه ځای برابر کړې، او د هغه دآرام لپاره نالي او بالښت ورته کښېږدې، دا دراتلونکي میلمه حق ګرځول سویدی.
خاص بیا چې هغه میلمه یو بزرګ شخصیت وي، د پیغمبرﷺ وارث وي، او یا هغه ته الله تعالی نور په معاشره کې ښه عزت او ښه صفات ور کړي وي، نو بیا خو زیات داکرام کولو مستحق وي.

**د پیغمبر ﷺ د نصیحت کولو طریقه:**

حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما فرمایي: چي کله دی مبارک کښېناستی، نو ما ته ئې وویل: چي ای عبدالله!

........أَمَا يَكْفِيكَ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ).

ایا ستا لپاره په هره میاشته کي درې (۳) روژې نیول کافي نه دي؟

ځکه دپیغمبر ﷺ سنت او عادت دا وو: چي دهري میاشتي ایام بیض یعني دیارلسم(۱۳)، څورلسم(۱۴)، او پنځلسم(۱۵) تاریخ به ئې روژه نیوله، چونکه د الله تعالی په حضور کي د هر عمل ثواب یو په لس(۱۰) دی، نو کچیري یو سړی په میاشته کي درې(۳) روژې ونیسي، نو الله تعالی هغه ته د دیرشو (۳۰) روژو ثواب ور کوي، او ټوله میاشته دی پر روژه نیونکو کي شمارل کیږي.

نو ځکه پیغمبر ﷺ هغه ته وویل: ایا ستا لپاره درې(۳) روژې کافي نه دي؟ دی وایي: ما ورته وویل: ای دالله رسوله! زما روژې دومره مه راکموه، د یو څو نورو روژو هم اجازه راکړه، نو ده مبارک راته وویل:

........خَمْسًا).

کچیري دي زړه دې پر صبر نه کوي، نو بیا خو په میاشته کي پنځه(۵) روژې نیسه، بس دغه ستا لپاره کافي دي.

ما بیا پیغمبر ﷺ ته التجاء پیش کړه: چي ای دالله رسوله! زه د زیاتو روژو نیولو طاقت لرم، ما ته یو څه روژې نوري را زیاتي کړه.

نو پیغمبر ﷺ یو څه نوري ور زیاتي کړې، تر دې حده چي په آخر کي ئې ورته وویل:

........لَا صَوْمَ فَوْقَ صَوْمِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ شَطْرَ الدَّهْرِ، صُمْ يَوْمًا، وَأَفْطِرْ يَوْمًا).(۱)

یعني هیڅ یو روژه د حضرت داؤد علیه السلام د روژو څخه زیاته افضله نسي کیدلای، د حضرت داؤد علیه السلام روژه دا وه: چي یوه ورځ به ئې نیوله، او یوه ورځ به ئې خوړله، او ټوله زندګي په دغه شکل تېره کړله.

---

(۱)صحیح البخاري: حدیث نمبر ۱۹۸۰

نو ځکه پیغمبر ﷺ حضرت عبدالله ﷺ ته وفرمایل: کچیري روژه په بنه طریقه نیول غواړې؛ نو بس دغه شان وکړه: چي یوه ورځ روژه نیسه، او یوه ورځ ئې ماتوه، د دې څخه زیاتي روژې نیول ښه خبره نه ده، نو حضرت عبدالله ﷺ پر دغه خبره د پیغمبر ﷺ سره راضي سو.

او وروسته پیغمبر ﷺ ورته وایي:

﴿يَا عَبْدَاللهِ! إِنَّ لِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَلِأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَ لِعَيْنِكَ عَلَيْكَ حقا، فَصُمْ وَأَفْطِرْ، وَقُمْ وَنَمْ﴾.(¹)

ای عبدالله! ستا د نفس هم پر تا یو څه حق دی، او ستا د زناني هم پر تا یو څه حق دی، او ستا د سترګو هم پر تا یو څه حق دی، په بعضو روایاتو کي راځي: چي پیغمبر ﷺ دا هم ورته وویل: چي ستا د میلمه هم پر تا باندي حق دی.

## دانسان جسم امانت دی:

پیغمبر ﷺ هغه ته ډېره باریکه خبره وکړه، او هغه ئې دې طرف ته متوجه کړی: چي ستا دغه نفس او وجود چي ستا ګمان دا دی: چي دا زما دی، او زه د دې مالک یم، هیڅکله دا سي نده، بلکه: په حقیقت کي ستا دغه ټوله وجود ستا سره دالله یو امانت دی، ته د هغه مالک او صاحب اختیار نه ئې.

که ستا دا ګمان دی: چي دغه سترګي زما دي، او غوږونه او لاسونه او پښې زما دي، تر دې حده پوري خو دا خبره صحیح ده، چي دا ټوله د یو جائز استعمال لپاره یو څو ورځي اماناً الله تعالی تاته درکړیدي.

لیکن چي د دې د ملکیت کمه معامله ده، نو دا په حقیقت کي ټوله د الله دي، او هغه د دې مالک دی، ستا سره صرف اماناً یو څو ورځي دي، نو د دغه امانت پر تا باندي حق دی، چي د هغه به خیال ساتې، او هغه به هلاکت ته نه رسوې، او بلا وجه به د هغه په حق کي بې پرواهي نکوې، چي هغه نقصان ته ورسیږي.

خو دغه وجه ده: چي الله تعالی زموږ لپاره خودکشي حرامه ګرځولې ده، چي انسان به خپله خپل ځان نه هلاکوي، ځکه چي دغه ځان و ده ته اماناً ور کول سویدی، د دې

---

(¹) صحیح البخاري: حدیث نمبر ۱۱۵۳

مالک دي ندی، بلکه دا دالله امانت دی، نو د خودکشۍ کولو په شکل امانت ته نقصان رسيږي، او د بل امانت شي ته نقصان رسول حرام عمل دی.
نو د دغه امانت فکر کول، او هغه په جائزو کارو کي استعمال کول او د ناجائزو کارو څخه راګرځول، او د جائزو کارو په استعمال کولو سره د هغه حق ادا کول.
چي کله خبره داسي ده، نو خورکه کول هم ستا د نفس پر تا حق دی، او اوبه چيښل هم، او بقدر ضرورت ويده کيدل هم دنفس حق دی، کچيري ته د هغه حقوق ادا نکړې، نه هغه ته خورکه ورکوې، او نه اوبه او نه بقدر ضرورت آرام ورکوې، نو بيا خو په دغه امانت کي ناجائز تصرف کونکی شمارل کيږې.

## په صحيح نيت هر عمل عبادت دی:

د دې څخه معلومه ده: انسان چي څومره کارونه کوي، هغه که خپل جسم ته علاج وي، او يا هغه ته خورک او آرام ور کول وي، په هغه کي کچيري انسان دا نيت وکړي: چي دغه نفس ماته د امانت په طور را کول سويدی، او پيغمبرﷺ دا صراحتاً راته ويلي دي: چي ستا دنفس پر تا حق دی، نو زه که اوس څه خورم، يا ئې چيښم، يا آرام کوم، دا دپيغمبرﷺ د هغې وينا تعميل کوم، او د الله تعالی د دغه امانت حق ادا کوم، نو په دغه نيت د انسان په عمّل کولو کي دالله د رحمت څخه اميد دی، چي دا به ټول د ده لپاره د اجر او د ثواب ذريعه وګرځي.
نو ځکه زموږ بزرګانو ليکلي دي: چي د سهار څخه تر مابنامه پوري په ژوند کي داسي عمل نسته: چي هغه انسان د صحيح نيت په وجه عبادت نسي جوړولای، او هغه د ثواب کار نسي جوړولای.
ته چي څومره کار کوې، په هغه کي دا نيت کوه: چي زما نفس د الله تعالی امانت دی، د پيغمبرﷺ د وينا مطابق د دغه امانت د حق ادا کولو لپاره زه دغه کار کوم، نو بيا به ستا لپاره يقيناً هم دغه عمل د ثواب ذريعه جوړيږي.
نو دا ګمان نه کول: که ما چيري د عبادت ادا کولو لپاره دغه ځان په زيات مشقت کي واچاوی، نو ما ته به پر دې باندي زيات ثواب را کول کيږي، بلکه د دغه نفس حق دا هم دی: چي هغه ته به آرام ور رسوې.

نو پېغمبر ﷺ حضرت عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ وفرمایل: دغه ستا د سترګو هم پر تا باندي حق دی، که ته دغه سترګو ته آرام ور نکړې، نو یو داسي وخت به راسي: چي دا به ستړي سي، او بالآخر به کار کول پرېږدي.
او ستا د زناني هم پر تا باندي حق دی، چي تا کله د دې سره نکاح وکړه، او خپل کور ته دي راوسته، نو د دې حق دادی: چي دې ته هم لږ وخت ور کوه، د نفلي عباداتو د شغل په وجه د دې حق مه ضائع کوه.

## کاش ما په رخصت عمل کړی وای:

بهر حال پېغمبر ﷺ هغه ته د اعتدال تعليم ورکړی، چنانچه په رواياتو کي راځي: چي وروسته حضرت عبدالله ﷺ د پېغمبر ﷺ څخه د زياتو روژو د اجازت اخيستلو اصرار وکړی، ليکن پېغمبر ﷺ هغه ته وفرمايل: چي درې (۳) روژې په مياشته کي نيسه، چي ده کله د زياتوالي اجازت وغوښتی، آخر پېغمبر ﷺ و ده ته د يوې ورځي روژې نيولو او يوه ورځ افطار کولو اجازت ورکړی.
وروسته چي کله دی بوډا سو، نو په هغه وخت کي به ده خپله واقعه بيانوله: چي هغه وخت خو ما پېغمبر ﷺ ته د روژو زياتولو اصرار کاوی، ليکن اوس زما د اخيال سو: چي کمه خبره پېغمبر ﷺ اول ځل راته کړې وه: چي په مياشته کي درې (۳) ورځي روژې نيسه، کاش ما په هغه باندي عمل کړی وای، او ځان مي په ډېر مشقت کي نه وای اچولی.
ځکه چي يو ځل ما د پېغمبر ﷺ و مخ ته اقرار وکړی: چي زه به يوه ورځ روژه نيسم، او يوه ورځ به افطار کوم، نو اوس خو ټوله عمر زما دغه معمول وګرځيدی، او اوس زه بوډا سوم، چي د بوډاوالي په وجه هره دوهمه ورځ روژه نيول زما لپاره سخت عمل وګرځيدی، ليکن اوس هم زه روژه نسم پرېښوولای، ځکه ما د حضور ﷺ و مخ ته وعده کړې وه: چي زه به يوه ورځ نه بله ورځ روژه نيسم، نو اوس که زه روژه پرېږدم؛ هسي نه: چي د ده و مخ ته په کړې وعده کي مخالفت رانه سي، کاش ما د ده په هغه رخصت باندي عمل کړی وای، نن به زما لپاره څومره آساني وای.

## لږ عمل خو لیکن په پابندي سره کول:

د دې واقعې په ذریعه موږ ته دا سبق راکول سو: چې کله یو مشر تاسو ته د آسانۍ لا
در وښوي، نو ستاسو لپاره د هغه په مخ کې د بهادرۍ مظاهره کول ښه خبره نده، آ
انسان څه دی؟ او د انسان سره څه قوت دی؟ او د انسان څه بهادري ده؟ چې معمو
بیماري ورباندې راسي، یا دی بوډا سي، نو بیا هغه د ده بهادري ټوله پرلړه ګډه سي

## د یو بزرګ واقعه:

د یو بزرګ په باره کې راځي: چې یو ځل په جوش کې راغلی، نو ئې د بهادرۍ په ش
ځان امتحان ته وړاندې کړی، او د ځان سره دا وایي:

﴿لَيْسَ لِيْ فِيْ سِوَاكَ حَظٌّ ... فَكَيْفَمَا شِئْتَ فَاخْتَبِرْنِيْ﴾

یا الله! ستا څخه سوا زما توجه بل طرف ته هیڅکله نه ګرځي، که ته په ما باند
امتحان کوې، چې څنګه ستا خوښه وي، هغسې امتحان راباندې وکړه.
نو الله تعالی د هغه بزرګ لږ زمانه روښې بولې بندې کړې، نو چې کله ډېر په تکلی
سو، نو د کلي په مسجد کې به ئې ماشومانو ته سبق وایي، نو هغه به ئې سره رات
کړل، او ورته ویل به ئې:

.........اُدْعُوْا لِعَمِّكُمُ الْكَذَّابِ﴾.

تاسو خو دغه خپل درواغجن اکا ته دعا وکړی، چې الله تعالی دغه تکلیف ځني لیر
کړي.(۱)
نو د انسان په وس کې هیڅ نسته، نو د انسان لپاره د عاجزۍ څخه سوا او د عافیت
غوښتلو څخه بله ښه لار نشته.
نو زموږ بزرګانو دا لیکلي دي: چې کم معمول انسان جوړوي، باید دا فکر وکړي: ا
زه دغه معمول ټوله زندګي سر ته رسولای سم، او که نه؟ نو ښه دا ده: چې معمول د
لږ وي، او په پابندي سره دي وي، دا د هغه څخه بهتره ده، چې ابتداءً انسان په جو

---
(۱) الرسالة القشيرية: باب في ذكر مشايخ هذه الطريقة و ما يدل: صفحه نمبر ۹۱

کي راسي، ډېر زيات عبادت شروع کړي، ليکن وروسته داسي سستي پر غالبه سي: چي ټول معمولات ئې پاته سي.
نو معمول لږ جوړول، او همېشه د هغه پابندي كول، لکه د پيغمبر ﷺ حديث مبارک هم دی:
........﴿إِنَّ أَحَبَّ الْعِبَادَةِ إِلَى اللَّهِ مَا دِيمَ عَلَيْهَا وَإِنْ قَلَّتْ﴾.(١)
الله تعالى ته خوښ عبادت هغه دی: چي انسان ئې همېشه کوي، که څه هم لږ وي، نو يو ځل زيات عبادت كول، او بيا بيرته پرېښوول، دا ښه عمل نه دی.
په يو بل حديث کي هم پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:
........ ﴿اقْرَؤُا الْقُرْآنَ مَا ائْتَلَفَتْ عَلَيْهِ قُلُوبُكُمْ، فَإِذَا اخْتَلَفْتُمْ فَقُومُوا عَنْهُ﴾.(٢)
د قرآن کريم تلاوت تر هغه وخته پوري کوئ، چي تر څو پوري ستاسو زړونه هغه ته ميلان کوي، او چي کله مي په زړو کي ګډوډي راغله، نو بيا ئې ولاړېږئ، او پر داغه ځای تلاوت پرېږدئ.
داسي نه: چي يو وخت خو انسان په شپه کي يو ځل ټول قرآن کريم ختم کوي، او بيا ټوله کال قرآن کريم ته بالکل نه ګوري، بهر حال اعتدال په ژوندګي کي ضروري دی.
د اعتدال مطلب دا دی: چي نفلي عبادات په درميانه طريقه سره د هر انسان لپاره كول ضروري دي.

## نوافل د الله د محبت حق دی:

د حکيم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه خليفه مجاز حضرت ډاکټر عبدالحی رحمة الله عليه ليکلي دي: چي فرائض او واجبات د الله تعالى د عظمت حق دی، الله تعالى د خپل عظمت په خاطر پر موږ لازم ګرځولي دي، چي په ورځ کي پنځه وخته لمونځ كول، او په کال کي يوه مياشته روژې نيول، زکوة ادا كول، او حج كول، د دغه ټوله احکام د يو حاکم په طور الله تعالى پر موږ اېښي دي، او د هغه د عظمت حق هم دا دی: چي د هغه و حضور ته خپل ځان تسليم کړو، او د هغه احكام پر ځای کړو.

---
(١) جامع معمر بن راشد: حديث نمبر ٢٠٥٦٧
(٢) التفسير من سنن سعيد بن منصور محققا، باب فضائل القرآن: صفحه نمبر ۴۹۶

کوي، او نور نوافل او مستحبات دا به نه کوي، نو دا خو به د انسان د الله تعالی سره دېر خشک او بې محبته تعلق وي.
تاسو ګورئ! د زناني او خاوند په مابين کي تعلق وي يو څه خو د هغه تعلق قانوني حقوق وي، مثلاً د خاوند پر ذمه واجب ده: چي زناني ته به نفقه ور کوي، دا د هغې قانوني حق دی.
اوس کچيري خاوند د زناني سره صرف پر دغه قانوني حق اکتفا وکړي، سهار او ماښام بنه خور که او نفقه ورته راوړي، نور نو نه د هغې سره خبري کوي، او نه د هغې د زړه د خوشحالۍ يو کار کوي، نو دا خو ډېر خشک قانوني تعلق وی.
چي په هغه کي هيڅ خوشګواري نه وي، نه هيڅ لطف او محبت وي، نو مناسب دا دی: چي تعلق د قانون څخه يو څه زيات وي، چي په هغه کی د محبت اظهار هم وي، او د محبت په تقاضا انسان ډېر کار ونه کوي.
داغه رنګه د الله تعالی سره که د انسان صرف قانوني تعلق وي، چي صرف د فرائضو او واجباتو ادا کولو په شکل وي، نه نوافل وي، نه مستحبات وي، او نه د اعمالو د فضائلو و طرف ته څه توجه وي، نو دا هم ډېر خشک تعلق بلل کيږي.
نو بايد انسان د ځان سره دا فکر وکړي: چي کم ذات چي زه پيدا کړی يم، او هغه زه په زياتو نعمتو سره نازولی يم، ايا زه اوس د هغه لپاره صرف پر فرائضو او واجباتو باندي إکتفا وکړم، نا! دا ديو بنده کار ندی، بلکه د محبت کونکي بنده کار دا دی: چي هغه به د محبت پخاطر د خپل رب و حضور ته د نفلي عباداتو او مستحباتو تحفې هم پېشوي، لکه تهجد کول، اشراق، څابنت، اوابين، تحية الوضوء، تحية المسجد، نو د الله تعالی محبت پخاطر دا تړوله کول، لا پيغمبر ﷺ هم د دغه نوافلو ادا کولو ډېر زيات ترغيب کړيدی.

## د صحابه کرامو نفلي عبادات،

د صحابه کرامو د نفلي عباداتو سره عجيبه مينه وه، چي د ژوند اکثره حصه به ئې په نفلي عباداتو کي تېروله، ځکه چي دا د الله د محبت علامه وه، او د الله تعالی په محبت کي د صحابو و معاشره د هر چا څخه مخکي وه.

حضرت ابوريحانه رضي الله عنه د پیغمبر ﷺ يو صحابي دی، په يو جهادي سفر کي تللی وو، درې کاله بعد خپل کورته راغلی، تر شا ئې په کور کي زنانه او بچي پاته وو، چي کله هغه د ده په راتگ خبر سول، نو ډېر خوشحاله دي.
دی مابنام "مديني منورې" ته راغلی، او په "مسجد نبوي" کي لمونځ کوي، زنانه چي کله د ده په راتگ خبره سوه، نو ژر ئې د کور صفائي وکړه، او بچيان ئې صفا کړل، او د وخت نوي جامې ئې ورواغوستې، او د ده په انتظار کي کښېنستل.
دی چي کله کورته راغلی، نو زناني ته وايي: چي يو دوه(۲) رکعته لمونځ به وکړم، د هغه څخه وروسته به مجلس کوو، نو پر لمانځه باندي ودرېدی، زنانه او بچي په انتظار کي ورته ناست دي، د ده لمونځ ډېر اوږد سو، او د شپې يو څه حصه تیره سوه، نو هغه بچيان پر هغه ځای په ناسته باندي ورته ويده سول.
چي کله د سهار وخت رانژدې سو، ده سلام په وګرځاوی، نو هغه زنانه ورته وايي:
.............يَا اَبَا رَيْحَانَه! ذَهَبْتَ وَ سَافَرْتَ وَ عَبَدْتَ وَ رَجَعْتَ اَمَا لَنَا مِنْکَ نَصِيْبٌ).
ای ابا ريحانه! ولاړې، د دين په خاطر دي سفرونه وکړل، او هم دي عبادتونه وکړل، او الله په خير او عافيت کورته راوستې، ايا موږ دومره حق نلرو، چي ته پر موږ باندي يو پوښتنه وکړې؟
دی ورته وايي: نَسِيتُ وَ اللّٰه! په الله قسم را څخه هيره سوې، دا ورته وايي: چي زه دلې حاضره درته ناسته يم، نو دلته د هيرېدلو څه سوال دی؟ کچيري زه نه وای، بيا به دي هيره سوې وای، دلته دي څنګه هيره سوم؟
نو دی جواب ورکوي: چي کله ما د لمانځه نيت وتاړی، نو د الله په محبت کي داسي غرق سوم، او د الله د جنتو او جهنمو په ننداره کي داسي ورک سولم: چي پخدای قسم: ته خو څه کوې، چي دنيا او ما فيها ټوله را څخه هير سول.(۱)
نو د صحابه کرامو عبادات په دغه شکل ول، او د هغو د نفلي عباداتو سره ډېره مينه وه، او هم به پيغمبر ﷺ دوی ته د نفلي عباداتو ډېر ترغيب ورکاوی.

(۱) بيانات جميل: صفحه نمبر ۵۰

## د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه تمنی:

چنانچه د حضرت عمر رضی الله عنه بچی حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه خپله واقعه بیانوي: چي ما به د سهار د لمانځه څخه بعد خپل ځان د پیغمبر ﷺ مجلس ته همېشه حاضر کاوی، چي کله به پیغمبر ﷺ د لمانځه څخه بعد کښېناستی، نو مختلفو صحابه کرامو به ده مبارک ته خپل خوبونه بیانول، چا به یو رنګه خوب او چا به بل رنګه خوبونه لیدلي وه، او پیغمبر ﷺ به همېشه د هغو تعبیر او ترجمه ور کوله، که به چیري په دغه خوب کي یو ښه بشارت او زیری وو، نو په هغه به ئې هم خبر وی.

حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه فرمایي: چي زما عادت دا وو: چي کله به ویده سوم، نو هیڅ خوب به مي پر سترګو نه راتلی، او همېشه به مي په زړه کي دا تمنا وه: چي کاش ما هم یو ښه خوب لیدلی وای، او پیغمبر ﷺ ته مي بیان کړی وای، او د هغه د مبارکي خولې څخه مي د هغه تعبیر اورېدلی وای.

یوه ورځ الله تعالی زما دغه خواهش او تمنی پوره کړله، چي ویده سوم، نو خوب وینم، چي ډېر ښه خوب وو، دوه(۲) انسانان راغلل، او زه ئې د آسمان طرف ته پورته کړلم، او په آسمان کي مي ډېر عجیب او غریب شیان ولیدل، خو مطلب دا: چي ډېر اوږد خوب وو.

د سهار د لمانځه څخه بعد چي کله د پیغمبر ﷺ په مجلس کي حاضر سوم، نو زړه مي غوښتل: چي زه خپل خوب ورته بیان کړم، لیکن پر ما به همېشه د پیغمبر ﷺ رعب او دبدبه غالبه وه، د هغه په مخ کي به مي څه نسو ویلای.

نو آخر مي هغه خوب خپلي خور ام المؤمنین: حضرت حفصه رضی الله عنها ته ذکر کړی، او ورته مي ویل: چي ته به د دغه خوب تعبیر د پیغمبر ﷺ څخه ماته را معلوم کړې، هغې هغه خوب پیغمبر ﷺ ته ذکر کړی وو، پیغمبر ﷺ چي کله خوب واورېدی، نو دې ته ئې ویلي وو:

.......... إِنَّ عَبْدَ اللهِ رَجُلٌ صَالِحٌ ، لَوْ كَانَ يَقُومُ اللَّيْلَ) .

يعني عبدالله خو ډېر نيک انسان دی، کاش د شپې په وخت ده لمونځ کولای، پدغه جمله کي پيغمبر ﷺ د ده تعريف هم وکړی، او د دې سره ئې دا پيغام ورکړی: چي د شپې لمونځ کول د ده لپاره ډېره ښه خبره ده.(1)

چي کله حضرت حفصې رضي الله عنها د پيغمبر ﷺ دغه خبره خپل ورور حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه ته وکړل، نو دی مبارک فرمايي: چي د هغه ورځي څخه ما د ځان سره دا فيصله وکړه: چي زه به پخپل ټوله ژوند کي بيا هيڅکله د شپې لمونځ نه پرېږدم، نو بيا ئې ټوله زندگي د شپې لمونځ همېشه کاوی، او پدغه شکل پيغمبر ﷺ صحابه کرامو ته د نوافلو ترغيب ورکاوی.

## زموږ د معاشري افراط او تفريط:

بهرحال زموږ په معاشره کي يو طرف ته دا بې اعتدالي ده: چي دا انسانانو د نوافلو او مستحباتو او نه د هغوی د فضائلو و طرف ته توجه سته، او نه ئې د هغه څخه اهميت په زړه کي سته.

خاص بيا چيکله انسان په اصول فقه کي دا خبره ووايي: چي مستحب او نوافل دې ته وايي: چي په کولو کي ئې ثواب دی، او په نکولو کي ئې گناه نسته، نو په دماغ کي دا خبره پيدا سي: چي د دې پر نکولو چي کله گناه نسته، نو بيا د دې د کولو ضرورت هم نسته.

بعض اوقات د يو خبري علم پر انسان باندي غلط اثر وکړي، او انسان ته نقصان ورسوي، لکه يو عام انسان چي کله دا اورېدلي وي: چي د ماخستن لمونځ اولس(۱۷) رکعته دی، نو د ده دا کوشش وي: چي اولس(۱۷) سره رکعتونه لمونځه وکړي.

ليکن چي بيا کله دا معلومات ورته وسي: چي په هغه کي دومره رکعتونه فرض او دومره سنت او دومره واجب او نور مستحب دي، او د مستحبو مطلب دا دی: چي پکولو کي ئې ثواب دی، او په نکولو کي ئې گناه نسته، نو اوس د دغه علم نتيجه دا

(1) البدايه و النهايه: باب من توفي في هذه السنة من الآعيان: صفحه نمبر ۲۳۶

سوه: چي دی مستحبات او نوافل پریږدي، نو څکه زه وایم: چي دېر ځله د انسان علم انسان ته نقصان رسوي.

## دآذان جواب ورکول:

نو یو طرف ته زموږ د معاشرې دا انتها ده: چي د نوافلو او مستحباتو هیڅ اهمیت نسته، او نه دهغه و طرف ته څه توجه سته.

حضرت ډاکټر عبدالحی رحمة الله علیه فرمایل: چي یو ځل یو سړی زما سره خبري کوي، نو په دې دوران کي آذان شروع سو، او دآذان په دوران کي هم هغه صاحب خپله خبره جاري ساتي، او دآذان جواب نه ورکوي.

ما ورته وویل: سړیه! آذان شروع دی، د آذان جواب به ورکوو، ده چي کله زما خبره واوریدله، نو فوراً ئې وویل: چي هو، ماته دا معلومه ده: چي د آذان جواب ورکول، څه فرض او واجب خو نه دی، نو ګویا: چي فرض او واجب ندی، نو د هغه اهتمام کول او هغه په عمل کي راوستل ضروري هم ندی.

نو په دغه شکل مستحبات او نوافل بې وقعته بلل، او د هغه ضروري نه بللو خبره دانسان په ذهن کي ځای ونیسي، چي ډېره لویه بې اعتدالي بلل کیږي.

اوس چي موږ د پېغمبر ﷺ څخه د یو نفلي عمل فضائل اورو، او دی مبارک راته فرمایي: چي پر دې عمل باندي دا ثواب دی، نو دغه ثواب دی دچا لپاره بیانوي، ایا د فرشتو لپاره ئې بیان کړیدی، نه، بلکه د انسانانو لپاره ئې بیان کړیدی،

البته! دا دالله تعالی کرم او احسان دی، چي هغه ئې پر موږ باندي واجب نه دي ګرځولي، چي د هغه په نه کولو سره موږ ګنهګاره سو، لیکن د هغه دا مطلب هرګز نه دی: چي انسان به دهغه و طرف ته توجه نکوي.

نو یو طرف ته زموږ په معاشره کي د نوافلو او مستحباتو و طرف ته توجه نکول لویه بې اعتدالي ده.

## دوهمه بې اعتدالي:

دوهمه بې اعتدالي دا وي: چي بعض انسانان په نوافلو کي دومره غرق وګرځي، چي شپه او ورځ د نفلي عباداتو په ادا کولو کي مشغوله وي، او نور د هیڅکار فرصت او

وخت نلري، چي د هغه په نتيجه کي د نورو حقوق ځني ضائع سي، نه د خپل نفس حق په دماغ کي ورځي، او نه د خپلي زناني او بچيانو د حقوقو خيال ساتي، او نه ئې د دوستانو او عزيزانو او قريبانو د حقوقو څه پرواه لري، او نه د مور او پلار د حقوقو و طرفته متوجه کيږي.

بس! په نوافلو او مستحباتو کي د ومره ژور تللی وي، چي د هغه څخه بغير نور هيڅ نه پيژني، نو دا هم زموږ په معاشره کي د بعضو انسانانو بې اعتدالي وي.

پيغمبرﷺ په خپل قول مبارک سره دا ټولي بې اعتدالی ختم کړيدي، ده حضرت عبدالله بن عمر بن العاص رضي الله عنه ته نصيحت وکړی: چي:

......... يَا عَبْدَاللهِ! صُمْ، وَافْطِرْ، قُمْ، وَنَمْ﴾.

يعني روژې هم نيسه، او کله افطار هم کوه، او د شپې دالله لپاره عبادت هم کوه، او دنفس د راحت لپاره آرام هم کوه، او دا دواړه کاره خپله شغل وګرځوه، نو د دغه اعتدال نوم: "دين" دی، چي دانسان به ټوله معاملات په اعتدال سره وي، او په يو کار چي به هم انسان غير متوازن ژوند نه تېروي، او موږ ته دغه د دين اهم تعليم دی.

## دين د اتباع نوم دی:

علماؤ ليکلي دي: چي دين د خپل شوق پوره کولو نوم ندی، بلکه دين "اتباع" ده، بايد انسان دا معلومه کړي: چي په دې وخت کي ماته دالله تعالی څه حکم دی؟ او په دې وخت کي زما پر ذمه دالله تعالی کمه فريضه عائده ده؟ بس! په دغه وخت کي زما لپاره داغه فريضه او داغه حکم پوره کول دين دی، که څه هم زړه د انسان په دې وخت کي د بل عمل شوق کوي.

مثلاً: د يو سړي په کور کي مور او پلار دي، هغه څوک د خدمت لپاره نلري، او د ده خدمت ته ئې ضرورت دی، او هم ورته مجبوره دي، دی په دې وخت کي د کور څخه په غلا ولاړ سي، او په يو مدرسه کي ځای ونيسي، او وايي: چي زه علم حاصلوم، نو په دې وخت کي دغه علم حاصلول د ده شوق دی، دې ته دين نه وايي، بلکه دين په دې وخت کي د ده لپاره د مور او پلار خدمت کول دي.

یا یو سړی یو ځای وعظ ته کښېناستی، او هغه پر ده باندي اثر وکړي، او دی په جذبه کي راغلی، او د دوولسو (۱۲) میاشتو لپاره د تبلیغ په سفر روان سو، حالانکه په کور کي د ده د بچیانو د تربیت یا د مور او پلار د خدمت په خاطر ده ته ډېر ضرورت دی، دی د هغه هیڅ خیال نه ساتي، او پر سفر باندي روان سي.

نو په دې وخت کي دغه سفر ته تلل، دا د ده شوق او جذبه ده، بلکه دین د بچیانو تربیت کول او د مور او پلار خدمت کول دي.

کچیري یا و ده ته په کور کي ضرورت نسته، نه د مور او پلار د خدمت مسئله وي، او نه د بچیانو د نفقې مسئله وي، نو بیا خو دي هم په طلب د علم پسې ولاړ سي، او هم دي په تبلیغي سفر کي ولاړ سي، بلا شبه دا د دین کار و نه دي.

یا زه کله وایم: دیو سړي مور او پلار بیماره دي، هغه ورته وایي: بچیه! موږ یو ګړی ستا بغیر ګزاره نلرو، او نه بل څوک لرو، چي موږ پر اړخ باندي واړوي، نو ته زموږ څخه مه غائبیږه، ځکه بیا موږ په تکلیف کي واقع کیږو.

او دی هغو ته وایي: چي د جماعت وخت دی، زه به د جماعت لمونځ وکړم، بیا به راسم، هغه ورته وایي: چي زویه! لمونځ دلې وکړه، ځکه چي ته ولاړ سې، او بیا راځې، نو موږ په تکلیف کي یو، لیکن دی ورته وایي: چي زه به ژر یو ځل د جماعت لمونځ وکړم، او بیا به واپس راسم، نو په دې وخت کي دغه د جماعت لمونځ کول د ده شوق دی، بلکه دین په دغه وخت د مور او پلار خدمت کول او هغوی ته راحت رسول دي.

بهر حال د دې حدیث څخه موږ ته دا سبق راکول سو، چي انسان باید د اعتدال زندګي تیره کړي، او د هر چا حقوق ادا کړي، او په ژوند کي انسان صرف یو طرف ته زیات متوجه نسي، بلکه پخپله زندګي کي د الله او د بندګانو د ټولو د حقوقو ادا کولو فکر وکړي.

الله تعالی دي د دغه خبرو حقیقت زموږ په دماغ کي راولي، او هم دي پر دغه خبرو باندی د عمل کولو توفیق رانصیب کړي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیہ)

# د زنانو د حقوقو رعایت کول، (۱) بیان

(بیان)

مولوی اطیع اللّٰہ صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللّٰہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کاسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقــــریر | الحاج مولوي اطیع اللہ صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتـي حافظ کلیم اللہ صاحب |
| مقــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشــاعت | اول |
| تـاریــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تعـــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِنْ كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَنْ تَكْرَهُوا شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللّٰهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿الْمَرْأَةُ كَالضِّلَعِ، إِنْ أَقَمْتَهَا كَسَرْتَهَا، وَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَفِيهَا عِوَجٌ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهید:**

محترمو حاضرینو! ستاسو په حضور کي ما د قرآن کریم یو آیت پیش کړی، او د دې سره د پیغمبر ﷺ یو حدیث مبارک یو روایت پیش کړی، چي د قرآن کریم د دې آیت او د پیغمبر ﷺ د حدیث مبارک د دواړو تعلق د انساني ژوندګی د یو اهمي ذمه داری سره دی.

چي هغه ذمه داري ده: د "حقوق العباد" رعایت کول، یعني د بندګانو حقوق چي په انساني ژوندګي کي د انسان په ذمه راسي، په ښه طریقه او په کامله طریقه سره د هغه ادا کول، او هغه تر خپل حقداره پوري رسول.

زه بار بار د دې خبري یادونه کوم: چي د انسان پر ذمه خو "حقوق الله" او "حقوق العباد" ادا کول دواړه دي، لیکن په دوی کي د "حقوق العباد" مسئله ډېره درنه ده،

(۱) سورة النساء: آیت نمبر ۱۹

(۲) صحیح البخاري: حدیث نمبر ۵۱۸۴

ځکه که چیري خدانخواسته د یو انسان څخه په "حقوق الله" کي قصور او کوتاهي وسي، نو د هغه معافي ډېره آسانه ده، ځکه چي انسان هر کله پر هغه باندي پښېمانه سي، او توبه او استغفار وکړي، نو الله تعالی به ئې معاف کړي.
لیکن د بندګانو حقوق داسي دي، کچیري په هغه کي کوتاهي وسي، نو بیا چي انسان هر څومره ندامت او توبه او استغفار وغواړي، په هغه سره نه معافیږي، چي تر څو پوري هغه حقدار ته خپل حق نه ورسیږي، او یا ئې هغه معاف نکړي، نو ځکه د "حقوق العباد" مسئله ډېره سنګینه بلل کیږي.

## د بندګانو په حقوقو کي غفلت:

یو طرف ته د "حقوق العباد" مسئله ډېره سنګینه او درنه ده، چي څومره درنه ده، په هغه اندازه زموږ په معاشره کي د دې څخه غفلت هغومره عام دی.
زموږ په دماغو کي دا خبره ده: چي دین بس د یو څو عباداتو نوم دی، یعني: لمونځ، روژه، حج، زکوم، ذکر، تلاوت او تسبیح وغیره کول، نو دغه اعمالو ته موږ پخپلو دماغو کي د دین نوم ور کړیدی.
لیکن "حقوق العباد" موږ د دین څخه خارج بللي دي، او هم مې معاشرتي حقوق د دین څخه خارج ګرځولي دي، په هغه کي که د یو سړي څخه کوتاهي او غلطي وسي، اول خو ئې دی د دین مسئله نه بولي، نو ځکه د ده په دماغ کي پر هغه باندي ندامت او پښېماني نه پیدا کیږي، او نه د هغه د سنګینۍ احساس ورته کیږي.

## د دین درې (۳) حصې د بندګانو حقوق دي:

ما به شاید ستاسو په حضور کي مخکي هم دا مسئله عرض کړې وي: کم علم چي په هغه کي د شریعت احکام بیانیږي، هغه ته "اسلامي فقه" وایي، هغه کچیري پر څلورو (۴) حصو باندي تقسیم سي، نو د هغې یوه حصه عبادات دي، او هغه نوري درې (۳) حصې د "حقوق العباد" په بیان کي دي، یعني: په هغه کي معاشرت او معاملات بیان سویدي.

تاسو به د "هدایه" نوم اوریدلی وي، چي د "حنفي فقه" مشهور کتاب دی، دا پر څلور(۴) جلد مشتمل دی، د هغه په اول جلد کي عبادات، یعني: طهارت، لمونځ، روژه، زکوة، او حج چي "حقوق الله" دي، دا بیان سویدي.
دا نور دري(۳) جلدونه د معاملات او معاشرت او "حقوق العباد" متعلق دي، د دې څخه تاسو اندازه کولای سئ: چي "حقوق العباد" زموږ د دین مکملي دري(۳) حصې دي.
یعني: چي په انساني معاشره کي د انسان د چا سره زندگي تیریږي، لکه مور او پلار، زنانه او اولاد، وروړ او خور، قریبان او همسایگان، د هغو د انسان پر ذمه کم حقوق راځي، او انسان به د هغه د ادا کولو فکر کوي.
زه په نن مجلس کي د دې خبري وضاحت کوم: چي دانسان په زندگي کي چي د کم چا سره ډېر تعلق راځي، هغه د ده د کور زنانه وي، یعني: چي کمه زنانه د ده په نکاح کي د ده په سر ناسته وي، ځکه د ده شپه او ورځ او د ده د ژوند اکثره وخت د هغه سره تیریږي، او دوی پدې خپل ژوند کي یو د بل سره دومره نږدې وي، چي قرآن کریم یو د بل لباس بللي دي.
لیکن زموږ د معاشرې عجیبه حالات دي: چي کم انسان یعني زنانه څومره ده ته نږدې وي، په هغه درجه دی د هغې د حقوقو رعایت نکوي، او نه د هغه څه پرواه او خیال ساتي، او دا زموږ معاشرې ته د جاهلیت د دور څه اثار را رسېدلي معلومیږي.
ځکه چي کله اسلام نه وو راغلی، او د پیغمبرﷺ تعلیمات معاشرې ته نه وو رارسېدلي، نو په هغه وخت کي زنانه یو داسي مخلوق بلل کیده: چي معاذ الله گویا: د انسانیت څخه خارج وه، او د دې سره به د کور د حیوانانو غوندي سلوک کیدی، او دې ته د انسانیت د حقوقو ور کولو څخه خلکو انکار کاوی.
په هیڅ یو معامله کي د دې د حقوقو څه پرواه نکیدله، او دې ته په دا نظر کتل کیده: لکه یو څوک چي پخپل کور کي حیوانان ساتي، بالکل په دا غه طریقه سره به دا په کور کي ساتل کېدله، د سلوک په اعتبار سره د دې او د حیوانانو په درمیان کي هیڅ فرق نکېدی.

## د زناني په هكله د اسلام تعليمات:

پيغمبرﷺ چي اول ځل انساني معاشره ته چي د آسماني هداياتو څخه بېخبره وه، د زنانو د حقوقو احساس ورکړی، چي تاسو به د زنانو سره حسن سلوک کوئ، او هم ئې د قرآن دا پيغام معاشره ته د زنانو په هکله پېش کړی:

............وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾.

پدې کي الله تعالی ټولو مسلمانو ته خطاب کوي: چي تاسو د زنانو سره "معروف" يعني په احسان سره او په ښه سلوک سره زندګي تېروئ، د هغو سره ښه ګوزاره کوئ او هغه ته تکليف مه رسوئ.

د قرآن کريم د هداياتو بيانولو متعلق زه دا يوه خبره کوم: چي همېشه قرآن کريم پخپلو تعليماتو کي غټ غټ اصول بيانوي، په تفصيلاتو او جزياتو کي نځي، او نه هغ بيانوي.

تاسو ګورئ! لمونځ زمونږ د دين اهم رکن دی، چي د هغه په باره کي قرآن کريم غالب درو اويا (۷۲) ځايه حکم کړيدی: چي تاسو به لمونځ قائم کوئ، او س لمونځ به انسا څنګه کوي، د هغه به څه طريقه وي، او په هغه کي به څومره رکعتونه وي، او په کم ش سره لمونځ فاسد ګرځي، او په کم شي سره نه فاسدېږي، د دې هيڅ بيان په قرآن کم نسته، بلکه دا الله تعالی د پيغمبرﷺ پر تعليماتو باندي پرې اېښيدي، او بيا هغ پخپلو تعليماتو کي د دې وضاحت کړيدی.

داغه رنګه د زکوة حکم هم د دې څخه يو څه کم او زيات په قرآن کي راغلی دی، او د خبره چي د زکوة به څه نصاب وي، او پر چا فرض کېږي، او څومره مقدار فرض کېږ او پر کمو کمو شيانو فرض کېږي؟ دا تفصيلات قرآن نه دي بيان کړي، بلک پيغمبرﷺ په خپلو تعليماتو کي د هغه وضاحت کړيدی.

ليکن د نارينه او زنانه خانداني تعلقات داسي اهم دي: چي قرآن کريم د هغه ډېر جزئي مسائل هم په صراحت سره بيان کړيدي، د دې وجه مفسرينو دا ليکلې ده: چي نارينه او زنانه خانداني تعلق او کورنۍ زندګي د ټولو تمدن بنياد دی، او د انسانيت تهذيب او تمدن عمارت پر هغه باندي ولاړ دی.

كچيري د نارينه او د زنانې تعلقات پخپل كور كې سره برابر وي، او د دواړو زندگي د محبت وي، او يو د بل حقوق په ښه طريقه سره ادا كوي، نو بيا خو د هغه كور نظام برابر وي، او په هغه كور كي د بچيانو ښه روزنه او تربيت كيږي، او د هغه بچيان بيا په مستقبل كي د معاشرې بهترين افراد بلل كيږي، نو گويا د ټولې معاشرې عمارت پر دغه بنياد باندي ولاړ دی.
ليكن كچيري د كور نظام خراب وي، او د زنانې او خاوند په درميان كي نفرت او بغض وي، نو د هغه پر اولاد ډېر بد اثر راځي، او د هغه په نتيجه كي چي كم قوم تيار سي، نو هغه د يو ښې معاشرې افراد نسي جوړېدلای، نو ځكه قرآن كريم د خاوند او زنانې "عائلي" احكامو ته ډېر زياته توجه كړېده.

## دزنانې ښه صفت ته نظر كول:

چنانچه الله تعالى دا حكم كوي: كچيري تاسو ته هغه زنانې خوښې نه وي، چي ستاسو په نكاح كي راسي، نو كه څه هم ستاسو نا خوښه دي، ليكن كيدای سي: چي الله تعالى دي ستاسو لپاره په هغه كي ډېر خير ايښې وي، نو ځكه حكم دا دی: چي د زنانې ښه صفت ته نظر كوئ، چي د هغې څخه به ستاسو زړه تسلي كوي، او هم به د بد سلوكى لاري بنديږي.

## ديو بزرگ واقعه:

حكيم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه د يو بزرگ واقعه ليكلې ده: چي د هغه زنانه ډېره بداخلاقه وه، او هر وخت به ئې د ده سره جگړه وله، چي كله به دى كورته ورغلی، نو بس لعنت ملامت او جگړه به شروع سوه.
يو ورځ يو شاگرد هغه بزرگ ته وويل: چي ټوله ورځ او شپه پر تا باندي په جگړو او پرېشانيو كي تيريږي، بس دغه قصه ختم كړه، او دې زنانې ته طلاق ور كړه: ستا لپاره خو هسي هم د زنانو څه كمی نسته، د بلې زنانې سره نكاح وكړه، چي زندگي دې يو څه هوسا سي.
نو هغه بزرگ ورته وويل: سړيه! زنانې ته طلاق وركول آسانه دي، هر وخت ئې ور كولای سم، ليكن خبره په حقيقت كي دا ده: چي په دغه زنانه كي خو عيبونه ډېر زيات

دي، لیکن الله تعالی یو داسي صفت ور کړیدی: چي د هغه په وجه به زه دا هیڅکله ن
پرېږدم، او نه به دې ته طلاق ورکړم.
او هغه دا دی: چي الله تعالی دې ته د "وفاداری" داسي وصف ور کړیدی: زما دا
عقیده ده: که زه بالفرض هر ځای ګرفتار سم، او تر پنځوسو (۵۰) کالو پوري په جیل
کي بند یم، نو زه داوایم: چي دا د کور په کم کونج کي کښېنوم، نو دا به ټوله زندګي
زما په انتظار کي تېره کړي، او زما څخه سوا به د بل چا پر طرف نظر نه واړوي، او دغ
"وفاداري" داسي صفت دی: چي د دې هیڅ قیمت نسته، او د دغه ښه صفت پوجه
دې ټول تکلیفونه برداشت کوم.(۱)

## د حضرت مرزا مظهر جانان رحمة الله علیه واقعه:

زموږ په بزرګانو کي حضرت مرزا مظهر جانان رحمة الله علیه عجیبه نازک مزاجه بزرګ وو
چي یو ځل بادشاه ورته راغلی، او د ده یو شاګرد د هغه د اکرام لپاره د اوبو ګلاس
ورته پېش کړی، د اوبو چیښلو څخه وروسته هغه بادشاه دا ګلاس بېځایه کښېښوی
ده مبارک ظاهراً خو صبر وکړی، لیکن د بادشاه د دغه عمل څخه ئې په سر کي زیات
درد پیدا سو.
یو څه ګړی وروسته بادشاه عرض ورته پېش کړی: چي حضرت زما زړه دا غواړي: چي
ستا د خدمت لپاره یو نوکر او خادم مقرر کړم، او د هغه تنخواه د شاهي خزانې څخه ز
ورکوم.
ده په جواب کي ورته وویل: چي بادشاه سلامت! تر اوسه خو مي زړه صبر کړی وو
لیکن اوس د برداشت څخه را سه ووتله، هغه دا: چي کله تا د اوبو چیښلو څخه
وروسته هغه پیاله غلطه کښېښوه، نو ستا د دغه عمل څخه زما په سر کي تر اوسه
پوري درد دی، نو ستا نوکر او خادم به ما و څه حال ته ورسوي؟ نو بس ما معاف کړه
زه ستا د نوکر او خادم خواهش او شوق نلرم.
د ده په حالاتو کي لیکلي دي: چي مزاج او طبیعت ئې دومره نازک وو: چي کله به د
لمانځه کولو لپاره د دهلي جامع مسجد لره تلی، نو په لاره کي به یو چارپائي کېږه پرته

(۱) اصلاحي خطبات: صفحه نمبر ۲، جلد نمبر ۴۰

وه، ده به وليدله، نو بيا به ئې ټوله ورځ په سر كي درد وو، يا به پر هغه چارپائي باندي يو "ټلتک" هوار وو، د هغه په سلائي او ګينده کي به کړوالي وو، يعني خراب به ګنډل سوي وو، نو بيا به هم دي ټوله ورځ د سر د درد څخه په تکليف وو.
نو يو ځل ده ته د الله د طرفه دا الهام وسو: چي اى مظهر جانان! ته خو ډېر نازک مزاجه ئې، او زما يو بنده د زناني په شکل ده، د هغې ژبه ډېره تيزه ده، او هم زياته بد اخلاقه ده، چي هيڅوک پخپل کور کي د هغه و ساتلو ته تيار نه دي، که ته چيري د هغه سره نکاح وکړې، او هغه پخپل کور کي وګرځوې، نو زه به په ټوله عالم کي ستا شهرت او عزت سره خور کړم، او تا ته به دومره عزت درکړم، چي: په ټوله دنيا کي به ستا نوم اخيستل کيږي، او هم به ستا څخه د خپل دين ډېر زيات خدمت واخلم.
نو فوراً ورغلى، د هغه سره ئې نکاح وکړه، نو اوس سهار او ماښام د هغې هغه تيزي خبري اوري، او چي څومره تکليفونه د هغې د طرفه وي، هغه ټوله په ښه حوصله برداشت کوي.
ليکن د هغه صله او بدله دا وه: چي د ده په خليفه ګانو کي:

- شاه غلام علي.
- مولانا خالد ګردي.
- مفسرعظيم علامه سيد محمود بغدادي.
- علامه ابن عابدين شامي.

د ده د بيعت په دائره کي راغلل.(۱)
نو ډېر ځله انسان د زناني د تکليفو د برداشت کولو په وجه الله تعالى ډېر لوړ مقام ته ورسوي، او هم داسي مرتبه ورکړي، چي د ده په وهم او ګمان کي هم نه وي.

## د شاه ابوالحسن خرقاني رحمة الله عليه واقعه:

شاه ابوالحسن خرقاني رحمة الله عليه ډېر لوى بزرګ او صاحب کرامت انسان وو، دده په نکاح کي هم داسي زنانه راغله: چي په کور کي د ننه د هغه سره د ده زندګي ډېره ترخه

(۱) حقوق النساء رساله حکيم اختر صاحب: صفحه نمبر ۴۰

وه، او هم الله تعالى داسي تېزه ژبه او بد اخلاقه زندګي ور کړې وه، چي همېشه به ئې دې ته تکليفونه رسول.

يو ځل يو سړي د خپل وطن څخه زر (۱۰۰۰) ميله سفر کړی وو، او دده سره د بيعت کولو په خاطر باندي دده کور ته راغلی، چي کله ئې د کور دروازه وټکوله، نو ده دننه څخه د ده زناني پوښتنه وکړه: چي څوک ئې؟ ده ورته وويل: چي يو مسافر يم، د شيخ د ملاقات په اراده باندي د ډېر ليري څخه راغلی يم.

هغه زناني ورته وويل: چي تاسو عجيبه خلک ياست، او هسي را روان ياست، کم چا ته چي تاسو شيخ واياست، او د هغه لپاره د ليري وطنو څخه راځئ، زه د هغه د کور زنانه يم، او ما د ډېر نږدې څخه د هغه زندګي ليدلې ده، هغه نه بزرګ دی، او نه شيخ دی، هسي عام سړی دی، بس تاسو خامخاه په هغه پسي را روان ياست، کاش: چي هغه خو يو ښه زندګي کولای، او تاسو بيا ورته راغلی وای.

خو غرض دا: چي د شاه ابو الحسن خرقاني رحمة الله عليه متعلق هغه زناني دغه سړي ته ډېري چپې او ردې خبري وکړې.

هغه بېچاره چي کله دا خبري واورېدې، نو پر هغه ځای باندي په ژړا سو، چي يا الله! زه خو د ډېر ليري ځای څخه د ده په طلب کي راغلم، او زما په عقيده کي هغه ډېر لوی بزرګ وو، او دلته ئې د کور زنانه څه راته وايي؟ نو پر خپله ستړيا باندي ډېر زيات افسوس ورته ودرېدی.

چي کله د محلې خلکو د ده ژړا او افسوس وليدی، نو ئې ورته وويل: چي دا زنانه خو ډېره بد اخلاقه ده، او شيخ هم همېشه د دې سره ژوند په ډېر تکليف باندي تېروي، او هم د دې تيزي خبري برداشت کوي، ته د دې پر خبرو غوږ مه نيسه، ولاړ سه ځنګله ته، شيخ د ځنګله څخه بوټي راوړي، هغه پخپله ووينه، او هم ملاقات ور سره وکړه، نو بيا به دي زړه اطمينان وکړي.

نو هغه سړی ځنګله ته راغلی، که ګوري: په ځنګله کي شاه ابو الحسن خرقاني رحمة الله عليه پر زمري باندي سپور دی، او د بوټو "غوځی" ئې د خپل مخته پر هغه زمري باندي را خيستی دی، او پلاس کي ئې يو "اژدها مار" دی، چي نيم ئې پر لاس پېچلی دی، او د نيمې څخه د غمچيني کار اخلي، او هغه زمري په وهي.

چي کله شاه ابوالحسن خرقاني رحمة الله علیه هغه سړي ته وکتل، نو ډېر پرېشانه ور معلوم سو، دستي ئې ورته وویل: چي شاید ته یو ځل زما کور ته ورغلی ئې، او زما د زناني شکایت دي اورېدلی دی، چي دومره پرېشانه په ما پسي راغلې، نو هغه سړي د ده د زناني ټوله قصه ورته بیان کړه.

شاه ابوالحسن رحمة الله علیه ورته وویل: د هغې فکر مکوه، زه چي د هغې سره ژوند تېروم، او د هغې تکلیفونه برداشت کوم، د هغه په برکت الله تعالی ما ته دا برکت راکړی دی، چي زه پر زمري باندي سپور یم، او هغه مي بېګار کړی دی، او هره ورځ پر هغه باندي د بوټو غوټی راوړم.

او چي کله هغه زما سره پر لار سم نه ځي، نو بیا دغه "مار" الله تعالی ما ته غمچینه جوړ کړی دی، او زه بیا د غه زمري په وهم، او پر لار ئې سیده کوم، حضرت مولانا روم رحمة الله علیه پخپلو اشعارو کي هم دغه قصه رانقل کړېده: لکه د هغه قصیدې یو شعر داسي دی:

*گرنہ کشیدم بار زن کی کشید شیر نر بے کار من*

کچیري ما د هغه زناني بوج نه برداشت کولای، او هم مي د هغې پر تکلیفو باندي صبر نه کولای، نو بیا د ځنګله نر زمري به کله زما بېګار وړی وای، نو دا د زمري او مار مسخر کیدل الله تعالی ما ته د هغه په صدقه کي راکړیدي.([1])

## د زناني متعلق د پیغمبر ﷺ هدایت:

پیغمبر ﷺ د زنانو سره د ښه سلوک کولو پدې درجه اهتمام بیان کړیدی: چي ده مبارک فرمایلي دي:

........خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِنِسَائِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِنِسَائِي).([2])

په تاسو کي بهترین انسانان هغه دي: چي د خپلو زنانو سره ښه ژوند کوي، او زه په تاسو کي هم د خپلو زنانو سره ښه ژوند کونکی یم.

([1]) حقوق النساء رساله حکیم اختر صاحب: صفحه نمبر ۴۲

([2]) احیاء علوم الدین: کتاب آداب النکاح: صفحه نمبر ۴۴

نو پیغمبر ﷺ د زنانو د حقوقو د خیال ساتلو سره د هغو سره د ښه سلوک کولو د
اهتمام امت ته بیان کړیدی.
لکه د مجلس په سر کي هم ما ستاسو په حضور کي د یو حدیث مبارک روایت را نقل
کړیوو، چي پیغمبر ﷺ به همیشه امت ته دا ویل:
............استوصوا بالنساء خيرا فإنهن عندكم لا يملكن لأنفسهن شيئا، وإنما أخذتموهن بأمانة
الله واستحللتم فروجهن بكلمة الله تعالى﴾.([1])
زه تاسو ته د زناني په باره کي د خیر وصیت کوم، تاسو زما نصیحت قبول کړئ، د
زناني ستاسو سره ژوند تېروي، او دوی غریباني د خپل ځان اختیار نلري، او ستاسو
سره د دوی زندګي امانت ده، او د نکاح په شکل د دوی څخه نفع اخیستل الله تعالی
تاسو ته حلال کړیدي.
نو د دوی سره ښه ژوند تیر کړئ، او د دوی په حقوقو کي د الله تعالی څخه ویرېږئ
او پر دوی باندي تجاوز مکوئ.

## د زناني یو ښائسته تشبیه:

په یو بل حدیث کي پیغمبر ﷺ د زناني متعلق یو ډېره ښائسته تشبیه بیان کړېده، ا
ده مبارک فرمایلي دي:
............المرأة كالضلع﴾.
زنانه د پوښتۍ غوندي ده، او په بعض روایاتو کي لاداسي هم راغلي دي:
............فإن المرأة خلقت من ضلع﴾.
چي زنانه د پوښتۍ څخه پیدا ده، بعض خلګو د دې تشریح داسي کړېده: چي الله
تعالی د ټولو څخه مخکي حضرت آدم علیه السلام پیدا کړیدی، او د هغه څخه وروسته نو
حضرت حوا علیها السلام د ده د چپه پوښتۍ څخه پیدا کړېده.
او بعض علماؤ بیا د دې دوهمه دا تشریح هم کړېده: چي پیغمبر ﷺ د زناني تشبیه
داسي بیان کړې ده: چي د زناني مثال د پوښتۍ دی، لکه څنګه چي پوښتۍ په کتلو
کي کږه معلومیږي، لیکن د هغې ښائست او صحت هم په داغه کوږوالي کي دی.

---

([1]) تنبیه الغافلین، باب حق المرأة على الزوج: صفحه نمبر ۵۱

........﴿إِنْ أَقَمْتَهَا كَسَرْتَهَا﴾.
کچیري ته دا وغواړې: چي زه به دا سیده کړم، نو هغه نسي سیده کولای، البته که زور ور سره وکړې، ماته به سي، خو بیا د هغې جوړېدل بغیر د پټۍ او پلستر څخه نکېږي، داغه رنګه زنانه هم چي کله د انسان پر مزاج برابره نسي، او انسان په زبردستي سره هغه پر خپل مزاج برابرول و غواړي، نو هغه هیڅکله نه برابرېږي، البته! که زور ور سره وکړي، نو ضرور به نوبت طلاق ته رسېږي، او بیا بغیر د نوي نکاح څخه و ده ته نه روا کېږي.
........﴿وَإِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَفِيهَا عِوَجٌ﴾.(¹)
او کچیري ته د هغه څخه فائده اخیستل غواړې، نو د داغه کږوالي سره سره د هغه څخه فائده اخیستلای سې.
دا عجیبه او غریبه او د حکمته ډکه تشبیه پیغمبرﷺ بیان کړېده: چي د هغې صحت او ښائست هم په داغه کږوالي کي دی، کچیري هغه سیده سي، نو بیا خو بیماره ده صحیح نده.
بعض خلک د پیغمبرﷺ دغه تشبیه د زنانې په مذمت کي استعمالوي: چي زنانه د چپه پوښتۍ څخه پیدا سوېده، او دا پخپل اصل کي کږه ده، حالانکه خبره داسي نده، بلکه الله تعالی نارینه ته هم یو څه اوصاف ور کړيدي، او د زنانې هم څه اوصاف دي، او د دواړو په فطرت کي فرق دی.
کله خو نارینه د زنانې په باره کي دا محسوسه کړي: چي دا زما د فطرت او طبیعت خلافده، حالانکه زنانه د یو چا د طبیعت خلاف کیدل د هغې عیب ندی، بلکه د هغې د فطرت تقاضا دا ده: چي دا به کږه وي.
نو د پیغمبرﷺ حدیث مبارک دی: کچیري په زنانه کي یو داسي خبره در ښکاره سي: چي ستا د طبیعت خلاف وي، او په هغه وجه تاته دا کږه در معلومېږي: نو دا د دې عیب مه بوله، بلکه دا د دې د فطرت تقاضا ده، کچیري ته دا سیده کول غواړې، نو ماتېږي، او که فائده څني اخلې، نو د داغه کوږوالي سره ئې څني اخیستلای سې.

(¹)صحیح البخاري، حدیث نمبر ۵۱۸۴

..........وَفِيْ الْحَدِيْثِ إِشَارَةٌ إِلَى الْإِحْسَانِ إِلَى النِّسَاءِ﴾.
پدې حديث کي اشاره ده: و دې خبره ته: چي تاسو به د زنانو سره احسان کوئ.
..........وَالرِّفْقِ بِهِنَّ﴾.
او هم به د دوی سره د نرمۍ معامله کوئ.
..........وَالصَّبْرُ عَلَى عِوَجِ أَخْلَاقِهِنَّ﴾.
او د دوی پر کږو خبرو او اخلاقو به صبر کوئ.
..........لِاحْتِمَالِ ضُعْفِ عُقُوْلِهِنَّ﴾. (۱)
ځکه چي د دوی عقلونه ډېر ضعيف او کمزوري دي، او د چاچي عقل کم وي، نو هغه همېشه په جګړه کي ژر راځي.

## شريف انسان همېشه مغلوب وي:

او پيغمبر ﷺ د دوی متعلق دا خبره هم کوي:
..........يَغْلِبْنَ كَرِيْمًا﴾.
د زنانو مزاج داسي دی: چي کم خاوند شريف وي، او انتقام نه اخلي، او غصه نکوي، نو زناني پر دغسي خاوندانو باندي همېشه غالبه وي، ځکه دوی په دې پوهيږي: چي دی ماته بنکنځل نکوي، او نه ماته تکليف را رسوي.
نو همېشه دا په ډېره تېزه لهجه د ده سره خبري کوي، او پر ده باندي همېشه زړوره وي، او د خپل زړه خواهشات همېشه د ده څخه په آزاده فضا کي طلب کولای سي، او هم خپل ضروريات د ده څخه په آسانه پوره کولای سي.
..........وَيَغْلِبُهُنَّ لَئِيْمٌ﴾.
او سخت مزاجه او بد اخلاقه خاوند همېشه پر دوی باندي غالب وي، چي دا غريبه د ده څخه ويرېږي، نه وده ته څه ويلای سي، او نه د خپل زړه د تمناؤ شی د ده څخه طلب کولای سي، بلکه د ده د ويري په وجه همېشه دا بېچاره د ده سره په خاموشي باندي ژوند تېروي، نه پر ده باندي ناز کولای سي، او نه د ده څخه د ښې خبري اميد لري، حالانکه دا د دې شرعي حق دی.

---

(۱) ارشاد الساري، جلد نمبر ۸، صفحه نمبر ۷۸

باندي ژوند تېروي، نه پر ده باندي ناز كولای سي، او نه د ده څخه د ښې خبري اميد لري، حالانكه دا د دې شرعي حق دی.

د هغه څخه وروسته پيغمبر ﷺ ورته فرمايي:

﴿.........فَأُحِبُّ أَنْ أَكُونَ كَرِيمًا مَغْلُوبًا﴾.

زما دا خوښه وي: چي زما زندګي د شرافت وي، كه څه هم زه د زنانو څخه مغلوبه يم، او دوی زما سره په خلاصه فضا كي خبري كولای سي.

﴿.........وَلَا أُحِبُّ أَنْ أَكُونَ لَئِيمًا غَالِبًا﴾.(۱)

او زه دا نه خوښوم: چي زه كمينه او بد اخلاقه يم، او پر دوی باندي غالبه يم، او زما په اخلاقو كي نقصان راسي.

## د پيغمبر ﷺ و حضرت عائشې رضي الله عنها ته وينا:

د پيغمبر ﷺ زندګي چي د كمو زنانو سره تيريږي، هلته هم كله كله داسي خبري راتللې، پيغمبر ﷺ حضرت عائشه مباركه ته وايي: ای عائشې! چي كله ته زما څخه ناراضه ئې، نو ماته رامعلوميږي، حضرت عائشه مباركه ورته وايي: ای دالله رسوله! زما مور او پلار دي پر دا قربان وي، زما ناراضي تاته څنګه در معلوميږي؟ او په كمه علامه ته په ما پوهيږې؟ چي دا زما څخه ناراضه ده؟

دی مبارک ورته فرمايي: چي ته كله ناراضه ئې، نو په خبرو كي همېشه دا الفاظ استعمالوې:

﴿.........وَرَبِّ إِبْرَاهِيمَ﴾.

نو زما دي د ابراهيم په رب باندي قسم وي، او ته پدې وخت كي زما نوم نه اخلې، او چي كله زما څخه راضي ئې، نو بيا وايي:

﴿.........وَرَبِّ مُحَمَّدٍ﴾.

زما دي د محمد په رب قسم وي، نو حضرت عائشه مباركه خاندي او ورته وايي:

﴿.........أَجَلْ وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا أَهْجُرُ إِلَّا اسْمَكَ﴾.(۲)

(۱) روح المعاني: جلد نمبر ۵، صفحه نمبر ۱۴. تحت تفسير: سورة البقره: آيت ۱۸۰ الى ۱۹۳

(۲) صحيح البخاري: حديث نمبر ۵۲۲۸

ای دالله رسوله! خبره خو دغسي ده، لیکن زما په خدای قسم! چي په هیڅ حال کي ته زما د زړه څخه نه وزې، او په دغه وخت کي هم ته زما په زړه کي ئې، خو صرف د خولې څخه ستا نوم اخیستل لیري کړم.

نو دا معلومیږي: چي د زناني او د خاوند په درمیان کي په هر کور کي داشان مسئلې پیدا کیږي، خو باید خاوند د ډېر برداشت او حوصلې څخه کار واخلي، او د زناني ناز په هر وخت کي پر خپل ځان باندي یوسي.

په روایاتو کي راځي: یو ځل د پیغمبرﷺ د کور زناني د ده مبارک سره د نفقې په باره کي خبري کوي، او آواز ئې یو څه ور سره په زوره دی، په دې دوران کي حضرت عمرؓ راغلی، نو دوی ټولي خاموشه سولې.
حضرت عمرؓ ورته وویل: ای د الله نیکو بندګانو! ای د ټوله امت میندو! تاسو د پیغمبرﷺ سره په زوره خبري کولې، او چي کله مي عمر ولیدی، نو خاموشه سولاست، د دې څه وجه وه؟

نو هغو ورته وویل: ای عمره! ستا په زړه کي سختي ده، او پیغمبرﷺ د ټوله عالم لپاره رحمت دی، نو ستا په طبیعت کي شدت دی، لیکن د هغه په مزاج کي خو شدت او سختي نسته، موږ چي همېشه د هغه سره د ناز خبره کوو، نو هغه زموږ ناز پورته کوي.([1])
نو بېچاره زنانه به څه ناز وکړي؟ پر داسو خاوندانو: چي هغه د دوی پر معمولي خبره د دوی څخه ناراضه کیږي، حالانکه د دې د ناز پورته کولو لپاره الله تعالی دغه خاوند ورته پیدا کړیدي.

---

([1]) بخاري شریف، جلد نمبر۱، صفحه نمبر ۵۲۰

## د زنانې یو عادت خو به ښه وي:

حالانکه پیغمبرﷺ د انسانانو لپاره د زندگۍ یو عجیب او غریب اصول بیان کړیدي، لکه د حدیث مبارک الفاظ دي:

......﴿لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً، إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ﴾.(۱)

هیڅ یو مؤمن نارینه دې د یو مؤمنې زنانې څخه بلکلیه بغض نکوي، یعنې: چې هغه دې مکمله د عیبونو ډکه وبولي، او دی دې وایي: چې پدې کې یوه ذره خوبي او خیر نسته، کچیرې د هغې یو عمل ناخوښه وي، نو د هغې دوهم عمل به د ده خوښ گرځي.

نو پیغمبرﷺ دا اصول په هر ځای کې بیان کړیدي، چې کله دوه(۲) انسانان یو ځای سره اوسیږي، نو یوه ته به د هغه بل بعضې خبرې ښه ور معلومیږي، او بعضې به بدې وي، کچیرې یو خبره د ده په دماغ کې بده راغله، نو مطلقاً دې بده نه بولي، بلکه په دې وخت کې دې د هغه د ښو اوصافو استحضار کوي، چې په ده کې به آخر یو شه خوی هم وي، چې کله انسان د هغه د ښو خویو استحضار کوي، نو بیا به د هغه د بدو خویو زیات اهمیت د ده په زړه کې نه پاته کیږي.

اصل خبره داده: چې انسان ډېر ناشکره دی، کچیرې د یو چا یو خبره او دوې د ده ناخوښه سوې، نو بس هغه په مخه واخلي، همېشه ئې ذکر کوي، چې په ده کې خو دغه خرابي ده، او دغه خرابي ده، بس هیڅکله ئې دهغه د ښو اوصافو و طرف ته دماغ نه راگرځي، نو کله د ډېرو بدو یو بیانوولو په وجه دهغه سره بد سلوک کې کوي.

## په هر شي کې خیر او شر مخلوط دی:

په دنیا کې هیڅ داسې شی نسته: چې په هغه کې دې بدي نه وي، او نه یو داسې شی سته، چې په هغه کې دې، خیر نه وي.
بلکه دا دنیا الله تعالی داسې جوړه کړیده: چې په هغه کې په هر شي کې خیر او شر سره مخلوط دي، یو شی هم پدې کائناتو کې خیر مطلق نسته، او نه شر مطلق سته، بلکه

---

(۱) صحیح مسلم: حدیث نمبر ۱۴۶۹

خير او شر دواړه الله تعالى کي ايږدي، هر يو کافر او مشرک يا يو بد انسان که په هغه کي يو خوبي ته تلاش کړي، نو ضرور به در پيدا کيږي.

## دانګريزي يو مقوله:

زموږ پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:

............﴿الْكَلِمَةُ الْحِكْمَةُ ضَالَّةُ الْمُؤْمِنِ، حَيْثُمَا وَجَدَهَا فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا﴾.(۱)

د حکمت خبره د مؤمن ورک سامان دى، چي کم ځاى ئې پيدا کړي، نو به ئې را اخلي، او نفع به ځني اخلي.

لهذا د انګريزي يو مقوله ده: دا نده ضروري: چي خامخاه دي غلطه وي، بلکه په هغه کي ډېره د حکمته ډکه وينا ده: چي يو چا ويلي دي: چي کم ساعت او ګړى بنده وي، نو هغه هم په ورځ کي دوه(۲) ځله رشتيا وايي.

مثلاً ته ئې فرض کړه! چي پر دوولس(۱۲) بجې ساعت او ګړى بنده سوه، او س دا خو ښکاره ده: چي هر وخت هغه انسان ته صحيح وخت نه ښکاره کوي، بلکه وخت ئې غلط وي، ليکن په ورځ کي دوه(۲) ځله دا صحيح وخت ښکاره کوي، يو د ورځي چي دوولس(۱۲) بجې پوره سي، او يو چي د شپې دوولس(۱۲) بجې ته وخت ورسيږي، نو دوه(۲) ځله دا هم په ورځ کي رشتيا وايي.

د مقولې د ويونکي مقصد دا دى: چي هر څومره بېکاره او بد شى وي، ليکن که ته په هغه کي خوبي تلاش کړې، نو ضرور به در پيدا کيږي، ځکه په دې دنيا کي داسي شى نسته، چي په هغه کي دي يو شى ښه نه وي.

زموږ يو استاد به د اقبال مرحوم دا شعر ډېر زيات وايي:

---

(۱) سنن ابن ماجه: حديث نمبر ۴۱۶۹

نہیں ہے چیز نکمی کوئی زمانے میں
کوئی برا نہیں قدرت کے کارخانے میں

مطلب دا: چې کم شی هم الله تعالی پیدا کړېدی؛ نو د خپل حکمت او مشیت په خاطر ئې پیدا کړېدی، که غور کې وکړې، نو په هرشي حکمت او مصلحت ښکاره کېږي.
لیکن د انسان مزاج دا دی: چې همېشه د شي و بدیو ته ګوري، د هغه و ښه والي ته هیڅکله د ده نظر نه را اوړي، نو پدې وجه همېشه د ده زړه تنګ وي، او کله خو د ظلم او ناانصافی ارتکاب ځني کېږي.

**خلاصه:**

نو مقصد مې دا دی: چې زنانه الله تعالی ستا په سر کېښنولې ده، او هغې د دوه(۲) لفظه د نکاح د ایجاب او قبول په خاطر خپل ټوله قربان پرې ایښېدي، او ستا په کور کې زندګي تېروي.

کله کله خو ستا د امتحان اخیستلو پخاطر یا تاته د لوړو درجاتو درکولو په خاطر د دې په عاداتو کې یو عمل ستا په دماغ کې الله تعالی ناخوښه وګرځوي، نو په دغه حالت کې باید انسان د صبر او برداشت عمل خپل کړي.
کچیرې د هغې یو خوی د انسان په دماغ کې ناخوښه راشي، نو د هغې ښه خویونه همېشه په دماغ کې راګرځوي، او د هغه بد خوی څخه خپل نظر اړوي، نو پدې شکل به د هغې هغه ناخوښه خوی ستا په دماغ کې ځای نه نیسي، او نه به د هغه اهمیت پاتېږي، او خپله زندګي به دې د هغې سره د راحت او سکون په شکل تیرېږي.

او د دغه زندګی اثر به ستا پر بچیانو باندې هم راځي، او هغو ته به الله تعالی په مستقبل کې ښه اخلاق او ښه زندګي ورنصیب کوي، او هم به د مستقبل د معاشرې بهترین افراد جوړېږي.

الله تعالى دي د دغه خبرو حقيقت زموږ او ستاسو په دماغونو کي راولي، او هم دي موږ او تاسو ته پر دغه مذاکرو باندي دعمل کولو توفيق را نصيب کړي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د زنانو د حقوقو رعایت کول، (۲) بیان

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ٹاون) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹه

| | |
|---|---|
| تقـــــریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتــي حـافـظ کلیم الله صاحب |
| مـقـــــام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشـــاعـت | اول |
| تـاریـــــخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تـعـــــداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيم

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم

﴿وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿عَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ الْقُشَيْرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا حَقُّ زَوْجَةِ أَحَدِنَا عَلَيْهِ؟، قَالَ: أَنْ تُطْعِمَهَا إِذَا طَعِمْتَ، وَتَكْسُوَهَا إِذَا اكْتَسَيْتَ، أَوِ اكْتَسَبْتَ، وَلَا تَضْرِبِ الْوَجْهَ، وَلَا تُقَبِّحْ، وَلَا تَهْجُرْ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيم، وَ نَحْنُ عَلَى ذَٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُلِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! په تېره جمعه کي ما ستاسو په حضور کي يو مذاکره ايښېوه: چي د انسان په زندگي کي د ده پر ذمه باندي دوه قسمه حقوق ادا کول ضروري وي:

- يو "حقوق الله"، يعني: د الله حق ادا کول.
- دوهم "حقوق العباد"، يعني: د بندګانو حقوق ادا کول.

خو زه پخپلو مجلسو کي د "حقوق العباد" پر ادا کولو ډېر اصرار او تاکيد کوم، او هم د هغه ډېر اهميت بيانوم.

ځکه خدانخواسته که د انسان څخه په "حقوق العبادو" کي کوتاهي او قصور وسي، نو د هغه تلافي او معافي کول ډېره درنه او مشکله مسئله وي.

(۱) سورة النساء، آيت نمبر ۳۴

(۲) سنن ابي داود: حديث نمبر ۲۱۴۲

او ما ستاسو مخ ته دا خبره هم پيش کړه: چي په ټولو بندګانو کي چي انسان ته دې
زندګي ډېره نږدې تېرېږي، هغه د انسان د کور زنانه وي، يعني: هغه زنانه: چي هغه
انسان د نکاح په شکل د ده په کور کي د ده په سر ناسته وي.
ځکه قرآن کريم خاوند او زنانه يو د بل لپاره لباس بللي دي، يعني: د دوی دواړو
درميان کي دومره قرب او نزديکت وي: لکه لباس او جسد، چي يو د بل سره څومره
قريب او نږدې وي.
لکه جسد د لباس څخه په هيڅحالت کي نه مستغني کيږي، داغه رنګه دوی دواړه
په هر حالت کي يو د بل څخه نه مستغني کيږي.
نو يو طرف ته خو نکاح زموږ د ايمان د کمال ذريعه بلل سوېده، لکه پيغمبرﷺ
فرمايلي دي:
.........﴿مَنْ تَزَوَّجَ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ نِصْفَ الْإِيمَانِ﴾.(۱)
چي کم چا نکاح وکړله، نو هغه د خپل ايمان نصف کامل او مکمل کړی.
يو بېواده انسان نارينه وي او که زنانه، چي هر څومره نيک عمله سي، هغه کامل ايمـ
ته نسي رسيدلای، چي تر څو پوري په ازدواجي زندګي کي داخل سوی نه وي، او
هغه حقوق او فرائض ئې ادا کړي نوي.
نو ځکه چي کم نارينه د ځوانۍ په عمر کي بغير دواده څخه وي، نو هغه ته په حديـ
شريف کي مسکين ويل کيږي، او هم هغه زنانه چي دځوانۍ په عمر کي وي، او نکا
ئې نه وي سوې، نو هغه ته مسکينه ويل کيږي، ګويا: داغه خلک قابل درحم دي، چي
عمر په داغه حصه کي هم دوی دنکاح دنعمت څخه محروم پاته دي.

## پنځه (۵) وصيتونه:

نو ځکه حضرت عليﷺ به ډېر ځله خپلو متعلقينو ته فرمايل: چي ماته زما محبو
خاتم المرسلينﷺ په پنځو کارو کي د تلوار کولو وصيت کړيدی:

- ﴿عَجِّلُوْا بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الفَوْتِ﴾. لمونځ د فوت کېدلو څخه مخکي ادا کړل.
- ﴿وَعَجِّلُوْا بِالتَّوْبَةِ قَبْلَ الْمَوْتِ﴾. د مرګ راتللو څخه مخکي په توبه کي تلوار کول

(۱) المعجم الاوسط: حديث نمبر ۷۶۴۷

- چې کله یو څوک وفات سي، نو د هغه کفن او دفن ژر کول.
- چې کله پر تا باندې قرض راسي، نو په تلوار ادا کول.
- چې کله اولاد بلوغ ته ورسیږي، نو د هغه نکاح ژر کول.[1]

## نیکبخته انسان:

دا یو متل سوی حقیقت دی: چې کم انسان نارینه یا زنانه د بلوغ عمر ته ورسیږي، نو بیا د حلالي نکاح په شکل هغه ته د ژوند بنه ملګری پیدا سي، نو دا د هغه لویه نیکبختي بلل کیږي.

حضرت علي ﷺ به فرمایل: چې کم انسان ته الله تعالی پنځه(۵) شیان ورکړي، هغه دي ځان د دنیا خوش قسمته انسان بولي، هغه پنځه(۵) شیان دا دي:

- ﴿لِسَانًا شَاكِرًا﴾: شکر کونکې ژبه دا د الله تعالی ډیر لوی نعمت دی، نن سبا د اکثرو خلکو دا حال دی: چې غابښونه ئې د ډیرو نعمتو خوړولو څخه ختم سي، لیکن د هغه نعمتونو شکر د دوی پر ژبه نه راځي.
- ﴿وَ قَلْبًا ذَاكِرًا﴾: او داسي زړه چې همېشه د الله په یاد کي مشغوله وي.
- ﴿وَ بَدَنًا سَالِمًا﴾: او مشقت پورته کونکی بدن، ځکه دا مشهور متل دی: چې صحتمند عقل همېشه په سالم جسم کي وي.
- او پر خپل وطن باندي رزق پیدا کول: یعني: چې دی د رزق په تلاش کي د کور څخه ورک او مسافر نه وي.
- او نیکه زنانه: یعني: داسي زنانه: چې دی کور ته راسي، د هغې په لیدلو سره د ده زړه خوشحاله سي، او د هغې په وجه دی د کور د حفاظت او د بچیانو د خدمت څخه بیغمه وي.

نو چې کم چاته دا ورکول سو:

.........﴿فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا بِحَذَافِيرِهَا﴾.

---

[1] سلسلة الاحاديث الضعيفة و الموضوعة: باب ۷۵، صفحه نمبر ۱۷۴

نو ګویا: دنیا ټوله الله تعالی ده ته ورکړه، او چې په دنیا کې څومره نعمتونه دي، هغه ټول د ده په نصیب سول.(¹)

## د نکاح اهمیت:

دا یو پوخ حقیقت دی: چې په کمه معاشره کې نکاح نه وي، نو هلته زنا عامه وي، نو ځکه زموږ شریعت د نکاح اهمیت ډېر زیات بیان کړیدی.
نن چې په کمو مغربي معاشرو کې د نکاح څخه د فرار لاره انسانان اختیار وي، نو هلته که ته وګورې: نو بیا به د جنسي تسکین لپاره د فحاشۍ اډې خلاصي وي.
زموږ په شریعت کې د انسان پاره د ګناه څخه حفاظت زیات اهم بلل سویدی، نو ځکه د شریعت حکم دا دی: چې ته به نکاح کوې، چې د هغه په ذریعه سره و تاته د پاکي زندګۍ تیرولو لار آسانه سي.
کچیري د نکاح حکم نه وای، بیا خو به نارینه، زنانه صرف د وخت تېرولو او د طبیعت تازه کولو یو ذریعه بللای، نه به د هغې لپاره په معاشره کې څه مقام وای، او نه به د هغې د ذمه دارۍ پورته کولو لپاره یو انسان وای.
نو د شریعت دا فرمان دی: چې تاسو نکاح کوئ، او د نکاح کولو څخه وروسته تاسو یو د بل سره په ازدواجي حقوقو پر ځای کولو کې پابنده یاست، بیا خاص نارینه په دې پابنده سي: چې دی به د زنانې د نفقې او د لباس او د ټولو اخراجاتو د خپل وسع مطابق خیال ساتي.
ځکه شریعت په یو ځای کې هم پر زنانه باندې د نفقې پیدا کولو بوج ندی راوستلی، بلکه د هغې د نفقې بوج شریعت همېشه پر بل چا ایښیدی.

- زنانه که لور وي: نو پلار به ئې د نفقې بندوبست کوي.
- او که خور وي: نو ورور به ئې ذمه دارۍ اخلي.
- او که په نکاح کې راسي: نو بیا خاوند د دې د نفقې ذمه داره وي.
- او که مور وي: نو بیا به ئې اولاد نفقه ورته راوړي.

(¹) دلیل الواعظ الی ادلة المواعظ: صفحه نمبر ۴۲۴

نو د پيدائش څخه وروسته چي دا لور وي، بيا تر مور جوړېدلو پوري بلکه تر مرګه پوري الله تعالى پر زنانه خپله نفقه پيدا کول، هيڅکله هم فرض نه ده ګرځولې.

## د اجر او ثواب زياتوالى:

چي کله انسان نکاح وکړي، د نکاح کولو څخه وروسته الله تعالى د ده د عبادت ثواب ورزياته وي.

چنانچه علماؤو ليکلي دي: چي کله د نکاح څخه وروسته انسان ازدواجي زندګي تېروي، نو هغه ته د يو لمانځه پر ادا کولو الله تعالى د يوويشت(۲۱) لمنځو ثواب ور کوي.

دا ځکه چي ده خو مخکي د الله تعالى حقوق ادا کول، او اوس ئې پر ذمه باندي د بندګانو د حقوقو ادا کولو ذمه واري هم راغله، نو چي کله حقوق ور باندي ډېر سول، نو الله تعالى د ده د عبادت اجر او ثواب هم ورزيات کړى.[1]

## زندګي په محبت کي تېرول:

نو نارينه او زنانه چي کله د نکاح په معاهده کي سره پابند سول، نو د ټولو څخه زياته ضروري دا ده: چي دوى په خپل مابين کي د محبت زندګي تېره کړي، او هم دا وخت د ښو اخلاقو په فضا کي سرته ورسوي.

ځکه چي د نارينه او زنانه په مابين کي د نکاح کولو څخه وروسته ډېر زيات قرب او نزديکت راځي، لکه قرآن چي دوى يو د بل لپاره لباس بللي دي، او د لباس څخه په هيڅ وخت کي سړى ځان نسي ساتلاى، او تر هر څه انسان ته لباس ډېر نږدې وي.

او په يو روايت کي راځي: چي الله تعالى حضرت حوا اناعليها السلام د حضرت آدم عليه السلام د پوښتۍ څخه پيدا کړه، د سر څخه ئې ځکه نکړه پيدا: چي زنانه به دومره نه پورته کوي: چي پر سر ئې کښېنوي، او نه ئې د پښو څخه پيدا کړه، چي په دومره سپک نظر به هم نه ورته ګوري: چي د پښې چوټه ځني جوړه کړي.

---

[1] خطبات فقير: جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۲۱۲

بلکه د چېه پو بنتي ځخه ئې پيدا کړه، په دي کي دې ته اشاره وه: چي دا به د خپل ژوند ملګرې بولي، او دې ته به پخپل زړه کي ځای ورکوي.
نو کچيري نارينه زناني ته په زړه کي ځای ورکړي، او هم هغې ته د محبت په نظر ګوري، نو بيا به د دوی د دغه ښې زندګۍ اثر د دوی پر اولاد باندي راځي، هغه به هم محبت او ښه اخلاق ازده کوي، او هم به په مستقبل کي د معاشرې بهترين انسانان جوړيږي.
ځکه په حديث شريف کي راځي: چي کله يو خاوند خپلي زناني ته وګوري، او د محبت په شکل ورته وخاندي، او زنانه هم د خندا او رحمت په شکل د خپل خاوند سره د محبت اظهار کوي، نو الله تعالی پر دواړو باندي د خندا په شکل نظر کوي.
ليکن که خدانخواسته د دوی په مزاجونو کي اختلاف راغلی، نو بيا خو پيغمبرﷺ فرمايلي دي:
...........لَا يَفْرَكْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَةً، إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا، رَضِيَ مِنْهَا آخَرَ).(¹)
يو مؤمن دي د مؤمني زناني سره بلکليه بغض نکوي، کچيري د هغې يو عادت د ده پر مزاج برابر نسو بيا دي د داسي عادت سوچ او فکر کوي: چي هغه د ده پر مزاج او عادت برابر وي، د هغه په وجه به د ده په دماغ کي د هغه خراب عادت اهميت نه پاته کيږي.
کچيري بيا هم خاوند په دې پوه سي: چي په دغه زنانه کي بعضي داسي خبري سته: چي قابل د برداشت ندي، بلکه د هغه اصلاح ضروري ده، او دا ښکاره خبره ده: چي نارينه په دې خبره مکلف هم دی: کچيري په زنانه کي يو خبره قابل د اصلاح ويني، نو د هغه د اصلاح به فکر کوي.
ليکن اوس به د هغه د اصلاح طريقه ځنګه وي؟ نو قرآن کريم د هغه وضاحت کړيدی:
...........وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ﴾.(²)

(¹) مسند احمد مخرجا: حديث نمبر ۸۲۶۳
(²) سورة النساء: آيت نمبر ۳۴

نو الله تعالى فرمايي: چي كمي زناني سركښي او نافرماني كوي، او ژبه ئې تيزه وي، چي د هغه په وجه د خاوند ګزاره ور سره ګرانه سي، نو بيا دي په دغه درو (۳) طريقو سره د هغې د اصلاح كوشش وكړي:

## اوله (۱) طريقه: نصيحت كول دي:

نو د ټولو څخه مخكي خاوند بايد په نرمي او خوش اخلاقي سره، او په محبت سره يوازي او په تنهائي كي، خپله زنانه كښېنوي، او ورته ووايي: چي زما او ستا ريشته، او قرابت ډېر باريک دی، بايد نور څوک په ځان خبر نكړو، او خپله زندګي په پرده او عزت كي سره تېره كړو، نو په دغه شكل دي د دې د اصلاح كوشش وكړي.
او كه پدې باندي هغه په قابو كي نه راتله، بيا دي صرف د دغه زناني د مور په مخكي د دې د خراب عادت ذكر وكړي، او د هغې په ذريعه دي د دې د اصلاح كوشش وكړي، ځكه د مور او لور ډېري خبري سره ښكاره وي.
كه په دغه طريقه هم اصلاح نه راتله، نو بيا دي يو داسي څوک چي د هغه پر دغه زنانه باندي رعب او خوف وي، يا دا د هغه څخه ډېره حيا او شرم لري، د دې په قريبانو كي نو د هغه په مخ كي دي دا كښېنوي، او هغه خراب عادت دي د دې پر لاس ور كړي، او د نصيحت او همدردی په شكل دي د دې د اصلاح كوشش وكړي.

## دوهمه (۲) طريقه: بستره جلا كول دي:

كچيري د نصيحت په ذريعه هغه زنانه د اصلاح لاري ته رانسي، او د وعظ او نصيحت پر دې باندي اثر نه وي.
نو بيا خو د اصلاح دوهمه طريقه دا ده: چي د هغې څخه بستره جلا كول، په زناني كي كچيري يو څه فهم او عقل وي، نو د خاوند د بستري په جلا كيدلو دا د اصلاح لاري ته ضرور راځي.

## د بستري جلا كولو تفصيل:

خو د بستري جلا كولو تفصيل پيغمبر ﷺ په يو بل حديث كي بيان كړيدی: لكه د ابو داؤد شريف د حديث الفاظ دي:

.........وَلَا تَهْجُرْ، إِلَّا فِي الْبَيْتِ). (۱)

د بسترې تفصيل په دې حديث کې پيغمبر ﷺ داسي بيان کړيدی: چې د بسترې جلا کولو مطلب دا ندی: چې ته د کور څخه ځني ولاړ سه، بلکه په کور کي دننه اوسيږه، البته! د احتجاج په شکل او په تاديبي شکل، د يو نفسياتي پرېشانی په طريقه حجره ورپرېږده، يا په حجره کي دننه بستره ورپرېږده، او د هغه څخه جلاوالی اختيار کړه.
علماؤ د دې حديث دغه معنی هم بيان کړېده: چې پر دغه موقع باندي که څه هم انسان بستره ځني جلا کړي.
ليکن خبري به بلکليه نه ختم کوي، او نه به داسي جلاوالی وي: چې يو بل ته سلام هم نکوي، او نه د سلام جواب ور کولو ته تيار وي، يا يو ضروري خبره وکړي، هغه بل د هغه جواب نه ورکوي، دغه رنگه جلاوالی جائز ندی.

## د دې حديث متعلق نور مسائل:

د دې حديث په تفصيل کي علماء کرامو تر دې حده پوري ليکلي دي: چې د خاوند لپاره د څلور(۴) مياشتي څخه زيات د کوره وتل د زناني د اجازت او د خوشدلی بغير جائز ندي.
حضرت عمر رضي الله عنه د خپل امارت په دور کي خپلو ټولو علاقو ته د يو فرمان په شکل دا حکم استوي: چې کم مجاهدين د کور څخه دباندي مسافر وي، هغه به د څلور(۴) مياشتي څخه زيات سفر نکوي.
کچيري يو سړی د څلور(۴) مياشتي څخه کم سفر کوي، نو د هغه لپاره د زناني اجازت ضروري ندی، ليکن که د څلور(۴) مياشتي څخه زيات سفر وو، نو د هغه لپاره بيا د زناني څخه اجازت غوښتل ضروري دي، که هر څومره د عباذت والا سفر وي.
حتی: که د حج سفر وو، نو په هغه کي هم که دی په څلور(۴) مياشتي کي دننه واپس راتللای سو، نو بيا خو د اجازت ضرورت نسته، او که د نفلي عباداتو لپاره هلته د زيات قيام کولو اراده ولري، نو بيا خو اجازت اخيستل ضروزي دي.

---

(۱) سنن ابي داؤد: حديث نمبر ۲۱۴۲

داغه حکم د تبلیغ او دعوت او هم د جهادي سفرو دی، یا یو څوک د علم په طلب پسې سفر کوي، د هغه هم داغه حکم دی.
نو چي کله د دغه مبارکو سفرو لپاره د زناني اجازت ضروري دی، نو بیا چي کم خلک د تجارت په خاطر یا د ملازمت په خاطر اوږده اوږده سفرونه کوي، نو بیا خو په طریقه اولی د زنانۍ څخه اجازت اخیستل ضروري بلل کیږي، که دزناني د اجازت بغیر ولاړ سي، نو بیا خو د هغې حق تلفي بلل کیږي، او شرعاً دغه سفر کول ګناه ده، او دی ګناهګاره جوړیږي.

## دریمه (۳) طریقه: وهل دي:

کچیري د اصلاح دوهمه طریقه هم مؤثره ثابته نسوه، نو بیا به انسان دریمه طریقه اختیاروي، چي هغه وهل دي، لیکن وهل به څنګه وي، او څومره قدر به وي؟ ددې په باره کي د "حجة الوداع" په موقع باندي نبي کریم ﷺ چي امت ته خپل کم آخرنی نصیحت وکړی، نو په هغه کي ئې دا وفرمایل:
......فَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ﴾.(¹)
اول خو زه دا وایم: چي باید انسان تر ډېره حده پوري کوشش دا وکړي: چي خبره دغه حد ته نه ورسیږي، ځکه پیغمبر ﷺ په داغه خطبه کي یو ځای دا هم فرمایلي دي:
......يَعْمِدُ أَحَدُكُمْ، فَيَجْلِدُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ العَبْدِ، فَلَعَلَّهُ يُضَاجِعُهَا مِنْ آخِرِ﴾.(²)
دا ډېره بده خبره ده: چي په تاسو کي یو سړی خپله زنانه داسي وهي: لکه بادار چي غلام وهي، او بل طرف ته بیرته د هغې څخه خپل جنسي خواهش هم پوره کوي، نو دا ډېره د بد اخلاقۍ او ناخوښه خبره پیغمبر ﷺ بللېده.
کچیري د وهلو مرحله راسي، نو دا به هم په هغه صورت کي انسان استعمالوي: چي د وهلو بغیر بله هیڅ چاره پاته نه وي، په هغه وهلو کي هم دا قید دی: چي هغه به تکلیف ورکونکي نه وي، یعني: د هغه وهلو څخه به د ده تکلیف ورکول مقصود نه وي، بلکه

(¹) سنن ابي داؤد: حدیث نمبر ۱۹۰۵
(²) صحیح البخاري: حدیث نمبر ۴۹۴۲

د ده مقصود به ادب او اصلاح وي، او دا رنګه وهل جائز نه دي: چي د هغه ځخه د دې پر بدن باندي نښان پيدا سي، لکه په يو حديث شريف کي پيغمبر ﷺ فرمايلي دي:
......... ﴿وَلَا تُضْرِبِ الْوَجْهَ﴾.(۱)
پر مخ به ئې نه وهې، او نه به داسي وهل ورکوې: چي د هغه پوجه دې ته ډېر تکليف وي، يا د هغې پر بدن باندي نښان راسي.

## د پيغمبر ﷺ وصيت:

پيغمبر ﷺ به همېشه صحابه کرامو ته بلکه ټوله امت ته د وهلو نه کولو وصيت او نصيحت کاوی، لکه د ابو داؤد شريف يو حديث دی، پيغمبر ﷺ به فرمايل:
.......... ﴿لَا تُضْرِبُوا إِمَاءَ اللّٰهِ﴾.
دا زناني د الله تعالی بندګاني دي، تاسو ئې مه وهئ، يعني: د دوی وهل ښه خبره نده. چي کله پيغمبر ﷺ دوی د يو کار ځخه را وګرځول، چي دا کار مکوئ، نو کم سړی چي مخامخ د پيغمبر ﷺ د ژبي ځخه دا خبره واورېدل، نو اوس د هغه لپاره هغه کار حرا قطعي وګرځېدی، او د ده لپاره په هيڅ حالت کي هغه کار کول جائز نه دي.

## حديث ظني دی يا قطعي:

په دا يوه خبره سر خلاصول: چي يو هغه حديث دی، چي موږ او تاسو ئې په کتابو کي وايو، او په ډېر اوږده سند تر موږ پوري رارسېدلی وي، لکه: حد ثنا، فلان قال، حدثنا فلان، قال حدثنا، فلان، دغسي حديث ته "ظني" ويل کېږي، ځکه چي په ظني طريقه تر موږ پوري رارسېدلی دی، پر دغسي حديث باندي زموږ دپاره عمل کول واجب دی، که عمل نه په وکړو، نو ګنهګاره به يو.
ليکن کمه خبره چي صحابه کرامو د پيغمبر ﷺ ځخه پخپله واوريدله، هغه حديث به "ظني" نه وي، بلکه "قطعي" وي، که يو څوک د هغه مخالفت وکړي، او هم ځنې انکار سي، نو بيا خو صرف ګنهګاره نه بلکه د کفر حد ته رسېږي.

(۱) سنن ابي داؤد، حديث نمبر ۲۱۴۲.

کله کله خو زموږ په زړو کي يو احمقانه فکر پيدا سي، چي: کاش موږ خو د پيغمبر ﷺ په زمانه کي پيدا سوي واى، او د هغه زمانې برکات مو حاصل کړي واى، ليکن زه دا وايم: چي زموږ پيدائش په اوس زمانه کي دا د الله حکمت دی، او الله تعالى په حکمت باندي خپلې فيصلې کوي، کچيري موږ او تاسو په هغه دور کي پيدا سوي واى، نه معلوم: چي اوس به په کم "اسفل السافلين" کي واى، ځکه چي په هغه زمانه کي د ايمان معامله دومره نازکه وه: چي په لږ عمل باندي انسان د ايمان د دائرې څخه واتي.

صحابه کرامو چي د پيغمبر ﷺ سره د کمي قربانۍ معامله وکړه، دا د هغو ظرف او استعداد وو، او د هغه په نتيجه دوی دغه حد ته ورسېدل، کچيري موږ غوندي آرام او عافيت خوښونکي انسانان په هغه دور کي واى، نه معلوم: چي د کم حشر سره به مخامخ سوي واى.

نو چي کله پيغمبر ﷺ صحابه کرامو ته د زنانو د نه وهلو، خبره وکړه، نو په کورو کي د وهلو سلسله بلکل ختم سوه، ځکه چي صحابه کرام داسي خلګ نه وو: چي يو ځل دي د پيغمبر ﷺ څخه د يو عمل ممانعت واوري، او بيا دي هغه عمل جاري وکړي.

........فَجَاءَ عُمَرُ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: ذَئِرْنَ النِّسَاءُ عَلَى أَزْوَاجِهِنَّ).

نو حضرت عمر ﷺ د پيغمبر ﷺ خدمت ته راغلی، او وئې فرمايل: ای دالله رسوله! دغه زناني خو اوس پر خپلو خاوندانو باندي د زمريانو په شان دلاوري سوي، ځکه چي تا د وهلو ممانعت وکړی، يو سړی هم وهل خو څه کوي، چي د هغه د وهلو فکر نه کوي، او د هغه دا نتيجه سوه: چي زناني پر خاوندانو د زمريانو غوندي دلاوري وګرځېدې، او د خاوندانو د حقوقو خيال نه ساتي، او د هغه سره بد سلوکي کوي، پيغمبر ﷺ چي کله د حضرت عمر ﷺ خبره واورېدله:

........فَرَخَّصَ فِي ضَرْبِهِنَّ).

نو ده د زنانو د وهلو اجازت وکړی، چي کچيري زناني د خاوندانو حقوق نه پر ځای کوي، او د وهلو څخه سوا بله لار پاته نه سي، نو تاسو ته د هغو د وهلو هم اجازت دی. اوس د هغه اجازت نتيجه دارا ووتله: چي په څو ورځو کي دننه د پيغمبر ﷺ کور ته د ډېرو زنانو راتګ شروع سو، چي هغو به دا عرض کاوی: ای دالله رسوله! تا خاوندانو

ته د وهلو اجازت ور کړی، نو هغو د اجازت څخه غلط فائده واخیستله، او موږ ته ئې
په دا شان وهل راکړل.
پیغمبر ﷺ چي کله د زنانو شکایت واورېدی: نو په "مسجد نبوي" کي ئې صحابه
کرام سره را ټول کړل، او ورته وئې ویل:
......... لَقَدْ طَافَ بِآلِ مُحَمَّدٍ نِسَاءٌ كَثِيرٌ يَشْكُونَ أَزْوَاجَهُنَّ لَيْسَ أُولَئِكَ بِخِيَارِكُمْ).
زما کور ته ډېري زناني راغلي وې، او د خپلو خاوندانو شکایت ئې کاوی، چي د دوی
خاوندان د دوی سره بد سلوکي کوي، او دوی وهي.
نو تاسو دا خبره ښه واورئ! چي کم څوک زنانو ته د وهلو په شکل تکلیف ور کوي
هغه په تاسو کي ښه خلک ندي، او د یو ښه مؤمن او مسلمان کار دا ندی: چي هغه
زنانو ته وهل ور کړي.(۱)
نو د ټولي مجمعي و مخته پیغمبر ﷺ دا خبره واضح کړله: کچیري د مجبوری په
حالت کي چي کله بله چاره نه وه، نو پدې وخت کي د شریعت د طرفه د داسي وهلو
اجازت سته: چي د هغه په وجه به د زناني پر جسم نښان نه جوړېږي، او ډېر زیات
تکلیف ور کونکي به نه وي.
لیکن د دې باوجود پیغمبر ﷺ د زړه غوښتنه او خواهش دا وو: چي هیڅ یو نارینه
باید پر زنانه هیڅکله لاس پورته نکړي.

## د پیغمبر ﷺ د زنانو سره سلوک:

چي کم وخت پیغمبر ﷺ د دنیا څخه رخصت اخلي، نو په دې وخت کي د ده په نکاح
کي نه(۹) ازواج مطهرات ولې، هغه د آسمان څخه نازل سوي فرښتې نه وې، بلکه هغه
هم د دغه معاشرې انساناني وې، د هغو په مابین کي هغه خبري راتللې: چي د ښځو په
مابین کي راځي، او هم به هغه مسائل مخته راتلل: چي بعض اوقات د خاوند او د
زناني په درمیان کي راځي.

(۱) سنن ابي داؤد: حدیث نمبر ۲۱۴۶

ليکن حضرت عائشه مبارکه فرمايي: چي تر تولو عمر نه صرف دا: چي ده پر يو زنانه لاس پورته نکړی، بلکه چي همېشه به کورته راداخلېدی، نو پر مخ مبارک به ئې د تبسم او خندا اثار ښکاره وو.

نو د پيغمبر ﷺ سنت دا دی: چي پر زنانه لاس نه پورته کول، او نه د هغې د وهلو فکر کول، او نه هغې ته تکليف رسول، او د وهلو چي کم اجازت سويدی: هغه هم د بعض مجبوری د حالاتو په وخت کي دی.

ورنه! په عامو حالاتو کي خو د وهلو اجازت هم نسته، او د پيغمبر ﷺ طريقه هم نه ده، د پيغمبر ﷺ طريقه هغه ده: چي حضرت عائشې مبارکې بيان کړيدی: چي د پيغمبر ﷺ پر مخ به و کورته د راتللو په وخت کي د تبسم او خندا نښاني ښکاره وې.

## زموږ د اکابرو کرامت:

د حکيم الامت حضرت اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه خليفه مجاز حضرت ډاکټر عبدالحی قدس الله سرّه الله تعالی دي د ده درجات بلند کړي.

کله کله به ئې خپلو متعلقينو ته د تعليم په شکل فرمايل: چي نن زما د نکاح کولو پنځه پنځوس(۵۵) کاله زمانه تقريباً تېره سوه، ليکن الحمد الله: يو وخت هم پدې پنځه پنځوس(۵۵) کاله زمانه کي خپلي زناني ته په بدله لهجه يعني: د غصې په الفاظو خبره نه وکړه.

زه دا وايم: چي خلک د اوبو پر سر تېرېدل، کرامت بولي، او په هوا کي الوتل کرامت بولي، اصل کرامت دا دی: چي پنځه پنځوس(۵۵) کاله د يو انسان د يو زناني سره تير سي، او دا داسي تعلق دی: چي يقيناً به په هغه کي رنګارنګ حالات راځي، او دا ممکنه نده: چي ناخوښي دي پيدا نسي، ليکن بيا به هم ده فرمايل: چي ما خو په دې ټوله وخت کي په سخته لهجه يوه ورځ هغې ته وينا نه وکړه.

د ده چي کمه د کور زنانه وه، هغې به فرمايل: چي ټوله عمر د ده د طرفه ماته دا نه وويل سو: چي "ماته يو ګلاس اوبه را کړه" يعني: د خپل طرف څخه ده ماته هيڅکله د يو کار حکم نه وکړی، چي دا کار وکړه، بلکه زه پخپل شوق او د سعادت او

نيکبختي په جذبه د ده خيال ساتل، او هم ئې خدمت کوم، او دا د ځان دپاره سعادت او نيکبختي بولم، ليکن ټوله عمر په ژبه سره ده ماته د يو کار کولو حکم ندی کړی.

## طريقت بجز خدمت خلق نيست:

ده به فرمايل: چې ماخو پخپل زړه کې دا خبره ته ځای ورکړيدی: او دا مې عقيده ده: او پر دې باندې د الله تعالى څخه خاتمه غواړم: چې زه خو خادم يم، او زه الله تعالى د خدمت دپاره دې دنيا ته را استولی يم.

چې څومره زما متعلقين دي، د هغو خدمت زما پر ذمه دی، او زه د مخدوم په شکل الله تعالى دې دنيا ته نه يم را استولی، چې نور خلک به زما خدمت کوي.

بلکه زه خادم يم، د خپلې زنانې هم خادم يم، د خپلو بچيانو او مريدانو هم خادم يم، ځکه: چې د بنده لپاره د خادميت مقام ډېر خوند کوي، نو ځکه زه ځانته د خادم لقب ور کوم، لکه: يو شاعر فرمايلي دي:

ز تسبيح و سجاده و دلق نيست

طريقت بجز خدمت خلق نيست

طريقه او تصوف په حقيقت کې د خلکو د خدمت نوم دی، نو ده به فرمايل: چې ما کله ځان خادم بللی دی، مخدوم نه يم، نو خادم به بيا پر بل چا څنګه حکم کوي، چې ته دغه کار وکړه.

زما ټوله عمر دغسې تير سو، چې کله به يو ضرورت پيش سو، نو پخپله به مې هغه کار کاوی، او بلچاته به مې د هغه کار د کولو حکم نکاوی، او دا د پيغمبر ﷺ د سنتو اتباع ده.

په ظاهري شيانو کې لکه: لباس، خورک، ناسته ولاړه، کې خو موږ د سنت طريقې اتباع کوو، ليکن په اخلاقو کې، په معاملاتو او معاشرت او د ژوند تيرولو په طريقو کې هم د پيغمبر ﷺ د سنتو اتباع کول ضروري دي.

## د محبته ډکه ژوندګي،

په رواياتو کې راځي، يو ځل پيغمبر ﷺ کورته راغلی، که ګوري، په غولي کې حضرت عائشه مبارکه د يو لوښي څخه اوبه چينجي، ده چې کله ولېدله، نو ورته وايي: حميرا (نوم خو ئې عائشه وه، خو ده د ناز څخه حميرا بلله) پيغمبر ﷺ په دې نامه کې هم مونږ ته يو سبق راکړيدی، چې خاوند پر زنانه د ناز نوم اېښوولای سي.
چې کله ده ژغ ورباندي وکړی: نو هغه ورته وايي، اې د الله رسوله! څه راته فرمائې؟
ده مبارک ورته وويل: يو څه اوبه زما لپاره پرېږده.
حالانکه هغه امتي وه، او د ده د کور زنانه وه، او دی خاوند هم وو، او سيدالمرسلين او رحمت اللعالمين وو، برکتونه خو به د ده په ذات کې وه، مګر محبت هم يو عجيبه شی دی، چې دی خپلي رفيقه حيات ته وايي: چې ماته يو څه اوبه راپرېږده.
چنانچه حضرت عائشه صديقه په هغه لوښي کې يو څه اوبه پرېږدې، چې کله ده ته ئې نږدې راوړې، نو ده هغه لوښی په لاس کې ونيوی، او بيا ورته وايي، چې اې عائشې! ته ما لره نږدې راسه، تا ته ده لوښي پر کم ځای باندي خوله ولګوله، چې کله هغې ور وښوول، چې ده د هغه لوښي مخ وګرځاوی، او پر هغه ځای ئې خپل شونډان مبارک ولګول، او اوبه ئې وچيښلې، او حضرت عائشې مبارکې ورته کتل. ([1])
نو زه کله دا وايم، کچيري خاوند زناني ته دغه قدر محبت او مينه ورکړي، نو بيا به زنانه د هغه د کور د آبادۍ او حفاظت خيال ځنګه نکوي، بلکه هغه زنانه به د هغه د کور د آبادولو لپاره خپل ځان قربانوي.
ځکه چې د محبت جواب محبت او د الفت جواب الفت دی، او د وفا جواب په وفا سره ورکول کيږي، نو دا به ضرور د خاوند محبت ته په زړه کې ځای ورکوي، او د هغه سره به ښه ژوند تيروي، او د هغه خدمت به د ځان لپاره سعادت بولي، او دا په اسلام کې د ازدواجي ژندګۍ د ډېر ښائسته او حسين تصوير بلل کيږي.

([1]) خطبات فقير، جلد نمبر ۳۰، صفحه نمبر ۲۴۴

الله تعالی دې موږ او تاسو ته د ښې ازدواجي زندګۍ تیرولو توفیق را نصیب کړي، او الله تعالی دې دغه مذاکره په خپل دربار کې قبولې او مقبولې وګرځوي. (آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د زنانو د حقوقو رعایت کول، (۳) بیان

(بیان)


مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن



مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روډ کوئټه

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطیع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کلیم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشاعت | اول |
| تاریخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ ﴿أَلَا فَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا، فَإِنَّهُنَّ عَوَانٍ عِنْدَكُمْ، لَيْسَ تَمْلِكُونَ مِنْهُنَّ غَيْرَ ذٰلِكَ﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمُ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمُ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهيد،**

محترمو حاضرينو! د تېرو جمعو څخه مسلسل زه ستاسو په مخکې دا مذاكره پېشوم! چې د انسان په زندګۍ كې پر ده باندې يو داسې دور راځي! چې دى د نكاح په عقد او رشته باندې پابند سي،

چې هغه ته د ده ازدواجي زندګۍ ويل كېږي، او په هغه زندګۍ كې الله تعالى پر ده باندې يو څه حقوق ايږدي، چې د هغه په ادا كولو دى مكلف ګرځي، يعني، چې كمه زنانه د ده په نكاح كې راغله، نو دى به د هغې د حقوقو ادا كولو خيال ساتي.

لكه الله تعالى قرآن كريم كې فرمايلي دي!

.........وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا﴾.

(١)سورة الروم، آيت نمبر ٢١
(٢) مسند ابن ابي شيبه، حديث نمبر ٥۶٢

چي د الله تعالی د قدرت يوه نښانه داده، چي هغه ستاسو لپاره ستاسو د نفسونو څخه زناني پيدا کړيدي، او هغه ئې ستاسو په نکاح کي درکړيدي، چي تاسو د هغه څخه نفع واخلی، او د هغه سره په ژوند تېرولو کي سکون او راحت پيدا کړئ.

..........وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً﴾.

او هم الله تعالی ستاسو او د دوی په مابين کي محبت او دوستي ګرځولې ده، چي هغه پردي زنانه وي، ليکن د نکاح د عقد په وجه د دې او د خاوند په مابين کي الله تعالی قرابت او دوستي او محبت پيدا کړي.

..........إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾.

خو دا د الله تعالی د قدرت نښاني هغه چاته ور معلومېږي: چي کم څوک د الله تعالی په قدرت کي فکر او غور ولري.

يعني: الله تعالی انسان د ازدواجي زندګی په حقوقو ادا کولو مکلف ګرځولی دی، او هم ئې پر ده باندي د زناني د حقوقو ادا کولو ذمه اچولېده.

## د اسلام څخه سوا په نورو دينونو کي د زناني ژوند:

د اسلام څخه مخکي په دنيا کي مختلف تهذيبونه او مختلفي معاشرې تيري سويدي، او س په دغه تهذيبو او معاشرو کي زناني ته کم مقام ورکول سوی وو، چي کله انسان د عالم د تاريخ مطالعه وکړي، نو دا خبره به پر ده باندي واضحه سي، چي د اسلام څخه مخکي په هغه تهذيبونو کي زنانه بلکل د خپلو بنيادي حقوقو څخه محرومه وه.

- د فرانس چي کم قومونه دي، د هغو د زناني په باره کي دا تصور وو، چي دا نيم انسان دی، نو ځکه د معاشرې د ټولو خرابيو ذريعه به زنانه بلله.
- په چين کي د زناني په باره کي دا تصور وو، چي په دې کي شيطاني روح دی، لهذا د بدو اعمالو و طرف ته هميشه انسان دعوت کوي.
- د جاپان د قومونو د زناني په باره کي دا عقيده وه، چي ناپاکه پيدا سوېده، نو ځکه هغو به دا د عبادت د ځايونو څخه ليري ساتله.
- په "هندو ازم" کي د زناني سره دا ظلم وو، چي کله به د هغې خاوند وفات سو، بيا دا په معاشره کي د ژوند کولو قابله نه بلل کيدله، د دې لپاره يوه لار

دا وه، چې د خاوند دجسد سره به ژوندۍ سوځل کېده، که به ئې داسې نه وکړل، نو بیا په معاشره کې ودې ته د عزت په نظر نه کتل کیدل.

- په عیسائي دنیا کې زنانه د "معرف الهي" په لار کې خنډ بلل کېده، نو زنانو او نارینوو ته به دا تعلیم ورکېدی، چې دوی دې بغیر د واده څخه د رهبانیت زندګي تېره کړي، دا د دوی عزت بلل کیدی.
- په "جزیره عرب" کې چې به لور پیدا کېدل، د شرم خبره وه، نو مور او پلار به خپلې لونې ژوندۍ په خپل لاس تر خاورو لاندې کولې، هلته به د زنانې حقوق په دا شان تلف کیدل: کچیرې یو سړی وفات سو، نو د هغه په میراث کې به د نورو شیانو غوندې د هغه زنانه هم تقسیم کېدله، که به چیرې د یو زنانې خاوند وفات سو، نو بیا خو د "مکې مکرمې" څخه دباندې یو توره خونه جوړه وه، د هغه زنانې دوه(۲) کاله زندګي به په هغه کې تېرېدله، نه به د پاکۍ لپاره اوبه، او نه به د هغې نور ضروریات پوره کیدل، که به چیرې دې هغه زندګي تېره کړله، نو بیا به ئې د هغې مخ ور تور کړی، او په "مکه مکرمه" به ئې وګرځوله، د هغه وروسته نو اوس دې ته په کور کې د استوګنې اجازت ورکول کېدی.(۱)

نو یو طرف ته به د هغې خاوند پخپله قضا سره وفات سو، چې د دې به په هغه کې هیڅ قصور نه وو، مګر دا مظلومه به دومره بېوسه وه، چې د خپل حق په باره کې به ئې هیڅ آواز نسو پورته کولای.

په دغسې ماحول کې چې څلور(۴) طرفه د زنانو حقوق تر پښو لاندې کېدل، الله تعالی پیغمبر ﷺ ته د اسلام نعمت ورکړی، او دنیا ته ئې د یو عظیم رحمت په شکل راواستاوی، و دنیا ته د راتللو سره سره ده په خپلو تعلیماتو کې د زنانو حقوق بیان کړل، او هم ئې د هغه مقام او مرتبه ښکاره کړله.

ده انسان معاشرې ته دا پیغام ورکړی، چې ای خلکو!

- زنانه چې د کم چا لور ده، د هغه دپاره عزت دی.

(۱) کمری مرأة: حصہ پنجم: صفحہ نمبر ۱۸۵

- او د کم چا چې خور ده، نو د هغه ناموس دی.
- او د چا چې په نکاح کې ده، د هغه د زندګۍ رفيقه ده.
- او د کم چا چې مور ده، نو د هغې تر قدمو لاندې جنت دی.

## په اسلام کې د زنانې مقام،

هغه د سخت زړه والا انسانان چې خپلې لونې به ئې ژوندې تر خاورو لاندې کولې، او د هغې چيغو او فريادونو به د دوی پر زړه باندې هيڅ اثر نه درلودی، او ژوند به ئې په دغه ظلمونو کې تېراوی.
په دغسې حالاتو کې پيغمبرﷺ هغو ته دا پيغام ورکړی:
............مَنْ وُلِدَتْ لَهُ ابْنَةٌ فَلَمْ يَئِدْهَا، وَلَمْ يُهِنْهَا، وَلَمْ يُؤْثِرْ وَلَدَهُ عَلَيْهَا يَعْنِي الذُّكُورَ أَدْخَلَهُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ﴾.(¹)
چې کمچا ته الله تعالی يوه لور ورکړه، هغه ئې ژوندی تر خاورو لاندې نکړه، لکه د عربو مشرکانو چې څنګه کول، او نه ئې هغې ته په سپک نظر وکتل، او نه ئې زوی ته پر هغه باندې ترجيح ورکړه، الله تعالی به دی د دغه لور په خاطر په جنت کې داخل کړي.

## د ازدواجي ژوندګۍ اهميت،

پيغمبرﷺ هغه قومونو ته چې هغوی زنانه د الله د معرفت په لار کې خنډ بلله، دا واضح پيغام ورکړي؛ چې زنانه د الله د معرفت په لار کې خنډ نه بلکه نوره معاونه ده، څکه چې د زنانې سره د نکاح کولو په خاطر الله تعالی انسان ته د ايمان کمال ور نصيب کوي.
او هم د نکاح په وجه الله تعالی د انسان په عباداتو کې اجر زياتوي، لکه په تېره جمعه کې ما دا خبره ښکاره کړېوه، چې د نکاح کولو څخه وروسته الله تعالی د هر عبادت د يو پر ځای په يوويشت(۲۱) باندې اجر او ثواب ورکوي.
او د دې سره پيغمبرﷺ دا پيغام هم انسانيت ته پېش کړی، چې،

(¹) مصنف ابن ابي شيبه، حديث نمبر ۲۵۴۳۵

.........﴿لَا رَهْبَانِيَّةَ فِي الإِسْلَامِ﴾.(۱)

په اسلام کې رهبانیت نسته، چې یو سړی به انفرادي ژندګي تېروي، نه به نکاح کوي، او نه به د ژوند نورو مصروفیاتو سر ته رسوي،

بلکه؛

.........﴿النِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِي، فَمَنْ لَمْ يَعْمَلْ بِسُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي﴾.

نکاح زما سنت طریقه ده، چې کم څوک زما په سنت طریقه عمل نکوي، هغه زما څخه ندی، یعني زما پر سنت طریقه ندی، بعضي محدثین وایي؛ زما د امت څخه ندی.

او پیغمبر ﷺ دا هم ورسره فرمایلي دي؛

.........﴿وَتَزَوَّجُوا، فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الْأُمَمَ﴾.(۲)

چې تاسو نکاحوي کوئ، چې ستاسو نسلونه او اولادونه ډېر سي، ځکه د قیامت په میدان کې ستاسو د ډېروالي په خاطر پر نورو امتو باندي زه فخر کوم.

نو پیغمبر ﷺ په خپلو تعلیماتو کې د زنانې حقوق په کامله طریقه سره بیانکړل، او هم ئې په معاشره کې د زنانې مقام ښکاره کړی.

لکه په یو حدیث شریف کې ده مبارک فرمایلي دي؛

.........﴿الدُّنْيَا مَتَاعٌ، وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْأَةُ الصَّالِحَةُ﴾.(۳)

دنیا ټوله الله تعالی ستاسو د نفع لپاره پیدا کړېده، لکه الله تعالی په قرآن کریم کې هم د دې ذکر کړیدی.

.........﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا﴾.(۱)

الله تعالی هغه ذات دی، چې ستاسو د فائدې لپاره ئې هغه څه پیدا کړیدي، چې په مځکه کې دي، نو دنیا او چې پدنیا کې څه دي، هغه ټوله الله تعالی د انسان د نفع او فائدې لپاره پیدا کړي دي.

---

(۱) شرح السنة للبغوي، باب فضل القعود في المسجد لانتظار الصلاة، صفحه نمبر ۳۷۱

(۲) سنن ابن ماجه، حديث نمبر ۱۸۴۶

(۳) صحيح مسلم، حديث نمبر ۱۴۶۷

(۴) سورة البقره، آيت نمبر ۲۹

او د دنيا بهترين متاع چي انسان د هغه ځخه نفع اخلي، هغه صالحه زنانه ده، لکه په يو بل حديث کي پيغمبر ﷺ داسي هم فرمايلي دي؛

.........﴿حُبِّبَ إِلَيَّ مِنْ دُنْيَاكُمُ النِّسَاءُ، وَالطِّيبُ، وَجُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ﴾.(١)

ما ته ستاسو د دنيا ځخه دري(۳) شيان ډېر محبوب دي؛ پيغمبر ﷺ ځومره ښائسته جمله فرمايلې ده؛ چي ستاسو د دنيا ځخه، دائې ځکه فرمايلي دي؛ چي په بل ځاى کي د ده مبارک د دنيا متعلق دا فرمان دی؛

.........﴿مَا لِي وَلِلدُّنْيَا، مَا أَنَا فِي الدُّنْيَا إِلَّا كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا﴾.(٢)

زما د دنيا سره ځه تعلق دی، زه خو د يو سواره غوندي يم؛ چي د يو درختي په سايه کي لږ وخت تېروي، او بيرته روانيږي، هغه درخته پرېږدي.

خو بيا هم ده مبارک فرمايلي دي: ستا سو د دنيا ځخه ماته دري(۳) شيان ډېر محبوب او خوښ دي؛ هغه ځه دي؟

- يو زنانه.
- دوهم خوشبوئي.
- او زما د سترګو خنکي الله تعالى په لمانځه کي ايښېده.

نو د زناني متعلق دا د پيغمبر ﷺ تعليمات او ويناګاني دي، چي تر دې امته پوري رارسېدلي دي.

## د "حجة الوداع" د خطبې يوه حصه:

د خبرو په ابتدا کي ما ستاسو په حضور کي د پيغمبر ﷺ د ""حجة الوداع"" د خطبې يو اقتباس بيان کړی وو، او دا ډېره اهمه خطبه وه، او اهميت ئې پدې وجه هم ښکاره وو، چي پيغمبر ﷺ صحابه کرامو ته صراحتاً دا وفرمايل؛ چي شايد د دغه کال ځخه وروسته به تاسو ما دلته نه وينئ.

نو پدې خطبه کي پيغمبر ﷺ هغه ټولي خبري راټولي کړيوي، چي په هغه کي د امت د ګمراه کېدلو انديښنه وه، او د پيغمبر ﷺ مقصود دا وو، چي تر قيامته پوري د امت

(١) کنزالعمال، حديث نمبر ۱۸۹۱۳
(٢) سنن ترمذي، حديث نمبر ۲۳۷۷

و مخته يو دستور العمل كنبېږدي، او د امت د گمراهۍ چي څومره لاري دي، په دغه خطبه كي ده د هغه ټولو د بندولو كوشش وكړی.

خطبه خو ډېره اوږده ده، چي په هغه كي پيغمبرﷺ زيات نصيحتونه كړيدي، خو د دغه خطبې يوه حصه داوه:

............آلا فاستوصوا بالنساء خيرا).

زه تاسو ته د زنانو متعلق د خير وصيت كوم.

او ده مبارک په دې خطبه كي د نارينه او د زناني د مابين حقوق بيان كړيدي، بيا خاص نارينوو ته د زنانو د حقوقو پېژندل، او د هغه دخيال ساتلو تاكيد كړيدی.

د هغه حقوقو د اهميت اندازه انسان ته د دې څخه هم معلوميداى سي، چي دغه حقوق پيغمبرﷺ د "حجة الوداع" د خطبې پر يو داسي موقع بيان كړل، چي دا خيال هم وو، چي آئنده به ده ته د خلكو و مخ ته د غسي خبرو موقع پيدا نه سي.

نو ده د دنيا څخه د رخصت كيدلو پر وخت چي كم شيان د بيانولو لپاره منتخب كړل، او د هغه خبرو اهميت ده محسوس كړی، چي د امت ټوله انسانان به د هغه خبرو خيال ساتي، په هغه كي د نارينه او زنانه حقوق هم داخل وو.

د دې څخه دا معلوميږي، چي د انسان په زندگي كي د خاوند او دزناني تعلقات څومره اهم دي، او په خپله پيغمبرﷺ د هغه څومره اهميت محسوس كړيدی.

ځكه كچيري د خاوند او زناني په مابين كي حقوق په صحيح طريقه ادا نسي، نو د دوی زندگي د نفرت او پرېشانيو څخه ډكه گرځي، د هغه اثر بيا پر دوارو خاندانونو باندي لوېږي، او هم پر بچيانو هغه اثر راځي، او د هغه په وجه هغوی د خرابۍ او بد اخلاقۍ سره مخامخ كيږي، او چونكه بچيان د مستقبل معاشره ده، نو ټوله معاشره بربادېږي، نو ځكه پيغمبرﷺ په ډېر اهميت سره هغه يادوي.

## د شيطان خوشحالي:

لكه په يو حديث شريف كي راځي، شيطان روزانه د ماځيگر د لمانځه څخه بعد د درياب پر غاړه يا پر اوبو باندي خپل تخت غوړوي، او پر هغه كښېني.

دی پر اوبو باندي ځکه کښېني، چي دی د الله تعالی مقابله کوي، د الله عرش هم پر اوبو دی، نو دی وايي: چي زه هم خپل عرش پر اوبو باندي غوړوم، فرق صرف دومره دی: چي د هغه عرش چي پر کمو اوبو دی، هغه ډېري لطيفي او پاکي وي، او د دی عرش پر ترخو او تروو اوبو باندي وي، او دا مادي اوبه وي، او هغه روحاني اوبه دي، اوس دی د څه لپاره کښيني؟ چي د ده څومره اولاده ده، هغه د ورځي د انسانانو بد عمله کولو لپاره سره تللي وي، او دا وخت ده ته خپل راپور را وړي.
يو راسي ده ته دا راپور ورکړي: چي ما خو په فلانکي سړي باندي لمونځ قضا کړی دی په جواب کي ورته وايي: چي ډېر عمده کار خو دي کړيدی، ليکن ډېره لويه خبر نده، چي تاته انعام يا شاباش درکړم.
دوهم راسي: ما په فلانکي سړي باندي زنا وکړه، دی ورته وايي: چي صحيح ده، ت خو مناسب کار کړيدی، ليکن ډېر قابل قدر کار خو ندی.
بل راسي: چي ما خو په يو سړي باندي دروغ وويل، او هم مي د درواغو شاهدي پ ادا کړه، نو دی ورته وايي: چي ښه کار خو دی، ليکن ډېره لو خبره نه ده.
آخر يو راسي، او خپل راپور په دا شان پېش کړي: چي ما خو نن د خاوند او زناني ب مابين کي جګړه ور واچوله، نو دی هغه شيطان پخپله سينه پوري ونيسي، او انعام و کوي، چي تا ډېر لوی کار کړيدی، ستا څخه زه ډېر خوشحاله يم، ځکه چي نور و ستا پ شان ښه کار ندی کړی، او ده ته شاباش ور کوي.(۱)
نو چونکه د زناني او خاوند په مابين کي ښه ژوند کول او حقوق ادا کول، دا د ښ معاشرې بنياد بلل کيږي، نو ځکه پيغمبرﷺ ئې ډېر تاکيد کوي، او که دغه ژون خراب سي، بيا خو اولاد خرابيږي، او د هغه څخه ټوله معاشره په خراب شکل ميدان ت راځي، نو ځکه شيطان پدغه عمل ډېر خوشحاله کيږي.

## زناني ستاسو سره قيد دي:

چنانچه حضرت عمروبن الاحوص جشميؓ فرمايي: چي په دغه خطبه کي پيغمبرﷺ د الله حمد او ثنا بيان کړله، او هم ئې وعظ او نصيحت وکړی، او بيا ئې

(۱) خطبات حکيم الاسلام، جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۴۸۶

وفرمايل، تاسو زما خبره واورئ! زه تاسو ته دزنانيپه باره کې د خير وصيت کوم، او زما دغه وصيت قبول کړئ.

او را روانه جمله ئې دا وفرمايله،

.........﴿فَإِنَّهُنَّ عَوَانٍ عِنْدَكُمْ﴾.

دغه زنانې ستاسو لپاره ستاسو په كورو كې قيد دي، ده مبارک د زنانو يو داسې وصف بيان کړی: کچیرې نارينه صرف پر دغه وصف غور وكړي، نو بيا به ده ته هيڅ كله د دوی سره د بد سلوكۍ كولو فكر په دماغ کې رانسې.

## د حكيم الامت وينا:

حضرت حكيم الامت رحمة الله عليه فرمايلي دي: چې بايد انسان د يو نادانه او بې تعليمه زنانې څخه سبق واخلي، چې كله د هغې د خپل خاوند سره د نكاح دوه(۲) لفظه ادا سول، چې ايجاب او قبول دي، نو هغه زنانې د هغه دوو(۲) الفاظو داسې خيال وساتی: چې د هغه پوجه ئې مور او پلار، خويندې او ورونه، او ټوله خاندان پرېښووی، او دخاوند كور ته راغله، او اوس د هغه په كور کې مقيده زندګي تېروي.

نو حضرت تهانوي رحمة الله عليه فرمايلي دي: چې هغه زنانه د دوو(۲)الفاظو دومره خيال ساتي، او د هغه دومره وفاداري كوي، چې هر څه ئې پرېښول، د يو خاوند سوه، او دهغه پر مزاج باندې ژوند ور سره تيروي.

ليكن مونږ او تاسو دوه(۲) لفظه دالله او دالله د رسول سره د "لَاإِلٰهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ" د ويلو په شكل هم وعده وكړه، ليكن د هغه وعدې مې دومره لحاظ او وفا نده كړې، لكه هغه زنانې چې د خپلو الفاظو څومره لحاظ او وفا كړېده.

نو پدې حديث کې پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: چې گورئ! هغه زنانې ستاسو پخاطر څومره قرباني وركړه، كچيرې معامله برعكس وای، او نارينه ته دا ويل كيدای: چې ستا دنكاح كولو څخه وروسته به ته خپل كور پرېږدې، او هم به مور او پلار او قربانه پرېږدې، د هغه زنانې سره به د هغې په كور کې زندګي تېروې، بيا به څومره زياته مشكله خبره وای.

نو ځکه پيغمبرﷺ فرمايلي دي، چي ته به دهغې د دغه قرباني لحاظ کوې، او د هغې سره به ښه ژوند تيروې.

## د دې ځخه علاوه، ستا نور پر زنانه هيڅ حق نسته،

د هغه ځخه وروسته پيغمبرﷺ ډېره درنه او سنګينه جمله ادا کړېده، ډېر ځله چي انسان کله د هغه جملې تشريح کوي، نو نارينه حضرات همېشه ناراضه کيږي، هغه جمله داده:

.............لَيْسَ تَمْلِكُونَ شَيْئًا غَيْرَ ذَٰلِكَ﴾.

يعني ستاسو پر زنانو صرف دومره حق دی: چي هغه به ستاسو په کور کي اوسيږي، د دې ځخه علاوه شرعاً ستاسو پر دوی هيڅ حق او مطالبه نسته.

## د کور خدمت د زناني شرعا ذمه واري نه ده:

پر دغه بنياد باندي فقهاء کرامو يو مسئله ليکلې ده، چي هغه ډېره نازکه مسئله ده، ما درته ويلي وو: چي د هغه په بيانولو باندي د بعضي انسانانو په طبعيت کي ناراضګي پيدا کيږي.

هغه مسئله داده: چي د کور سالن پخول، يا جارو وهل، يا نور خدمت کول، دا دزناني شرعي ذمه واري نده، يعني شرعاً پر دې دا ذمه واري نسته: چي دا به د کور سالن پخوي، يا به نور خدمت کوي.

بلکه فقهاء کرامو تر دې حده ليکلي دي: چي زناني دوه قسمه دي:

۱. اول قسم هغه زناني دي: چي د خپل پلار په کور کي هم د کور خدمت کوي، او دا د داسي خاندان ځخه راغلې وي: چي هلته د کور خدمت کول د زنانو عادت او رواج وي.

۲. دوهم قسم هغه زناني دي، چي پخپل کور کي خدمت نکوي، بلکه په نوکرا و مزدور باندي د کور خدمت سر ته رسوي.

اوس کچيري دغه دوهم قسم زنانه د نکاح کولو ځخه وروسته د خاوند کور ته راسي، نو د هغې پر ذمه باندي د کور سالن پخول هيڅ قسم واجب ندي، نه دياتنا، نه قضاءاً،

نو اخلاقاً، نه شرعاً، بلکه هغه زنانه خاوند ته ويلای سي: چي زما نفقه خو ستا پر ذمه واجب ده، د دې پر ځای چي ته په ما سالن پخوې، نو زما لپاره به پوخ سالن راوړې.
چنانچه د فقهاء کرامو عبارت دی؛

........﴿إِنْ كَانَتْ مِنْ ذَوَاتِ الْهَيْئَاتِ وَجَبَ عَلَيْهِ أَنْ يَأْتِيَهَا بِطَعَامٍ مُهَيَّا وَإِلَّا فَلَا﴾.(۱)

نو کچيري زنانه پخپل کور کي د سالن په پخولو عادت نه وه، نو بيا به دی پخه نفقه ورته راوړي.
ځکه د پيغمبر ﷺ صاف او واضح الفاظ دي؛

........﴿لَيْسَ تَمْلِكُونَ شَيْئًا غَيْرَ ذَلِكَ﴾.

يعني تاسو دا حق لرئ! چي دوی پخپل کور کي وساتئ، او ستا سو د اجازت څخه بغير دوی ستاسو د کور څخه دباندي ولاړي نسي، ليکن د دې څخه علاوه ستاسو پر دوی شرعاً هيڅ ذمه واري نسته.
او کچيري هغه اول قسم زنانه وه: چي هغې پخپل کور کي هم سالن پخاوی، او خدمت ئې کاوی، نو چي کله د خاوند کورته راغله، نو د دې پر ذمه سالن پخول قضاءً واجب ندي، ليکن دياتناً واجب دي.
يعني: د قاضي په زور د دې څخه د سالن پخولو مطالبه نسي کيدی، البته! د دې اخلاقي ذمه واري ده: چي د خپل کور سالن دا پوخ کړي، او خاوند دې ته ټول سامان مهيا او برابر کړي.
ليکن که دې د خاوند او د بچيانو دپاره د سالن پخولو څخه انکار وکړی، نو اوس د قاضي زور دا پر سالن پخولو څوک نسي مجبوره کولای، فقهاء کرامو په دومره تفصيل سره دا مسائل ليکلي دي.

## د خسر او خواښي خدمت، واجب نه دی؛

په يوه بله مسئله سر خلاصول؛ چي زموږ او ستاسو په معاشره کي په هغه کي ډېره کوتاهي کيږي، هغه دا ، چي کله د زناني پر ذمه د خاوند او د هغه داولاد سالن پخول

(۱) جوهرة النيرة على مختصر القدوري، باب النفقات، صفحه نمبر ۸۲، مکتبه شامله

واجب ندي، نو د خاوند دمور او پلار او د خويندو او وروڼو لپاره خورکه برابرول، او د هغو خدمت کول، په طريقه اولی سره واجب ندي.

زموږ په عرف کي دا رواج جوړ سويدی؛ چي کله د زوی واده وسي، نو د هغه زوی د مور دا گمان وي؛ چي پر دغه زنانه زما حق د ټولو ځنځه مخکي دی، نو دا به اوس زما خدمت کوي، دخپل خاوند خدمت کوي او که ئې نکوي، نو د هر ځله د دغه فکر په نتيجه کي د خواښي او نږور اختلاف وي، او د هر ځله دغه اختلاف د خاندانونو په مابين کي د نفرت درجې ته ورسيږي.

خو پدې خبره سر خلاصول، کچيري د مور او پلار خدمت ته ضرورت وي، نو بيا د هغه هلک پر ذمه پخپله دا واجب دي: چي دمور او پلار خدمت دي وکړي، او د دغه زناني چي د دغه هلک کور والا ده، نيکبختي ده، چي دا د خپل خاوند د مور او پلار خدمت په خوشحالي سره وکړي، او دا د خپل ځان لپاره سعادت او باعث د اجر او ثواب و بولي.

ليکن د غه هلک دا حق نلري: چي خپله کوړ والا د خپل مور او پلار پر خدمت کولو مجبوره کړي، چي دا په ښه زړه سره د هغه خدمت ته تياره نه وي، او نه د هغه د مور او پلار لپاره جائز دي: چي دغه نږور پر دغه خبره مجبوره کړي: چي دا دي زموږ خدمت وکړي.

ليکن ما درته وويل: که هغه ئې په خوش رضائي سره دسعادت مندی او ثواب په نيت د خپل خاوند دمور او پلار خدمت وکړي، نو الله تعالی به د ير زيات اجر او ثواب ورکړي، بايد هغه داسي وکړي: چي د کور فضا په ښه شکل روانه وي.

ليکن د دې سره دوهم طرف ته "خُسر" او "خواښې" او د دغه زناني خاوند بايد په دماغ کي دا خبره کښېنوي؛ چي دغه زنانه که زموږ د کور خدمت کوي، دا د دې زموږ سره حسن سلوک او ښه اخلاق دي، چي د دې پر ذمه دا خدمت فرض او واجب ندی، بيا ئې هم دا کوي.

نو بايد د کور ټول انسانان د دغه زناني د خدمت قدر وکړي، او د دغه خدمت د ښه عوض ورکولو کوشش وکړي.

نن خو د دغه حقوقو او مسائلو دناواقفيت په وجه كورونه برباد وي، د خاوند او دزناني اختلاف د "خوابىي" او "نږور" اختلاف، او په كور كي د يو نفرت فضا روانه وي، دا ځكه: چي كم حقوق او حدود پيغمبر ﷺ بيان كړيدي، هغه زموږ په ذهنو كي وجود نلري، او نه موږ ته را معلوم دي.

## زنانه د اجازت بغير دباندي وتل:

ليكن په يوه بله خبره ځان پوه كول: ځكه چي د هر ځله خلگ يک طرفه خبره واوري، نو د هغه څخه ناجائزه فائده اخلي، لكه ما ستاسو و مخته دا خبره تفصيلاً پيش كړه: چي د كور نفقه پخول شرعاً پر زنانه واجب ندي.
ليكن پيغمبر ﷺ چي دا خبره كړېده: چي زناني ستاسو په كورو كي قيد دي، د دې مطلب دا دی: چي ستاسو د اجازت بغير دوی لره هيڅ طرفته وتل جائز ندي، لكه څنگه چي فقهاء كرامو د سالن پخولو مسئله په تفصيل سره ليكلېده، داغه رنگه هغو دا قانون هم ليكلی دی.
كچيري خاوند زناني ته ووايي: چي ته د كور څخه دباندي نسې وتلای، او د خپلو قريبانو كور ته هم نسې ور تللای، حتّٰی چي د مور او پلار و كور ته د ور تللو څخه ئې منع كړي، نو د زناني لپاره د هغو كور ته د ملاقات لپاره ور تلل جائز ندي.
البته كچيري مور او پلار د خپلي لور ملاقات لره د دې كور لره راځي، نو خاوند د هغه مور او پلار د ملاقات څخه نسي كرځولای.
ليكن فقهاء كرامو د هغه لپاره هم حد مقرر كړی دی: چي د دې مور او پلار به په هفته كي يو ځل دې لره راځي، او د ملاقات څخه وروسته به واپس ځي، دغه مقرر حد د زناني حق دی، خاوند ئې نسي منعه كولای، ليكن د اجازت څخه بغير د هغې لپاره د مور او پلار كور ته ورتلل جائز ندي.
نو الله تعالى د دواړو په مابين كي دغه رنگه توازن برابر كړيدی، چي د زناني پر ذمه په قانوني اعتبار سره سالن پخول واجب ندی، نو دوهم طرف په قانوني اعتبار سره د زناني لپاره بيا د خاوند د كور څخه د هغه د اجازت بغير وتل جائز ندي.

نو الله تعالی د دواړو په مابين کي دغه رنگه توازن برابر کړيدی، چي د زناني پر ذمه په قانوني اعتبار سره سالن پخول واجب ندی، نو دوهم طرف په قانوني اعتبار سره د زناني لپاره بيا د خاوند د کور څخه د هغه د اجازت بغير وتل جائز ندي.

## حسن سلوک ښه زندگي ده:

دا خو قانوني خبره وه، ليکن د ښه سلوک خبره دادهٰ: چي زنانه بايد د خاوند د خوشحاله کولو خيال وساتي، او خاوند د دې هم د خوشحالی فکر وکړي.

حضرت علي رضي الله عنه او حضرت فاطمه رضي الله عنها هم دواړو پخپل مابين کي د کارونو تقسيم کړی وو، چي حضرت علي رضي الله عنه به د دباندي ټول کارونه کوي، او حضرت فاطمه رضي الله عنها به د کور دننه کارونه سرته رسوي.

او دا د پيغمبر صلى الله عليه وسلم سنت طريقه هم ده، او پر داغه باندي عمل کول مناسب دي، خاوند او زنانه د قانون په باريکو مسئلو کي بايد هر وخت سره اخته نه وي، بلکه خاوند د زناني سره او زنانه د خاوند سره د خوشحالی معامله وکړي.

او دا فطري تقسيم هم دی: چي د کور کار د زناني پر ذمه سي، او د دباندي کار د خاوند پر ذمه سي، په دغه شکل دواړه پخپل کومک او معاونت سره د ژوند پايه روانه کړي.

## زناني ته جېب خرڅ جلا ورکول:

دلته دوې(۲) نوري خبري ضروري ستاسو په حضور کي عرض کول غواړم: چي پر هغه باندي حضرت تهانوي رحمة الله عليه پخپلو مواعضو کي ځای پرځای ډېر تاکيد کړی دی، او عام طور زموږ معاشره د هغه څخه همېشه په غفلت کي وي.

❶..........اوله خبره: چي حضرت تهانوي رحمة الله عليه بيان کړېده، هغه دا: چي نفقه صرف دا نده: چي بس د خوړکې انتظام دي وکړي، او کپړې دي زناني لره راوړي، بلکه د نفقې يوه حصه دا هم ده: چي د خوړکې او د جامې څخه علاوه يو څه پيسې بطور جيبخرڅ و زنانه ته ور کول چي په هغه سره دا په آزاده طريقه د خپل خواهش مطابق يو شی رانيسي.

بعضي خلګ د خوړکې او جامې انتظام خو کوي، لیکن د جیب خرڅ اهتمام نکوي، حضرت تهانوي رحمة الله علیه فرمایلي دي: چي جیب خرڅ ور کول هم ضروري دي، ځکه چي د انسان ډېر ضروریات داسي هم وي: چي د هغه په ښکاره کولو کي انسان شرمیږي، یا هغه بیا نول پیغور ورته معلومیږي.
نو خپلي زناني ته یو څه پیسې د دغه رنګه ضروریاتو لپاره هم باید ور کول سي: چي دا دبل چا محتاجه نه وي، او دا هم د نفقې یو حصه ده، نو ده به فرمایل: چي کم خلګ دغه جیبخرڅ زناني ته نه ورکوي، نو دا ښه عمل ندی.
❷..........دوهمه خبره: چي د خورک او لباس په باره کي ښه سلوک او فراخي کول دا نه : چي صرف "قوت لایموت" ور کول، یعني: چي ته دومره خورکه ورکوې: چي په هغه سره صرف دا ژوندي پاته وي، بلکه ښه خبره احسان کول دي.
د احسان کولو مطلب دا دی: چي انسان د خپلي آمدنی د معیار مطابق په فراخ لاس سره د کور خرچه کوي، ځکه چي دالله د طرفه رزق د ده د خرچې په مقدار راځي.
پیغمبر ﷺ حضرت زبیر رضي الله عنه ته وصیت کوي، ورته وایي: ای زبیره! د اوو آسمانو څخه لوړ د عرش را لاندي یو دروازه ده، چي د هغې څخه د انسان رزق راشوه کیږي، او د هر انسان د رزق دروازه جلا جلا ده.
د هغې فراخوالی او تنګوالی د انسان د نفقې او صدقې په مقدار وي، یعني کچیري پر مځکه د انسان نفقه او صدقه په فراخ شکل وي، نو بیا هغه دروازه هم ډېره فراخه وي، او زیات رزق ځني راشوه کیږي.
او که چیري د مځکي پر مخ د ده نفقه او صدقه په تنګي سره وي، نو بیا هغه دروازه هم ډېره تنګه وي، او کم رزق ځني راشوه کیږي.
د بعضي انسانانو په زړو کي دا سوال پیدا کیږي: چي شریعت خو یو طرف ته انسانان د فضول خرچي او اسراف کولو څخه منعه کړېدي، او دوهم طرف ته بیا دا حکم کوي: چي د کور په خرچه کي تنګي مکوه، بلکه لاسونه فراخ کړه.
اوس سوال دا دی: چي د دغه دوو په مابین کي به حد فاصل څه وي؟ کمه خرچه په اسراف کي داخله بلل کیږي، او کمه خرچه بیا په اسراف او فضول خرچي کي نراځي.

ده مبارک فرمايلي دي: يو هغه كور وي: چي قابل د "رهائش" وي، مثلاً يو څوک يو كوډل جوړه كړي: چي په هغه كي انسان "رهائش" او استوګنه كولاى سي، نو دا اوله درجه ده، چي بلكل جائز ده.

دوهمه درجه دا ده: چي "رهائش" هم وي، او د دې سره "آسائش" هم ورسره ملګرى وي، مثلاً يو څوک پوخ مكان جوړ كړي، چي په هغه كي انسان په آرام سره اوسېدلاى سي، او په هغه كور كي د "آسائش" او راحت لپاره هم يو كار وكړي، نو په دي كي هم ممانعت نسته، او نه دا په اسراف كي داخل بلل كيږي.

مثلاً يو سړى په كوډل كي ژوند تېرولاى سي، او بل سړى بيا په "كوډل" كي نسي اوسېدلاى، نو دڅان لپاره پوخ مكان جوړوي، او په هغه مكان كي "پنكه" او "كولر" هم ايږدي، نو اوس د دغه پنكې او كولر په وجه ده ته په دغه كور كي آرام حاصل وي، دا هم په شريعت كي اسراف نه بلل كيږي.

## آرائش هم جائز دى:

دريمه درجه دا ده: چي په مكان كي د "آسائش" سره "آرائش" هم وي، مثلاً په هغه كور كي انسان د رنګ او روغن بغير هم استوګنه كولاى سي، اوس كه يو سړى دا آرائش او د ښائست لپاره هغه مكان ته رنګ او روغن هم وركړي، نو دا هم شرعاً جائز دى.

خلاصه دا: چي:

- رهائش جائز.
- آسائش جائز.
- آرائش جائز.

او د "آرائش" مطلب دا دى: كچيري يو انسان د خپل زړه د خوشحاله كولو لپاره يو كار وكړي، چي دا شى ماته په ليدلو كي ښه معلوم سي، او زه دې ته وګورم: زړه مي خوشحاله سي، نو پدي كي هيڅ ممانعت نسته، شرعاً دا جائز بلل كيږي.

## نمائش جائز نه دی:

د دې څخه وروسته څلورمه (۴) درجه "نمائش" دی، اوس چي يو انسان يو كار كوي، نه د هغه څخه آرام مقصود وي، نه "آرائش" مقصود وي، بلكه د هغه كار مقصود صرف دا وي: چي خلگ ما ته د دولتمند په سترګه وګوري، او د خلګو دا ګمان سي: چي د ده سره مال او دولت ډېر دی، او پدې عمل سره زه پر نورو خلګو خپل فوقيت ښكاره كړم، دا ټوله په "نمائش" كي داخل دي، او شرعاً ناجائز دي، او اسراف هم بلل كيږي.

## د اسراف او فضولخرچۍ حد:

داغه څلور (۴) درجې په لباس او خوركه كي هم دي، بلكه په هر شي كي دي، يو سړی ښائسته او قيمتي لباس پدې وجه اغوندي: چي زه ښكنبي آرام يم، او هم ښه ښكنبي معلوم سم، او زما د كور انسانانو ته ښه خوند ور كړي، او زما دوستان د هغه په ليدلو خوشحاله سي، نو بيا خو پدي كي هيڅ بدوالي او ګناه نسته.

لېكن كچيري يو سړی ښائسته او قيمتي لباس پدې نيت باندي اغوندي: چي خلګ ما د دولتمند او مالدار په شكل وويني، او پر ما باندي ئې د ډېرو پيسو والا ګمان راسي، او ماته په ښه سترګه وګوري، نو دا نمائش دی، او په شريعت كي ممنوع دی.

نو ځكه حضرت تهانوي رحمۃ اللہ علیہ د اسراف په باره كي يو حد فاصل معلوم كړيدی، هغه دا: كچيري يو سړی د ضرورت پوره كولو لپاره مال او دولت خرڅوي، يا د "آسائش" حاصلولو لپاره، يا د خپل زړه خوشحاله كولو لپاره د "آرائش" پخاطر څه مال او دولت خرڅوي، نو هغه په اسراف كي نه راځي.

لهذا خاوند لره مناسب دا دی: چي دغه درجات په نظر كي ونيسي، د زناني د نفقې او لباس په خلاص لاس سره بند وبست وكړي.

نو چي كله دی د هغې په نفقه او لباس كي د فراخۍ معامله وكړي، نو الله تعالى به د ده سره د رزق په معامله كي هم د فراخۍ معامله وكړي، ځكه ما مخكي درته ويلي وو: چي د انسان رزق دا د انسان د خرچې په مقدار د الله د طرفه راځي.

الله تعالی دي موږ او تاسو ته د بندګانو د حقوقو ادا کولو توفیق رانصیب کړي. بیا خاص چي کمي زناني زموږ د نکاح پخاطر زموږ په کورو کي مقیدي ناستي دي، او ټوله ژوند زموږ او زموږ د بچیانو په خدمت کي تېروي، د هغوی د حقوقو د ادا کولو توفیق راکړي.

او هم دي د هغوی سره د ښې معاملې کولو، او د ښه ژوند د تېرولو سوچ او فکر په دماغ کي را کړي، او الله تعالی دي دغه مختصره مذاکره په خپل دربار کي قبوله او مقبوله وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیه)

# د الله تعالي طرفته رجوع کول

(بیان)

مولوی اطیع الله صاحب

استاذ الحدیث جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم الله صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعه اسلامیه (علامه ټاون) چمن

مکتبه سلطانیه الهاشمیه

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطیع اللہ صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کلیم اللہ صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبد الودود مرحوم چمن |
| اشاعت | اول |
| تاریخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾.(۱)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿الدِّينُ النَّصِيحَةُ، الدِّينُ النَّصِيحَةُ، الدِّينُ النَّصِيحَةُ، لِلّٰهِ ولِكِتَابِهِ، ولِنَبِيِّهِ، ولِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ وعَامَّتِهِمْ﴾.(۲)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم، وَ نَحْنُ عَلَى ذٰلِکَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

**تمهید:**

محترمو حاضرینو! الله تعالی انسان ته په دنیا کي زندګي ورکړېده، خو د انسان زندګي په دنیا کي ډېره ضعیفه، ناتوانه، او کمزوري زندګي ده.

د انسان د زندګۍ ابتدا د اوبو د يو ځاڅکي غوندي ده، او انتهاء ئې د هوا د پورته کېدو غوندي ده، يعني انسان ابتداءً د پلار د نطفې څخه وجود پيدا کوي، چي هغه د اوبو د ځاڅکي غوندي ده، او چي کله د دنيا څخه رخصت اخلي، نو بيا ئې روح د هوا پشان پورته کيږي.

يا د انسان د زندګۍ مثال د هغه "کوبۍ" غوندي دی: چي د اوبو پر سر ولاړه وي، لکه د هغې چي هيڅ بروسه نه وي: چي تر څو پوري به وي، او کله به ختميږي، داغه رقم د انسان ډېره ضعيفه زندګي ده، پر هغه هم هيڅ بروسه او اعتماد نشته، چي تر څو به روان وي، او کله به ختميږي.

(۱)سورة السجده: آيت نمبر۲۱

(۲)مسند الشافعي، حديث نمبر۳

خو په دغه ضعیفه زندګي کي الله تعالی کله پر انسانانو باندي امتحانات، مشکلات، پرېشانۍ راولي، کله کله د رزق کمي وي، او کله د صحت، او تندرستۍ مسئله وي، کله کورني اختلافات وي، او کله خارجي مشکلات وي، او هغه پرېشانۍ کله په شخصي او انفرادي شکل وي، او کله عامي او وطني پرېشانۍ او ناجوړۍ راځي.

## پرېشانۍ دوه (۲) قسمه دي:

علماؤ ليکلي دي: چي کمي پرېشانۍ پر انسان باندي راځي، نو عام طور هغه دوه قسمه وي:

۱. کله کله خو د الله تعالی قهر او عذاب وي، ځکه: چي د انسان زندګي نافرمانه سي، نو د هغه سزا خو به الله تعالی په آخرت کي ور کوي، ليکن کله کله په دنيا کي هم د سزا څکه ور باندي کښېږدي، په دې اراده: چي دی به دنافرمانۍ څخه راوګرځي، لکه قرآن کريم هم دې ته اشاره کړېده: ﴿وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾.(1) موږ کله په انسانانو باندي تر آخرت راتلو څخه مخکي په دنيا کي هم د عذاب يو څه څکه وکړو، په دې اراده باندي: چي دی به د نافرمانۍ څخه راوګرځي.

۲. او دوهم قسم پرېشاني کله کله د الله تعالی رحمت وي، چي الله تعالی د هغه په ذريعه باندي د انسان درجې ور لوړوي، او هم د انسان لپاره د اجر او ثواب باعث ګرځي.

## د دواړو علامات جلا جلا دي:

کچيري د پرېشانۍ او مصيبت راتللو په وخت کي د انسان توجه او رجوع د الله تعالی و طرفته کمه سي، د دغه پرېشانۍ د حل لپاره د دنيا ظاهري اسباب ټوله لټوي، ليکن د دعا په ذريعه، د عاجزۍ په ذريعه د الله تعالی طرفته ئې هيڅ توجه نه راګرځي، نو په دې پوه سه: چي دغه پرېشاني او مصيبت چي پر ده راغلی دی، دا د الله تعالی د قهر او

(1) سورة السجده: آيت نمبر ۲۱

غضب نښانه ده، چي د ده د بد عملي په وجه الله تعالی د ده څخه ناراضه دی، نو د هغه نتیجه دغه مصیبت او پرېشاني ده.
او کچیري د مصیبت او پرېشانۍ په وخت کي د ده توجه او رجوع د الله تعالی و طرفته د مخکي څخه هم نوره زیاته شي، او دی الله تعالی ته عاجزي پېشوي، او د دعا په ذریعه سره د مصیبت او پرېشانۍ حل غواړي.
چي یا الله! کم مصیبت چي تا پر ما ایښی دی، پدي کي به ضرور ستا حکمت وي، لیکن زه عاجز او ناتوان یم، د دغه مصیبت او امتحان تاب نلرم، ته ئې پخپل فضل او کرم سره ماته آسانه کړې، او ماته عافیت ځني راکړې.
نو بیا خو دغه مصیبت د الله تعالی رحم بلل کیږي، او الله تعالی د محبت په وجه پر دغه بنده باندي دغه امتحان راوستلی دی، چي په هغه سره د ده مقام او مرتبه ور لوړوي، او هم د ده په عملنامه کي اجر او ثواب ور زیاتوي.

## اوسنی لوی مصیبت:

نن سبا زموږ او ستاسو پر دې وطنو باندي یوه لویه پرېشاني او امتحان د (کرونا وایرس) په شکل راغلی دی، چي په ټوله دنیا کي یو واویلا ده، او ټوله انسانیت د ډېري لوی پرېشانۍ او وارخطائي سره مخامخ دی.
حکومتونه وارخطا دي، او عام انسانان پرېشانه دي، او په ټولو وطنونو کي ډېره لویه وارخطائي روانه ده.
خو دا یوه خبره ډېر لوی افسوس دی: چي نن د مسلمانانو حاکمان یا د تنظیمونو سربراهان او طبیبان او سائنسپوهان چي انسانانو ته د خلاصون لاري ور ښکاره کوي، نو هغه ټوله د احتیاطي تدابیرو په شکل باندي دي، چي تاسو به په کورو کي محبوس پاته یاست، د باندي به نه راوزئ.
لیکن په ټولو کي د یوه هم د خولې څخه آواز نه پورته کیږي: چي تاسو الله تعالی ته متوجه سئ، هغه ته خپله عاجزي وکړئ، او هغه ته خپله توبه او معافي پیش کړئ، او د دعا په ذریعه د دغه مصیبت حل د الله تعالی څخه وغواړئ.

نن چي د مسلمان قوم حالاتو ته ګورو، او هم د هغوی د حاکمانو او طبیبانو ویناګانو ته غوږ نیسو، نو د هر ځله مي زړه ته دا خبره راسي: چي خدانخواسته: دا مصیبت پر دې قومونو باندي دالله تعالی د ناراضګۍ نتیجه نه وي.
ځکه دا د الله تعالی عادت او طریقه ده: چي کله د مسلمانانو اعمال د الله تعالی د رضا خلاف سي، نو بیا الله تعالی پر هغوی باندي یو څه تکلیفونه ایږدي، چي هغه عام طور د دوی د بد عملۍ نتیجه وي.

## د بدو اعمالو نتائج:

په محدثینو کي ابن ماجه د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ په سند باندي یو حدیث د پیغمبر ﷺ رانقل کړیدی: چي هغه مبارک فرمایي: چي کله په امت کي دا پنځه(۵) اعمال راسي: نو پر هغوی باندي به الله تعالی دغه پنځه(۵) عذابه راولي.

۱. چي کله په امت کي بې حیائي او فحاشي راسي، نو الله تعالی به پر دوی باندي داسي ناجوړې مسلطي کړي، چي د دوی پلرونو او نیکونو به د هغه نوم نه وي اوریدلی، نو دا خبري خونن زموږ او ستاسو مخته ښکاره دي، چي نن ټوله دنیا په کمو بیماریو کي مبتلا ده، چي هغه زموږ او ستاسو د فحاشۍ او بې حیائي نتیجه ده، چي نن د هغه په وجه ټول ملکونه او ملتونه د ډېري غمي وارخطائي سره مخامخ دي.
۲. او چي په کم قوم کي په ناپ او تول کي کمي شروع سي، الله تعالی پر هغه باندي حاکمان ظالمان مسلط کوي، چي په هر مشکل کي به دوی خپل قوم د الله تعالی طرف ته نه متوجه کوي، او نه به ئې پخپله د الله تعالی طرفته توجه کیږي.
۳. او چي د کم قوم مالداران زکات تاوان وبولي، لکه نن سبا چي زموږ او ستاسو مالداران کله دا وایي: چي دومره مي کټلي نه وي، لکه په زکات کي چي را څخه ولاړې، نو الله تعالی به پر هغه قوم باندي "قحط سالي" راولي.
۴. او چي په کم قوم کي وعده خلافي زیاته سي، یعني: چي د خپلو وعدو خیال نساتي، نو الله رب العزت به پر دوی باندي دښمن غالبه کړي.

۵. او چي کم قوم خپله زندګي د الله د قوانينو خلاف تېروي، او خپلي فيصلې د الله پر قانون باندي نکوي، نو الله تعالی به په هغه کي بې اتفاقي او خانه جنګي روانه کړي، چي بيا به په دوی کي قتلونه زيات وي، او هم به ئې زندګي د سختو بدامنيو سره مخامخ وي.

نن سبا چي موږ او تاسو پر خپله معاشره باندي نظر واچوو، چي د کمو حالاتو سره مخامخ يو، او کم اعمال زموږ په معاشره کي روان دي، نو تاسو يقين ومنئ! لکه پيغمبر ﷺ چي په سترګو دغه اعمال او نتائج ليدلي وي، بيا ئې زموږ و مخته دغه پيش ګوئي بيان کړې وي.(۱)

## زموږ حيا څه حال ته رسېدلې ده؟

نن به زموږ قومونه او ملتونه څنګه د ناجوړې او پرېشانۍ سره نه مخامخ کېږي؟ چي پر کمه خطه باندي ما او تاسو ژوند تېروو.

پر دې خطه باندي د انسانانو د بې حيائي کم حالت دی؟ څو ورځې مخکي ~~تاسو~~ وليدل، چي د (زنانو د آزادۍ مارچ) په نامه باندي د بې حيائي کم سيلاب روان وو، چي ټوله ملک ئې په مخه اخيستی وو، او هغوی دا نعره کوله: چي (زموږ جسم، زموږ مرضي) يعني موږ جسم پر خپل مزاج چي څنګه غواړو، هغسي ئې استعمالوو، موږ د خپل جسم مالکاني يو.

هغوی پخپل جسم کي د الله ملکيت منلو ته تيار نه وو، او نه دې ته تيار وو، چي دغه خپل جسم د الله تعالی د احکامو مطابق استعمال کړي، نو دا هغه د بې حيائي نعره وه: چي زما او ستا په ټوله وطن کي برملا وهل کېدله.

او حالانکه دا هغه وطن دی: چي د هغه آزادي د شهيدانو او په وينو او د علماؤو په محنتو باندي راغلې ده، او د دې وطن د آزادۍ مقصد دا بيان سوی وو: چي د الله تعالی وحدانيت او د پيغمبر ﷺ رسالت به د دغه وطن بنيادي نظريه وي.

(۱) سنن ابن ماجه بحواله عمل سے زندگی بنتی ہے: صفحه نمبر۷۸-۷۹

لیکن تاسو ولیدله: چي د دې د پای تخت پر سړکونو لڅي زناني ګرځېدې، چي د هغوی پر بدن یوه ذره لباس نه وو، او د دې وطن و عامو زنانو ته ئې دا پیغام ورکاوی:
چي زموږ او ستاسو ژوند باید په دغه بې حیا شکل په دې وطن کي تېر سي.
او زما او ستا چي کم حکمرانان وو، او یا د تنظیمونو مشران وو، هغو ټولو د هغه بې حیا ترتیباتو حوصله افزائي کوله، او هم ئې هغه ته دا پیش کشونه کول: چي تاسو خپل ترتیبونه پر مخ روان کړئ، موږ ټوله ستاسو تر شا ولاړ یو.
لیکن د الله تعالی نظام تاسو ولیدی: چي یوه میاشته لا نه وه تېره سوې، چي الله تعالی پر دې ملک او ملت باندي کمه پرېشاني ایښېده، چي نن حکمرانان هم حیران دي، او د تنظیمونو مشران هم حیران دي، او ټوله ملک او ملت د سختي پرېشانۍ په حالت کي دی.

## د پرېشانۍ لیري کولو اصلي طریقه:

نو چي کمه پرېشاني راغلې ده، کچیري زموږ حکمرانان په رښتوني طریقه د هغې حل غواړي، نو د ټولو څخه مخکي دي په دې وطنونو کي چي کم د بېحیائي ترتیبات روان دي، پر هغه دي پابندي راولي.
او چي کم سویدي، نو خپل قومونه دي پر هغه باندي توبې کښلو ته متوجه کړي، نو بیا به الله تعالی په خپل رحم سره یقیناً هم د دې قومونو څخه دغه پرېشاني لېري کوي.

## یو څو ضروري هدایات:

اوس خو پر موږ او تاسو پرېشاني راغلې ده، وبا ده، مرض دی، چي ټول قومونه ئې پرېشانه کړیدي.
نو زه تاسو ته اوله خبره دا کوم: چي د عاجزۍ په شکل خپل رب ته متوجه سئ، او د الله تعالی څخه د عافیت خواست او غوښتنه وکړئ، او د الله تعالی د عذاب په شان کي بې پرواهي او دلاوري مکوئ.
زموږ او ستاسو په معاشره کي بعضي انسانان د خپلي لاپرواهي په وجه د الله تعالی د عذاب په مقابل کي د دلاورۍ معامله کوي، چي کله د دغه پرېشانۍ ذکر وسي، نو دی همېشه وایي: چي زما په زړه کي یوه ذره خوف او بېره نه راځي، او زه ئې په کیسه

کي نه يم، او نه ځني ېرېږم، حالانکه د الله تعالی د امتحاناتو په مقابل کي دلاوري کول او د هغه ځخه نه بېرېدل، دا ډېر خطرناک عمل وي، ځکه د انسان څه وس او څه استعداد دی: کچیري د الله تعالی د طرفه پرده باندي يو معمولي تکليف راسي، نو بيا خو هيڅکله دی د هغه برداشت نسي درلوولای.

## د يو بزرګ واقعه:

د يو بزرګ متعلق په يو کتاب کي ليکلي دي: چي هغه به کله د جذب په حالت کي راغلی، نو الله تعالی ته به ئې دا وينا پېشوله:

﴿وَلَيْسَ لِيْ لِي سِوَاكَ حَظٌ .... فَكَيْمَا شِئْتَ فَاخْتَبِرْنِيْ﴾

اې الله! ستا د ذات ځخه علاوه په هيڅ ذات کي او په هيڅکار کي ماته هيڅ خوند نسته، ته چي ځنګه غواړې: هغسي ما امتحان کړه.

العياذ بالله! هغه الله تعالی ته د امتحان اخيستلو دعوت ورکړی، د هغې نتيجه دا وه چي الله تعالی يو ګړی د ده بولي بندي کړې، چي کله يوه ورځ او شپه په داغه حالت کي ورباندي تېر سول، بالآخر په ځان پوه سو، چي څومره غلطه خبره زما د خولې ځخه وتلې ده.

نو هغه بزرګ به د کلي په مسجد کي ماشومانو ته سبق وايي، نو چي ډېر به په تکليف سو، نو هغه ماشومان به ئې سره راجمع کړل، او ورته ويل به ئې:

............اُدْعُوْا لِعَمِّكُمُ الْكَذَّابَ﴾.

تاسو خو دغه خپل دروا غجن اکا ته دعا وغواړئ: چي الله تعالی دغه تکليف او امتحان ځني ليري کړي.(1)

نو مقصود مي دا دی: چي په دې اوس حالاتو کي د بهادرۍ خبره کول، ډېره لويه غلطي ده، ځکه د الله تعالی د امتحاناتو تاب هيڅوک نلري، بلکه بايد انسانان په ډېره عاجزي سره د الله تعالی ځخه د عافيت غوښتنه وکړي.

(1) الرسالة القشيرية: باب في ذکر مشايخ هذه الطريقة و مايدل: صفحه نمبر۹۱

## د تقدير په عقيده ځان پوه کول:

بعضي خوانده خلک په دې اوسني حالاتو کي داسي وينا کوي: چي د خلګو عقيدې خرابي سوې، او د مرګ څخه بېرېږي، او پر تقدير باندي عقيده نلري، نو ځکه دومره وهم کي دي، او د خپلو کورو څخه دباندي نه راوزي.

خو زه دا وايم: چي د تقدير په عقيده باندي په صحيح طريقه نه پوهيدلو په وجه انسانان نن دغه ويناګاني کوي، او په قسم قسم غلطيو کي مبتلا دي.

د تقدير د عقيدې لپاره اول په دې خبره سر خلاصول: چي ديو واقعې دپيښېدلو څخه مخکي بايد د تقدير عقيده يو سړی پر بې احتياطي باندي اماده نکړي.

مثلاً يو انسان ته چي کله مشکل را روان وي، نو دی تقدير بهانه کړي، او يو لاس پر بل لاس کښېږدي، او بې غمه ورته کښېني، او وايي: چي زما په تقدير کي څه ليکلي وي، هغه به کيږي، نو د هغه مشکل څخه د ځان خلاصولو هيڅ تدبير نه کوي.

دا عمل د پيغمبر ﷺ د تعليماتو خلاف دی، بلکه د هغه حکم دا دی: چي د هغه مشکل څخه به د ځان خلاصولو لپاره چي کم تدبير وي، هغه به کوې، او په هغه کي به کوتاهي او لاپرواهي نکوې.

تاسو ګورئ! پيغمبر ﷺ د بېمارۍ په وخت کي هم پرهيز کړيدی، او هم ئې صحابه کرامو ته د پرهيز کولو امر کړيدی، او هم ئې علاج کړيدی، او هم ئې صحابه کرامو ته علاج کول فرمايلي دي.

حالانکه د پيغمبر ﷺ څخه به زيات د تقدير په عقيده څوک پوه وو؟ او هم به توکل د چا د ده مبارک څخه زيات مضبوط وو؟

او دوهمه خبره دا: چي د تقدير په عقيده باندي عمل د واقعې پيښېدلو څخه وروسته شروع کيږي، مثلاً واقعه پېښه سوه، نو د يو مؤمن کار دادی: چي هغه به دا فکر کوي: چي ما خو تدبيرونه او احتياطونه ټول وکړل، اوس چي دا واقعه زما د احتياط او تدبير سره سره پېښه سوه، نو دا د الله تعالی فيصله ده، او زه پر هغه راضي يم.

نو بيا خو د واقعې د پېښېدلو څخه وروسته په هغه باندي زيات پرېشانه کېدل، او پر هغه باندي زيات افسوس او د تکليف اظهار کول او دا ويل: چي ما دومره احتياطونه وکړل، بيا هم داسي سوه، نو دا خبره هم د تقدير د عقيدې خلاف ده.

نو د دغه دوو (۲) طرفو په درمیان کي الله تعالی موږته د اعتدال لار راښوولې ده، چي تر څو پوري واقعه پېښه سوې نه وي، نو پدې وخت کي ستا فریضه دا ده: چي د حفاظت به زیات کوشش کوې، او احتیاطي تدابیر به اختیاروې، ځکه معلومه نه ده: چي په تقدیر کي څه لیکلي دي؟ او د واقعې پېښېدلو څخه وروسته به پر هغه باندي زیات افسوس او غم نکوې.

## د حضرت عمرؓ واقعه:

حضرت عمرؓ پخپل دور کي د مځکي د نیمي "کرې" حکمران وو، او پر دوویشت لکه (۲۲۰۰۰۰) مربع میله مځکه د ده حکومت وو.
یو ځل د شام په دوره باندي راغلی، په لاره کي دا ورته معلومه سوه: چي د شام په علاقه کي "طاعون" مرض لګېدلی دی، او دا دومره سخت "طاعون" وو، چي انسان ئې په څو ساعته دننه کي ختموی.
په دغه "طاعون" کي په زرو صحابه کرام شهیدان سول، نن هم په "اُردن" کي د حضرت عبیده بن جراحؓ د قبر سره لوی قبرستان دی، چي اکثریت د هغه صحابه کرامو قبرونه دي: چي په دغه "طاعون" کي شهیدان سویدي.
بهر حال حضرت عمرؓ د صحابه کرامو سره مشوره وکړه، چي هلته ورځو، او که واپس خپله قافله راګرځوو.
په دې وخت کي حضرت عبدالرحمن بن عوفؓ یو حدیث ورته ووایي: چي پیغمبرﷺ فرمایلي دي: کچیري په یو علاقه کي د "طاعون" مرض لګېدلی وو، نو چي کم خلک د دغه علاقې څخه دباندي دي، هغه دي دننه نه ورځي، او چي کم خلک په علاقه کي دي، هغه دي دباندي نه تښتي.
حضرت عمرؓ چي کله دا حدیث واورېدی، چي په دې کي د پیغمبرﷺ ښکاره هدایت دی: چي دغسي علاقې ته به انسان نه ور داخلیږي، نو ده دهلته تللو اراده ختمه کړه.
په دې وخت کي یو صحابي غالباً حضرت عبیده بن جراحؓ وو، هغه حضرت عمرؓ ته وویل:

.........أَنَفِرُّ مِنْ قَدَرِ اللهِ﴾.
ايا ته د الله د تقدير څخه تښتې؟ يعني كچيري الله تعالى د دغه "طاعون" په ذريه
زموږ مرګ ليکلی وو، بيا خو به مرو، او كچيري زموږ په تقدير كي مرګ نه وو ليکلی
نه هلته تلل، او نه تلل، سره برابر دي.
په جواب كي حضرت عمر ﷺ ورته وفرمايل:
............يَا أَبَا عُبَيْدَةَ، لَوْ غَيْرُكَ قَالَهَا؟ ﴾.
اې ابو عبيده! كچيري ستا څخه علاوه بل سړي دا خبره راته کړې واى، ما به معذور
بللاى، ليكن ته خو په ټوله حقيقت خبر ئې، ته څنګه دا راته وايې: چي د تقدير څ
تښتې؟ او ورته وئې فرمايل:
......... نَعَمْ نَفِرُّ مِنْ قَدَرِ اللهِ إِلَى قَدَرِ اللهِ﴾.
هو! موږ د الله د تقدير څخه د الله و تقدير ته ور تښتو.
مطلب دا: چي تر څو پوري واقعه پېښه سوې نه وي، تر هغه وخته زموږ لپاره
احتياطي تدابيرو اختيارولو حكم دى، او هغه احتياطي تدابير اختيارول د تقد
دعقيدې خلاف نه دي، بلكه د تقدير په عقيده كي داخل دي.
څكه موږ ته پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: چي تاسو احتياطي تدابير اختيار كړئ، چنان
د پيغمبر ﷺ د دغه حكم په وجه باندي موږ واپس څو، ليكن د دې باوجود كچيري
تقدير كي زموږ لپاره د "طاعون" بيماري ليکلې وه، موږ هغه نسو پر شا كولاى،
خپل تدبير به په پوره طريقه سره كوو.(1)

## د تقدير حقيقت:

نو د تقدير حقيقت دا دى: چي د خپل طرف څخه پوره تدبير كول، ليكن د تدبير كو
څخه وروسته معامله الله ته سپارل، او دا ويل: چي يا الله! زما په وس كي چې
تدبير وو، ما خو هغه وكړى، نوره خبره ستا په اختيار كي ده، چي ته كمه فيصله كوې
پر هغه باندي راضي يم، او زما پر هغه فيصله هيڅ اعتراض نسته.

---

(1) نهاية الايجاز في سيرة ساكن الحجاز، باب رضاعه، صفحه نمبر ۵۰

نو زموږ او ستاسو په اوسنیو مشکلاتو کې هم ضروري داده: چې خپل تدبیر او احتیاط به کوو، لیکن د هغه باوجود کچیرې الله تعالی دغه مرض پر موږ او تاسو راوستی، نو بیا به دا د الله فیصله او تقدیر بولو او د ېره وارخطائي او ناراضي به نه کوو.

## توبه کښل:

نو زه دا وایم: دا خو هر چاته معلومه خبره ده: چې کم مشکلات پر موږ او تاسو راغلي دي، دا زموږ او ستاسو د بدو اعمالو نتیجه ده.
نو د ټولو څخه مخکې د بدو اعمالو څخه توبه کښل، لکه الله تعالی قرآن کریم کې هم د دې خبرې تذکره کړېده:
..........﴿وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ إِنَّ الَّذِينَ يَكْسِبُونَ الْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا يَقْتَرِفُونَ﴾.(۱)
تاسو ظاهري او باطني ګناهونه ټول پرېږدئ، کم خلک چې ګناهونه کوي، نو د هغوی سزا به ضرور وینې.
نو د بیماري او مصیبت څخه د ځان خلاصولو د ټولو څخه مخکینی علاج هغه د ګناهونو پرېښوول دي، او چې څومره ګناهونه د انسانانو څخه سوېدي، پر هغه باندې الله تعالی ته پښېماني کول، او د الله تعالی څخه معافي غوښتل.
باید هر سړی پخپل ګرېوان کې وګوري، او دغه مصیبت د خپلو بدو اعمالو نتیجه و بولي، او د توبې کښلو بندوبست وکړي.

## د حضرت ذوالنون مصري رحمۃ اللہ علیہ واقعه:

حضرت ذوالنون مصري رحمۃ اللہ علیہ د ډېرې لوړې درجې د اولیاؤ څخه وو، او الله تعالی د ولایت دومره لوړ مقام ورکړی وو: چې موږ او تاسو د هغه تصور نسو کولای.
د ده په باره کې یو واقعه لیکلې ده: چې یو ځل په مصر کې قحطي راغله، او بارانونه ختم سول، ټول انسانان پرېشانه وو، او د باران لپاره ئې دعاګاني کولې.

(۱) سورة الانعام: آیت نمبر ۱۲۰

یو څه خلک ده ته راغلل، او دا غوښتنه ئې ځني وکړه: چې حضرت! ته خو وینې: چې ټوله قوم په "قحط سالي" کي مبتلا دی، د انسانانو د خورک بندوبست ختم سو، حتّی چې د حیوانانو د چیښو لو لپاره اوبه نسته، او زموږ ټول باغونه او فصلونه تباه سول، ته د الله تعالی څخه دعا وغواړه: چې پر موږ باندي باران وکړي.
حضرت ذوالنون مصري رحمۃ اللہ علیہ ورته وفرمایل: چې دعا خو به انشاء الله کوم، لیکن تاسو یوه خبره واورئ، هغه دا: چې د قرآن کریم فرمان دی:
..........وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ﴾.(۱)
چې پر تاسو په دنیا کي کم مصیبت یا پرېشاني راځي، هغه ستاسو د بدو اعمالو او د ګناهونو په وجه سره راځي.
کچیري باران نکېږي، نو د دې مطلب خو دادی: چې زموږ معاشره په بدو اعمالو کي مبتلا ده، او د هغه بدو اعمالو په وجه الله تعالی زموږ څخه باران بند کړی دی.
نو باید د ټولو څخه مخکي هر سړی پخپل ګریوان کي وګورو، چې په موږ کي زیات بدعمله څوک دی؟ نو هغه د هغه بدو اعمالو څخه راوګرځي.
او بیا ورته وایي: چې زه چې پخپل ګریوان کي سر کښته کړم، نو ما ته رامعلومیږي: چې په ټوله کلي کي به شاید زما څخه زیات بد عمله او ګناهګاره بل څوک نه وي، او زما غالبه ګمان دا دی: چې باران په دې وجه زموږ او ستاسو څخه بند سویدی: چې زه په دې کلي کي اوسېږم، چې کله زه د دې کلي څخه ووزم، نو الله تعالی به ضرور پر دې کلي باندي د رحمت باران کوي.
نو زه به د دې کلي څخه ووزم، الله تعالی به تاسو زما د بدو اعمالو څخه محفوظه کړي، او تاسو ته به د عافیت ژوند در کړي، او هم به د الله د طرفه بارانونه درباندي وسي، نو خپله بستره ئې واخیستله، د هغه کلي څخه روان سو.(۲)
تاسو ګورئ! حضرت ذوالنون مصري رحمۃ اللہ علیہ غوندي کامل ولي، او د الله تعالی نیک بنده پر خپل ځان دا ګمان لري: چې پر دغه ټول کلي کي به زما څخه زیات ګنهګاره نه وي، او چې زه د کلي څخه ووزم، الله تعالی به باران کوي.

(۱) سورة الشوری: آیت نمبر ۳۰
(۲) اصلاحي خطبات، جلد نمبر ۷، صفحه نمبر ۵۵

ایا هغه درواغ وایي؟ او که تواضعاً دا خبره کوي، حضرت ذوالنون مصري رحمة الله علیه غوندي کامل ولي، د ژبې څخه درواغ نسي راتلای، بلکه واقعتاً هغه پر ځان گمان لري: چي د ټولو څخه زیات گنهگار او عیب لرونکی انسان زه یم، ځکه چي دهغه همېشه نظر پر خپلو اعمالو وو، او د خپلو اعمالو څخه بنه خبر وو، او د بل اعمالو ته ئې نه کتل.

نو بنه خبره دا ده: چي موږ او تاسو ټوله هر یو پر خپله زندگي نظر وکړو، او خپل بد اعمال ځان ته حاضر کړو، او د الله تعالی په حضور کي د هغه څخه توبه وکاږو، او د هر سړي دا یقین سي: چي کم حالات پر دې قوم را روان دي، دا به شاید زما د بدو اعمالو په وجه وي.

## صدقه کول:

نن چي کم مغربي قومونه په دغه "وبا" او مرض اخته دي، نو هغوی خپل ټوله وس او توان د هغه په مقابل کي تمام کړی، او هر څومره چي د دوی سره پر مخ تللي وسائل او اسباب دي، هغه ئې هم پر کار واچول، لیکن هغه اسبابو ټولو دوی ته جواب ورکړی: چي موږ هیڅ نسو کولای.

دوی نه هغه اسبابو محفوظه کړل، او نه هغه اسباب د دوی د خلاصون ذریعه وگرځېدله، بلکه ورځ تر هغه بله د دوی تباهي پر مخ روانه ده.

لیکن (الحمد لله)! د مسلمان سره د هغه علاج او حفاظت سته، چي هغه د پېغمبر ﷺ په تعلیماتو کي موږ ته د صدقې په شکل بیان سویدی.

په دي کي هیڅ شک نسته: چي صدقه د بیمار یو څخه د شفا مختصره او قریبه لاره ده، او بعضي اهل علم دا د دوا او د دارو د مروجو طریقو په مقابله کي زیاته نفعه بخښه بللېده، دا ځکه: چي پېغمبر ﷺ پخپله د صدقې په باره کي فرمایلي دي:

........﴿إِنَّ الصَّدَقَةَ جُنَّةٌ وَوَسِيلَةٌ إِلَى جَنَّةٍ﴾.(۱)

صدقه د آفتو او بیماریو څخه دال دی، چي په دې سره د هغه دفاع کیږي، او هم د انسان د جنت د داخلېدلو ذریعه ده.

---

(۱) مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح، حدیث نمبر ۵۵۵۰

**د عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه واقعه:**

مشهور د حدیثو امام حضرت عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه ته یو سړی راغلی، او ورته وئې فرمایل: چي حضرت! زما په ورانه کي اوه(۷) کاله کیږي، چي یوه دانه راپورته سوېده، او همېشه وینه ځني بهیږي، هر قسم علاج مي کړیدی، ډېر لویو لویو طبیبانو ته ورغلی یم، او ډېر مالونه مي ور باندي خرڅ کړيدي، لیکن هیڅ فائده مي نه ده ور سره سوې، ته ماته د دې یو علاج راوښیه.

حضرت عبدالله بن مبارک رحمة الله علیه ورته وفرمایل: چي ته ولاړ سه، یو داسي ځای وګوره: چي هلته انسانان د اوبو د قلت سره مخامخ وي، نو هلته یو څاه وکاږه، زما د الله د ذات څخه کامل امید دی، چي څنګه د هغه مځکي څخه د اوبو چشمه اوبه را شروع سي، نو دلته به ستا د بدن څخه وینه تلل بند سي.

چنانچه هغه سړي هغسي وکړل، نو الله رب العزت دده ته شفا ور کړله.

نو زه دا وایم: چي زموږ خو اکثریت د بیماریو او مصیبتو په وخت کي د الله تعالی ذات بلکلیه د دماغ څخه وتلی وي، د مصیبت او بیمارۍ د مخ نیوي لپاره هر قسم ظاهري اسباب او وسائل استعمالوو، او پر هغه باندي بې پناه مال او دولت خرڅوو، او چي کله د هر طرف څخه مایوس او ناامیده سو، نو بالآخر دا وایو:

چي موږ خو د مولوي صاحب څخه اورېدلي وو: چي صدقه د مصیبتو مخ نیسي، نو تاسو راسئ! دا طریقه هم تجربه کړو.

چنانچه نو آخري زموږ دې ته توجه راوګرځي: نو د سهار په وخت کي د سلو(۱۰۰) روپو صدقه وکړو، او ماښام بیا ټوله کور په انتظار کي یو ځای ورته ناست وي، کچیري تر ماښامه هغه مصیبت لیري نسو، نو بیا خو ډېر د شکوې او ګلې په شکل کي وایو:

یاره ډېري صدقې مي ورکړې، لیکن نه معلوم: چي دا مصیبت لا ولي زموږ د کور څخه نه لیري کیږي.

نو دغسي کول په کار نه دي، بلکه په ډېر اخلاص سره په کامل یقین سره باید موږ او تاسو کاملي صدقې وکړو، چي په هغه سره به الله تعالی زموږ او ستاسو څخه دغه مصیبت لیري کړي.

## د جنت پر دروازه درې(۳) کربنې لیکلي دي:

حضرت ضحاک رحمة الله علیه د نزال بن سبره ﷺ څخه رانقل کړیدي: چې د جنت پر دروازه درې(۳) کرښې لیکلي دي:

۱. .....لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ): لائق د عبادت یو الله دی، او محمد د هغه رسول دی.

۲. .....اُمَّةٌ مُذْنِبَةٌ وَ رَبٌّ غَفُوْرٌ): امت گنهګاره دی، او الله تعالی بخښونکی دی.

۳. .....وَجَدْنَا مَا عَمِلْنَا رَبِحْنَا مَا قَدَّمْنَا خَسِرْنَا مَا خَلَّفْنَا): موږ خپل عملونه پیدا کړل، او چې کم څه مي مخته را استولي ول، هغه ګټور وو، او چې کم څه مي وروسته پرېښوول، په هغه کي موږ نقصانیان سول.

او کتابو لیکلي دي: چې کم څوک یو څو شیان بند کړي، الله تعالی د هغه څخه هم په مقابله کي څه شیان بندوي:

۱. چي څوک زکات بند کړي، الله تعالی د هغه د مال څخه حفاظت پورته کړي.
۲. چي کم څوک صدقه بنده کړي، الله تعالی د هغه څخه عافیت پورته کړي.
۳. چي کم څوک عشر بند کړي، الله تعالی د هغه د مځکي څخه برکتونه پورته کړي.
۴. چي کم څوک دعا بنده کړي، الله تعالی قبولیت څني پورته کړي.
۵. او چي کم څوک په لمانځه کي سستي کوي، الله تعالی د هغه څخه د زکندن پر وخت کلمه ویل پورته کړي.

حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ به فرمایل: چي یو سړی د خپل صحت او ضرورت په وخت کي یو درهم صدقه کړي، هغه د هغه سلو(۱۰۰) دراهمو څخه هم زیات دی: چي د مرګ پر وخت انسان د هغه وصیت کوي.(۱)

(۱) تنبیه الغافلین، صفحه نمبر ۲۹۰

## زموږ د سیمې حالات

نو زه دا وایم: چې د موجوده حالاتو بهترین حل په اوله درجه کې پر خپلو بدو اعمالو باندې توبه کښل دي.
او په دوهمه درجه کې د وبا او مصیبتونو د مخ نیولو لپاره صدقه کول دي، بیا خاص چې موږ او تاسو پر کمه سیمه اوسیږو، نو دا ډېره غریبه علاقه ده، عام خلک ئې مزدور کاره او غریبان دي، نن چې کله پر هغو باندې تړوله ښار بند دی، او هم لارې بندې دي.
نو مخکې خو به هغو د ورځې مزدوري کوله، او ماښام به ئې بچیانو ته رارسوله، لیکن اوس هغوی ته نه د ورځې مزدوري ور پیدا کیږي، او نه د بچیانو نفقه پیدا کولای سي، نو نن هغه ډېر سخت د وارخطائۍ او پرېشانۍ په حالت کې شپې تېروي، او ډېر تنګدسته ژوند ورباندې تېرېږي، او د پېغمبر ﷺ حدیث مبارک دی:
......... مَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ، يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ). (١)
چې کم څوک د یو تنګدست او مفلس سره د آسانۍ معامله وکړي، یعني د خپل وس مطابق پر هغه باندې آساني راولي، الله تعالی به د ده سره په دنیا او آخرت دواړو کې د آسانۍ معامله وکړي.
نن چې پر کمو علاقو باندې هغه وبا راغلې ده، او چې کم انسانان په هغه وبا کې مړه سول، نو د هغوی د مرګ څخه وروسته د هغوی غسل څنګه دی؟ او د هغوی جنازه څنګه کیږي؟ او د هغوی تدفین په کم شکل دی؟

تېره ورځ په پېښور کې د یو جنازې ترتیب وو، چې هغه په وایرس کې وفات سوی وو، که څه هم د هغه خو مرګ د شهادت وو، لیکن غسل ور کولو ته ئې څوک تیار نه وو، آخر ئې په یو پلاسټک کې پېچلی او په تابوت کې ایښی قبر ته راوړی.

(١) سنن ابن ماجه: حدیث نمبر ۲۴۱۷

قربیان خو نږدې نه ور پرېږدی، او چې کم خلک د حکومت ور سره دي، هغه یو هم دې ته نه دی تیار: چې د ده په تابوت کې رسۍ واچوي، آخر ئې یو سپین ږیری پلار په پلاستېکانو کې پېچلی راځي، او بلګ وهي، او تر سترګو ئې اوښکې بهېږي، او په دغه تابوت کې رسۍ پېچي، او بیا هغه تابوت د حکومت خلک په رسیو تړلی هغه قبر ته ور غورځوي.

نو د هغه په لیدلو باندې انسان ته ډېر افسوس ورځېږي، او انسان دستي به د الله څخه دا وغواړي: چې یا الله! دغه شان مرګ مه رانصیب کوې.

اوس د دغه مرګ څخه د خلاصېدلو طریقه صرف او صرف صدقه ده، ځکه صدقه یو طرف ته د الله غضب او قهر سړوي، او بل طرف ته انسان د دغه شان مرګونو څخه محفوظه کوي.
لکه پیغمبرﷺ په حدیث مبارک کې فرمایلي دي:
.........إِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيتَةَ السُّوءِ﴾.(١)
صدقه د الله تعالی غضب سړوي، او د انسان د بېکاره مرګ څخه دفاع کوي، نو زه خو دا وایم: چې کم حالات پر موږ راغلي دي یقیناً د الله د قهر او غضب نښانې دي، او په هغه سره انسان د ډېر بېکار مرګو سره مخامخ کېږي، نو که د رب غضب دی، او که بېکاره مرګونه دي، د هغه ټولو دفاع صدقه ده.

نو الله تعالی دې موږ او تاسو ته په دې حالاتو کې د صدقو کولو توفیق راکړي، او هم دې الله تعالی دغه مصیبتونه او پرېشانۍ او بیمارۍ او مرګونه زموږ او ستاسو د وطنو څخه لیرې کړي.

---

(١)سنن ترمذي، حدیث نمبر ۶۶۴

الله تعالی دي تو له مسلمانان محفوظه کړي، او دغه وبا دي الله تعالی پر کافرانو راولي، چې د هغوی د هدایت ذریعه سي، او که به ئې په نصیب او قسمت کې هدایت نه وي، بیا دي ئې الله تعالی د مسلمانانو انتقام وکړځوي، الله تعالی دي دا څو خبري قبولي او مقبولي وګرځوي۔

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِمَّنْ دَعَا إِلَى اللهِ (الآیہ)

# د شبِ برات فضیلت

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطیع اللہ صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ کلیم اللہ صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشاعت | اول |
| تاریخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحيم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

﴿رَبُّكُمْ أَعْلَمُ بِمَا فِي نُفُوسِكُمْ إِنْ تَكُونُوا صَالِحِينَ فَإِنَّهُ كَانَ لِلْأَوَّابِينَ غَفُورًا﴾.(١)

وَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: ﴿اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ،﴾.(٢)

آمَنْتُ بِاللهِ صَدَقَ اللهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمِ، وَ نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ مِنَ الشَّاهِدِينَ وَالشَّاكِرِينَ وَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

**تمهيد:**

محترمو حاضرينو! د "شعبان المعظم" مياشته روانه ده، چې زموږ او ستاسو په اصطلاح کې دې ته د "برات" مياشته وايي.

ډېره مبارکه مياشته ده، چې په دې کې الله تعالى د انسانانو لپاره د رحمتونو لارې را خلاصوي، او هم د انسانانو د ګناهونو او مصيبتونو څخه برأت او خلاصون کوي، دې مياشتې ته "شعبان" وايي، "شعبان" عربي لفظ دی، د "شعب" څخه را اخيستل سوی دی.

"شعب" په عربي کې هغه درې او لوی لارې ته وايي: چې د غرونو په درميان کې تېره سوېږي، نو دې مياشتې ته شعبان ځکه وايي: چې په دې کې هم الله تعالى پر انسانانو باندې د رحمت لوی لارې را خلاصوي.

---

(١) سورة الاسراء، آيت نمبر ٢٥

(٢) مسند البزار: حديث نمبر ۶۴۹۶

او د دې میاشتې نوم زموږ په اصطلاح کې: "برات" دی، او "برات" هم عربي لفظ دی، چې د برې کېدلو او خلاصولو په معنی باندې راځي، چونکه په دې میاشته کې الله تعالی انسان د ګناهونو او مصیبتونو څخه برې کوي، نو ځکه "برات" ورته وایي.
د دې میاشتې څخه مخکې چې کمه میاشته تېره سوېده، نو هغه د "رجب" میاشته ده، او په هغه کې د "لیلة المعراج" شپه راتله، د هغه په وجه الله تعالی دغه میاشتې ته ډېر فضیلت ورکړیدی.
او د دې څخه وروسته د روژې مبارکه میاشته را روانه ده، چې هغه ته بیا الله تعالی د "لیلة القدر" په ذریعه عزت ور نصیب کړیدی، د دغه دواړو میاشتو په مابین کې د "شعبان" میاشته راځي، نو ځکه دې ته "کریمة الطرفین" میاشته وایي.
په حدیث شریف کې راځي: چې نبي کریمﷺ به کله د "رجب" میاشته ولېدله، نو همېشه به ئې دا دعا غوښته:

﴿اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبٍ وَشَعْبَانَ وَبَلِّغْنَا رَمَضَانَ﴾.(١)

اې الله! زموږ لپاره په "رجب" او "شعبان" کې برکت واچوه، او موږ پخېر او عافیت سره تر "رمضان المبارک" پورې ورسوه.
د پیغمبرﷺ روایت دی:

- چې د "رجب" میاشته د الله تعالی میاشته ده، ځکه پدې کې عام طور مالداران د خپل مال "زکوة" ادا کوي، او د غریبانو خیال ساتي، نو پدې عمل سره الله تعالی ډېر خوشحاله کېږي.
- او "شعبان" زما میاشته ده، ځکه په دې کې ما د الله تعالی څخه د شفاعت سوال کړی دی، لکه په روایت کې راځي: چې د دې میاشتې د دیارلسم(۱۳) په شپه پیغمبرﷺ د امت لپاره د شفاعت غوښتنه وکړه، الله تعالی د درېمې حصې اجازت ورته وکړی، او د څورلسم(۱۴) په شپه د دوو(۲) حصو اجازت ورته وسو، او د پنځلسم(۱۵) په شپه د ټوله امت د شفاعت اجازت ور کول

(١) مسند البزار: حدیث نمبر ۶۴۹۶

سو، نو په دې سره پیغمبرﷺ ډېر خوشحاله سو، نو ځکه دی وایي: چي "شعبان" زما میاشته ده.

- او "رمضان المبارک" زما د امت میاشته ده، ځکه الله تعالی په دې میاشته کي د دوی څخه سرکښه شیطانان قید کوي، او دوی ته نفلي عبادت په فرضي ورشماري، او فرضي عبادت یو په اویا (۷۰) ورشمارل کیږي.

بعضي بزرګانو لیکلي دي:

- چي د "رجب" میاشته دا د تخم اچولو میاشته ده.
- او د "شعبان" میاشته دا د اوبولو ده.
- او د "رمضان المبارک" میاشته دا د فصل پرېکولو او راشه اخیستلو ده.

کچیري سړی دا ووایي:

- چي د "رجب" میاشته د پاڼو ښکاره کېدلو ده.
- او د "شعبان" میاشته پر درخته د مېوې راوتلو ده.
- او د "رمضان المبارک" میاشته دا د مېوې د پرېکولو ده.

او دا هم صحیح ده:

- چي د رجب میاشته د هوا غوندي انسان وبولي.
- نو د "شعبان" میاشته د وریځي په شان ده.
- او د "رمضان المبارک" میاشته د رحمتونو د باران غوندي ده.

د روایاتو څخه معلومیږي:

- د "رجب" په میاشته کي د انسان اعمال په اووه (۷) چنده وي.
- او د "شعبان" په میاشته کي عمل په اوه سوه (۷۰۰) چنده وي.
- او د "رمضان المبارک" په میاشته کی عمل په زر (۱۰۰۰) چنده زیاتیږي.

بعض کتابو لیکلي دي:

- د "رجب" د میاشتی چي پر نورو میاشتو کم فضیلت حاصل دی، هغه داسي دی: لکه د قرآن کریم فضیلت پر نورو آسماني کتابو.
- او د "شعبان" د میاشتي پر نورو میاشتو فضیلت داسي دی: لکه د پیغمبرﷺ فضیلت پر نورو انبیاؤو.

- او د "رمضان المبارک" فضيلت پر نورو مياشتو داسي دی: لکه د الله رب العزت فضيلت پر خپل مخلوق باندي.

او زه دا وايم:

- چي د "رجب" مياشته د گنهگارانو د مغفرت مياشته ده.
- او د شعبان مياشته د شفاعت مياشته ده.
- او د "رمضان المبارک" مياشته د نيکو اعمالو د زياتېدلو مياشته ده.

## د رحمتونو ابتدا:

امام رباني حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله عليه فرمايلي دي: چي د "رمضان المبارک" د مياشتي د الله تعالی د کلام سره خصوصي مناسبت حاصل دی، ځکه چي ځومره آسماني کتابونه دي، هغه ټول دنيا ته د "رمضان المبارک" په مياشته کي راغلي دي، لکه څنګه چي د رواياتو څخه معلوميږي: چي تورات د "رمضان المبارک" د مياشتي په دوهمه باندي رانازل سوي دي، د هغه څخه دري سوه(۳۰۰) کاله بعد په شپږمه يا په اتمه د "رمضان المبارک" "انجيل" رانازل سوي دی، د هغه څخه پنځه سوه(۵۰۰) کاله بعد په اتلسم د "رمضان المبارک" "زبور" دنيا ته راغلی دی.

او د "ليلة القدر" په شپه باندي "قرآن کريم" د لوح محفوظ څخه دې اول آسمان ته رارسېدلی دی.

نو د دغه برکاتو ابتدا د "شعبان" د پنځلسم(۱۵) د شپې څخه چي "شب برات" ورته وايي، را روانه سوېده.

هغوی د دې مثال داسي ليکلی دی: لکه "لمر" چي راخيږي، د هغه څخه دوه(۲) ساعته مخکي د رڼا ابتدا د صبح صادق څخه شروع کيږي، او کرار کرار هغه رڼا زياتيږي، چي د "لمر" د راختلو وخت ته نژدې دا رڼا دومره زياته سي: چي انسان ته دا نه ور معلوميږي: چي لمر راختلی دی، او کنه.

داغه رنګه د رحمتونو ابتدا د "برات" د پنځلسم(۱۵) د شپې څخه را روانه سي، او ورځ په ورځ دا رحمتونو ډېريږي، چي تر څو پوري د روژې مبارکه مياشته را رسيږي.

**د دې شپې نمونه:**

د برات د پنځلسم(۱۵) شپې ته په رواياتو کې "ليلة القسمة و التقدير" وايي، ځکه په دې شپه کې د را روان کال ټولې فيصلې الله تعالى کوي، لکه زمونږ او ستاسو په ملکونو کې چې حکومت يوه ورځ د را روان کال بويجه اعلانوي، چې را روان کال به دومره پيسې خرڅيږي، او پر دغه شعبو به کار کول کيږي.

داغه رنګه الله تعالى د شعبان د پنځلسم په شپه فرشتو ته حکم کوي، چې را روان کال چې څومره واقعات کيږي، د هغه ليستونه تيار کړي.

چاته ژوند او چاته مرګ ورکول کيږي.

چاته مال او دولت ورکول کيږي، او د چا په نصيب کې مسکنت وي.

چاته خوشحالي او چاته غم راځي.

او د چا په نصيب کې عزت او د چا په نصيب کې ذلت راځي.

چې کله دغه ټول ليستونه تيار سي، نو الله تعالى ئې ملائکو ته ور حواله کړي، چې تاسو به را روان کال دغه حکمونه ټول پر ځاى کوئ.

داغه رنګه د دې شپې يو نوم: "ليلة التكفير" دى، يعني: چې په دغه شپه الله تعالى د انسانانو ګناهونه ختم کوي.

حضرت امام سبکي رحمة الله عليه پخپل تفسير کې ليکلي دي:

- چې د "برات" شپه د ټوله کال ګناه ختموي.
- او د جمعې مبارکې شپه د ټولې هفتې ګناه ختموي.
- او د ليلة القدر شپه د ټول عمر ګناه ختموي.

يعني: په دغه شپو کې عبادت کول الله تعالى د ګناهونو د ختمولو ذريعه ګرځوي.

او يو نوم د دغه شپې "ليلة الحيات" دى، يعني: د ژوند شپه، امام منذري رحمة الله عليه يو مرفوع روايت رانقل کړيدى:

......من أحيا الليالي الخمس وجبت له الجنة ليلة التروية وليلة عرفة وليلة النحر وليلة الفطر وليلة النصف من شعبان﴾.[1]

---

[1] الترغيب و الترهيب: حديث نمبر ۱۶۵۶

چي کم چا ته په کال کي الله تعالی د پنځو (۵) شپو عبادت ور نصیب کړي، الله تعالی به جنت ور کړي، په یو روایت کي لا داسي هم راځي: چي په هغه ورځ به د ده زړه نه مري، چي په کمه ورځ د نورو زړونه مړه سي.

- د ذوالحجي د اتم شپه.
- د ذوالحجي د نم شپه.
- د لوی اختر شپه.
- د کوچني اختر شپه.
- او د برات د پنځلسم شپه.

او داغه رنګه د دې نوم "لیلة الشفاعت" هم راغلی دی، یعني: د شفاعت د قبلېدلو شپه، لکه هغه روایت ما ستاسو په مخکي پېش کړی: چي پېغمبر ﷺ د "شعبان" د میاشتي د دیارلسم (۱۳) په شپه د الله تعالی څخه د امت د شفاعت سوال وکړی، نو الله تعالی د امت د دریمي حصي شفاعت څني قبول کړی.

او بیا ئې د څورلسم (۱۴) په شپه هم د امت د شفاعت غوښتنه وکړه، خو الله تعالی د امت د دوو حصو شفاعت څني قبول کړي.

او دریم ځل ئې د پنځلسم (۱۵) په شپه د ټوله امت په حق کي دعا قبوله سوه، مګر هغه شریر او بدعمله انسان چي د ټرېدلي اوښ غوندي دالله تعالی څخه لیري ژوند کوي، او همېشه په ګناه باندي اخته وي، هغه به د دې څخه مستثنا وي.

او د دې شپې یو نوم "لیلة المغفرت" هم دی، یعني: د بخښني والا شپه، لکه امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه یو روایت رانقل کوي: چي الله تعالی هر کال د "برات" په شپه د خپلو بندګانو طرف ته توجه کوي، او د ځکي ټولو انسانانو ته مغفرت کوي، ما سوا د مشرک او د بغض کونکي څخه، چي د هغوی بخښښ په دغه شپه باندي نکیږي.

او د دغه شپې یو نوم "لیلة العتق" هم راغلی دی، لکه ابن اسحاق د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه څخه یو روایت رانقل کوي: چي هغه به فرمایل: پېغمبر ﷺ زه یو ځل د حضرت عائشې مبارکې کورته د یو کار لپاره واستولم، زه چي کله راغلم، نو ما هغې

کې ته وويل: چي ته لږ تلوار وکړه، چي زه واپس ولاړ سم، څکه پيغمبرﷺ د
ب برات" متعلق يو څه خبري کولې، چي هغه واورم.
ي مبارکې راته وويل: اى انسه! کښېنه! چي زه تاته د "شب برات" متعلق د
بر ﷺ قصه بيان کړم.
يو ځل پيغمبرﷺ زما په حجره کي شپه تېروله، او دی زما پر بستره باندي آرام
د شپې چي کله زه راويښه سوم، نو دی مبارک ما پر بستره نه وليدی، زما په زړه
دا راغله: چي شايد دی به د ماريه قبطيه حجرې ته ورغلی وي.
خپلي حجرې څخه راووتلم، او په مسجد کي تېر ېدلم، زما پښه د ده څخه ومښتله،
اسي حال کي: چي دی پر سجده باندي پروت وو، لږ زمانه مي انتظار ورته وکړی،
ه څخه وروسته ده مبارک سر را پورته کړی، ما ورته وويل: اې د الله رسوله! زما
او پلار دي تر تا قربان وي، زه ستا په تلاش کي راووتلم، دا گمان مي نه وو: چي
ه دلته ئې، او آخر مي دلته پيدا کړې.
بارک په جواب کي راته وويل:
........يَا حُمَيْرَاءُ أَمَا تَدْرِينَ مَا هَذِهِ اللَّيْلَةُ؟ هَذِهِ لَيْلَةُ عُتَقَاءَ مِنَ النَّارِ بِعَدَدِ شَعَرِ غَنَمِ كَلْبٍ﴾.
تاته معلومه نده: چي دا دشعبان د پنځلسم(۱۵) شپه ده؟ الله تعالى په دې شپه د
کلب د پسونو د وېښتانو په شمار انسانان د جهنم څخه آزادوي.
الله تعالى په دې شپه د ډېرو انسانانو مغفرت کوي، لېکن د رواياتو څخه
وميږي، چي شپږ بدبخته انسانان چي په دې شپه به د مغفرت څخه مستثنا وي:

۱. ........مُدْمِنُ خَمْرٍ﴾. عادتي شرابي.
۲. ........وَلَا عَاقُّ وَالِدَيْهِ﴾. د مور او پلار نافرمانه.
۳. ........وَلَا مُصِرٌّ عَلَى رِبًا أَوْ زِنًا﴾. عادي زناکاره، او سود خوره.
۴. ........وَلَا مُصَارِمٌ﴾. او د قريبانو سره تعلق ختم کونکی.
۵. ........وَلَا قَتَّاتٌ﴾. چغل خوره.
۶. ........وَلَا مُصَوِّرٌ﴾. او تصوير جوړونکی يا اخيستونکی.

په يو روايت کي د تصوير جوړونکي پر ځای سروزاورېدونکی راغلی دی.(¹)

## روژه نيول:

نو زه دا خبره کوم: چي په دې ورځو کي د روژې نيولو ترتيب برابرول، چي انسان خاص دغه درې ورځي روژه ونيسي، يعني:

- ديارلسم(۱۳).
- څورلسم(۱۴).
- پنځلسم(۱۵).

نو په دي کي به د برات د پنځلسي ورځ هم راسي، او د دې سره به د "آيام بيض" د روژو نيولو ثواب هم د ده په عملنامه کي راسي، او دغه روژې چونکه د پيغمبرﷺ سنت هم دي، نو د پيغمبرﷺ په سنت طريقه باندي به هم عمل وسي.

حضرت حفصهؓ فرمايي: چي پيغمبرﷺ به د څلورو(۴) اعمالو زيات اهتمام کاوی:

- د عاشورې د ورځي روژه.
- د ذوالحجې د لسو ورځو روژه.
- او په هره مياشته کي د "ايام بيض" درې ورځي روژه.
- او د سهار دوه رکعته سنت کول.(²)

حضرت عليؓ فرمايي: چي پيغمبرﷺ به فرمايل: چي کمځوک د رمضان المبارک روژې ونيسي، او بيا په هره مياشته کي هم درې(۳) ورځي روژې نيسي، نو دی به ټوله ژوند په روژه نيونکو کي الله تعالى شماري.(³)

(¹) التبصره لابن الجوزي، المجلس الخامس في ذکر ليلة النصف، صفحه نمبر ۵۷
(²) تنبيه الغافلين: صفحه نمبر ۲۱۳
(³) تنبيه الغافلين، صفحه نمبر ۲۱۳

## یو تابعي د ابوذر ﷺ سره ملاقات:

بدالله بن شقیق رحمة الله علیه وایي: زه "مدینې منورې" ته راغلم، هلته مي د حضرت بوذر ﷺ سره ملاقات وسو، زما زړه دا غوښتل: چي د هغه حال و ځان ته معلوم کړم، و ما پوښتنه ځني وکړه: ایا ستاسو روژه ده؟

ه په جواب کي راته وویل: هو زما روژه ده، بیا موږ د حضرت عمر ﷺ خدمت ته د اضر کېدلو د اجازت په انتظار کي وو، نو په دې دوران کي موږ ته یو لوی جام د ورک راوړل سو.

ضرت ابوذر ﷺ هم د هغه څخه خورک شروع کړی، ما د روژې وریادولو دپاره دی خپل لاس سره وښوراوی، چي ستا خو روژه وه، ده جواب راکړی: چي هېره مي نه ده، ا چي کمه خبره تاته کړې وه: چي زما روژه ده، او دا ربښتیا ده، ځکه چي زه هره میاشت ري روژې نیسم، نو گویا د هغه په وجه زما ټوله ژوند په روژه کي تېرېدونکی دی.(۱)

و هسي د نفلي روژې پیغمبر ﷺ زیات فضیلت بیان کړیدی، لکه څنگه چي په یو حدیث مبارک کي راځي:

.........لَوْ أنَّ رَجُلًا صَامَ يَوْمًا تَطَوّعا ثمّ اعطي ملءُ الأرض ذَهَبًا لَمْ يستوف ثَوَابَه دُوْنَ يَوْم لحِسَاب﴾.(۲)

کچیري یو سړی یوه ورځ نفلي روژه ونیسي، بیا د مځکي ټوله فضا د سروزرو ورته ؛ که سي، لا هم د ده ثواب او بدله نسي ورپوره کېدلای، د قیامت د ورځي څخه مخکي یعني: د ده د روژې د ثواب مقدار به الله تعالی د قیامت په ورځ ورپوره کوي.

## قبرستان ته ورتلل:

یا خاص په دغه ورځ کي قبرستان اوهدیرې ته و مړگانو ته د دعا لپاره ورتلل، او مړه گانو ته د دعا کولو سره سره په خپل دماغ کي د خپل قبر او آخرت یاد تازه کول.

(۱) تنبیه الغافلین، صفحه نمبر ۳۱۴

(۲) الترغیب والترهیب، حدیث نمبر ۱۴۵۷

ځکه حضرت شاولي الله محدث دهلوي رحمة الله علیه یو حدیث مبارک رانقل کړیدی: چي تاسو د قبرو زیارت کوئ، ځکه چي د قبرو زیارت زړه نرم کوي، او د زړه نرمي د انسان په عمل کي نیکی دېروي.(¹)
لکه د "ابن ماجه" شریف روایت دی، چي حضرت عائشه مبارکه فرمایي:
﴿..........فَقَدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ، فَخَرَجْتُ أَطْلُبُهُ، فَإِذَا هُوَ بِالْبَقِيعِ رَافِعٌ رَأْسَهُ إِلَى السَّمَاءِ﴾.
چي ما یوه شپه پیغمبر ﷺ پر بستره نکړی پیدا، زه د ده په تلاش کي راووتلم، نو که ګورم: دی د "جنت البقیع" په قبرستان کي دی، او لاس په دعا باندي آسمان طرف ته متوجه دی.
نو ما د هغه ځخه پوښتنه وکړه: چي اې د الله رسوله! ته دلته ئې، او زه هلته ستا په تلاش کي ګرځېدلم.
ده په جواب کي راته وویل:
﴿..........إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَنْزِلُ لَيْلَةَ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيَغْفِرُ لِأَكْثَرَ مِنْ عَدَدِ شَعَرِ غَنَمِ كَلْبٍ﴾.(²)
ای عائشې! نن خو د شعبان مبارکه شپه ده، الله تعالی نن د دنیا آسمان ته تشریف راوړي، او په نن شپه کي د "بني کلب" قبیلې د پسو د وېښتانو ځخه زیات د ګنهګارانو مغفرت کوي، او هم هغه د جهنم ځخه آزادوي.
"بني کلب" د "مدینې منورې" سره نژدې یو مشهوره قبیله وه، چي د پسو په پاللو کي مشهوره وه، او د قبیلې د هر سړي سره به بېشماره حیوانان وو، نو الله تعالی په دغه شپه د دغه حیوانانو مقدار انسانان د جهنم ځخه آزادوي.
نو د دغه حدیث ځخه د شعبان په پنځلسم(۱۵) باندي د پیغمبر ﷺ قبرستان او هدیرې ته تلل ثابت دي.
نو د زیارت د ورتللو یو مقصد خو داوي: چي مبارکه شپه ده، مرده ګانو ته دعا کول، او پخپله هم د هغه ځخه عبرت اخیستل.

---

(¹) روایت بیهقي بحواله سراج منیر، صفحه نمبر ۷۲
(²) سنن ابن ماجه، حدیث نمبر ۱۳۸۹

## د حضرت عمر بن عبدالعزیز ؒ د یو قبر سره مکالمه:

حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه یو ځل د یوې جنازې سره قبرستان ته راغلی، نو په قبرستان کې لیرې په ګنج کې یوازې کښېناستی، او په سوچ او فکر کې غرق ولاړی.
خلک ورته راغلل، چې اې امیر المؤمنین! ته خو د دې جنازې ولي ئې، په کار خو داده: چې د هغه د کفن او دفن په انتظام کې شرکت وکړې، لیکن ته دلته یوازې ناست ئې.
ده ورته وویل: چې ماته دې قبر آواز راوکړی: او دحال په ژبه ئې راته وویل: اې عمر بن عبدالعزیزه! ته "ولې" زما څخه پوښتنه نکوې: چې کم څوک ما لره راسي، زه دهغه سره څه سلوک کوم؟
ما ورته وویل: ضرور راته ووایه، نو ده راته وویل: چې کم څوک زما غیږې ته راسي:

- نو زه دهغه کفن څیرم.
- او هم ئې بدن ټوټې کوم.
- او دبدن ټولې وینې ئې څوښم.
- او هم ئې غوښې خورم.

او دا درته ووایم: چې زه دانسان د جوړو (بندو) سره څه کوم؟

- وړې د بازوګانو څخه جلا کوم.
- او بازوګان د څنګلو څخه جلا کوم.
- پښې د ورنو څخه جلا کوم.
- او ورنو د بدن څخه بېلوم.

حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمة الله علیه ددغه وینا سره ډېر زیات وژړل، او و ئې فرمایل: د دنیا زمانه ډېره کمه ده، او د هغه دوکه ډېره زیاته ده، په دنیا کې چې کمڅوک عزتمند وي، هغه به په آخرت کې خوار او ذلیل وي، او چې کمڅوک په دنیا کې دولتمند وي، هغه به په آخرت کې د ټولو څخه زیات فقیر وي.(۱)

(۱) موت کی تیاري: صفحه نمبر ۵۱

## د قبر تنهائي:

په دنيا کي که انسان هر څو مره په غفلت کي ځان واچوي، او خپل مرګ او قبر بلکل د دماغ څخه ليري کړي، خو قبر او مرګ په هيڅ حالت کي انسان نه هېروي.

په يو روايت کي راځي، چي د هر انسان قبر په ورځ کي اويا(۷۰) واره دا انسان يادوي، او هم ده ته آواز کوي:

- ......أَنَا بَيْتُ الْغُرْبَةِ ﴾. زه د نا ولدتيا کوم يم.
- ......وَأَنَا بَيْتُ الْوَحْدَةِ ﴾. زه د يوازيوالي کوريم.
- ......وَأَنَا بَيْتُ التُّرَابِ ﴾. زه د خاورو کوريم.
- ......وَأَنَا بَيْتُ الدُّودِ ﴾. او زه د چينچيو کوريم.(١)

نو ما لره بغير د توبې او تيارى مه راځه.

په دنيا کي انسان ښائسته کور جوړوي، او په هغه کي د ځان د راحت او آسانۍ بندوبست تياروي، او هم په دنيا کي د سرې پر خپلو قريبانو او پر آل او اولاد او پر مال او دولت باندي اعتماد وي، چي دا به د مشکلاتو په وخت کي زما مرسته او کومک کوي.

لېکن د قبر په زندګي کي دا يو شى هم سړي لره په ښه نه ورځي، ځکه الله تعالى د هغې زندګۍ په باره کي فرمايي:

..........يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ،﴾.(٢)

د قيامت په ورځ به نه مال انسان لره په کار ورځي، نه اولاد.

.........إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ،﴾.(٣)

هلته انسان ته صرف قلب سليم فائده ورکوي، يعني هغه زړه چي دهغه په دنيا کي د نافرمانۍ څخه حفاظت سويوي.

---

(١) الاستعداد للموت: المبحث التاسع والعشرون مخاطبة القبر: صفحه نمبر ٢٩٩
(٢) سورة الشعراء، آيت نمبر ٧٧
(٣) سورة الشعراء، آيت نمبر ٧٨

## د حضرت عثمان غني ﷺ ژړا:

حضرت عثمان غني ﷺ چې به کله قبرستان او هديرې ته راغلی، نو دومره زيات به ئې ژړل، چې ږيره مبارکه به ئې په اوښکو باندې لنده سوه، يوه ورځ يو شاګرد پوښتنه ځنې وکړه: چې حضرت! ته چې کله قبر ووينې، نو ولې دومره زيات ژاړې؟

ده مبارک ورته وويل:

........إِنَّ الْقَبْرَ أَوَّلُ مَنْزِلٍ مِنْ مَنَازِلِ الْآخِرَةِ ، فَإِنْ نَجَا مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَيْسَرُ مِنْهُ ، وَإِنْ لَمْ يَنْجُ مِنْهُ فَمَا بَعْدَهُ أَشَدُّ مِنْهُ﴾.(١)

قبر د آخرت د منازلو څخه اول منزل دی، کچيرې په دې کې الله تعالی انسان ته نجات ورکړي، نو وروسته منازل بيا آسانه دي.

او که دلته انسان دمشکلاتو سره مخامخ سو، نو بيا خو وروسته منازل د دې څخه زيات سخت دي.

## پر دوو (٢) انسانانو د مځکې تعجب:

په کتابو کې ليکلي دي: چې مځکه پر دوو (٢) انسانانو ډېر زيات تعجب کوي:

يو هغه انسان: چې نرمه بستره ځان ته برابره کړي، او ورباندې ويده سي، نو مځکه پر دغه انسان تعجب کوي، چې تاخو د ځان لپاره په دنيا کې نرمه بستره برابره کړه، دا هم دريياد کړه: چې کله ته يو ورځ زما غېږې ته راسې، نو هلته به ستا څنګه نرمه بستره او څنګه حالت وي.

دوهم دا: چې کله د مځکې پر يو حصه باندې دوه (٢) انسانان دعوه کوي، يو وايي: چې دا زما ده، او دوهم وايي: دا زما ده، نو مځکه پر دوی تعجب کوي: چې اې زما پر ملکيت باندې جګړه کونکو انسانانو! ستاسو څخه مخکې هم ډېر زورور انسانان تېر سول، چې زه ئې د ځان ملکيت بللم، هغه ټول ولاړو، تاسو ورسئ! پوښتنه ئې وکړئ! چې اوس ئې کم حالت دی، زما مالک الله تعالی دی.

---

(١) الزهد لهناد بن السري، حديث نمبر ٣۴۴

## د انسان په قبر کي بېوزلي،

په دنیا کي ډېر ځله د انسان و مخته تکلیفونه، ناجوړی، مشکلات، او پرېشانی راځي، نو انسان همېشه دا سوچ او فکر لري: چي یوه ورځ به ختم سي.
لیکن کچیري په قبر کي انسان ته مشکلات او پرېشانی مخته راسي، نو هلته به بیا انسان څه کوي؟ ځکه په قبر کي صرف تنهائي ده، هیڅ د خبرو اورېدونکی نسته، او په قبر کي خاموشي ده، هیڅ خبري کونکی نسته.

## د عبرت وېناوي:

بعضي خلګ په دنیا کي د ښه لباس او جامو زیات شوقي وي، نو هغه دي د قبر لباس چي سپین کفن دی هم یو وخت وریاد وی.
کله خو نوجوانان د خپلو دوستانو په مجلسو کي په خندا نه مرېږي، نو هغه دي لږ د مرګ خاموشي هم په دماغ کي راګرځوي.
بعضي خلګ په دنیا کي د لذتو او خوندو او د ښو خورکو شوق لري، نو هغه دي د خپل بدن د قبر د چینجو د خورک هم لږ تصور وکړي.
چي کم څوک په دنیا کي په عالیشانه او ښائسته کورو کي ژوند کوي، نو هغه دي د قبر بېوزلي هم ومخته ایږدي.
نن په دنیا کي د انسان کور د ساز او سامان څخه ډک وي، بیا هم انسان دا فکر کوي: چي زما ضرورتونه ډېر زیات دي، او سامان کم دی، خدانخواسته: کچیري په قبر کي انسان ته ضرورت ور پیښ سو، نو هلته خو نه سامان سته، او نه اسباب هلته صرف انسان لره نیک عمل په ښه وزځي.

## الله تعالی ته خپله عاجزي پېشول:

بیا خاص په دې اوسنیو حالاتو کي په عاجزي سره خپل رب ته د ننواتي په شکل خپل ځان پېشول، او د خپلو اعمالو معافي د الله تعالی څخه طلب کول.
ځکه نن چي زموږ پر وطنونو کمه وبا او مرض راغلی دی، نو زموږ او ستاسو حکومتونه او طبیبان خو د هغه لپاره ډېر زیات احتیاطي تدابیر پېشوي، او هر ځای دا وایي: چي موږ د دې مقابله کوو.

لېکن زه دا وایم: چي مرض او وبا او آفت دوه قسمه وي:

- یو زمیني وي.
- او بل آسماني وي.

د زمیني مرض علاج په تدابیرو او په اسبابو سره ممکن وي، لېکن کچیري آفت او وبا او مرض آسماني سوه، یعني د آسمان د طرفه مسلطه سوه، بیا د هغه څخه د خلاصون صرف یوه لار ده، چي: آسمان والا ته عاجزي کول، او دهغه په حضور کي خپل ځان ېپوسه او عاجزه ښکاره کول.

## د "هارون رشید" بادشاه واقعه:

خلیفه هارون رشید دعباسي خاندان پنځم(۵) خلیفه وو، عباسي خاندان دېره اوږده زمانه پر اسلامي دنیا باندي حکومت وکړی، لیکن په هغوی کي شهرت الله تعالی صرف هارون رشید ته ورنصیب کړی.

یو ځل د ده په دور کي دېزه لویه قحطي راغله، دهغې اثرات د "سمرقند" څخه ونیسې، بیا تر "بغداد" پوري او د "کوفې" څخه ونیسې، بیا تر "مراکش" پوري ښکاره سول.

"هارون رشید" د قحطۍ څخه دخپل رعیت د ایستلو لپاره ټول تدبیرونه وکړل، هغه د غلې ګدامونه ورته خلاص کړل، او ټکسونه ئې معاف کړل، او په ټول سلطنت کي ئې حکومتي لنګرخانې خلاصي کړې، او ټوله مالداران او تجاران ئې د قحطۍ څېلو د مدد لپاره راوبلل.

لېکن د هغه باوجود د رعیت پحال کي بهبودي او آبادي نه راتلله، او ټول رعیت ژوند په تکلیف کي تېراوی.

یوه شپه "هارون رشید" بادشاه په دېره پرېشاني کي وو، چي دهغې په وجه ده لره خوب نه ورتلی، نو د دغه پرېشانۍ په دوران ده خپل لوی وزیر یحی بن خالد راطلب کړی، "یحی بن خالد" د "هارون رشید" استاد هم وو، او هغه د ده د ماشوموالي په وخت کي د ده تربیت هم کړی وو،

هارون رشید "یحی بن خالد" ته د خپلې پرېشانۍ اظهار وکړی، او ورته وئې ویل: یو داسې خبره راته وکړه؛ یا یو داسې داستان راته بیان کړه: چې د هغه په اورېدلو باندې زما په طبیعت کې یو څه آرام او خوشحالي راسي.

یحی بن خالد ورته وخندل، او ورته وئې ویل: بادشاه سلامت! ما د الله د یو نبي د ژوند په دوران کې د هغه وخت یو داستان په یو کتاب کې لیکلی دی، نو که ستا اجازت وي، زه به هغه داستان ستا ومخته پیش کړم.

بادشاه په ډېره بېتابۍ سره ورته وویل: استاد محترم! ضرور ئې راته پیش کړه، چې د ډېرې پرېشانۍ څخه مې نفس زیات تنګیږي، "یحی بن خالد" ورته وفرمایل؛ بادشاه سلامت! په یو ځنګله کې یو بېزو اوسېدله، او دهغې یو بچی وو.

یو ځل هغه پر یو سفر روانېدله، او دهغې بچی دې د ځان سره نسو وړلای، او نه هغه بچي پر خپلو پښو د دې سره سفر کولای سو، نو دې د ځان سره دافکر وکړی؛ چې چونکه د ځنګله بادشاه زمری دی، نو زه به خپل بچی هغه ته په امانت کې ورکړم، چې تر څو پورې زه د سفر څخه واپس راځم، نو زما دبچي حفاظت به دی را لره وکړي.

نو چې کله ئې د سفر د روانېدو وخت سو، نو زمري ته راغله، او ورته وئې ویل: چې جناب! ته خو د ځنګله بادشاه ئې، او زما قصد د سفر دی، او زړه مې دا غواړي: چې زما د دغه بچي حفاظت زما تر راتلو پورې ته را لره وکړې.

نو هغه زمري ورسره خوښه کړه، نو دې هغه بچی هغه ته ور حواله کړی، او پخپله په سفر روانه سوه، اوس هغه زمری هره ورځ د دې دبچي حفاظت کوي، او پر خپلو اوږو ئې اخیستی وي، او په ځنګله کې خپله ورځ تېروي، او د هغه بچي حفاظت کوي.

یوه ورځ زمری په ځنګله کې ګرځي، او هغه د "بیزو" بچی په یو ګنج کې په مځکې بازۍ کوي، نو یو دم یو آسماني مرغه د آسماني فضا څخه ور باندې راغوټه سو، او هغه د "بیزو" بچی ئې پخپلو منګولو کې پورته کړی، او د آسمان په فضا کې ورک سو.

زمری په ځنګله کې منډې کړلې، یو طرف او بل طرف وګرځېدی، لیکن هغه مرغه ئې نه ونیوی، او نه ئې د بیزو بچی ځنې خلاص کړی.

"یحی بن خالد" خلیفه هارون رشید ته وویل: بادشاه سلامت! یو څو ورځي بعد چي هغه "بیزو" واپس راغلله، او د زمري څخه ئې د خپل بچي مطالبه وکړه، زمري په ډېره شرمندګي سره جواب ورکړی: چي ستا بچی خو مرغه را څخه پورته کړی، نو هغه "بیزو" په ډېره غصه باندي چیغي کړې، او ورته وئې ویل: ته څنګه بادشاه ئې! چي د یو امانت حفاظت نسې کولای، نو بیا به د ټوله ځنګله نظام څنګه وچلوې؟

هغه زمري د ډېر افسوس په حالت کي خپل سر ورته وښوراوی، او ورته وئې ویل: زه خو د ځمکي بادشاه یم، کچیري دغه آفت د ځمکي د طرفه ستا پر بچي راغلی وای، نو ما به د هغه مقابله کړې وای.

لیکن دا آفت د آسمان د طرف څخه راغلی، او د آسمان آفتونه صرف آسمان والا ګرځولای سي، بل څوک د هغه مقابله نسي کولای.

د دغه قصې بیانولو څخه وروسته "یحی بن خالد" هارون رشید ته وویل: بادشاه سلامت! د قحطی چي کم آفت راغلی دی، کچیري د ځمکي د طرف څخه وای، نو تا د هغه مخ نیولای سو.

لیکن دا عذاب د آسمان د طرف څخه دی، د دې مخ نیولو صرف آسمان والا یعني الله تعالی کولای سي، نو د دې څخه د ځان د خلاصون لپاره د ځان څخه بادشاه مه جوړوه، بلکه فقیر جوړ کړه، او خپل رب ته خپله عاجزي پیش کړه، نو الله تعالی به دا آفت ختم کړي.

نو زه اوس هم دا وایم: چي په دنیا کي آفتونه دوه قسمه وي:

- آسماني.
- او زمیني.

د آسماني آفت څخه د حفاظت لپاره د الله تعالی راضي کول ضروري دي، او د زمیني آفت څخه د انسانانو متحد کېدل او د وسائلو استعمال کول او د حاکمانو اخلاص ضروري وي.

"یحی بن خالد" هارون رشید ته وویل: بادشاه سلامت! آسماني آفت تر هغه وخته نه ختمیږي، چي تر څو پوري انسان خپل رب راضي نکړي، نه د دغه آفت مقابله د بادشاهی په شکل کي نسي کولای، نه به د ځان څخه فقیر جوړوې، او خپل رب ته به

عاجزي کوي، او د خپلو بدو اعمالو څخه به توبه کاږي، بیا به د هغه آفت دفاع کول کیږي.
د دنیا د ټولو مسائلو او د هغه دحل په مابین کي صرف دومره فاصله وي: لکه د تندي او د لمانځه دځای په درمیان کي چي څومره فاصله وي، لیکن افسوس موږ د خپلو مسائلو لپاره د ټولي مځکي د مخ فاصله پرېکوو، لیکن د تندي او دسجدې دځای په مابین کي چي څومره فاصله ده، هغه نسو پرېکولای.
نو زه دا وایم: چي دا اوسني آفات هم آسماني دي، نو د دې دفاع په وسائلو او په احتیاطي تدابیرو سره نکیږي، د دې د حفاظت صرف یوه لار ده: چي خپل رب ته عاجزي پېشول، او د خپلو بدو اعمالو څخه معافي غوښتل، او هم دهغه څخه توبه کول، او خپل رب د ځان څخه راضي کول، چي دهغه لپاره دغه اوسنۍ ورځي او شپې بهترین او مبارکترین فرصت دی.
الله تعالی دي موږ ته د دغه فرصت د ګټي اخیستلو توفیق راکړي، او هم دي و خپل دربار ته د توبې او عاجزۍ پېشولو ترتیب په دماغ کي راکښېنوي، او ټوله امت مسلمه دي الله تعالی د دغه مرض او وبا څخه حفاظت وکړي.
الله تعالی دي د مسلمانانو پر ځای پر کافرانو مسلطه کړي، چي دهغوی دهدایت ذریعه وګرځي، که به ئې په نصیب کي هدایت نه وي، بیا دي الله تعالی دمسلمانانو انتقام په دغه شکل د دوی څخه واخلي، او الله تعالی دي دا څو خبري قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمین یارب العالمین)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّنْ دَعَا إِلَى اللّٰهِ (الآیہ)

# هاکمان د اعمالو فوندي وي

(بیان)

مولوی اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

ترتیب وتخریج:

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب (فاضل دار العلوم کراچی)

سابق استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاون) چمن

مکتبہ سلطانیہ الهاشمیہ

کاسی روڈ کوئٹہ

| | |
|---|---|
| تقریر | الحاج مولوي اطيع الله صاحب |
| ترتیب وتخریج | مفتي حافظ كليم الله صاحب |
| مقام | جامع مسجد حاجي عبدالودود مرحوم چمن |
| اشاعت | اول |
| تاریخ | ۱۶ رمضان المبارک ۱۴۴۱ بمطابق ۱۰ مئی ۲۰۲۰ |
| تعداد | (۱۱۰۰) |

بسم الله الرحمن الرحیم

إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ:

فَأَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿إِنَّ اللّٰهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ﴾.(1)

وَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: ﴿عن عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ الصَّامِتِ قَالَ: سَأَلْتُ خَلِيلِي أَبَا ذَرٍّ فَقَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَضُوءٍ فَحَرَّكَ رَأْسَهُ وعضَّ عَلَى شَفَتَيْهِ قُلْتُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي آذَيْتُكَ قَالَ: لَا وَلٰكِنَّكَ تُدْرِكُ أُمَرَاءَ أَوْ أَئِمَّةً يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا، قُلْتُ: فَمَا تَأْمُرُنِي؟ قَالَ: صَلِّ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا، فَإِنْ أَدْرَكْتَ مَعَهُمْ فَصَلِّهِ وَلَا تَقُولَنَّ صَلَّيْتُ فَلَا أُصَلِّي﴾.(2)

آمَنْتُ بِاللّٰهِ صَدَقَ اللّٰهُ مَوْلَانَا الْعَظِيمِ وَ صَدَقَ رَسُولُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيمِ، وَ نَحْنُ عَلٰى ذٰلِكَ مِنَ الشَّاهِدِيْنَ وَالشَّاكِرِيْنَ وَ الْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

## تمهید:

محترمو حاضرینو! ستاسو په حضور کي ما د پیغمبر ﷺ یو حدیث مبارک پیش کړی، چي د هغه اول روایت کونکی: یعني چي کم چا پخپلو غوږو د پیغمبر ﷺ څخه اورېدلی دی، مشهور صحابي: حضرت ابوذر غفاري ؓ دی.

د حضرت ابوذرغفاري ؓ شاګرد حضرت عبدالله بن صامت رحمة الله علیه چي د تابعینو څخه دی، د ده څخه دغه مبارک حدیث رانقل کړی دی، حضرت عبدالله بن صامت رحمة الله علیه فرمایي: چي ما یو ځل د خپل مشفق استاد حضرت ابوذرغفاري ؓ څخه یو پوښتنه وکړله.

(1)سورة الرعد: آیت نمبر ۱۱

(2)الادب المفرد بالتعلیقات، باب تحریک الراس و عض الشفتین، صفحه نمبر ۵۲۶

ده د هغه پوښتني په جواب کې ماته يوه واقعه بيان کړه: چې زه يو ځل د پيغمبرﷺ ملاقات ته راغلم، چونکه د پيغمبرﷺ حضور ته راتلل، او د هغه ملاقات کول، او دهغه مبارک مخته کتل دا ټول عبادات وو، نو صحابه کرامو به د دې ډېر زيات کوشش کاوی.

حضرت ابوذرغفاري رضي الله عنه وايي: چې پدې وخت کي د اوداسه وخت وو، او زه په دې پوه سوم: چې د پيغمبرﷺ مبارک د اوداسه کولو اراده ده، نو ما ژر د ده د خدمت کولو پخاطر د اوداسه اوبه ورته راوړې.

ما اوس مخکي هم درته وويل: چې د صحابه کرامو د پيغمبرﷺ سره عجيبه عشق وو، چي ټوله ورځ به ئې د ده مخته کتل، نو په هغه به نه مړېدل، بيا چي به دی مبارک د شپې په وخت کي يا د غرمې په وخت کي حجرې ته ننواتی، نو دوی به بيا هغه حجرې ته ډېر کتل، چي دا هغه مبارک ځای دی: چي زموږ محبوب په دي کي آرام کوي، نو بيا به د دوی د سترګو خنکوالی و حجرې ته په کتلو کي وو، او همېشه به د يو داسي عمل په تلاش کي وو: چي په هغه سره دوی ته د پيغمبرﷺ د خدمت کولو شرف ور نصيب سي.

نو حضرت ابوذر رضي الله عنه د پيغمبرﷺ د خدمت کولو پخاطر اوبه ورته راوړې، پيغمبرﷺ د خپل عادت خلاف سر وښوراوی، لکه: يو څوک چي پر يو کار باندي ډېر تعجب کوي، او هم ئې پخپلو غاښو مبارکو شونډان ونيول، لکه يو سړی چي پر يو کار باندي خپل افسوس ښکاره کوي.

ما چي کله د پيغمبرﷺ دا عمل وليدی، نو ډېر په خوف او بېره کي سوم، چي هسي نه زما د يو عمل څخه وده ته تکليف رسېدلی وي، ځکه پخپل قول او فعل او عمل سره پيغمبرﷺ ته تکليف رسول، دا صحابه کرامو دخپلي زندګی د ټولو څخه زيات نقصاني عمل بالی.

نو دی وايي: ما دستي د پيغمبرﷺ څخه پوښتنه وکړه:

.........بِأبِي أَنتَ وَأُمِّي آذَيْتُكَ؟﴾.

زما مور او پلار دي در تا قربان وي، ايا زما د يو عمل څخه تاته تکليف ورسېدی؟ او زما يو عمل تاته په دماغ کي ناخوښه درغلی.

ده په جواب کې راته وویل: "لاَ" ستا د هیڅ قول او عمل څخه ماته هیڅ قسم تکلیف نه دی رسېدلی، بیا ده مبارک ماته د هغه سر ښورولو یا د شونډانو چیچلو وجه بیان کړه.
در حقیقت: پیغمبر ﷺ ته پدې وخت کې د وحي په ذریعه راتلونکي یو څه واقعات او حالات د امت ور ښکاره سول، نو هغه واقعات د ده لپاره باعث د تعجب او باعث د افسوس وو، نو ده پر هغه باندي سر وښوراوی، او هم ئې خپل شونډان مبارکان وچیچل، او پر دغه واقعاتو باندي د افسوس او د تعجب د اظهار په طور ده دغه حرکت وکړی.
پر پیغمبر ﷺ چي به وحي راتلې، د هغه یو شکل دا وو: چي حضرت جبرائیل علیه السلام به هغه ده ته ویلې، او ده مبارک به پخپل دماغ کي محفوظه کولې، چي هغه ته وحي متلو ویل کېدلې، چي د هغه شکل قرآن کریم وو، چي پر ده به نازلېدی.
او د وحي یو شکل غیر متلو هم وو، چي الله تعالی به په طریقه د هدایت او په طریقه د فیض د ده په زړه کي د راروانو زمانو څه حالات او واقعات په دماغ کي ور کول، نو په دې وخت کي بظاهر پر پیغمبر ﷺ باندي دغه دوهم قسم وحي نازلي سویوې.

## حکمرانان به لمونځ ځنډوي:

چنانچه حضور اقدس ﷺ حضرت ابوذر غفاري رضی الله عنه ته وفرمایل:
..........وَلَكِنَّكَ تُدْرِكُ أُمَرَاءَ أَوْ أَئِمَّةً يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا﴾.
یعني زما د رخصت څخه وروسته به اې ابوذره! ته داسي حکمرانان وویني: چي هغه به لمونځ د خپل وخت څخه ځنډوي، یعني د لمانځه چي کي کم صحیح وخت دی، او په هغه کي لمونځ کول کیږي، په هغه وخت د کولو پر ځای به دوی د لمانځه په کولو کي د ډېر ځنډ او تأخیر څخه کار اخلي.

## حکمران د مسجد امام:

د پیغمبر ﷺ سنت دا وو: او د ده څخه وروسته په خلفاء راشدینو کي هم دغه سنت جاري وو، او د هغوی څخه وروسته چي کم حاکمان راتلل، هغوی هم تر ډېره وخته پوري دغه سنت جاري وساتی.

چي کمځوک د ملک حاکم وو، هغه به د لمانځه امامت کاوی، چنانچه پيغمبر ﷺ د خپل وخت حکمران هم وو، او په "مسجد نبوي" کي به د ده په ژوند کي امامت هم همېشه ده کاوی.
د ده څخه وروسته حضرت صديق اکبر ﷛ د ټولو مسلمانانو خليفه وو، خو د هغه هم داغه طريقه وه: چي د لمانځه امامت به ده کاوی، د هغه څخه وروسته حضرت عمر ﷛ د ټولو مسلمانانو امير المؤمنين وو، چي دي د لمانځه د امامت کولو په وخت کی په شهادت ورسېدی.
د حضرت عثمان غني ﷛ او د هغه څخه وروسته د حضرت علي ﷛ هم داغه معمول وو: چي امامت به ئې د ځان وظيفه بلله، دهغه څخه وروسته چي کم امراء راتلل، هغوی به هم تر ډېره حده دغه طريقه جاري ساتله.
لېکن بعضي امراء داسي وو: چي د دين د حدودو زياته پابندي کونکي نه وو، نو چي به کله د لمانځه د امامت کولو لپاره راوتل، نو همېشه به د دوی څخه د لمانځه په کولو کي ځنډ او تاخير کېدی.

## د لمانځه تاخير کونکي حاکمان:

دا خبره خاص د "حجاج بن يوسف" او د "زياد بن ابي سفيان" په باره کي مشهوره وه: چي کله دوی د کوفې واليان سول، نو په دوی کي "حجاج بن يوسف" ډېر خطيب او مقرر انسان وو، الله تعالی ډېره فصيحه او صفا ژبه ور کړې وه، نو ده چي به کله د جمعې د لمانځه څخه مخکي تقرير کاوی، نو په هغه کي به ډېر وخت تېر سو، او لمونځ به دومره وځنډېدی: چي دماځيګر وخت به ورباندي را قريب سو، او په لمانځه کي به ډېر تاخير او ځنډ راغلی.
بهر حال پيغمبر ﷺ په دې حديث مبارک کي و دغسي حاکمانو ته اشاره کوله، نو به ئې ابو ذر ﷛ ته فرمايل: تاسو به داسي حاکمان ووينئ: چي هغه به خپل لمنځونه د خپلو وختونو څخه ځنډوي، او د لمانځه په ادا کولو کي به تاخير کوي.

## پر دغه موقع د پيغمبر ﷺ حکم:

حضرت ابوذر غفاري ﷛ د پيغمبر ﷺ څخه پوښتنه وکړه:

.........فَمَا تَأمُرُنِي؟﴾.
اې د الله رسوله! چې کله هم داسې موقع راسي، نو زه به څه کوم؟ او ته و ماته کمه لار په لاس راکوې؟ ایا زه د لمانځه کولو لپاره د دوی انتظار وکړم؟ او که خپل لمونځ پر خپل وخت وکړم؟
پیغمبر ﷺ په جواب کي ورته فرمایي؛
.........صَلِّ الصَّلَاةَ لِوَقْتِهَا،﴾.
ته خپل لمونځ پر وخت باندي کوه، یعني: چې کله د لمانځه وخت راغلی، او د دې خبري وېره وه: چې دا انتظار په نتیجه کي به وخت زما څخه تېر سي، نو لمونځ پر خپل وخت باندي کوه.
او بیا ورته فرمایي؛
.........فَإِنْ أَدْرَكْتَ مَعَهُمْ فَصَلِّهِ﴾.
او وروسته کچیري تا ته د دوی سره د جماعت لمونځ په لاس درځي، نو د دوی سره هم لمونځ وکړه، یعني د نفلو په نیت، د دوی سره د جماعت په لمانځه کي شریک سه، او د دې سره دا هدایت هم ورته کوي؛
.........وَلَا تَقُولَنَّ صَلَّيْتُ فَلَا أُصَلِّي﴾.
او دا هیڅکله مه وایه: چې ما خو خپل لمونځ کړیدی، اوس زه لمونځ نکوم، بلکه د دوی سره په لمانځه کي شریک سه.

## درې (۳) خبري؛

نو په دې حدیث مبارک کي پیغمبر ﷺ حضرت ابوذر غفاري ؓ ته څلور خبري کړي دي؛

۱. اوله خبره دا؛ چې حکمرانان به داسې راځي؛ چې هغه به لمونځ تر خپل وخت ځنډوي.
۲. او دوهمه خبره دا؛ چې ته به خپل لمونځ پر وخت ادا کوې، او دهغوی انتظار به نکوې.
۳. او دریمه خبره دا؛ چې د هغوی سره به هم په جماعت کي وروسته شرکت کوې.

۴. او دا به نه وايي: چي ما لمونځ کړيدی، او بل ځل ئې نکوم.
زه ستاسو په حضور کي د دې خبرو لږ تشريح او وضاحت کوم: الله تعالی دي ماته د صحيح وضاحت کولو توفيق راکړي، او هم دي موږ او تاسو ټولو ته پر دې باندي د عمل کولو توفيق رانصيب کړي.

## د اولې خبري وضاحت:

د اولي خبري په وضاحت کي فقهاء کرامو دوه(۲) احتماله بيان کړيدي، يو احتمال دا: چي په دې حديث کي چي پيغمبرﷺ دا فرمايلي دي: چي حاکمان به لمونځ تر خپل وخت ځنډوي.
د دې معنی دا نده: چي لمونځ د قضا و حد ته رسوي، بلکه د لمانځه چي کم مستحب وخت وي، او په هغه کي لمونځ کول مناسب وي، د هغه څخه ئې ځنډوي، او چي دی په کم وخت کي لمونځ کوي، نو وخت خو پاته وي، لېکن مستحب وخت تېر سوی وي.
نو پر دغه موقع باندي پيغمبرﷺ حضرت ابوذرغفاري رضي الله عنه ته دا حکم کوي: چي چونکه تاته معلومه نده، چي دی به څومره لمونځ ځنډوي، هسي نه چي د قضا و حد ته ئې ورسوي، نو ته خپل لمونځ په مستحب وخت کي کوه، او د هغه انتظار مکوه.
بعضو نورو حضراتو بيا د دې حديث تشريح داسي کړېده: چي هغه حکمرانان به خپل لمونځ قضا کوي، مثلاً د جمعې د لمانځه د امامت کولو لپاره چي کله راسي، نو دومره اوږد تقرير او خطبه پېشوي: چي د ماپښين د لمانځه وخت ځني تېر سي، او د ماځيگر د لمانځه وخت را داخل سي.
لکه دا عمل: د بنوعباسيو په حاکمانو کي لېدل سوی هم دی، بنوعباسيو ته الله تعالی ډېره زياته زمانه حکومت ور کړی، د دوی ابتدائي بادشاهان لکه: هارون رشيد، او يو څه نور ډېر ديندار انسانان وو.
لېکن په آخر کي چي د دوی کم حاکمان راتلو، نو هغه د دين څخه ډېر ليري انسانان وو: د بنو عباسيو يو خليفه يو ځل د اختر په ورځ د عيدگاه لمانځه ته راتلی، نو د ده مخته خلکو ډولونه ټکول، او اتڼونه، مېلې او تماشې ئې ورته کولې، ده دومره ځنډ وکړی:

چي د ماځیګر د لمانځه څخه بعد دعیدګاه میدان ته راغلي، او د آختر لمونځ ئې وکړی.
یو ځل داسي هم وسو، چي د سهار د لمانځه څخه بعد را روان سو، مخته ئې مېلې او تماشې شروع سوې، چي د عیدګاه میدان ته دی د ماخستن د لمانځه څخه بعد را ورسېدی.(¹)
نو پر دغسي مواقعو باندي پیغمبرﷺ حضرت ابوذرغفاري‌ؓ ته وایي: چي ته خپل لمونځ پر وخت باندي کوه، او د دغه حاکمانو د لمانځه په انتظار مه ورته کښېنه.

## د دوهمي خبري وضاحت،

دوهمه خبره پیغمبرﷺ دا ورته کوي: چي کله دوی په جماعت سره لمونځ کوي، نو ته هم د دوی په جماعت کي شرکت ور سره کوه، یعني: د نفلو په نیت د دوی په جماعت کي درېږه،
او په دغه حکم باندي عمل صرف د ماپښین په لمانځه کي او د ماخستن په لمانځه کي کېدای سي، مثلاً د ماپښین لمونځ کچیري یو سړی په یو وجه سره یوازي وکړي، او وروسته جماعت ودرېږي، نو دا سړی باید په جماعت کي دنفل لمانځه په نیت سره شریک سي،
یا یو څوک د ماخستن لمونځ یوازي وکړي، وروسته جماعت ودرېږي، نو پکار دا ده: چي دنفلو په نیت په جماعت کي شریک سي، ځکه چي کم لمونځ ده کړېدی، هغه خو فرض وو، اوس دي دنفل لمانځه نیت وکړي،
لیکن د سهار په لمانځه کي په دغه حکم عمل نسي کېدلای، ځکه چي کله ته د سهار لمونځ ادا کړې، نو اوس د هغه څخه وروسته نفلي لمونځ نسي کېدای، یا چي ده د ماځیګر لمونځ وکړی، نو تر ماښامه پوري نفل لمونځ کول د ده لپاره جائز ندي، نو اوس انسان د نفلو په نیت په جماعت کي شراکت نسي کولای،
او په ماښام کي بیا په دې وجه په دغه حکم عمل نسي کېدای، چي کله یو سړي د ماښام دري(۳) رکعته لمونځ یوازې وکړی، نو د هغه څخه وروسته چي کله جماعت

(¹)تاریخ الخلفاء بحواله شاهکار تقاریر، صفحه نمبر ۲۲۲

ودرېږي، نو په هغه کې دنفلو نیت نسي کولای، ځکه، چې نفل درې(۳) رکعته راغلي ندي، یابه دوه(۲) رکعته وي، یابه څلور(۴) رکعته وي.
نو پیغمبر ﷺ چې کمه خبره حضرت ابوذرغفاري ته کړېده، او په دغه حدیث کي رانقل سوېده، نو په هغه خبره باندي عمل په پنځو لمنځو کي صرف دماپښېن، او ماخستن په وخت کي کیدای سي، په نورو اوقاتو کي نسي کیدای.

## د دریمې خبرې وضاحت:

دریمه خبره پیغمبر ﷺ په دې حدیث کي حضرت ابوذر ﷺ ته دا کړېده: چې کله جماعت ودرېږي، نو ته په هغه کي شمولیت کوه، او دا مه وایه: چې ما خو لمونځ کړېدی، نو اوس ئې نکوم.
د دې خبرې علماؤ دوه مطلبه بیان کړېدي:

۱. یو مطلب دا دی: چې لمونځ داسي عمل دی، چې د هغه څخه څوک انکار نسي کولای، ځکه پیغمبر ﷺ د لمانځه اقامت د ټوله دین اقامت بللی دی، نو چې انسان ته کله د لمانځه کولو موقع په لاس ورسي، که څه هم نفلي لمونځ وي، نو دهغه څخه انکار کول، د یو مؤمن سره مناسب ندی، لهذا که تا فرض لمونځ کړی هم وي، بیا هم په جماعت کي شریک سه، او دا مه وایه: چې ما خو لمونځ کړی دی، اوس ئې نکوم، بلکه مستحب او بهتره دا ده: چې دنفلو په نیت باندي لمونځ وکړي، انشاء الله تعالی به د دغه لمانځه ثواب درکړي، نو په دې صورت کي د پیغمبر ﷺ دغه حکم مستحب دی، څه فرض او واجب ندی.
۲. بعضي علماؤ بیا دا وجه بیان کړېده: چې الله تعالی پیغمبر ﷺ ته د را روانو حالاتو ډېر زیات علم ورکړی وو، هغه ته دا معلومه وه: چې په را روان وخت کي به داسي حاکمان راځي: چې لمونځ به ځنډوي، او دا حاکمان به ظالمان خلک وي، چې کم خلک د دوی پر مزاج نه ورسره چلېږي، او د دوی په لمنځو کي شراکت نه ور سره کوي، نو دوی د هغه سره ظلم کوي، او هغه ته سزا ورکوي، چنانچه د حجاج بن یوسف او د زیاد بن ابي سفیان په باره کي په

تاریخي روایاتو کي دغه شان خبري موجودي دي، چي کله به د یو سړي متعلق دا ور معلومه سوه، چي دی زما د خوښي خلاف چلیږي، نو پر هغه باندي به ئې ظلم کاوی.

پیغمبرﷺ حضرت ابوذرغفاريؓ ته داخبره وکړه: چي کله د دوی جماعت ودریږي، نو دا مه ورته وایه: چي ما لمونځ کړیدی، اوس ئې نکوم، ځکه د دې په تیجه کي دا کیدای سي، چي هغه خلک به پرتا باندي ظلم وکړي، چي تا ولي لمونځ کاوی؟ او زموږ انتظار دي نکاوی، نو دهغوی د ظلم څخه د حفاظت په خاطر د دوی سره لمونځ کوه.

## د ظالم د ظلم څخه ځان محفوظه کول:

د دې حدیث سره علماء کرامو دا مسئله هم لیکلې ده، کچیري ظالم حکمران وو، او دهغه د ظلم څخه د حفاظت په خاطر یو سړی یو داسې تدبیر برابر کړي، چي په هغه کي دی حرام عمل ته نه مجبوره کیږي، نو د ده لپاره هغه تدبیر کول مناسب دي، خامخاه خپل ځان د هغه ظالم د ظلم نښانه جوړول ښه عمل ندی، چنانچه د صحابه کرامو به هم دغه شان معمول وو.

## د صحابه کرامو معمول:

چي په کم وخت کي د "حجاج بن یوسف" زمانه وه، او په هغه زمانه کي ډېر زیات صحابه کرام موجود ول، او په کوفه او بصره کي د "حجاج" حکومت وو، او هلته ډېر صحابه کرام اوسېدل.

په روایاتو کي راځي، چي حضرت عبدالله بن عمرﷺ غونډي جلیل القدر صحابي هم د جمعې دلمانځه لپاره به ناست وو، چي کله به خطبه او تقریر ډېر اوږد سو، او د لمانځه د قضا وخت به رانژدې سو، او دغه خطبه او تقریر به حجاج پخپله کاوی، نو په دېوخت کي به حضرت عبدالله بن عمرﷺ په یو کونج کي په پټه خپل لمونځ وکړی، او بیا به ئې انتظار کاوی، چي کله به جماعت ودرېدی، نو د هغوی سره به هم په جماعت کي شامل سو، چي دهغوی د ظلم او ستم څخه خپل ځان محفوظه کړي.

## د ابن عمر ﷺ احتیاط او ملګرو ته وصیت:

په دې وخت کي به ډېرو ملګرو حضرت عبدالله بن عمر ﷺ ته ویل؛ چي ته ولي د ده خلاف بغاوت نکوې، څکه دا ټول خلک ستا ملګري کوي، دا زموږ حاکمان خو داسي خلک دي؛ چي هر کار ئې د شریعت خلاف دی، او دلمانځه په وخت کي هم ډېر تأخیر کوي.

ده به ورته ویل: چي زه د دوی خلاف بغاوت څکه نکوم: چي ماته په هیڅ قیمت دا خبره منظوره نده: چي مسلمانان دي پخپل مابین کي یو د بل خلاف توري راپورته کړي.

نو څکه زه په خاموشي سره خپل لمونځ کوم، او د الله تعالی څخه د دعا په ذریعه د حالاتو بدلېدل غواړم، او تاسو ته دا وصیت کوم؛ چي تاسو د خپلو اعمالو د صحیح کولو فکر وکړئ، او هم د هغه د اصلاح کوشش وکړئ، ستاسو حاکمان به پخپله صحیح سي.

## چي څنګه عمل، هغسي حکمران:

په یو روایت کي پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: چي کله پر تاسو باندي ظالمان حاکمان مسلط سي، تاسو هغوی ته بد او رد مه وایاست، او مه هغوی ته ښکنځل کوئ، بلکه په دېوخت کي د خپلو اعمالو د اصلاح کوشش وکړئ، څکه چي د حکمرانانو مقرر کول د الله په قبضه کیدي، او د حاکمانو زړونه سختول او نرمول دا هم د الله تعالی په قدرت کیدي.

نو د دې پر ځای چي تاسو حاکمانو ته بد او رد وایاست، د خپلو اعمالو اصلاح وکړئ، او د الله تعالی و طرفته متوجه سئ، او د الله تعالی څخه دا دعا وغواړئ؛ چي یا الله! د دغه حاکمانو زړونه زموږ په باره کي نرم کړه.

نو چي کله ستاسو اعمال صحیح سي، نو بیا به الله تعالی پر تاسو نیک حاکمان راولي، څکه دغه حاکمان د انسانانو د اعمالو عکس وي، چي څنګه اعمال وي، هغسي حاکمان وي.

## د الله تعالی د ناراضګۍ علامې:

ځکه دا د الله تعالی عادت دی، چیکله د عامي معاشرې د انسانانو عمل د الله تعالی د رضا خلاف وي، نو بیا خو الله تعالی د هغه په وجه هم پر معاشره باندې ظالمان حاکمان مسلط کوي.

لکه په یو روایت کې راځي: چې حضرت موسی علیه السلام د الله تعالی څخه غوښتنه کوي؛ او وایي: اې الله! ستا د ناراضګۍ علامې څه وي؟

الله تعالی هغه ته جواب ورکوی: چې زه کله د معاشرې څخه ناراضه سم، نو پر هغه باندې څلور(۴) قسمه عذابونه راولم:

۱. ....... ﴿انْ اُنزِلَ عَلَيْهِمُ الْغَيْثَ إبَّانَ حَصَادِهِمْ﴾. چې کله د دوی د فصلونو پرېکولو وخت سي، او باران دوی ته نقصان رسوي، نو زه پر دوی باندې بارانونه را اُوروم، چې د دوی د مالونو د تباهي سبب ګرځي.

۲. .........﴿وَاَحْبِسَهُ إبَّانَ زَرْعِهِمْ﴾. چې کله دوی دانه په مځکه کې واچوي، او د هغه باران ته ضرورت وي، نو زه باران ځني بند کړم.

۳. ......... ﴿وَاَجْعَلُ اُمُورَهُمْ إلَى سُفَهَائِهِمْ﴾. او د دوی حکومت ظالمانو ته ورکوم، چې د هغوی به د دوی سره معامله داسې وي؛ چې: ﴿قُلُوبُهُمْ، قُلُوبُ الذِّئَابِ وَ لِسَانُهُمْ اَحْلَى مِنَ السُّكَّرِ﴾.[1] چې د هغوی زړونه به د درندګانو غوندي وي، او ژبې به ئې تر شکرو خوږې وي.

۴. ......... ﴿وَاَجْعَلُهُمْ فِي اَيْدِي بُخَلَائِهِمْ﴾.[2] او مال ئې بخیلانو ته ورکوم، چې هغه ئې نه پر خپل ځان خرڅوي، او نه بل څوک و ده ته طمعه د احسان کولو کولای سي.

نو چیکله د انسانانو په اعمالو کې اصلاح نه وي، نو بیا خو الله تعالی ناراضه وي، او د الله تعالی د ناراضګۍ په وجه پر دوی ظالمان حاکمان مسلط کیږي.

---

(۱) الزهد والرقائق لابن المبارک، حدیث نمبر ۵۰

(۲) شعب الایمان، حدیث نمبر ۷۰۰۷

نو که د ظالمانو د تسلط څخه انسان ځان خلاصوي، بهترينه طريقه ئې دا ده، چې خپلو اعمالو ته متوجه سي، او د هغه د اصلاح کوشش وکړي.
لکه حضرت عبدالله بن عمر ﷺ هم خپلو ملګرو ته دا وصيت کوي؛ چې تاسو د خپلو اعمالو داصلاح کوشش وکړئ، الله تعالى به د حاکمانو زړونه ستاسو په حق کي نرم کړي.
هغوی ته په بد او رد ويلو يا په هر مجلس کي د هغوی غيبتونه کول، او پر هغوی باندي لګيدل، پدي کي دنقصان څخه بغير انسان ته هيڅ نه وررپاته کيږي.
لکه يو ځل د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ په مجلس کي يو سړي د "حجاج بن يوسف" غيبت شروع کړی، نو حضرت عبدالله به عمر ﷺ ورته وفرمايل: "حجاج" چې هر څومره ظالم دی، خو تاته ئې غيبت کول روا ندي، کچيري د قيامت په ميدان کي د "حجاج" پر ذمه د انسانانو د قتلونو جرم او ګناه راځي، نو بيا خو ستا پر ذمه هم د "حجاج" د غيبت کولو ګناه او سزا راځي.

## د امت مسلمه د پريشانيو حل:

نن ټوله امت مسلمه د ډيرو سختو حالاتو سره مخامخ دی، د عالم اسلام به کمه داسي خطه وي؛ چې په هغه کي صحيح، عادل، انصاف کونکی حکمران وي؟ ټوله عالم اسلام د داسي حکمرانانو تر تسلط لاندي ژوند تيروي: چې ظالمان دي، جابران دي، او د شريعت مخالفت کونکي يا د نورو قومونو غلامان دي، او دا اوس پر ټوله عالم اسلام باندي مسلط دي.
د دې حل پيغمبر ﷺ دا بيان کړيدی، چې تاسو خپله معامله د الله تعالى سره صحيح کړئ، په بد او رد ويلو باندي هيڅ جوړه نه ده، چې تاسو دغه حکمرانانو ته ئې واياست، او نه پدې سره مسئله حل کيږي.
د خپلو اعمالو او اخلاقو په اصلاح کولو سره دا مسئله حل کيږي، او داغه رنګه د نفس په اصلاح سره د دې خبرو حل راځي، چې کله تاسو د خپلو اعمالو او ځانونو اصلاح وکړی، يابه الله تعالى تاسو ته انصاف کونکي حاکمان درکوي، يا به د داغه حاکمانو زړونه ستاسو په حق کي نرموي.

نن موږ د دغه پرېشانيو د حل نوري ټولي لاري لټوو، لېکن د خپل نفس او د خپلو اعمالو د اصلاح و طرفته زموږ توجه ډېره کمه ده، نن ټوله عالم اسلام پرېشانه دی، او د خپلي بې وسۍ احساس کوي، چي کافران پر موږ باندي مسلط دي، او د ځان دهغوی څخه خلاصون غواړي.

## د مسلمانانو وسائل او طاقت:

حالانکه چي کله انسان د مسلمانانو پر طاقت او حيثيت باندي نظر واچوي، هغوی ته الله تعالی ډېر لوی او عظيم الشان طاقت ور کړيدی، او په وسائلو په کامله طريقه سره آباد دي، لېکن دهغه باوجود نن د مځکي پر مخ د غلامۍ زندګي تېروي، او د پرېشانۍ په مسائلو کي راګير دي.
نن چي کله د مځکي پر مخ د انسانانو انفرادي اعداد او شمار دی، دهغه په اعتبار مسلمان په ټوله دنيا کي د ارب څخه د ده شمار او بنتي وي، او د دوی په مقابل کي په اعدادو او شمارو کي دوی ته نژدې زيات عدد د عيسائي قوم دی، چي هغه نن د مځکي پر مخ (۵۲۰۰۰۰۰۰۰) دوپنځوس کروړه انسانان دي.
لېکن دغه عيسايانو د دغه کم عدد سره دغه دومره زيات عادت مسلمانان د ځانو غلامان جوړ کړيدي، او د هغوی په پزه کي ئې پېزوان ور اچوليدی، چي پر کم طرف ئې زړه غواړي، پر هغه طرف ئې روانوي، او چي کمي نخرې او تماشې په کوي، هغه په کولای سي.
بيا که تاسو د حکومتونو موازنه وکړی، نو مسلمانانو ته الله تعالی د مځکي پر "کُره" څلور پنځوس (۵۴) حکومتونه ور کړيدي، چي د دوی څخه ماسوا بل د يو قوم سره هم هغه که عيسائي دی، که يهودي دی، او که هندو دی، نسته.
بيا دغه د مسلمانانو حکومتونه په جغرافيائي اعتبار سره چي د مځکي پر کمه خطه واقع دي، کچيري دوی پوره دنيا جام کول او بندول وغواړي، نو په يوه ورځ کي ټولي بحري، بري، فضائي لاري بندولای سي.
که تاسو د جغرافيه دانانو څخه معلومات وکړی، نو چي پر کم سينټر چي اسلامي ممالک واقع دي، هغه د نوري ټولي دنيا لپاره پر منزله د ښارګ دي.

د اقتصادیاتو په لحاظ په دنیا کي د هغه چا بیرغ لوړ وي، چي په کافي مقدار سره د هغه سره "تور زر" ور سره وي، او چي د کم چا سره د "تور زرو" کمی وي، هغه ترشا پاته وي، د"تور زرو" څخه مراد تیل او د مځکي معدنیات دي، نو په دې لحاظ د مځکي پنځه اویا(۷۵) فیصده تیل او معدنیات د اسلامي حکومتونو ملکیت دی.
او د رقبې په لحاظ د مځکي دو ځلویښت(۴۲) فیصده صرف د مسلمانانو د ر تسلط لاندي ده، او پر نوره حصه د مځکي نور قومونه آباد دي.
نو د تعداد په لحاظ سره تر ټولو زیات او په اقتصادي حیثیت تر ټولو مستحکم، لیکن د هغه باوجود د دوی زندګي د غلامی ده، او په مسائلو کي راګیر دی.(۱)

## د مسلمانانو د ذلت بنیادي وجه:

بعینه نن پر مسلمان باندي هغه حالت دی: چي د هغه پیش ګوئي پیغمبرﷺ د پره زمانه مخکي کړېده، لکه هغه مبارک فرمایلي دي:
..........﴿يُوشِكُ الْأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى عَلَى الْقَصْعَةِ أَكَلَتُهَا﴾.
قریبه ده: چي زما پر امت به داسي زمانه راسي: چي پر هغوی باندي به نور قومونه داسي سره رابولي؛ لکه د کور انسانان چي وړې ګولې ته د خورک لپاره رابلل کیږي.
صحابه کرامو چي کله د پیغمبرﷺ د ژبي څخه د امت دغه د افسوس حالت واورېدی، نو دستي ئې پوښتنه وکړه:
..........﴿أَوَ مِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ؟﴾.
ایا موږ به ډېر کم یو، او زموږ مقابل به په زیات کثرت کي وي، چي د هغه په وجه به د دې امت دا حالت وي؟
دی مبارک په جواب کي ورته وایي:
..........﴿لَا بَلْ أَنْتُمْ أَكْثَرُ وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ ، وَلَيَقْذِفَنَّ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهْنَ﴾.
نه! تاسو به په دې وخت کي تر ټولو قومونو زیات یاست، لیکن ستاسو حیثیت به دومره سپک وي: لکه د سیلاب پر سر چي خاشه پرته وي، چي سیلاب پر کم طرف

(۱) علمي تقریرونه، جلد نمبر ۲، صفحه نمبر ۲۰۷

روان وي، دا پر هغه طرف وري، بلکل ئې د خپل اختیاره ایستلي وي، ستاسو حیثیت به هم دا شان وي، او الله تعالی به ستاسو په زړونو کي وهن راولي.
یو صحابي پوښتنه ځني کوي:
﴿.........یَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا الْوَهْنُ؟﴾.
اې د الله رسوله! وهن څه ته وایي؟ چي د هغه په وجه زموږ حیثیت د نورو تومونو په مقابل کي دومره سپک سي؟
پیغمبرﷺ ورته وایي: چي د وهن معنی داده: چي په تاسو کي به دوه(۲) عادتونه پیدا سي:
۱. ﴿.........حُبُّ الدُّنْیَا﴾. د دنیا محبت چي هغه به ستاسو په زړو کي ځای پیدا کړي؛ او د زندګی مقصد به مي د دنیا راجمع کول ګرځولي وي.
۲. ﴿.........وَکَرَاهِیَةُ الْآخِرَةِ﴾.(۱) او هم به تاسو د مرګ او آخرت څخه لیري ځغلي، او خپل ځان به د مرګ څخه ساتی، او مرګ ته به د نفرت په نظر ګوری.
چي کله په تاسو کي دغه دوه عادتونه راغلل، نو په دې سره به ستاسو رب ستاسو څخه ناراضه وي، او د هغه د ناراضی علامه به دا وي: چي پر تاسو به ظالمان حاکمان مسلط سي، چي د هغه په وجه به تاسو د پرېشانی په مسائلو کي راګیر سي.

## اسلام خو صرف لمونځ نه دی:

تاسو به دا ویاست: چي مسلمانان خو لمنځونه کوي، او مسجدونه په آباد دي، او آذانونه اوري، او د جمعې په ورځ ډېر خلګ په لمنځو کي راجمع کیږي، بیا زموږ ولي دا حالت دی؟
خبره د رحقیقت دا ده: چي اول خو لمونځ کونکي او عبادت کوي، چي کم دي، کچیري دهغوی تناسب ته د ټولي آبادی په اعتبار سره وکتل سي، چي څو فیصد انسانان لمونځ کوي، او د الله تعالی طرف ته راجع دي، او مسجدان آبادوي، نو دا به د ټوله عالم اسلام ډېره کمه حصه وي.

(۱) مسند الشامیین للطبراني، حدیث نمبر ۶۰۰

بیا چي کم خلک لمنځونه خو کوي، لیکن چي کله بازار ته ورسي، بیع او شرأ کوي، یا د نورو انسانانو سره د دوی د اخلاقو او معاشرت موقع راسي، نو بیا خو د پیغمبر ﷺ تعلیمات تر پښو لاندي کوي، او د حلالو او حرامو فکر ورسره نوي.
تاسو زموږ معاشرې ته نن نګورئ! چي حرام خوري انسانانو ته د مور شیدې (شیر مادر) جوړه سوېده، او هر سړي خوله وازه نیولېده، چي څنګه به ځان لره ګوله پیدا کړم؟ او څنګه به مال او دولت ډېر کړم؟ هغه که په حلاله وي، که په حرامه وي، که په دوکه وي، او که په درواغو وي، خو په هره طریقه چي وي: بس زما لاس لره دي پیسې راسي.

## دعا به څنګه قبوله سي؟

نن چي پر مسلمانانو هره پرېشاني راسي، د دین پرېشاني وي، او که د دنیا پرېشاني وي، نو خلک وایي: چي یاره! د دې لپاره څومره ډېري دعاګاني کیږي، لیکن نه معلوم: چي هغه دعاوي، پر کم طرف ولاړي سي، او په هغه سره زموږ دغه مسئلې نه حل کیږي.
زه دا وایم: کچیري موږ او تاسو د خپلو حالاتو جائزه واخلو، نو د هغه دعاؤو مثال داسیدی: لکه یو سړی چي د "مشرق" پر طرف روان وي، او دعا دا کوي: چي یا الله! ما "مغرب" ته ورسوې، نو په دغه دعا سره به دی څنګه "مغرب" ته ورسیږي، لکه یو شاعر داسي وایي:

ترسم نه رسی بکعبه ای اعرابی!
این ره که تو میروی بترکستان است

زه بېرېږم: چي کعبې ته نه ورسېږې، ځکه چي پر کمه لار ته روان ئې: نو دا خو ترکستان ته روانه ده.
نو موږ هم نن چي کم لار اختیار کړېده: هغه د هلاکت او بربادۍ لار ده، لیکن دعاګاني دا غواړو: چي یا الله! موږ ته د عافیت او سلامتۍ ژوند راکړې، نو تاسو ووایاست: چي دغه دعا به څنګه قبوله سي؟

## پخپلو حالاتو کي بدلون راوستل:

خو ليکن چي کم څوک په اخلاص سره دعاګاني کوي، او د الله تعالى څخه غوښتني کوي، د هغوى د دعا قبوليت خو يقيني دى، چي انشاء الله دوى ته به پر دغه دعاګانو باندي اجر او ثواب ور کول کيږي، ځکه چي دعا کول او الله تعالى ته رجوع کول، دا هم عبادت دى، او د دې توفيق هم د الله تعالى رحمت دى، نو د دوى د دعاګانو فائده خو به دوى ته بېشکه رسيږي.

ليکن په دنيا کي د دغه دعاګانو نتائج هلته ښکاره کيږي، چي انسانان پخپلو اعمالو کي، او هم پخپلو حالاتو کي بدلون راولي، لکه الله تعالى دا خبره په وضاحت سره بيان کړيده، چي فرمايلي ئې دي:

..........إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ﴾.(١)

يعني الله تعالى د يو قوم حالت تر هغه وخته نه بدلوي: چي تر څو پوري هغه خپل حالات بدل نکړي.

نو زه دا وايم: چي تر څو پوري موږ خپل حالات بدل نکړو، او د دې خبري قصد و نکړو: چي د الله تعالى نافرماني به زهر قاتل بولو، او دا به مي عزم وي: چي يوه ګوله حرامه به زموږ نس لره نه ورځي، او چي څه کوو، هغه به تړوله د شريعت په دائره کي دننه کوو، تر هغه وخته دغه صورتحال نه بدليږي.

## آخري خبره:

خو بيا هم زه په آخر کي دا يوه خبره کوم: چي مايوسي او نا اميدي مناسب نه ده، ځکه زموږ او ستاسو معامله د الله تعالى د ذات سره ده، د الله تعالى ذات د مايوسي ذات ندى، نه د الله تعالى دربار د نااميدي دربار دى.

بايد چي موږ او تاسو نور د خپلو حالاتو د اصلاح فکر وکړو، او پدې خپل ګريوان کي وګورو، د خپلو اخلاقو او د اعمالو او د معاشرت او د معيشت د اصلاح کوشش روان کړو.

(١) سورة الرعد، آيت نمبر ١١

الله تعالی به دغه ورځي تېري کړي، او هم به دا حالات بدل کړي، او نور به "امت مسلمه" ته الله تعالی د رحم په نظر و ګوري، او هم به دوی ته د عافيت زندګي ور نصيب کړي.

الله تعالی موږ او تاسو ته د خپلو حالاتو د اصلاح توفيق رانصيب کړي، او هم دي زموږ دغه مذاکري پخپل دربار کي قبولي او مقبولي وګرځوي.

(آمين يارب العالمين)

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ








مکتبۃ الهاشمیہ